# ژبپوهنه (ژبلار)

بنسټیزه، معیاري او
په ژبلار

لیکوالی: ډاکتر ماخان میرزی شینواری

خپرونکی: انجنیر شمشاد زهیر شینواری

Ketabton.com

خپرونځی:     ketabton.com

بون: جرمني: جولای ۲۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوي څښتن

# په سپېڅلي نامه، چې

ډېر مهربانه، رحمان

او رحيم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و د  پښتو ژبې ستر سرلښکر

اروابناد وزیر

# محمد ګل خان مومند بابا

ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليکونه:

سریزه ۷

کړنوییونه ۱۲

– Nameنوم ۱۶

نر- ښځېوال نومونه ۱۶ Genus

ځانیز نومځاینیوي: ۱۸

د نومځاینیوو ډولونه: ۱۹

ادجکتیو یا خوي وی ۲۲

د خویوییونو جګېدنه ۲۵

د ژبنیزو توکو پېژند: ۲۶

غونډالجوړښت ښونه ۳۱

ترنوییونه ۳۳

بنسټغونډال – او ځنګیز غونډالترنه

فونیم څه شی دی؟ ۳۵ phonem

Allophone د یوه غږ بلډولوالی ۳۷

دېستینګېم : Distingem

ګرافېم Graphem

مورفېم ۳۷ Morphem

فونېمبدلېدنه په منځغږ کې

فونېتیک ۴۰ Phonetik

د فونولوژي ۴۰ Die Phonologie

۱-ویېنډوله فونیتیک ۴۰

مورفیم څه شی دی ۴۱

نیونه، ښوونه، غوښتنه ۴۳

۴ – جمله یا تیورېم ۴۶ Theorem

ویناډولونه یا ویناښې: ۴۶

ادورب یا قید او ډولونه یې: ۴۸

د وییونو ترنې: ۴۹

څه پردیکول ( پردې) ۵۲

سرغونډالې یا بنسټغونډالې ۵۵

غونډالجوړونه ۵۸

اتریبوت- ورزیاتونه ۶۱

Partizip پارتیخیپ: ۶۴

کړونی او پرې – یا نه کړونی ۶۶

ترنویي یا – لغات ۶۹

سیده – و ناسیده ویناوې ۷۱

انتروګاتیوغونډالي ۷۷

خوزند ۸۰ transformiéren/

پیداښت ۸۳

غونډالغږي ۷۴

انترجکشنونه(ویین ویونه یا دویلو ویونه)،

ترانزیتیواو اینترانزیتیو ۷۷

پوهنیزه پرېکړه ۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمانتیک ۸۱
کړندولونه او بدلونونه یې ۸۲

# دویمه برخه

پسې تړلي ۸۵
د پسېتړلو ډولونه ۸۶
پسېځاينيوي يا اړيکوييونه ۸۷
څنګه والي يا حالتونو ته څه اړتيا ۹۰
د دې ليکنې په ليکنو کښې څه ......؟ ۹۰
په پښتو کښې حالتونه ۹۱
حالت څه شی دی؟ ۹۲
پښتو ژبه دوه حالتونه لري ۹۲
حالتونه د تکيه اړنومځاينيو سره: ۹۴
حالتونه د پوښتنو په بنسټ ۹۶
د حالتونه نوې څېړنپوهنه ۹۹
څنګه کړی شو دا روښانه کړو؟ ۱۰۲
د پښتو حالتونو د ستونځوبيو بريا ۱۰۲
پرتله کونه ۱۰۴
خويوييونه د پسېځاينيوو سره ۱۰۷
د حالتونو و روښانونو ته د مخه ۱۰۹
پسېځاينيوي ۱۰۷
پسېځاينيوي ۱۱۲
لاندې شيان شته ۱۱۳
پرېډيکات يا غونډالوينه ۱۱۴
خاوندولي- ، داتيو شی ۱۱۷
اتريبوت د غونډالغړي برخې په څېر ۱۱۹
ولاړ او پراته حالتونه. ۱۲۰
د نورو حالتونو سره و مخ ته ځو ۱۲۱
ابلاتيو يا بېلېدنه ۱۲۳
پوښتنومځځاينيوي: ۱۲۷

# دريمه برخه:

له وييونو څخه تېرېدنه نه شته ۱۲۷
تکيه اړ- او ځانيز نومځاينيوي ۱۳۱
د مورړ ستونځې له ژبلار سره چېرته دي؟ ۱۳۹
پښتو او ژبلاريزې نااوبی ستونځې يې ۱۴۰
پښتو او ژبلاريزې نااوبی ستونځې يې ۱۴۱
د پښتو په ژبلار کې هغه بنسټيزه ستونځې: ۱۴۲
په پښتو کې د حالتونو... ۱۴۲
اوس هغه ما ژبلاريزې....: ۱۴۳
ولې بايد دما خبره سمه وي؟ ۱۴۴
کوم سم، ناسم او ولې؟ ۱۴۷
په ژبه کې د سم او ناسم ښوونه ۱۴۴
د پښتو زپلاريزې ستونځې ...؟ ۱۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




سنترپوزېشن ۱۵۳
په ژبلار کې نوي میندنې ۱۵۴
پای یادونه: ۱۶۱
په ژبلاریزه څېړنه کې مو ....؟ ۱۶۲
دوه پرانستي غوښتنلیکونه: ۱۶۵
اپرګاتیو ژبې ۱۶۸
د اکوزاتیو د بېلګو څنګه والی په پښتو ۱۷۱
یوه غوره څرګندونه: ۱۷۲
افغان- - او دباندني پښتو پوهان ۱۷۵
راځئ، چې پښتو سمه زده کړواو ۱۷۸
د ولس ژبه، که پردۍ ژبه؟ ۱۸۴
اکسومورون ۱۸۷
سیستم څه شی دئ؟ ۱۹۲
نیولوجیزم ۱۹۵
دا مو د ستونځوبیو لار نه ده ۱۹۹
څنګه پوهېږو، چې دا یا یو ..... ۲۰۳
له ،،واحد،، څخه موږ څه پوهیږو؟ ۲۰۶
ژبه معیاري کونه ۲۰۹
ژبه قرارداد دئ او که څنګه؟ ۲۱۲
ایا موږ پیداېښتي پوهنې ..... ۲۱۵
له فزیک څخه ۲۱۷
پرتلنه او پرتله کونه او د عکس ۲۱۸
له پښتو سره دنوروژبو زده-... ۲۲۴

د ډاکتر ماخان میرزي شینواري
کتابونه یا ژباړې او لیکنې ۲۴۶
د ډاکتر ماخام مېرزي شینواري لیکنې
او ژباړې ۲۴۸
د ډاکتر ماخان میرزي شینواري ژوند
ته یوه لنډه کتنه ۲۵۶
ډاکتر شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له
امله ستاینلیکونه: ۲۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

ډېرو ګرانو او منلوو ژبپوهانو او ژبمینه- والو!

- د ورسره بلدتیا له مخې دا سریزه غزېدلې، خو و ما ته یې لوستل اړیین برېښي.

- پښتو یوه ابرګاتیو ژبه ده، نو ژبلار یې هرو مرو له الماني او نورو ژبو لکه انګرېزي سره توپیر لري.

- په ژبه یا په ځانګړې توګه پښتو ژبه کښې پر یو څه باندې پوهېدل او یو څه پر ژبلار یا ښه یې ژبپوهنه باندې سم لیکل توپیر لري. د کلیوالي ګړدودونو اغیز.

- داسې یو کتاب په لومړي ځل پر پښتو باندې د پښتو په ژبپوهنه کښې د تاسو و مخ ته وړاندې کیږي. هغه څه چې دلته لیکل شوي، د ژبې په هکله په نړیوال معیار دي، ځکه چې د یوې وتلې ژبې څخه یې پېژندونه رانیول شوې او د پښتو ژبلار سره یې سمون شته. په خواشینۍ باید ووایم، چې موږ لا تر اوسه پورې په هېڅ یوه پوهنه کښې داسې کتابونه نه لرو، چې موږ له هغو څخه د ژپپوهنې په لار کښې ګټه واخلو، نو دا داسې څېړنې دباندنیو ژبو په بنسټ باید وکړو. د موږ پخوانیو ژبپوهانو، ګورو، چې هر څه له عربي څخه د عربي له نومونو سره رانیولي او یواځې هغه اړیکویونه، ترنوییونه او یا اړونده وییونه یې، چې مسلکي نه دي یا د ژبې د ریښې سره نااړونده یې د پښتو ورزیات کړي، خو بیا هم هغوي ستر کار کړی، چې تل باید د ستاینې وي. .

- بیا وایم، چې زه په الماني ژبه د یوه ناالماني په څېر په الماني ښه پوهېږم او پښتو خو مې خپله ژبه ده او تر اوسه پورې مې نږدې درېشپېته لیکنې په پښتو کړې، خو بیا وایم، چې پر پښتو باندې او لا تر اوسه پورې و پښتو ته نابلدې دي.

د دې کتاب دویمه برخه د موږ د ستونځوبیو لپاره غوره ده:

د هغه ژبنیز یووالو ډله چې د موږ ژبه یې لکه هغه د نورو ژبو مخامخ نه لرو: لرو suffix نه لرو:prefix ، لرو: postposition نه لرو: präposition

بڼه بدلیږي یا ګردانیږي: کړنوییونه.

بڼه بدلیږي نه: نومځاینیوي یا نومویيونه، خویوییونه، خو:

داسې ژبنیز یووالي شته، چې په ورزیاتولو یې دا کمښت پوره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې د نورو ډېرو ژبنيو ويوالو پېژندونه يا په پورهډول پېژندونه نه دې ور کړشوې، يا په ټوله کښې پېژدونو پام نه دئ شوی يا نه شو کېدی يا يې نه شو کولی.

- د ما ستر ارمان له ځان روغ ساتلو څخه پرته داوو، وښايم چې پښتو هم – لکه نورې ژبې - يوه پوهنيزه ژبه ده او دا کار مې په شمېرپوهنه، فزيک او د پښتو په ژبپوهنه کښې - و سر ته رسولی دی او باوري يم، چې په پوره هڅو به مې له کمو ناسمونونو سره ځان مخامخ کړی وي يا مخامخ شوی يم.

هره پوهنه روښانه ده.

پيل يادونې: څه تکرار شته، خو و ما ته زورونکی نه برېښي.

لومړی ۱ : د ما ليکنې او په خانګړې توګه، هغه چې ما د دې کتاب په دويمه برخه کښې ليکلي، د موږ دا تراوسه په پښتو ژبپوهنه کښې ليکلو کتابونو سره، چې و ما ته رسېدلي، پوره پوهنيز او د خونديونې له لار څخه پوره توپير لري

۱ - هر پېژند مې له الماني څخه رانيولی، خو د پښتو ژبپوهنې پر لار باندې مې انډول بېرته ريښتونی ورکړی.

۲ – هېڅ يو ويې مې له ځان څخه نه دی جوړکړی.

۳ – هڅېدلی يم، چې ليکنې مې په معيار او پوهنيزو دلايلو ودانې وي.

۴ – هر د بلې ژبې وی مې په پښتو انډول بېرته ورکړي.

۵ – ليکنې مې ډېرې نالبدې دي، خو ناسمې او ناپوهوړ نه دي.

۶ – هېڅ کله مې موخه د ژبې سوچه کول نه دي او دا ناکېدونکې هم ده.

۷ – هر د بلې ژبې ويې، چې پيداښتي وي، په پښتو کښې هم له پيداښت څخه شته دی. له ځانګړنو څخه ژبه هم خالي نه ده.

يوه هيييييييله مې دا ده، مرسته وکړی، چې پښتو ژبپوهنه مو په ژبلار لوريزه وي او ناسمونونه مو تر کېدونې پولې پورې له منځ څخه وړي وي.

زه پوره خواشينی کېږم، چې ژبپوهان به همدا اوس هم راته پوره برګ وي، خو وماته دې بخښنه وکړي، ځکه چې زه هم پر دې خپلو ليکنو باندې باوري يم او نړدې اولس کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې يې په هکله ليکنې کړې او په هکله مې يې د ليکنو څېړنې کړې، چې له پنځلس کاله را په دېخوا مې د ژبپوهنې او اړونده کتابونو ليکلو باندې بريالى شوى يم او دا بايد د موږ و ټولنې ته وړاندې کړم.

زه لوړه کوم، چې هغه ډېر يې، چې له تاسو څخه هغه ډېر پښتوپوهان چې پېژنم يې، ډېر راباندې ګران دي او تاسو ټول هغه د ما د عمر او يا داسې يو څو کاله راڅخه مشرانو پښتو ژبې ته ستر کار کړى، چې داژبه يې په داسې لړ وخت، دا په دې پوهېدنه، چې له ۱۹۶۴ ز ک کال له پيل څخه راپه ديخوا دې ځاى ته را رسولې او په ډاډ ويلى شم، چې دا د تاسو په برکت او هلو ځلو نوره له مرګ څخه ژغورل شوې او ان چې د کمپيوتر ژبه شوې، خو په خواشينى بايد ووايم، چې ژبه مو ژبلاريزه پوره نيمګړې ده، چې ګرامري ودې ته پوره اړتيا لري. زه په دې اخرنيو پنځلسو کلنو کښې د ژبې له ګرامر يا ژبلار سره بوخت يم، په دې توانېدلى يم، چې په ژبلار کښې مو دې ناتوانى ته پام راوګرځوم او ګډ کار ته مو راوبولم، خو په خواشينى بايد ووايم،

چې: نه دا چې په دې کار بريالى نه شوم، ان چې ليونى، ناروغ او داسې او هغسې وبلل شوم، ځو په دې مې زورېدنه دومره نه ده، لکه دا ليک چې ليکم. په دې کښې بايد يوه ستره بې ادبې وبرېښي، خو زوړ يم، وخت مې کم دى، نو له دې امله مې ودې زورېدونکي کار ته ملا را وتړله. او س نو که دا ژبلاريزې ستونځې له تاسو سره ګډې نه کړم او دا پوره روښانه تاسو ته وړاندې نه کړم نو دا به په رښتيا ډېر د ما لخوا له ما سره او همداسې د ژبې سره سم او ښه کار نه وي. ما دا په خپلو ليکنو کښې پوره روښانه کړې او په دې اخرني کتاب کښې مې ټول اړخيزه څېړلې، چې هيله ده په لنډ وخت کښې به و تاسو ته په ketabton.cim کښې وړاندې شي، اوس يې داسې لنډيز له تاسو سره د خبرو لپاره ګډوم.

شتونځې يا نېمګړتياوي، چېرته او څنګه دي؟

موږ به په لاندې کښې هغه غوره يو څو د موږ د ليکوالانو لپاره نابلد يا نه سم پېژندل شوي ژبتوکو پېژندونه ورکړو او له بنسټ څخه به يې بيا څېړنه و مخ ته بوزو:

۱ ــ په پښتو ژبه کښې څه يا کوم وييندولونه بڼه بدليږي او که غواړى، ګردانيږي او کوم نه بڼه بدليږي؟:

۱ ۱ ــ په پښتو کښې يواځې د کړنوييونو بڼه بدليږي.

۱ ۲ ــ نوم يا ښه يې نومځاى نيوي نه ګردانيږي، لکه په الماني، انګرېزي او همداسې نورو ژبو کښې، چې بڼه بدليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ ۳ – خویوییونه هم بڼه نه بدلوي، خو ځګېدنه یې شته، لکه په درې کښې

لنډ دا لاندې پېژندونه ورکوو او دا دې په یاد وي، چې دا ټول د ما همدا په دې اوس و تاسو ته وړاندې شوي کتاب کښې شته.

ا- نومویيونه: که په یوه غونډاله کې نومونه او نومځاینیوي راشي او د مخه یې دا لاندې مورفېمونه نه وي، نو هغه کړوني او پرېکړوني دي. لکه ما، تا، موږ او نور. تا سپین وواه. ته سپین ووهلې. ګورئ دلته په لومړي کې ،، تا ،، کړونی دی او په دویم کښې ،، ته ،، نه کړونی یا پرېکړونی دی، خو که ووایو:

سپین ما لپاره کتاب راوړ. سپین ما سره لاړ یا سپین ما پورې راغی. دلته ګوره له دې غونډالو څه نه پوهېږو، ځکه چې ،، ما ،، کړونی دی او په دې غونډالو کښې ،، ما ،، کړونی نه دي، نو لنډ: د دې ،، ما دمخه باید داسې څه ورزیات شي، چې و دوي ته اړونده پوهېدنه ورکړي او له هغې څخه، ،، دما، له ما، تر ما، په ما....،، جوړېږي، چې دلته دا ،، ما ،، د ،، نه کړونو،، دنده غوره کوي او د ،، نه کړونو،، نومځاینیوو په څېر پوهېدنه غوره کوي.

ب– مورفېمونه لکه: د، له، په، پر، تر، و، .... چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د د نورو ژبتویونو سره – لکه د نومځاینیوو او نومونو سره یې مل راتګ د هغوي پوهېدنه بدلوي، دا په دې پوهېدنه، چې نه کړوني کیږي.

پ – پسېځاینیوي: څخه، سره، کره، کښې، ته، باندې، پورې، لپاره، دمخه او نورو ته دې یې په ګډه فکر وشي، چې د پېژند ژبلاریز وي.

ت - حالتونه: حالت د نوم او نومځاینوو ګرامري واکوالی یا دنده ده، د نور وییونو سره. په پښتو کې دوه حالتونه لرو.

په حالتونو کښې نومویيونه باید په غونډله کښې د نورو توکو سره زغموړ یا ورسره جوړ شي، چې دا په نورو ژبو کښې د نومځاینیو بڼه بدلول یا ګردان دی، خو په پښتو کښې نومځاینیوي بڼه بدلون نه لري، نو له دې امله باید یوه بله لار ولري، چې دا د بڼه بدلون دنده په غاړه واخلي. پورته مو په ګوته کړل.

دې ته به هم همدلته ګوته ونیسم، چې دا موږ په پښتو کې په دوه ډوله روښانه کولی شو.

لومړی: کړونی حالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم: نه کړونی حالت.

ما دا حالتونه د پسې – او مختکيه اړ نومځايونو له لارې پوره روښانه کړي او د هغې له مخې مو دا د ،، له ما، پر ما، په ما...،، ستونځې هم اوبی کړې دې. دا هم بايد دلته ولیکم، چې د نوموییونو په هکله داسې مې‌دنه یواځې او یواځې ما کړي.

دا دې د همدې کتاب په اړونده ځای کښې وکتل شي.

یوه غوره یادونه: هره پوهنه په ځانګړې توګه پیداېښتي پوهني لکه ژبه هم، یوه روښانه روښانې‌دنه او همداسې روښانونه لري.

هر څه چې څنګه دې همغسې بايد د ژبپوهنې له لارې وښوول شي. دلته د ژبپوهانو ابتکار نه شته، هر څه ړشته او له ځان څخه یو څه جوړول مو و ناسمونونو ته رابولي.

دا ډېره اوږده لیکنه د سریزې لپاره خورا اوږده ده، خو که پعه سره سینه مو ولوستله، اړینتیا ته به مو یې پام راوګرځي.

ستاسو ماخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



،،نه هغه زړه هغه دماغ او هغه زه پاتې یم
خدایزده چې څه ومه اوس څه یم بیا به څه پاتې یم

تاب د سخن مې پاتې نه دی نور لیکلی نه شم
د یو ناتوانه اسویلي غوندې په خوله پاتې یم،،

حمزه بابا

# د لوي ښنتن په سپېڅلي نامه

Verb ورب( لاتین verbum temporale، مهالوی یا وخت اړوند وی یا لنډ: وی) وختوی، کړنوی، بوختوالي وی د یوه ویډول له پاره د ورځني (traditionellen ) ګرامر یا ژبلار مسلکي وییبنه (افاده) ده، چې یو بوختوالی، یوه پیښه یا یو حالتوی په ګوته کوي او ویونه په بر کې نیسي لکه تلل، خوړل، الوتل او نور. یا

پیژند: کړنویونه په خپله دنده کې د یوې غونډالي یو منځنی پرېدیکات جوړوي، چې په خپل ګردچاپیر یا چاپېریال کښې نور ټول توکي تنظیم کړي. هغه د موضوع د رول یا دندې جوړونه ټاکي او هغوي د مهال، موډال ( د کړني د حالتونوسره سراوکار لري. د ما په لیکنوکې ګوته ورته نیولشوې) اسپکتوی ( ژبلاریز وی دي، چې د یوه حالت وختځای په ګوته کوي) بوختوالی او نورو معلوماتو، ... ټاکونکي دي.

هغو ویی ته یو کړنوی وایي، چې څه کړل کیږي یا پېښیږي یا څه شی کیږي.
-- کړنوی په ځانیزه بڼه
یوګن یا ځانله: ۱ . کس: زه ځم. ۲ . کس: ته ځې. ۳ . کس: هغه ځې.
Plural (Mehrzahl)  ډېرګڼ یا ډېر:

۱ . کسان. موږ ځو. ۲. کسان: تاسو ځئ. ۳ . کسان: هغوي ځي

یادونه: په پورته کې: ۱. او ۲. د لومړي او دویم په ځای لیکل کیږي. زیات وخت – لکه د مخه مې چې ګوته ورته ونیوله- ۱ –م، ۲-م لیکل کیږي.

ډېره اړیینه یادونه: په پورته غونډلو کې –م لکه زه ځم، -ې، ته ځې ... دا د تلل پڼه بدلون یا ګردان دی، چې –م، -ې ... او نور یې پسې تړلي یا سافېکسونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او د د مخه ورسره تړلو ویونو پوهېدنه غزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ۲- Hilfsverben  مرستندوي کړنويونه: يېدل يا يل، چې ماته سم برېښي، لرل، کېدل.

د مرستندوي کړنويونو په مرسته بېلابېل وختونه جوړيږي،

د بېلګې په توګه: موږ تللي يو، موږ تللي وو، موږ به لاړ شو.

کله کله دا  د ادورب، نوم يا خويوی سره ځانله يا يواځې وي.

د بېلګې په توګه: هغه لاندې دی. زه وږی يم يا لوږه لرم(؟). زه نېکمرغه يم.
مودال کړنويونه: بايد، غوښتل، اجازه لرل يا – ورکول...

هغه يا که غواړی دا تل د يوه کړنوي د اينفينيتيو ( بنسټبنه) سره په تړاو کې دي او د هغه سرچينييزه وينا بدلوي.
هغه کړی شي د بېلګې په توګه رابند کړي، يو څه هرومرو (مجبوريت) شي، يوه هيله يا غوښتنه(؟) ووايي( افاده کړي)، يو څه بېبنديزه يا خپلواک کړي.
بېلګه: هغه بايد راشي، هغه دې بيده شي، زه کړی شم ( د چا ومخ ته ) ولولم.....

دوه۳ - ناتوانه کړنويونه:

دا هغه کړنويونه دي، چې بنسټ نه بدلوي.

بنسټبنه .......... ۱. بنسټ بنه ........ ۲ . بنسټبنه.......۳ . بنسټبنه (۱)

انځورول  .......  زه انځوروم ...... ما انځور کړل.... ما انځور کړي وو

ويل ............ .. زه وايم....  ما وويل............. ما ويلي وو

توانمند يا غښتلي کړنويونه : هغه دي، چې بنسټ بدلوي.

بنسټبنه............ ۱ . بنسټبنه.... ۲. بنسټبنه...... ۳ . بنسټبنه (۱)

ځغاستل............زه ځغلم........ زه وځغاستم.... زه ځغاستی وم.

لمبل ............. زه لامبم........ ما ولمبل....... ما لمبلي

دايوه بنسټ بنه د بنسټ کړنوي له امله ده او دا پسي بله ترې منځ ته راغلي يا ور څخه پاتې بنسټبنه يا ميراث دی. نه پوهېږم څه نوم ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نالاریز ( نا منظم یا بې قاعدې یا بې‌لاریز) کړنویونه

بنسټېنه .......۱ . بنسټېنه..... ۲ . بنسټېنه..... ۳ . بنسټېنه

تلل ........ زه ځم، ..... ... زه لاړم...... زه تللی وم

اړیینه یادونه: د دې کړنو سره د وخت له مخې د کړنویونو بڼه بدلیږي او پرته له دې، ځانګړو ویونو سره د اوس وخت لپاره نومځای نیوي هم خپله بڼه بدلوي:

لومړی: هغه کړنویونه، چې کېدل کیږي او بل یا پرې کړوني ته اړ نه دي، په هغوي کې نومځای نیوي بڼه نه بدلوي.

بېلګه: زه ځم. زه لاړم. زه تللی وم.

دویم. هغه کړونویونه چې پرېکړونی لري.

بېلګه: زه خورم. ما وخوړه. ما خوړلې وه یا خوړلی وو. دلته یو څه شته، چې خوړل کیږي.

په پښتو ژبلارکې کړنوی د بدلیدنوړ ویې په توګه پیژند لري، چې یوبوختوالی ( که بوختتیا؟)، یوه کیدنه یا یو حالت په نخښه کوي یا ښایي. په ښوونځې ژبلار کې دا له دې امله بوختوالیوی، مهالوی، یا کړنوی هم بلل کیږي او په لاندې برخو وېشل کیږي:

- په بوختوالي/کړنه کې(ژړل،ګوتنیول،ورکول).

- کیدنویونه ( لوییدل، زوربېدل) دا داسې ویونه دي، چې کړوني ته اړتیا نه شته دا کړل کیږي نه، دا کیږي یا کیدل کیږي.

یادونه: کړنه او کیدنه: کړنه یو کړونی لري یعنې یوڅوک څه کوي اوکیدنه کړونی نه لري،هغه کیږي.

- حالتویونه ( دا هغه کازوس حالت یا پېړ نه دی) ( درېدل، ژوندکول، پاتې کیدل یا پاتیدل). دا منځپانګې ټاکنې ته ګوتنیونه هم کیدی شي، داسې چې: شیبیزې بوختیاوې، کیدنې اوحالتونه په نخښه کولی شي(بیلګې: چمتووالی، پیښه، راتلنه).

- د کړنوی توپیر د نورو ویونو سره په دې کې دی، چې دا په پښتو کښې یوازې یا هم بڼه بدلیدونکی ویونه دی.

۱ – سپین ځي = تلل ( سپین)= ت (س)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – پیشو موړک ونیوه = نیول ( پیشو، موړک)= ن ( پ،م)

دا سم اندیز جوړښت د ژبلارې کړن-ارزښتوالي ځانګړی ډول جوړوي.

داسې لړ نوره روښانونه هم، چې دما ورته پام راوګرځید:

- کړنوی: تلل: لاړم یا ځم،

- مهالوی: تلل: ځم، تللم،لاړم، تللی یم، تللی وم

- بوختوالیوی: بوختتیا وې: لوستل.

منډې وهل.

او سپورت کول.

څوبیلګې: تلل

موږ وکابل ته ځو.

تاسو وکابل ته ځئ.

هغه و کابل ته ځي.

لنډ: ځو،ځئ،ځي، ځې،ځم.

یادونه: د موږ ژبپوهان یا ځنې لیکوالان لیکي، چې دا –م،-ې،-ي... منفصل او که متصل نومځاینیوي دي، خو دا سې نه ده. دا د کړنوییونو د وخت او کس اړونده بڼه بدلېدنه ده او دا م، ی او و پسېتړلي دي-پسې تړلي دې وکتل شي).

یادونه: د سفېکس یا پسې تړلو سره دې هم پرتله شي.

نورې بیلګې که غواړئ تاسو یې راوړلی شئ.

موږ په پښتوکتابونو کې تر اوسه پورې زده کړي، چې د عربي فعل یا ورب ته کړ وایي.

یادونه: موږ د فعل سره دوه ستونځې لرو.

۱ – کړ که کړنه یا بوختتیا(بوختوالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ربنتیا ووایم په کړنه پوهیږم، چې دا د کړل و لاس ته راغلی.

که دا د ،،کړل،، لپاره کړ وي، نوکړل نوم په کړنه جوړیږي اونه په کړ

۲ - پوښتنه داده، چې ایا کړنوی په کوم پای توري یا په روښانه توکه یې که ووایوپه کومې یې سره ټاکل یا ښوول کیدی شي؟

۳ – Nameنوم

نوم د یوه نوي پوهنیز پېژند له مخې نومونه په یوه کس، یوه شی او یا یوه ځانله کس یا څه د معلومات ډېری یا – سټ یا یوې کلمې باندې تنظیم شوي، معلوماتو معلومولو یا ټاکلو ځانګړنوالي په چوپړ کې دي. یا

پېژند: د یوه کس حیوان یا یوه شي لپاره له یوه یا ډېرو وېینو څخه جوړه نخښه ونه یا یه په نخښه کونه، چې یو څوک د یوځلوالي په څېر راوباسي. ځانیز نوم.

۱ - د یوه کس، کورنۍ نوم یا یوه نوم لپاره په نخښه ونه.

لکه سورګل، سپین.. کشمالی، غونډوسکه او نور.

د نوم او نومن توپیر له پاره یې پېژندونه سره پرتله کړئ

دوه نور ژبنیز توکي.

## نومونه

Nomen / Substantive

## نومونه، شینومونه یا نومویونه..

یادونه: که دا سوبستانتیو او نومونو ته نومویونه ووایو، دما په اند به لنډ موخه ور وي (ـوړاندیزونه):

نومونه/ سوبستانتیو یا شینومونه ژوندي، شیان او کلیمې په ګوته کوي.

روښانه یا څرګند نومونه/ سوبستانتیو شینومونه شیان دي، چې سړی یې ګوري، لمس کوي یې او حس کوي یې. له دې امله ،،نومویونه،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه:مېز، پاڼه، غونډوسکه، پیاله.

ذهني نومونه/ سوبستانتیو شیان دي، چې پرې فکر کیږي او احساس کوي یې

بېلګې: کار، تفریح، خوښي، زړه بدي

نومونه/سوبستانتیو یا شینومونه کومې پېژندنخښې لري؟

نومونه/سوبستانتیو ګڼونښې( تعداد ښې) لري:

یواځی یا یوګڼ (مفرد) بېلګه: ونه، ګلاب، بړستن.

ډېر یا ډېرګڼ(جمع) لکه ونې، ګلابونه، بړستنې

یادونه: د مورږ ژبپوهان د یوه یا و ځانله ته یو ګړی او ډېرو ته ډېر ګړی وایي او له وګړي څخه یې رانیولی. دا ناسم دی، له دې امله هم، چې دا د وګړي سره سر او کار نه لري، دا د هر څه یا هر شي یا یو څه سره سر او کار لري، چې دا دې هرو مرو وګړي نه وي او نه دی.

یو ګڼ په دې پوهېدنه، چې ګن یې یا په ګڼ یو دی یا یواځې دی او ډېر ګڼ په دې پوهېدنه، چې ګڼ یې له یوه ډېر دی، نو ځکه ډېرګڼ.

بیا: منه، منې. منه باید یوه وي، له دې داسې په پوهېږو، چې ګڼ یې یو دی. منې، دلته باید دوه .... پنځه... منې وي، چې ګڼ یې له یوه ډېر دی، نو له دې امله ورته ډېرګڼ وایو، نو لنډ یوګڼ ( ځانله)، ډېرګڼ ( ډېر یا ډېرې). دلته که یو ګڼ وي، یا ډېر ګڼ، نو د ګڼ ښه نه بدلیږي.

نوم/ شینوم یا نومویونه په پښتو کې دوه نرښځیوالي یا نرښځیتوب دي، چې د پیدابښت الې له لارې سره توپیریږي، داپه دې پرېپوهېدنه چې دا نومونه نارینه او ښځینه دي.

نر- ښځیوال یا نرښځېتوب د نارینه او ښځینه لپاره د ناټاکلو پېژند نخښو له لارې: یو، یوه، له یوه، له یوې، او ............ دا له په هغه خپله موخه یا پوهېدنه وروسته راځي.

نرښځیتوب په پښتو ژبه کې د ځنې تورو یا نوره هم ښه زیات یې د غږلرونکو تورو له لارې څخه پېژندلکیږي.

## اړیینه یادونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دې په ګوته وي، چې څوک نر/ښځیوال د کوم توري له لارې نه شي ټاکلکېدی. دا په دې پوهېدنه چې دا نه ټاکل کیږي، دا همداسې له پيداښته دي، چې همدا يې ډېره غوره ده. زموږ ژبپوهان په دې هکله د پوره ناسمون سره مخامخ دي، لکه د ئ منځ ته راوړنه، چې ناسمه ده، دا په دې پوهېدنه چې دوي د يوه غږلرونکي توري له لارې کړ يا کړنه او نوم غواړئ وټاکي، چې داسې ژبنيزه لار نه شته. د تورو له لارې څخه څه نه ټاکل کيږي.

کوم توري دي، چې دا يې له مخې پېژندل کيږي ( که ووايو، چې کوم تورې دي، چې دا ټاکي، ناسمه ده، دا پر دې پوهېدنه باندې چې ټاکل کيږي نه).

-- دا نرښځيتوب کېدی شي، يواځې په يوګڼ بڼه کره شي:

نارينه  پر يوګڼ بڼه باندې: مېز/ پر ډېرګڼ بڼه باندې: مېزونه

ښځينه په يوګڼ: پياله/ ډېرګڼ: پيالې.

-- ډېرګڼ ( په نوميناتيو يا نوميز) د پېژندبخښي سره جوړېږي.

موږ په پښتو کې يواځې ناټاکلي پېژندنخښي لرو: يو مېز، يوه پياله

# Pronomen نومځاينيوي ( هم: له پاره ويونه):

يادونه: ګومان مې دئ، چې د موږ زبپوهان ورته نومځري(؟) وای، خو پوره باوري نه يم او په بل نوم يې هم نه پوهيږم، داسې بخښني راته کوئ، ملامت يم، خو څه وکړم، زموږد پښتو يا بيخي په پښتو پوهنې لا تراوسه کورته نه دي راغلي، لکه دا په نوروژبو پوهنې. پوهيږو، چې داليکني له کورڅخه بې له کتاب او کتابتون سرته رسوو. دا دې دلته په ګوته وي، چې نومځاينيوی هرو مرو د پرونوم انډول دئ او همداسې دئ، که غواړو او که نه ؟

نومځاينيوي:

هغه وييډولونه دي يا د ويونو  هغه ډله ده، چې د نومونو په ځای راځي يا د نومځای نيسي. نو له دې امله نومځاينيوي. دا کټمټ د پرونوم انډول دی. د موږ د پښتو ادبياتو کښې ورته نومځری وايي، چې رېښتيا نه ورباندې پوهېږم. ګومان مې دی ځری نماينده ته وايي، خو نومځاينيوی موخه ور او د پېژند سره سم دی.

## ځانيز نومځاينيوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورو ژبو مخامخ په پښتو کې دا د يوګڼ لپاره دوه دي: زه، ما، ته، تا، هغه، هغې، هغه (ن،ښ).

ډېر يا ډېرګڼ: موږ تاسو، هغوي.

په پښتو کې نومځاينيوي نه بدليږي پرته د يوګڼ لپاره، چې په دوه ډوله دي.

يادونه: دا به په حالتونو کې نور هم روښانه شي.

په الماني کې له الماني رانيولې ورته ،،لپاره،، ويونه هم وايي. پرونوم د نوم ځای نيسي، نو له دې امله نومځاينيوي هم بلل کيږي اوګردانيږي يعنې بدليږي.

يادونه: په الماني ژبه کې نوم ګردانيږي يا ښه بدليږي، خو په پښتو ښه بدلېدنه نه شته، خو دا په حالتونو کې څرګنديږي، چې هلته د نوم او همداسې د نومځاينيو سره چې دا مورفېمونه ورزيات شي، نو پوهېدنه يې بدلوي لکه له ما، پرمېز ، تر کور او دما او نور.

يادونه: دا نومځاينيوي به په دويمه برخه کې پوره يا هغه د اړيينوالي له لارې و څېړل شي.

## د نومځاينيوو ډولونه:

د الماني لاندې پرونومونه يا نومځاينيوي په انډول پښتو څيړو:

Personalpronomen, Possessivpronomen, Reflexivpronomen, Relativpronomen او Interrogativpronomen.

<u>Personalpronomen</u> ځانيز يا شخصي نومځاينيوي

ځانيز يا شخصي نومځاينيوي دي: زه، ما، ته، تا، هغه(ن او ښ)، هغه، موږ، تاسو(ن،ښ)، هغوي او د هغوي بدليدونکې بڼې؟؟ دي.

پښتو کې نومځاينيوي ښه بدلون، لکه د الماني په حالاتو کې نه لري، دا به په اړونده ځای کې روښانه شي.

<u>Possessivpronomen</u> خاوندوالي - يا څښتنوالي نومځاينيوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پوسسیسیو نومځاینیوي( خوندیوالي نومځاینیوي) اړوندوالی یا خاوندوالی یعنې ملکیت په ګوته کوي، موږدا دوه سره توپیروو د مل په څیر او د نومځاینیوي په څیر د په ځای په بڼه یا په څیر

یادونه: دا په حالتونو کې ښه روښانه شوي. چې دا مې لیکل تر هغې پورې په حالتونو او د نومځاینیو په بدلون، ښه یې پوهېدنبدلون باندې نه پوهېدم، په دې اخرو کې بریالی شوم، چې د خپرونو له لارې له تاسو سره شریکې شوې هم دي او م ک له لارې.

بیلګه

دا د ما بکس دی

دا دما دی

<u>Reflexivpronomen</u> راګرځیدونې نومځاینیوي

رفلکسیو- یا راګرځیدوني نومځاینیوي موږ د راګرځیدنې یا بیرته راګرځیدنې سره (ځان تیرباسل یا ځان تیروتل، ځان ناسمیدل( غلتیدل(غلطیدل؟))) او رامات کړنو ( ځان پیژندل) سره کاروو

بلګه:

Ich habe mich verlaufen.

ما ځان تیرباسه یا زه تیروتلم ( خبره په ما اوزه کې ده)

Wir kennen uns

موږ( سره) پیژنو

یادونه: په پښتو اکوزاتی نه شته، نو دا غونډله د کړوني په حالت کې راځي.

که پام وکړو، نودلته هم هرومروپښتو او الماني،همداسې فارسي بل ډول دي.

<u>Relativpronomen</u> نسبتي یا و ... ته نومځای نیوي

د نسبتي نومځاینیوو ( هغه، دا، کوم،...) سره موږ نسبتي غونډالې په ګوته کوو.

بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



:Die Polizei sucht den mann; der die Bank überfallen hat

پولیس سړی لټوی، هغه(کوم) چې بانک وهلی.

<u>Interrogativpronomen</u>

پوښتنوییزنیز- یا پوښتنیز نومځاینیوي

پوښتنیزنومځاینیوي ( څوک، څه شی، چاته، د چا) په پوښتنغوندالله کې د نوم په خاي راځي، د هغه پسې یا د کوم چې موږ پوښتنه کوو.

بیلګه:

د دړې سره به لږ ستونځې ولرم، خوزه پوهیږم، چې تاسوله ما ښه پوهیږۍ.

*?Wer wird das sagen*

دا به څوک ووایي؟

*?Wer sagt das*

دا څوک وايي؟

?Wer hat das gesagt

دا چا وویل؟

*Wer hat das gesagt gehabt?*

دا چا ویلي وو؟

یادونه: دلته ګوره له،، څوک،، څخه ،،چا ته،،لاړه. دړې سره یې پوره توپیر شته.

<u>Demonstrativpronomen</u>.

پام راګرځوني نومځاینیوي دي: دا،هغه وبیونه دي، کوم چې . موږ پام راګرځووني نومځای نیوي هلته کاروو، چې یو څه ( د نورو له ډلې) راوباسو یا غوره کوو یا د پاموړ ګرځوو.

بیلګې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Möchten Sie dieses hemd oder jenes?

تاسو دا کمیس غواړې یا هغه؟

Indefinitpronomen

ناټاکلي نومځاینیوي.

دې ناټاکلو نومځاینیوو پورې اړه لری: یوڅه، نه،سړی، یوڅوک، هر. موږ دا کاروو، کله چې موږ یوشی ټولیزکوو

بیلګه:

( ایا) ته د ما لپاره یوڅه کړی شې؟

غوره یادونه: په الماني کې نومځاینیوي بڼه بدلیږي، خو په پښتو کې د نومیز نومځاینییو، چې موږ همدا لرو، بڼه نه بدلیږي، پرته د اوس حالت څخه، په پښتو باید یوه بله لار وي، چې په هغې زه هم په دې اخرو کې وپوهېد او په پښتو کې هم دا لومړی ځل دی، چې دا کار کیږي او که اجازه وي، دا به د ما میندنه هم وبولم. دامیندنه ځکه لیکم، دا لار په ژبه کې شته، خو ما ومیندله.

# خوي وی Adjektiv Das ورزيات شوی،،

په ژبپوهنه کې هغه د وییونو ډله ده، کوم یا هغه چې د یوه څرګند شي یا یوه ذهني شي، یوې کیدنې یا کړنې یا حالت او داسې نور جوړښت روښانه یا تشریح کوي.

ادجکتیو،،خویوی،، یا ،،ملوي،، هم بلل کیږي، په ښوونځي کی ،،ښکلی،، وی( یو شی ښکلی دی؟) هم بلل کیږي، چې زموږ پښتو ادبیاتو کې یې ستاینوم بولي. د ستاینوم سره موږ لږ د ناسمونونو سره مخاخ کیږو او هغه دا چې دا به یا ښکلی او یا ناښکلی وي او خوي نوم ډېر څه خوندي لري یا ډېر خویونه یا ټول خویونه.

## خوی ویونه کیدی شي وکارول شي:

<u>attributiv</u> اتریبوتیو( یوه شي اړوند یا یوه شي ته یې نسبت ورکړی، د بیلګې په توګه. ښکلې ورځ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



prädikativ پرېډيکاتيو ( د يوه پرېډيکات برخه د کوپولا سره: د بيلګې په توګه: ورځ ښکلې ده) يا

ادوربالadverbial (هغه ښکلې سندرې وايي)

د ژبلار د خبروڅه پوره غزېدلي وي، خو د اوس له پاره زه په دې لړڅه بسيا کوم. که ژوند وو، نو بيا به يې سم وغزوم، خو دا کار د ژبې مينه وال ښه کولی شي.

## د خويوييونو جګېدنه په الماني او پښتو کې:

د الماني ژبې زيات خويويونه کيدی شي جګ شي. دا تلنه
کومپاراڅيون Komparation يا درجه بندي يا ښه يې جګړالی بلل کيږي.

په پښتو کښې د خويويونو بڼه نه بدليږي، خو اړونده جګونه لري.

موږبه يې دا اوس همدا د ډېر،خورا او زښت سره درجه جګه کړو.

Positiv: *schön*ښکلی

Komparativ: *schöner* ډېر ښکلی

Superlativ: *am schönsten*خورا ښکلی

داسې خويوييونه هم شته، چې د هغوي د جګونې سره سټوی بدليږي:

او موږيې بيا په ډېر اوخورا سره جګوو:

ښه،ډېر ښه ،خورا ښهgut, besser, am besten;

زيات، ډېر زيات، لا زيات ، viel, mehr, am meisten.

دې ته ټول مينه وال رابولم،چې اندونه سره ګډ کړي.

اوکه د نوروژبوڅخه يې هم ګټه واخستله، نولا نوربه هم ښه شي.

ځني خويويونه شته،چې په هغې دا جګيدنه نه شي راتللی:

ټيک همغه يا مطلق خويويونه لکه بلاربه ( ډېره بخښنه دبوي، چې دا بې ادبي ونه ګڼی، که حامله وليکم هم همدا ده، خوعربي ده)،مړ اونور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رنګونو جګیدنه بیا شته لکه شین، تک شین، شین چک.

سپین، تکسپین، سپینچک اوهمداسې نور او همداسې په ډېر او زښت او خوراباندې هم جګېدی شي یا جګیږي.

## خویوییونه او ډولونه یې:

-- خویوی یو څنګه والی یاحالت یا یو خوي په نخښه کوي،

په غونډاله کې دا سرې د لاندې پوښتنې په ځواب کې پیدا کوي یا میندي:

یو شی څنګه دئ؟

لکه پورته مو، چې وویل، په پښتو کښې خویویونه هم ښه بدلون نه لري.

د بېلګې په توګه: رنګه، ښکلی،ارام، مړاوی، خپلواک...

ځني ادجکتیو یا خویویونه د پسېتړلي یا سیلبې له لارې پېژندلکیږي( پسې تړلیSuffix ): ناپای،-ور، -وړ، – والی، -توب او نور

-- ادجکتیو له دوه ادجکتیو یا له یوه نوم/شینوم او یوه ادجکتیو څخه جوړ دي:

دبېلګې په توګه: تیاره شین، غټستر، رنګارنګ...
-- د ادجکتیو یا خویویونو کارونه:

موټر ګړندی ځغلي. ( يېدل (د شته والي) په څیر پوره کونه، کېدل، پاتېدل(prädikativ).

ګړندی موټر. ( نوم /شینوم ته ورزیاتېدل(attributiv).

ګړندی ګټي. ( د خپلواک نوم / شینوم په څېړ(substantiviert)

په پښتو کې خویوییونه یا ادجکتیو ښه بدلون نه لري یا نه ښه بدلیږي:

۱ - نومیز: کوښښي زدکونکی پر ستایېلو باندې خوښیږي.

۲ – پربېکړونی: کوښښي زدکونکی ستایلکیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - خاوندوالی: دا د کوښښي زدکونکي ولاس ته راوړنه ده. ډلته ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی.

۳ - داتيو: ستايېنه وکوښښي زدکونکي ته ده. يا له کوښښي زدکونکي څخه ستاينه کيږي. له کوښښي هلک سره ستايېنه مل ده. له کوښښي هلک کره ځو او همداسې نور.

دلته دې د حالتونو برخه په پام کښې ونيول شي، وروسته ځېړل شوې ده.

دا پورته لړ روښانه کوو:

و ۱ – ته: کوښښي. دلته زده کوونکی کوښښي دي، دا په دې پوهېدنه، چې کړونی دی.

و ۲ – ته : دلته کوښښي هلک پرېکړونی دی.

و ۳ – ته: دلته د ،، د ،، د واکوالي مورفيم ورزياتيږي.

و ۴ – ته: د مورفېمونو،،و ،، له لارې څخه بدلون دئ او همداسې له ،، له ،، سره.

## -- د خويوييونو جګېدنه

په پښتو کې د خويوييونو جګېدنه، ليکه د الماني او فارسي پر ځېر باندې نه شته، خو انډول يې پر لاندې ډول باندې شته دی.

بنسټيوړی( زياتېدنه يا مثبت) : ګړندی، جګ، ښکلی

۱ – لومړی جګېدنپوړی( کومپاراتيو Komparativ) ډېر ګړندی، ډېر جګ، ډېر ښکلی.

دويم جګېدنپوړی ( سوپرلاتيو Superlativ) خورا ګړندی، خورا جګ، خورا ښکلی.

يادونه: د ،،ډېر،، او ،، خورا،، په ځای ماته بل څه ښه مناسب نه برېښي، خو تاسو په کې فکر وکړئ.

-- خويوی له پرتلييزويونو سره: لکه، يا، له، چا سره

ښه کېدونکی يا ډېرېدونکی: دومره همدومره ... لکه: زه ( هم) دومره لوي يم لکه ته Komparativ کومپاراتيو..... لکه، ... ته له ما څخه ډېر لوي يې.

يادونه: زموږ اديبان ليکي: ترما ډېر لوي يې او دا ناسم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو اړیکوی تل د هغه له نسبتوي سره څنګ په څنګ وي.

( نوم/شینوم، نومځاینیوی، خوی وی یا ادورب)

اړیکوی تل هممهال یا سملاسي د مخه یا پسې پروت وي

یادونه: پرتله کونه له ،،و یو څه ته،، سره کیږي. لکه سپین و اتل ته جګ دی. که ووایو، چې: سپین نسبت و اتل ته جګ دی. دا به هغه ورسره بلده لیکنه وي، خو دلته ،، د نسبت،، لیکلو ته اړتیا نه شته یا زیات دی.
-- سړی ځنګه یو پسې ځای نیوی یا اړیکوی له ادورب څخه توپېرولی شي؟
یو پسېځاینیوی د یوګڼ وي په څېر د غونډالي غړی یا غونډالغړی نه دی.
-- یو ادورب د یوګڼ وي په څېر غونډالغړی هم کېدی شي.

بېلګه: ټکی د ګردی-دباندې ( دلته د یوه ګډوله ویي په څېر راځي) پروت دي ( دلته پسېځاینیوی یا اړیکوی د نوم/شینوم سره د پسېځاینیوي ځنګه والي یا په حالت کې دی).

یادونه: ما په پیل کې داپورته غونډاله داسې لیکلې وه: ټکی له کردی څخه د باندې پروت دی.

دا دپورته غونډالي ناسمه لیکنه ده، ځکه چې په دې غونډاله کې به ټکی له ګردی څخه دباندې وي، خو هغه ځای به د ګردي له خاوندوالي څخه بل ځای کې دباندې وي.
ټکی د باندې پروت دی ( ادورب – لوکال- یا ځایز ادوربال)
پرته له دې څخه کېدی شي یوګڼي یا ځانله ویونه د اړیکوي (مخ-یا( په پښتو کې مخځاینیوي نه شته) پسېځاینیوي) او د ترنوي په څېر هم وکارول شي.

بیا: د ګردی-دباندې، په دې پرېبوهېدنه، چې دا دباندې د ګردی دی یا - - پورې اړه لري او که ووایو،، له ګردی څخه د باندې،، ، نو کېدی شي، دا دباندې د ګردي نه وي، دابه یو بل چېرته کېدی شي وي..
بېلګه:

هغه د ګاډیتګ په ترخ کې له کړکی څخه کتل. (اړیکوی له نوم/شینوم سره د داتیو په حالت کې)

هغه له کړکی څخه کتل، په داسې ترخ کې چې دباندې زورور جکړ وو. ( ترنه)

# د ژبنیزو توکو پېژند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د ژبپوهانو له انده د ځنو ژبنيزو توکو روښانه پېژند نه شته، نو له دې امله مې د ځنو له پاره دا پيژندونه بيا بيا راوړي، هيله ده، چې شتړي مو نه کړي. که د ليکنې په ترتيب کې مو ناسمون سترګو ته کېده بخښنه به وي، خو دې پېژندونو و ما ته پوره خوند راکړ او د ژبې پيل کې بايد راوړل شوې ويی.

ويی:

يو ويی يو خپلواک ژبنيز يوون( يووالی يا ناسم يې واحد) دی. د يوه غږ يا سېلبې سره په مخامخوالي دا په پيداښتي ژبه کې پرته له غږ يا سېلبې يوه خپلواکه مانا هم لري. يو ټوليز باوري پېژند د دې له پاره نه شته او ستونځمن هم دی. دا موضوع ډېره اوږده څېړل شوې، ما يې يواځې هغه لنډ پېژند له تاسو سره بيا ګډ کړ.

پورته مو وويل چې وی ټوټه کېدی شي، مګر مورفيم نه ټوټه کېدونکی، چې له دې امله يې غږيووالی هم بولي، او کېدی شي، چې دا يو مورفېم يو وی وي.

بيا د غږونو ډولونه او نورې ځانګړتياوي هم شته، چې هغه په دباندنيو د پرمختتلو ژبو په ادبياتو کې هرو مرو شته او په ښه توګه. لکه په موسيقي کښې يې لرو.   بيا

وی څه شی دی؟:

يو وی يو خپلواک ژبنيز يووالی( ناسم يې واحد) دی. په پيداښتي ژبه کې دا – د غږ يا سيلبې مخامخ- يو خپلواکه يا ښه يې ناړونده مانا لري. يو ټوليز منل شوی پېژند نه شته او ستونځمن هم دی، څکه چې دا د ،، ويي ،، کليمه د ژبپوهانو منځ کې يا پوره اوبی نه ده او يا يې په بل څه يادوي . ګومان مې دیٔ يو فرانسوی ژبپوه د ،، ويي،، په ځای ساده ،، نخښه،، کاروي. دلته هم د ليکلو او روښانه ونې، ښه يې څېړنې اړتيا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبوکې يې وګوری..

# غونډاله يا غونډله :

يوه غونډاله له يوه يا ډېرو ويونو جوړ رابند ژبنی يووالی (واحد ناسم دیٔ) دیٔ. د غونډالکليمي پېژند له بېلابېلو ليدلورو ورکړ شوی دی، چې يو بل سره نه پټوي يا ښه يې نه پوښوي. په ټوله کې يوه غونډاله له ژبپوهنيزې لارې، د يوه ستر يووالي په څېړ، پيژندلکېدی شي، چې د سينتاکس(پېژند يې ورکړل شوی) له لارې ورکول کېدی شي.ځنې څرګندونغونډاله د خبرو اترو ٠کمونيکېشن) د خورا کوچني د پوهونی يووالي پېژندل کيږي. خبرکړنې (خبراکت)  په څېړمنځ ته راتلی شي، له بله انده دلته د څرګندونې کلمه کارول کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډالي کلمې ټاکلو له پاره ډېرړوله ليکنې يا اندونه شته دی، چې د ټولو يوځايکونه نږدې ۲۰۰ ته د غونډالي پېژندونه رسيږي. هرژبنی ښوونځي خپله و ځان ته د غونډالي پېژند ومنځ ته راوړي. بېلا بېل سم انديز، فلسفی، د خبرو اترو پوهنيز او ساپوهنيز اړخونه لږ يو بل سره يوغځيزکوي، ليدل کيږي. ورته نيولکيږي، چې د نخښونو پسي غونډاله يوه يواځنی کلمه ده، بلکه يوه ټوله کورني، چې يو بل سره غوځووني يا ګډغوځوونکي ـپه دې مانا چې ګډ څه سره لري) ځان پسې لري.

## پارتيکل Partikelوړې ژبنی ټوټې

د نه بڼه بدلېدونکو يا اوښتونو، په بېلابېلو وييدولونو پورې راټولو شويو نخښو ژبنی يووالی دی.

NICHT(NOT) : PART

نه ( پڅه ه ) ( که نهء)

د يوې وينا د نهء والي لپاره کارول کيږي.

،،دا سمه نهء ده،،. ،، هغه لوي نهء دی، هغه و خپل ورور ته يا له خپل ورور څخه کوچنی دی،،.

-- زه له تاسو سره نهء ځم.

-- د يوې ټولي غونډلي په ځای نه والی.

،، څوک راسره راځي؟ - زه نه.

-- له هغو وييونو سره کارول کيږي، چې منفي پوهېدنه لري او دا ومنفي پوهېدنه يې کمزورې کړي.

،، دا بد نه دی، مګر يو څه کم دي،،.

نه *(Nein(no*

نه ( د روښانه ه) سره: د يوه ځواب لپاره کارولکيږي، چې يو امر، يوه غوښتنه، يوه هيله ونه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی شې له ما سره مرسته وکړې؟

نه، زه وخت نه لرم.

کړی شې له ما سره یو چای و څښې؟

نه، مننه!

ته باید هغه څه وکړې، چې زه یې درته وایم!

نه.

- چې یو ه کپککونکې چېغه یا غږ ترې رامنځ ته شي. اوه/ نه، دا سې هم!

– د دې لپاره، چې یوه وینا سمه یا پوره کړي.

،،هوا خرابه وه، نه، په دې ورځ سوچه بوچه خرابه وه،،.

## Partizipation برخه – یا ونډه لرنه

به

-- باران به وشي

-- هغه به بله اونۍ و کور ته لاړه شي

-- هغه به په دې ښکلې هوا کښې په باغ کښې وي.

-- هغه به پوه وي، چې څه کوي.

-- په دې ترڅ کښې به هغه دا لیک د لاسه کړی

هغه وایي، چې هغه به سبا و ډاکتر ته لاړ شي.

١ . ١Definitionsbefund پېژندپیداکونه

Schulduden د ښوونځې دودن

Duden-Grammatik گرامر دودن -

(c) ketabton.com: The Digital Library



Satz als Subjekt- und Prädikateinheit

غونډاله د سبجکت- اوپرېډيکات په څېر

1.1.4Satz als Rede- oder Textelement

غونډاله د خبرو- يا ليکنتوکي په څېر

1.1.5Satz als kommunikative Einheit

## غونډاله د خبرو اترو يووالي په څېر

دا موضوع نوره نه غزوو، که څه هم ډېره خوندوره او په زړه پورې ده.

د پېژند پيداکونه :

دلته کېدی شي د غونډالې يوڅو خواره شوي پېژندونه بېرته ورکړی شي:

د ښوونځي دودن ـ( دودن د الماني ژبې شننيزه کتابونه دي، چې په هره څانګه يانږدې په هره څانګه کې يې لري): د غونډالي د ښوونځي دودن پېژند دی: ،، ژبه يو رابند ژبني يا ترلی يووالی دی، چې له کوچنيو يوونونو يا يووالو( ويونه او ويونډلې يا – ګروپونه) يوځای اېښوول شوي وي،،

دا چې غونډالې د يوه وي سره شتون لري( بېلګه يې : څه)، نو کېدی شي د يوې داسې غونډلې پېژند د ويي څخه توپير ونه لري. يا توپېر نه شو کړی.

دا هم روښانه نه ده،، جې ژبني يووالي لاندې څه پوهږو. يوه ويډله (سنتاګما) هم په خپل دننه کې هم رابند يا پوښلی ژبني يووالی دی. نو له دې امله په پورته پېژند کې دويونو پسې راتلنه يا تعقيب په خپل دننه کې يو ژبنی رابند يا پوښلی يووالی دی

نو له دې سره پورته پېژند د ويونو پرلپسې راتلنه ،، په خپل دننه کې يو رابند ژبني يووالی دی.،، يو په خپل دننه کې رابند ژبني يووالی، بې له دې چې د يېژند له مخې روښانه وی، چې د څه له امله يا کومې لارې يوه داسې ويډله دې ځان له يوې غونډالې سره بېل کړي

غونډاله ستر يووالی يا يوون يا يووالی (واحد ناسم دی) دی، چې د سينتاکس له لارې جوړېدی شي،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلومفیلد پېژند له مخې،،: غونډاله د خورا لویې خپلواک سینتاکتیکې بڼې په څېر ، چې د خپلې لوري د هیڅ ګراماتیکي جوړښت په یوه خورا لویه سینتاکتیکي بڼه کې خوندي نه ده. ،،

د دودن ګرامر: د دودن ګرامر زیات غونډالپېژندونه راته وړاندې کوي:

،، یوه غونډاله یو پوښلی یا رابند یووالی دئ، کوم چې د سنتاکس له لارې جوړ شوی دئ

موږ نا پوره غونډالې هم لرو، چې په لاندې ډول یې لږ روښانه کوو:

ناپوره غونډالې :

د ،،غونډالې،، کلیمې لاندې نا پوره غونډالې هم راځي، نو داسې غونډالې چې د هغوي اړتیا له مخې یا اړیندوله د غونډالې یو یا ډېر غړي نه وي.

بېلابېل تیوپونه سره توپیریږي:

Anakoluth[on] (= Satzbruch  غونډالماتېدنه یا - پرېکېدنه

یوه پیچلې غونډاله دغونډاللړئ او غونډالزیاتونو سره سړی یو غونډالراګرځېدونکې هم بولي.

غونډالې کړی شي د یوه یوه تړوني( سینډېتیک) یا د ډېرو تړونو (پولسینډېتیکي) یا بې تړونې ( اسینډېتیکي)  یو د بل سره وتړل شي.

Beispiel:سینډېتیکي: :

سینډېتیکي: ،، زه راغلم، ما وکتل او زه بریالی شوم،،.

پولیوسینډیتیکي: ،،زه راغلم او ما ولیدل او زه بریالی شوم،،.

اسینډېتیکي: ،، زه راغلم، ما ولیدل، زه بریالی شوم

نومیزه غونډاله، چې ډېر وخت ترې غونډالې بې له مرستندوي کړنې دئ پوهیږو.

بېلګه: ،، ښځه لاړه، پیسې لاړې، کور لاړ

پیداښتي ژبه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژبپوهنه کې پيداښتي ژبه هغه ده، چې له انسانانو ويل کيږي يا له انسانانو خبرې پرې کيږي يا يوه زيږېدلې ژبه، چې له يوه نا لارښود شوي ودې څخه ومنځ ته راغلې وي. دلته دې ته به هم ګوته ونيسم، چې ژبه -لکه چې څنګه يې زموږ ژبپوهان وايي- معامله نه ده، پيداښت دی.

د ژبې نور ډولونه، لکه جوړې شوې يا مصنوعي ژبې، هنري ژبې، د نخښنو ژبې او نورې شته، چې موږ يې نور د څېړنو نيت نه لرو..،

بيا: چې له پيداښتي ژبې غږيږو، نو له دې سره جوړه پوهېږو، چې ژبه قرارداد نه دی، پرته له موږ څخه منځ ته راغلي هغه ويونه، چې په پيداښت کې په ژبه کې نه وو، خو موږ له دې سره مخامخ نه يو، له دې سره پرمختللي هيوادونه مخامخ دي، چې هغوي نوي څه منځ ته راوړي

## ټوليز پېژند يا غونډالجوړښت ښونه:<u>Syntax</u>

د سينتاکس لاندې سرې د غونډالو جوړونو ښوونه پوهيږي. دا کره کوي ، چې څنګه له يوګښو يا ځانله برخو- ويونو څخه موخه ورې غونډالې جوړيږي –

د سينتاکس لاندې سرې يوځاى اينول شوی پيداښتي يا جوړښتيز نخښه سيستم په ټوليزه توګه و نخښو ته ګډوله لارسيستم پوهيږي

## د غونډالو جوړښت

غونډالې د ژبې د توکو له يوځاى اينوولو څخه جوړيږي.

ګډوله غونډالې- پيلونه

يوه ګډوله غونډاله له دوه يا ډېرو پوره غونډالو جوړه ده، چې هغوي يو د بل سره تړلې ، سم انديز خپلواکې غونډالې دي، چې ګډه موضوع لري او تړنويونو،، او،، او همداسې ،،يا،، سره تړل کيږي. دا ډول غونډالتړنه تنظيم شوې ( بنسټغونډاله يا اصلي غونډاله) تړنه بلل کيږي. تړنويونه ( د بېلګې په توګه يا، او) سرې منظمکوونکي تړنويونه بولي. <u>Numerale ګڼيز: دوه ( دوی) لارې، شيږم ټولګې.</u>

<u>غوارو چې ګڼونه په ګڼوننخښو وليکو: ۲ لارې، ۶ – م ټولګې( ۶ ټولګې ناسم دی).</u>
<u>-- ځنې نومونه/شينومونه د هغه د پسې‌سيلبې يا ښه يې تړلې( د پښتو ادبياتو کې لکه وروستارې بلل کيږي، خو ما ته يې دا پسې‌تړلې موخه ور بريښي) د پسې مورفيم په مرسته پېژندلکيږي. دا کېدی شي په سفېکس کې وکتل شي، هلته روښانه دي.</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



- والی، - توب، ......

کوچنیوالی، نارینتوب،

کلیوال، کلیواله، نرولي، ښخولي.............

# Konjunktion ترنوییونه

دا تکرار دی، خو داسې نوي څه هم لري.

کونیونکځیون (لاتین: پښتو انډول يې: ترونې یا ترنویې) ویډول

کونیونکځیون، ترونوی، یونکځیون په ګرامرکې یو وییډول دی، چې د ویونو، غونډلې برخو، یا غونډلو منځ کې سینتکتیکي(syntaktische په نخښو ) ترنې منځ ته راولي او هممهال سم اندیزې یا ګرامري اړیکې د ترلو توکو په منځ کې روښانه یا افاده کوي. د پرېپوزېځیونونو یا اړیکویونو سره یوځای، چې ژبنیزې ورنړدې موخې پوره کوي کیدی شي کونیونکځیونونه د اړیکویونه Relatoren په څیر رایوځای شي.
زه یې په دې پیل کې درې بیلګې راوړم، چې دوه یې د شمیرپوهنې بنسټ ترونې دي.
دا باید په نخښه کړم، چې دا په شمیرپوهنه کې ویناوې سره ترې، دا زما د شمیرپوهنې سم اند کتاب کې بیا ښه روښانه شویاوړونده لیکنې یې هم شته.
لومړی:
،،یا،،
وکابل ته ځم یا وکندهار ته خم. یا

و کابل یا و کندهار ته ځم
دویم:
،،او ،،
زه وجلال اباد ته ځم، او و کابل ته ځم.

جلالاباد او و کابل ته ځم

یادونه: دا دوه ترنویونه ،، او ،، او،، یا ،، د شمیرپوهنې سم اند بنسټیز ترنویونه دي .
دریم:
،،تر،،
ټول کسان ناست وو، ترڅو- یا تر هغې پورې، چې ټول میلمانه وکتونو (خوبځایونو) ته لاړل یا

ټول کسان ناست وو، ترڅو پورې، چې ټول میلمانه کورونو ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به له ۴ بجو ښخه تر ښپږ بجو پورې درشم.

په دې لمنځتون کې له ۲۰۰ ښخه تر ۲۵۰ کسانو پورې ځایږي.

پورته غونډالې ته یوه یادونه، چې اړیینه ده: ځنې کسان به ووایي، چې: له ۲۰۰ تر...

دلته له ښخه نه شته، ځکه دلته د ۲۰۰ موخه پیل نه دی، دا له ... نه دی.
ګورو، چې ،،تر،، ترونوی دی او پرته له دې پرېپوزېشن هم دي. داپرېکړه ناسمه ده؟؟؟؟
که ،،تر،، یوه بله ګراماتیکي دنده سرته رسولی، نوما به دلته راوړې وی، خوباید
وهڅیږو، چې ،،تر ،،د نورو اړیکویونودنده په غاړه نه اخلي
ځنې لیکوال اوپښتو پوهان یې د پرتلې له پاره هم کاروي، خودا ناسم دی. بله لیکنه کې به
دا راوړل شي. بیا

# ترنوییونو

سپین له ننګرهار ښخه راځي. خوږه له خوست ښخه راځي..

سپین له ننګرهار ښخه راځي او خوږه له خوست ښخه راځي

زیات وخت د دوه غونډالو په منځ کې یوه سم اندیزه ترنه شته وي یا شتون لري.

سپین وکابل ته ځي. سپین وکونړ ته ځي.

سپین وکابل ته ځي یا و کونړ ته.

په لاندې بېلګه کې دویمه غونډاله د لومړۍ غونډالې له پاره یو لامل دی او لومړۍ
غونډاله د دویمې غونډالې یو سم اندیز پسې رتلنه یا پرلپسې ده.

بېلګه: پرلپسې( تعقیب )– لامل

هغه نه راځي. هغه ناروغ دی. د دوه غونډالو سم اندیز ګډاړیکوالی د دوه ترنویونو له
لارې جوړیږي. سرې کړی شي د یوه سم اندیز دلیل-پرلپسې-اړیکې د بېلګې په توګه
ترنویونه ولې، چې، له دې امله، ځکه چې، و کاروي.

بېلګه:

دا(ولې) چې: هغه نه راځي، دا (ولې) چې هغه ناروغه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله: هغه ناروغه دی، له دې امله هغه نه راځي.

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغه دی.

تړلشوې غونډالې د يوې کوما(بېلېدننخښه) له لارې سره بېلېږي. تړنويونه لومړی او يا دويمې غونډالې پورې اړه لري. هغه دا غونډاله ،، په نخښه،، کوي. سړی کړی شي د ځنو تړنويونو له لارې( د بېلګې په توګه ځکه چې) د غونډالو لړۍ پرلپسې سره بدلې کړي، د ځنو سره نه ( د بېلګې په توګه داچې، له دې امله).

بېلګه:

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

ځکه چې هغه ناروغ دی، هغه نه راځي.

بنسټغونډال – او څنګيزغونډالترړنه

تړنويونه د کړنې يا کړ نځای ټاکي. د کړنځای ټاکنې پسې سړی کړی شي د سم انديز غونډالترړنې دوه اريز- يا اصلي ډولونه سره بېل کړي:

لومړی داچې تړنه، چې په هغې کې کړنه په يوه غونډاله کې په اخر ځای کې ولاړه وي ( که غواړۍ: ځاي په ځای وي). د تړنې دا ډول څنګيزغونډالترړنه بلل کيږي يا سړی دا ډول تړنه څنګيزغونډالترړنه – يا نيممنظمه تړنه بولې. تړنويونه سړی نيممنظمه تړونې بولې.

بېلګه: ځکه چې(څنګيز غونډالترړنه= کړنه په پای کې)

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

داسې لنډه زياتونه:

موږ په پښتو کې لرو: کړونی، پرېکړونی، نه کړونی. دلته درې دي

په عربي او فارسي کښې: فاعل او مفعول: دوه. موږ هم دا کاروو، چې د پښتو لپاره نېمګړي دي، ځکه پښتو درې لري.

په الماني کښې: اکتيو او پاسيو لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما سره، ښه يې د ما له ليکنو سره د ګرانو لوستونکو ستونځې دا دي، چې زه د کې‌دلو تر پولې پورې تولې پوهنيزې ليکنې په پښتو ليکم او له دې سره د مور ژبپوهان او ليکوالان بلد نه دي.

دا په پښتو ليکل د مور د ليکوالانو او ژبپوهانو لپاره ډېر نابلد دي. دا نابلدتيا يوه ستره ستونځه ده، په رښتيا يوه ستره ستونځه ده او پښتو په رښتيا د هرې پوهنيزې ريښې په پښتو د ليکلو توانلري.

## فونيم څه شی دی؟ phonem

فونېم:

پيلیادونه: په نورو ژبو يا لږ ترلږه الماني کې ډېر ويونه شته، چې د غږ په مانا دي، خو مور په پښتو کې همدا غږ، ګړ او ويل لرو. نه پوهيږم، چې اواز مو پښتو دی او که نه؟ زه به په دې غږ او ګړپاتې شم او بيا له الماني به د هغه بل ډول غږ له پاره دا د غږ سره مل په يوه بل ډول روښانه کړم

پېژند: فونيم زوړ يوناني نوم دی په لاندې پوهېدنه دی:

(Ein Phonem (له *phōnḗ* φωνή <u>altgriechisch</u>, پښتو: غږ يا ګړ')

د ټولو غږونو يو ذهني ټولګی دی، چې په يوه ګړيزه ژبه کې همغه يا برابره توپيرېدونکې دنده لري.

بېلګه: که فونيم /ښ/ راواخلو، نو دا په بېلو بېلو ځايونو کې په بېلا بېل ډول ويل کيږي، خو موخه ترې همغه اخستل دي يا همغه اخستل ، دا په دې مانا، چې په پښتو کې يې د ويونو په منځ کې کوم توپير نه لري دا يواځې د ويېنې ډولونه دی، لکه په ،، ښه،، کې، چې ځنو ځايونو پرته له ښ په خ او ش هم وېل کيږي، خو موخه ترې همغه پوهېدلکيږي، نو له دې امله ګړيزه ژبه يا په ويلو کې، خو که کوم فونېم بدل شي، نو مانايې ورسره نه بدليږي.

دلته په فونېم کې همدا ګړ يا غږ يووالی دی يا که غواړی همدا يو غږ يو يوالی دی لکه د / ر / يا /ت/ او نورو غږ، چې خپله مانا نه لري، خو په وی کې وی ته هغه انډول مانا ورکوي دا دې په ګوته وي، چې دا غږ د سيلبې له لارې روښانه دی..

د دې بېلګې په دې نورو ژبو کې لږ روښانه دی، خو زه ورسره په پښتو کې ستونځې لرم، چې هغه بايد په ګډه سره اوبی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوونونه یا یووالي، نو په ژبه کې څنګه او کوم دي؟

په پورته کې ګورو، چې /ر/ او / ت/ مو ورکړي، چې همدا هر یو یې یووالی دی. همدایې د پیژند یووالی دی، چې غږ راوځي، نو دا به یو سیلبي وي. که زه ناسم وم، بخښنه راته وکړی، خو ګومان مې دی، زموږ ژبپوهان یې څپه بولي، که داسې وي، نو بیا ګړ – یا غږڅپې ته به څه ووایو. راځی، چې په دې سیلبې پاتې شو او که غواړی سیلاب.

د سیلبې او څپې تو پیر غږ په څپو خوریږي سیلبې همهغه یو اواز راوستنه ده.

لاندې بېلګې ګورو:

بېلګې: ،، مور،،/،، پور،، ،مار ،، / ،، تار ،،

په پورته کې ګورو، چې نور ټول توري همغه دي او یواځي لومړي توري یې سره بدل دي او له دې امله پوهېدنبدلېدونکي دي.

د دې ویونو د پوهېدنو توپیر د وېلو یا لیکلو، ویونو جوړې یا خورا کوچنی (مینیمال) جوړې بلل کیږي لکه دا پورته. مینیمال ځکه، چې هغه خورا کوچنی جوړې دې. وروسته روښانه پېژند شته

بیا: دا به هم دلته په ګوته کړو، چې فونیمونه نه ځانله د یو غږ بلکه د سیلبې په څیر رامنځ کیږي یا منځ ته راځي..

<u>Allophone</u> د یوه غږ بلډولوالی

د دې یوه غږ ښ الوفونونه /ښ/ روښانه دي، چې په بېلابېلو ځایونو کې بېلابېل ویل کیږي.

الوفون یوناني وی دی، چې الو د بل او فون د غږ یا ګړپه مانا دي یعني بل ډول غږ یا اواز یا ګړ، نو له دې امله الوفونونه د فونېم بل ډولوالی دی، چې د فونېمبدلون یا سبفونېم بدلون په نامه یادیږي

د سره خپلوانو ویونو یا کلمو پېژند یا یې نوره هم ښه سره توپېری پېژند ونه یې :

دېستینګېم : Distingem :

فونېم او ګرافېم د دېستینګېم کلمې یا د وی لاندې سره راټولیږي یا رایوځای کیږي.

دا په دې مانا، چې دیستېنګېم دوه برخې دي: ګرافیم او فونېم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرافېم :Graphem

. فونېم له گرافېم څخه توپیریږي . گرافېم د لیکلشوې ژبې خورا کوچنۍ ماناتوپیرېدونکی یووالی دئ

فونېم Phonem

.فونېم د ویونکې – یا گړ ژبې خورا کوچنی ماناتوپیرېدونکي یووالي دئ

مورفېم Morphem

یادونه: مورفیم دلته لنډ راغلی. بل ځای کې بیاپوره څېړلشوی دي.

فونېم له مورفېم څخه توپېر لري. فونېم د خورا کوچنی د ژبې پو هېدنتوپیرېدونکی یوون یا یووالي په څېر پېژند لري، په داسې حال کې چې مورفېم د ژبې خورا کوچني مانا وړونکي یووالي یا یوون په څېر پېژند لري، چې دواړه سیمانتیکي ژبنیزه منځپانگه لري.

یادونه: دا یو اوږد د خبرو څه لري، چې زه یې زما د پاتې وخت سره لږ نورې شنني ته بېواکه یم، خو دا مې داسې لږ څه پیژندونه له الماني تاسو سره گډ کړل، په دې هیله، چې ستاسو مینه مې ورسره راپارولي وي، بیا وایم، چې دا پوهنه پرته له یوې وتلې ژبې د زده کړې څخه نه کیږي

د دې کلمو د یووالو پېژندونه

پورته مې ولیکل، چې د فونېم یووالی لکه لاندې بېلگه کې /م/ دئ

د مورفېم یووالی سیلبې یا سیلاب دئ، هر مورفېم یو سېلبې دئ.

بېلگې: ،، مور،،/،، پور،، ،شل ،، / شل ،، ( د ش پځ پځ الف سره ویل

د ماناو توپیر د گړیزو ویونو جوړې یا خورا کوچنۍ (مینیمال) جوړې بلل کیږي

دا به هم دلته په گوته کړو، چې فونیمونه نه ځانله د یو غږ بلکه د سېلبې په څیر رامنځ کیږي یا منځ ته راځي

بیا یې یووالی: د دې پورته ژبنیو توکو یووالی نو د سېلبې څخه څرگندیږي، دا یو سېلبې دي او دا یې یووالی هم دئ. یو وی کړی شي یو سېلبي یا ډېر سېلبي وي، مگر دا ټول یوسېلبي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فونېم د ویلشوې وي پوهېدنتوپیرېدونکی یووالی دئ. دا په دې مانا، چې د یوه فونېم بدلول د یو بل فونېم سره د دوي پوهېدنه بدلیږي یا تغیر خوري

د دې لاندې څخه موخه پوهېدل کيږي او وروسته همراځې.

دا لاندې بېلګې په ګوته کوي، چې فونېم ماناوړونکی یووالی نه انځوروي، بلکه مانا توپیرونه په ګوته کوي

سړی ویلی شي: فونېم د یوه وي هغه خورا کوچنی غږیزه جوړښتبرخه ده د وي توپیرېدونکې دندې سره. د فونېم د بدلون له لارې د وي مانا بدلیږي، دا فونېم پخپله نه مانا وړونکی دئ.

نورې بېلګې:

فونېمبدلېدنه په پیلغږ کې

کور – ګور

مړه – پړه

تار – مار

فونېمبدلېدنه په پایغږ یا پایګړکې

کار - کال

وروړ - خوړ

فونېمبدلېدنه په منځغږ کې

کور – کار

ډېر - ډار

ټول - ټال

یادونه: د ماپه اند که دلته د غږ په ځای ګړ وکاروو ښه به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فونېتیک Phonetik

(زړه یونانی phōnētikós φωνητικός,پښتو پوهېدنه یي غږ - یا ګړاړوند , ) .

φωνή *phōnḗ*, پښتوپوهېدنه یې غږ

یوپوهنیز دېسخیپلین یا دېسیپلین دی، چې ژبغږ په لاندې دلایلوڅېړي: په ستوني ګنډه، مری-، خوله او د پوزې په ورشو کې غږجوړونه او د غږ او ګړحس کول د اکوستیکي خوي او د غږ یا ګړ کارونه د غوږونو او انساني مغذ له لارې

دا دوه دندې لري: غږجوړونه او غږاورېدنه، نو:

فونېتیک یوه خپلواکه د دېرو پوهنو په منځ کې ځغاستې ځانګه ده لکه لینګوېستیک، اناتومي، فیزیولوژي، نوېرولوژي، فزیک او شمېرپوهنه. د فونېتیک څېړنورشو یا څېړن اله ګړېدلې یا ویل شوې ژبه یا لنډ ګړژبه ده د هغې په ټولو رېښتینوالي- یا ریالېزه کولو کې.

فونېتیک هم لکه فونولوجی ویلشوې یا غږېدلې ژبه یا لنډ ګړژبه څیړي. فونېتیک د فونولوجي څخه ځان په یو بل اسپک یا کړنلار بېلوي. فونولوژي د ژبپوهنې برخورشو په څېړ غږونه په یوګونو ژبو کې د خپلو پوهېدنتوپیرېدونکو دندو غږونه ټولګیزوي. په مخامخ یې فونېتیک د فزیکي ، نیورولوژی، فیزیولوژي د یو یو بلې ژبپوهنې لارې ، چې غږجګوالي جوړښت، د هغې وړنه او د هغې احساسونه په کې غوره دي او د پیداېښتي پوهنو څخه ګټه اخلي.

## د فونولوژي پېژند:

Die Phonologie (زوړ یوناني وی دی.φωνή *phōnḗ*, پښتو غږ.‘, *lógos*λόγος, پښتو پوهنه) فونولوژي

په پښتو غږپوهنه، د ژبپوهنې یوه برخورشو ده. دا د ژبپوهنې په دننه کې په ټوله کې د د فونونیتیک څخه باید رابنده شي، پر دې پوهېدنه باندې، چې په منځ کې یې باید پولي وي:

په داسې حال کې چې فونیمیک د ژبغږونو روښانه خویونه څېړي، چې څنګه جوړیږي او فونولوژي د یوګونو ژبود غږونو ګړسیستم د دندې سره سر او کار لري. له دې سره دا د ژبلار یوه برخه جوړوي.

## فونیتیک:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پېژند Definition

فونيتيک د ګړڅپو يا ژبڅپو پوهنه ده، د سېلبو، خپل جوړښت د ويونکي او د هغه په کاراچونه د غوږ له لارې، چې د انسان د خبرو اترو فزيکي، روحي يا ارواپوهنې او فيزيولوژيکي ګړموادو ټولوالي په پام کې نيولو سره

د يوې پوهنې په څېر د فونېميک د ژبغړونو رواجي څېړنو له مخې يې ټاکل، د موډرنو يا اوسنيو څېړنو په څير تنګ دی. له دې امله لاندې فونېتيکي څانګې سره توپيروو:

۱-ويېنډوله فونيتيک

,artikulatorische Phonetik

۲ – غږيز فونيتيک د فونيتيک هغه ورشو ده، چې د ويل شوو جګو يا غږونو سره بوخته ده. دلته د بېلګې په توګه څېړل کيږي امپليتودې يا جګوالی او فرکونڅ

,akustische Phonetik

غږيز فونيتيک د فونيتيک

دالاندې يې نه ژباړم، دا ګران ليونکي په دا څلورو پرمختللو ژبو کې لوستلس او روښانه کولی شي.

دا په دې څېړنه کړي، چې غږ د شتونې او ژبې او نورو غږ الو له لارې څنګه پيداکيږي

,perzeptive Phonetik

,physiologische Phonetik

.funktionale Phonetik

دا پورته ژبنيز توکي مې همداسې پرېښوول، زما د فزيکي توانه راته داسې څه لرې برېښي، خو ګران لوستونکي په هره پرمختللې ژبه کې دا  پيداکولی شي

## phonemic فونېميک .

پېژند: د پيداښتي ژبې د غږيزې - او ليکنژبې روښانه روښانه ونه يا که غواړئ شننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېژند: مورفیم څه شی دی؟

مورفيمونه د اوازونويا تورو کوچني ټولګي دي، چې د ويي يو خپله مانا يا غوره والی ولري.

بیلګه: ،، لوي ،، وی یو مورفیم دی. دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي ،، ، ،،لویان،، کې کارولکیږي.
،، - والی،، هم یومورفیم دی. دا په دې پوهېدنه، چې یو شی داسې دی، لکه دا وی، په کوم پوړې چې دی تړلکیږي. دا د بیلګې په توګه په ،، لويوالي،، ، ،،ښکليوالي،، ، ،، لټوالي،، کې کارولکیږي.
همداسې ،، –ان،، یو مورفیم دی.دا د نورو په څنګ کې کارول کیږي، چې وښايي، چې یو څه زیات په بر کې نیسي، د بیلګې په توګه ،،لویان،، ، ،،چرګان،،.
زيات ویونه له ډېرو مورفیمونو جوړ دي، که سړی مورفیمونه وپیژني، نو سړی کړی شي د وی په مانا ساده وپوهیږي.
مورفيمونه اوژبسیلبې زيات وخت همغه یا یو شی دي، مګرتل نه. ،، ژوند،، له ،،ژوندکولو،، ، او ،، مګر،، هم مورفيمونه دي. مګر سړی وايي،، ژوند-کول،، او ،،م-ګر،،.
یا
مورفیم
مورفیم خورا کوچنی اواز- یا غږیوون یا غږیووالی دی، کوم چې په بیلابیلو ژبنیز اړوندوالي سره همغه مانا لري.
سړی د خپلواک او تړلي يا بلواک مورفيمونوپه منځ کې توپيروي، چې دا يواځې( فقط) د ويونوپه دننه کې رامنځ ته کيږي.
که الماني ژبې ته پام وکړو، نو په هغې کې دربزره لیکسیکي مورفیمونه، ۱۶ بیلابیل ګرامري مورفیمونه او ۱۰۰ وييجوړونکي مورفيمونه شته.
نااړوند یا خپلواک مورفیمونه :
لکه: میز، ټوکه، سر
تړلي يا بلواک مورفيمونه : لکه
کب- ګی ، بنسټ + کوچنیونه یا کوچنیکونه
لویان، بنسټ + زیاتوالیپای
که تاسوپه نورو ژبو کې دا کوری، ډېرې ليکنې پرې شوي اوهر چا د خپلې خوښې سره پيژندونه ورکړي، خوموخه – چې خورا واړه ژبیونونه دی – همغه ده.
،،مورفیم،، له فرانسوي راځي"morphème" ، له يوناني "morphe" - له پښتو ،، جوړښت، بڼه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وی کیدی شي ټوټه کیدونکی وي او له دې امله د ډېرو مورفیمونو جوړوي، خو یو نه ټوټه کیدونکی وی سملاسي یواځې یو مورفیم انځوروي.

ما په پورته کې یا د پرېپوزېشن خبروکې ،، له ... څخه،، ، د .... سره،، د پ په توګه راوړي،خوهلته ،، له،، او ،، د،، مورفیمونه دي، ،، څخه،، او ،، سره،، پوستپوزېشنونه دي. یا دا لاندې

پېژند: مورفېم د ژبې یو خورا کوچنی پوهېدنوړونکی یووالی(واحد سم نه دی) دی د بېلابېلو مورفېمونو د یوځایکولو سره وییونه جوړېږي. مورفېم په ژبپوهنه کښې یوه غوره کلمه ده او د مورفولوژي ( دوییونو جوړوني او بڼې پوهنې ) یوه برخه ده.

یادونه: پام دې وي، چې دا دلته مورفېمونه د پسېتړلي یا سافیکسون هم دي.( هلته کتل کېدی شي).

# نیونه، بنوونه، غوښتنه

دا ویونه، چې زه یې دلته اوس د ګرانو لوستونکوسره شریکوم، زیات په شمیر پوهنه کې کارولکیږي، خو په ورځني ژوند اونوروپوهنوکې هم ورسره مخامخ کیږو.

## وړاندنیونه ( preconditio لنډ: نیونه ، فرضیه)

وړاندنیونه یو حالت او یا یو خوي دی، چې باید پوره وي، له دې د مخه چې یو بل حالت، یوه کړنه یا یو بل خوي او یا یوه بله پروسه د ښوني شي یا وښول شي.

د بیلګې په توګه په یوه څه کې د ننوتني منلو یا داخېلېدو اجازې د مستحق کېدو له پاره ازموینه زیات وخت یوه وړاندنیونه یا که غواړئ فرضیه ده

یوه وړاندنیونه کېدی شي یواځې د یوه حالت یا یوه خوی یوه وړاندنیونه وي.

په سم اند کې وړاندنیونه په لاتین کې د پریمیس Premise په نامه هم بلل کیږي.

په شمېرپوهنه کې وړاندنیونه د یوې ښوونلاري یوه غوره برخه جوړولی شي

په دې توګه ایندکشن وړاندنیونه induction precondition *Induktionsvoraussetzung* پایونه د ایندکشن ښوونه((the prove of induction Induktionsbeweis (د ځانګړو څخه په ټولیزو پایونه) پیل په نخښه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه : په ډېرو هېوادونو کې د تابعیت منلو لپاره په پوره سویه د ژبې زده کړه له هر څه څخه د مخه وړاندنیونه ده.

په افغانستان کې د پوهنتون ننوتنې لپاره د کانکور ازموینه وړاندنیونه ده.

قضیه یا جمله :

جمله په شمېرپوهنه او سم اند کې یوه نوې پوهه یا پیژندنه ده ، چې له اکسیومونو، ټاکندویو(پیژندونو یا تعریفونو) او څرګنده جملو څخه فرمولبمدي کیږي. ددې لپاره، چې د یوې جملې وینا و منل شي یا وپېژندل شي، باید و ښوول شي . که پر کره توګه باندې ونیسو نو دا یوې منلې legitimierte ( قانوني) پرلپسي ټولګیز (صنفي) پریدیکاتي سم اند د پایونې پرلپسي ده یا که غواړی پایله ده.

## ښوونه:

په شمېرپوهنه کې ښوونه د یوې وینا د رښتیاوالي یا نارښتیاوالي باوري راوپستنه ( ښوونه) ده. دا د اکسیومونو، چې سر له سره رښتیا نیول شوي وي او نورو وینا و څخه، چې رښتیاینه یې تیاره ښوول شوي وي راوپستل کیږي.. دلته له اکسیوماتیکي axiomatischen ښووني خبرې کوو.

شمیرپوهنیزښوونېزیات وختپه وړو،وړوپلو د نورو غونډالویا جملوپه بنسټ سرته رسیږي.

جوړښتیزې - او نا جوړښتیزې ښوونې.

## شتونښوونه:

شتونښوونه چې وښایي ده، یا یوه تلنلار ورکړ شوې، چې اوبی ته موبیایي،دا په دې مانا چې، یواوبی جوړیږي یا منځ ته راځي.

د یوه نه جوړښتیزې ښوونې سره د خویونو لرلوسره د یوه اوبیشتون پای کیږي. کله ختیناسیده نیونې کیږي، چې اوبیدې شتون نه لري. له دې ښوونو لاس ته نه راځي، چې سرې څنګه اوبی لاسته راوړي.

## غوښتنه (ثبوت) Behauptung

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه (ثبوت) Behauptung یا ،، څرګند یا روښانه حکم ،،تضمین شوی قضاوت،، هم بلل کيږي، يوه جمله ده د ځانګړې مانا سره او له ويونکي څخه داسې ويل کيږي، چې ټوليزه او د ټل لپاره وي. که د بېلګې په توګه څوک پوښتنې ته ، چې ايالندن له پاريس څخه لوي دی،؟

ځواب وايي: لندن په ۲۰۰۰ ز ک کې د پاريس څخه زيات اوسيدونکي لرل،، نو له دې سره دی غوښتنه رامنځ ته کوي.

يوه غوښتنه نه يواځې لکه ( څرکندونه) ويېنه يوه جمله ده د ټاکلي خونديونې ( متن) سره، بلکې يو ټوليز ه کړنه کاروايي ده: د ويل شوې وينا لپاره يوه ټوليزه په اختيار کې نيونى ( چې ګوندې د ټيکوالي دعوا پرې شوي وي) باوري کيدنه . John R. Searl ددې لپاره د خبروکار“speach act” کلمه و کاروله.

غوښتنې کېدی شي ټيک ( همداسې رښتيا ) وي يا نارښتيا. دا له دې امله موخه ورې دي، چې غوښتنو باندې د منلو او ردونو له امله خبرې اترې يا که غواړئ مباحثه وشي، شک پرې راشي، ومنل شي يعنې تصديق شي، چې زور پرې واچول شي، وښوول شي، رد کړاي شي( ياني تضاد يې وښوولی شي).

د نورو ژبنيو څرګندونو څخه يې رابېلونه

غوښتنې( ثبوتونه) نه دي لکه دا لاندې:

۱ - په نيونو ودانې يا فقط نيولشوې يا نا جدي جملې. د په توګه په ادبياتو، ژبتمرينونه يا ټوکې ټکالې لکه ( ،،په يوه وخت کې يو پاچا وو............،،)

۲ – پوښتنې،شک، ګومان(،، نه پوهېږم، چې ايا دا به راشي،،)

۳ – تيوريتيکي نيونې(،، نيسو،چې هر خاوند د جګې ګټې هلې ځلې کوي،،)

۴– امر ( ،، لاسونه جګ،،)

۵ – کليمه ټاکنه يا نومينال پېژند (،، د زياتو اتومونو ټينګه تړنه دې ،، ماليکيول ،، و بلل شي.

۶ – د ځانيز خوند يا مزې څرګندونه(،، دا موزيک مې ښه راځي،،)

کومه ګټه نه لري، چې دلته د رښتياپوښتنه رامنځ ته کړو. دا ډول جملې له بله اړخه په ارزښت کيږي، د بېلګې په توګه موخه ورتيا، هنري خونديونه، مجلس ارزښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوښتنو ډولونه.

غوښتنې د خپلو منځپانګو له لارې په برخو وېشل کيږي ، د بېلګې په توګه:

-- غوښتنه، چې نړۍ څنګه جوړه شوې، داسې په نامه empirische يا په تجربو ودان، په رښتيا faktische يا مثبت ښوونه(،، دا ونه له لسوکالو څخه زړه ده،، ، ،، سرپ له وسپنې درانه دي،،).دا ډول غوښتنې تجربه- پوهنه ده، په ځانګړې توګه empirische ايمپريکي کارونه په پيداېښتې پوهنو کې.

-- سم انديز-شميرپوهنيزې غوښتنې(،،د ۱۴۴ څلورۍ ريښه ۱۲ ده او پوره سم يې ۱۲±،،). دا د شميرپوهنې اوسم اندله لارې؟

-- ارزښتيدونکي غوښتنې ( ،، سپين و برګ ته ښه باجه يا رباب وهي،،).

-- يوه لار ،يوه کچه، اخلاقي غوښتنې(،،سړی بايد له دوي سره مرسته وکړي، چې بې له کومې تيروتنې يا ناوړه کړنې يا ګوناه اړ شي،،). دا ډول غوښتنې د نورماتيو-يا مثبت اخلاق Ethik الې دي.

-- hermeneutische روښانه، موخه ښوونيزې غوښتنې (،،د سپين بيرغ ښکاره کونه دا مانا لري،چې: ،، موږتسليم يو،،). دا ډول غوښتنې د ژب – او کلتورپوهنې الې دي.

دننې سايکولوژيکي يا دننه (ځان) کتنې غوښتنې innerpsychische oder introspektive Behauptungen

(،، زه د غاښ درد لرم،،. ،، ګبينی خوږخوند لري،، ، ،، زه ګورم، چې ترمومتر ۱۰درجې څيلزيوس ښايي،،).

غوښتنې په نوروبرخو هم وېشل کيږي:

-- غوښتنې په پخواني وخت کې په يوګړو يا ځانګړو پېښو، اوسمهال يا راتلونکو پېښو.

(،، ګوېټې په ۱۸۳۲ کې ومړ،، که د ګوېټې په ځای مې کوم افغان ليکلی،نود زيږېدنې يا مرګ ورځ مې يې بايد اسانه پيداکولی شوی، دا چې دا مې نه شوکولی، اړ شوم همدا المانې پربېږدم.په خواشينی).دا ډول غوښتنې د تاريخپوهنې الې دي.

--- د ټاکلو ډولونو شيانو شتون غوښتنه (،، په دې ځنګله کې ډينګرۍ شته،،).

(c) ketabton.com: The Digital Library



--- په تجربوي قانونمندئ يا لاراړوندوالي غوښتنې (،، که څوک يوه کريستال ګلنئ په مرمرځمکه وغورځوي، زرې زرې کيږي،،)

--- د علتونوغوښتنه (،،سپی مړ شوی، ځکه چې هغه سرطان لروده،،).

موږ د ثبوت په ځای د دې نوي وی ،، غوښتنه،، سره بلد نه يو، خوګورو چې دا سم همغه ثبوت دئ.

غوښتنه: سپی په سرطان مړ شوی.

ښوونه: دا بيا بايد وښوول شي، چې همداسې ده اوکه نه.

Imperativ په امريه بڼه، غوښتنې، امر

Implikation په کې رادننه کونه

## جمله (شميرپوهنه)

يادونه: دا په ژبپوهنه کې هم بايد همداسې وي او همداسې ده.

جمله په شميرپوهنه اوسم اند کې يوه نوې پيژندنه ده، چې دا له اکسيومونو، پيژندونو او تازه پيژندل شوو جملو څخه وتلې فرمولبندي کيږي يا جوړيږي.د دې له پاره چې د يوې جملې وينا وپيژندلشي، بايد دا وښوول شي.

په نورمال ډول جملې د خپل غوره والي په ترتيب په يوه اهرامډوله ترتيب په برخو ووېشل شي، چې ترتيب يې داسې بربښي:

١ - Lemma مرستندوی جمله ( د يوه غوره ښوونه کې مرستندوی جمله)

٢ - Korollar د کره کونو يا ترې لاس ته راوړنو يوځايکول، چې دا له يوې جملې يا يوه پيژند بې د لويو بوختوالو راکول کيږي. زياتوخت پای لاسته راړونې)

٣ - Proposition ( سم انديزې يناوې).

٤ – جمله يا تيوريم Theorem ( پوهنيزه – او بنسټجمله يا سټجمله. Theorem تر اوسه پورې په زياتو ژبو کې کارولکيږي.

تل ژبنيز – يا ورځني ژبنيز ليدنې غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



--- تل ژبنیز لیدنې غوښتنه په ټولیزه توګه فکر دی.. که سړي ته یو فکر یا پېښه پیدا شي، نو سړی کړی شي دا یوه غوښتنه وبولي.

بیلګه- غونډاله: د ما غوښتنه ده، چې زه موټر بیایم.

مانا: زه اوس په دې فکرراغلم، چې په موټر کې ځم.

غوښتنه د فلسفې له لیده یا له مخې:

## ویناډولونه یا وینابڼې:

درې Modi مودوله یا ویناډولونه شته: اینديکاتیو، اوایمپیراتیو

اینديکاتیو Indikativ نومینال وینابڼه ده: ته کونیونکتیو ځې، هغه ځي او داسې نور.

کونیونکتیو یا ناسیده وینابڼه: غوښتن- یا هیله بڼه: زه به لاړ شم، ته به لاړ شې.

ایمپیراتیو Imperativ امربڼه: لاړ شئ.

Konjunktiv ناسیده وینا:

کونیونکتیوپه هغه حالتونوکې کارول کیږي، چې ریښتونی نه، بلکه یواځې شونی یا ممکن وي. یا دا:

زیات وخت وینا په ناسیده ویناکې د امکان په چاپیریال کې راځي، دا د امکانبڼه یا شونتیا بڼه او یا کېدنتیابڼه هم بلل کیږي. کونیونکتیودا نه ښايي، چې یو څه شوني دي.

زه به لاړ شم، ته به لاړ شي اوداسې نور.

دا موضوع پوره اوږد او په زړه پورې د خبروڅه لري.

دا څه لیکنې مې چې وکړې، نود ژبې سره مې مینه نوره هم زیاته شوه اوداسې وایم، چې په دې زاړه بدن یا تیروخت د ژبې زده کړی شم.

## Adeverb ادورب او ډولونه یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- دا وی ادورب په غونډاله کې یو غونډالغړی دئ او یا یو اتریبوت
لوکال ادورب ( ځای ادورب)
-- چېرته؟ کومځای؟ ( دلته، هلته، پاس، لاندې، دا، هغه، دباندې)

-- له کومه ؟ ( له پاسه، له دباندې، ....)

وچېرته؟ و کومځای ته؟( و ښي لورته، وهلته، د مخ په لور یا و مخ ته...)

(Temporaladverb (Adverb der Zeit
تمپورال ادورب ( د وخت ادورب)

- کله؟ ( لمرلوېد، سهار، اوس، وروسته، هغه وخت، نن ...)

-- څومره اوږد؟ ( په ساعتونو، تراوسه پورې، تل، له هغې څخه ....)

--څومره ډېر؟ ( ډېر، کله کله، --- ...)

(Kausaladverb (Adverb des Grundes
کوزال ادورب ( د لامل ادورب)

ولې؟ له څه امله؟، په څه ترڅ کې؟، له څه سره؟، له څه څخه؟، د څه لپاره؟)

(Modaladverb (Adverb der Art und Weise
مودال ادورب ( د رقم او ډول ادورب)
څه ډول؟ څنګه؟

( د زړه له کومې، ځانګړی، بلډول، نېکمرغه، څرګند، بې ادبه، ډېرواره، نږدې، ډېر، لږ، نږدې)

ادوربونه کېدی شي وکارول شي

- له یوه کړنوي سره په تړاو د څنګه ورکړې په څېر ( زه دلته پاتېږم).

- له یوه خویوي یا له یوه بل ادورب سره په تړاو د اتریبوت په څېر( تل ارام پاتې شي، کله دباندې، کله دننه؟)
یو ادورب کړی شي د تړنوي دنده واخلي، که دا څنګیزه غونډاله ولري. تړنیز ادوربونه کېدی شي لکه خویویونه د خوندیونې او نیت یا قصد په څېر ووېشل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکوینیز ادوربونه جوړیږي دبېلګې په توګه... څخه

- دې + پسې= دې پسې

- دې(ځای) + پسې= دې پسې

- څه +پسې = څه پسې

- څه+ هکله (باره) = (په) څه هکله
له ترنوي سره کېدی شي ویونه، وییونډلې(-ګروپونه) او غونډالې یو له بل سره وتړل شي.

دا د غونډالو خپلواک غړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

له ویونترنو سره به ویونه، وییونډلې یا غونډلې یو له بل سره تړل کیږ.ي؟

داخپلواک غونډالغړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

## د وییونو تړنې:

بېلګه: سپین، غرنی او تورګل ګرځېدا (چکر) ته ځي.

سپینګل او ملالۍ سررول(بنسټرول یا اصل رول) لوبوي. ( لکه په فیلم کې)

له وییډلو(- ګروپونو) سره تړنه

بېلګې: د ډلې کار ولاس ته راړنې به په یوه ستره پلاکات یا یوه لیدونکي تخته لیک وښول شي.
په غونډالتړنو(Parataxe) کې له دوه سرغونډالو سره.

بېلګې: سپین فیلمجوړونکی دۍ او سپینګل د کامرې و شا ته ولاړ دۍ.

ملالۍ غواړي وموزیم ته لاړه شي، خو (مګر) سپینه په مینه و سینما ته ځي.

له سرغونډالي او څنګغونډالي سره غونډالزیاتونه یا ورزیاتونه

بېلګې: لمر بېرته ځلیږ.ي، له هغې څخه وروسته چې ورښګي وورېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوستوالا يا پوستوړونکي پوست راوړ، سره له دې چې د شپې توانمنده ورينګي وه.
يادونه: و ماته ګرامري، سره له دې سم نه برېښي. دا ،،له دې سره،، بايد وي، که دا د پسې ځاينيوو يا داتيو حالت دی.

يادونه: د ګرامر له مخې څخه به يې ،، سره له دې سره،، ليکنه سمه وي او دابه راته روښانه کړي، چې دا دواړه سره به توپير ولري. ټوليز فکر اړيين دی.
له ترنويونو سره سړی کړی شي خپل نيت ووايي يا څرګند کړي:

## (kopulativ): يو له بل سره لړی کې

بېلګې: همداسې، او، لکه څنګه ـ لکه هم، هم، پرته له دې ( له دې څخه پرته)، له دې ( سره) برابر، لومړی، پای، بالاخره(؟).

بېلګه: زه په سپورتټولنه کې غړی يم، همداسې په موزيک ښونځي کې هم.

(disjunktiv): څه پرديکول ( پردي)

يا- او يا، يا....

بېلګه: مور يا په ګاډي کې ځو يا په موټر کې.

(restriktiv): څه بندول يا رابندول يا کمول

مګر، ځانله، ټيک ( فقط؟)، بياهم، چېرته مخامخ، ترهغې پورې، دومره لرې....

بېلګه: مور اوس له درس سره پيل کوو، ترهغې پورې چې ټول چمتو وي.
(kausal): لاملول ( لامل راوړل)

ځکه، که، سره له دې ( له دې سره سره)، داسې چې.....

بېلګه:هغه و تياتر ته په وخت نه راغی ( را نه غی)، ځکه ګاډی ناوخته راورسېد.

(temporal): وخت ورکول

په ترڅ کې، وروسته له دې، له هغې، تر....

بېلګه: هغه يو سخت ټکر کړی وو. له هغې (وخت) څخه تل بيا درديږي يا خوګيږي ( که غواړی درد لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(negierend): څه نه کول (نه والی) ( او که څه نه ول، لکه تور، نه تور)

بې له ، په ځای . نه-بلکه...

بېلګه: هغه په وربځو کې تېروت، چې په ځای يې بېرته وکوټګی ته لاړ.

(konditional): يو شرط ايښول:

که، کله، بلډول، پرته له ( له دې څخه پرته)......

بېلګه: ملالۍ هرومرو غواړي تياتر ته لاړه شي، که لا کارتې شته وي.

(komparativ): پرتله کول

څنګه، پس نو، کله چې، ټيک داسې....

بېلګه:سپين داسې اغيز وښود، چې ګوندې هغه به ډېر زړه بدی وي.

(instrumental): لار ښول (الات ښول)

له دې سره، په دې ترڅ کې، په دې کې.....

بېلګه: هغه په څرګند ډول خپل توان ښه کړ، داسې چې --- يا ځکه چې ---- يا له دې سره چې هغه زيات تمرين وکړ.

(konzessiv): قانع کېدل يا قانع کول، ښه يې:ورباندې منل :

په رښتيا... مګر،له دې سره، کله چې .. مګر، هممهال،

بېلګه: له دې سره چې له جګړ څخه خبروو، خو موږ بيا هم لاړو.

(adversativ): څه مخامخ کول:

مګر،بلکه، له دې زيات،مخامخ، هم، بياهم، د څه مخامخ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: هغه د کور کار نه کوي، خو په مینه و سپورت ته ځي.

(proportional): نسبت ښرګندونه ( متناسب) یا پرتله ییز:

همغومره، څومره، څومره... همغومره

بېلګه:هرڅومره چې هغه ډېر کار کوي، همغومره ډېرې پیسې اخلي. یا: سپین و روښان ته جګ دی.

(modal): یو رقم او ډول څرګندونه یا ښونه
په دې چې، ځکه چې

بېلګه: هغه مور نیکمرغه کوي، په دې چې یا ځکه چې ناولتوب غورځوي.

## سرغونډالې یا بنسټغونډالې: Hauptsätze

هغه غونډاله، چې پوره موخه څرګندوي او هو همداسې د څنګغونډالې پیل کې راځي( تل داسې نه وي، خو د ې ته دې تل پام راوګرځول شي).

د غونډالې خوندیونې له مخې سرې توپیروي:

:Haupsatz als Aussagesatz
سرغونډاله د ویناغونډالې په توګه

بېلګه: ورینګي وریږي. توپ رغړي. زدکونکی یوه غونډاله لیکي.

یادونه او پېژند: وینا هغه ده، چې یو ربښتیا ارزښا ربښتیا یا نارښتیاولري.

ویناغونډاله هغه غونډاله ده، چې ربښتیا ارزښت ربښتیا یا نارښتیا یې ښوول کېدی شي یا باید و ښوول شي.

- د ما د ،،سم اند،، کتاب کتلی شی.

:Hauptsatz als Fragesatz
سر- یا بنسټغونډله د پوښتنغونډالې په توګه

بېلګه: ( ایا) ورېنګي سبا وریږي؟ ولې غونډوسکه ورغړېده؟ (ایا) ته یوه غونډاله لیکې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: که پام مو وي، نو د ویناغونډالې او پوښتنغونډالې په منځ کې توپیر نه لیدل کیږي، نو دا پوښتنغونډاله به یوازې له پوښتننخښې سره موخه وره کوو او که ،،ایا،، به ورسره لیکو؟

په ویېنه کې یې بیا روښانه توپیر شته.

:Hauptsatz als Aufforderungssatz
بنسټغونډاله د امریه غونډالې په څېر

بېبلګه: سملاسي یوه غونډاله ولیکه! ناسمون مه کوه!لیکه!

سرغونډاله د درنښت امریې په څېر

بېلګه: هیله ده چې په غونډال لیکنې پیل وکړې.

یا: که و هغه ته څه ووایې.

بنسټغونډاله د غوښتنغونډالې په څېر:

بېلګه: کاش چې تا ناسمون نه وی کړی! تا کړی شو چې پوهنتون پیل کړې!

## سرغونډله د غږغونډلې په څېر:

بېلګه: ګوره، ډېر ناسمونونه دې درلودل! دا داسې ناوړه!
Infinitivsätze ایفینیتیو د کړنوي بنسټېنه یا بللبنه او هغه ته خپله پوهېدنه ورکوي.هغه له وی بنسټ او پایوني څخه جوړه ده. اینفینیتیوغونډالې له ټاکلو ویونو او اوړونونو یا ښه یې بڼه بدلونونو وروسته کاروو.

بېلګه : ومخ ته لرل ( د یو څه کړنې). زه و مخ ته لرم، چې د تېنیس لوبه پیل کړم.

زیات وخت اینفینیتیوغونډاله له سرغونډالې وروسته ځای یاځای په ځای وي، داکړی شي چې د غونډالې پیل کې راشي..
spätlateinisch (modus) infinitivus = = نه نردې ټاکونکی ( نه له نردې څخه ټاکونکی)
اینفینتیوغونډالې د کړنویونو سره په بنسټېنه غونډالې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"Infinitivsätze ohne "zu
اینفینیتیو غونډالي بې له،، ته،، څخه

بېلګې: په څوکۍ ناست پاتې شه. سم یې: پرڅوکۍ باندې ناست پاتې شه.

زه موټر ولاړ پرېږدم.

"Infinitivsätze mit "zu
اینفینیتیو غونډلي له ،،ته،، سره

بېلګې زه وعده درکوم، چې و سبا ته به له تا سره وګورم.

"Infinitivsätze mit "Modalverben
اینفینیتیو غونډالي ،، مودال کړنویونه)

بېلګې: زه غواړم تا په روغتون کې وګورم.

ته کړی شې (اجازه لرې) له ټولګې سره و رسختي یا ارامۍ ته لاړ شې

"Infinitivsätze mit "werden
اینفیتیو غونډالي له ،، به،، سره

بېلګې: موږ به نیا اونیکه وګورو.

ته به ناوخته راشې.

: Partizipialsätze

پارتیڅیپغونډاله یوه څنګیزه غونډاله ده له پارتیڅیب ۱ سره( پارتیڅیپ پرېزنس) یا له یوه پارتیڅیب ۲ ( پارتیڅیپ پرفکت) سره. دا برخغونداله د سرغونډالي و شي ته موخه لري او داپارتیڅیپ په ډېرو حالتونو کې غزیږي.

بېلګه: په بریا هیله من، هغوي وخپل ټیم ته دعا وکړه.

یو پارتیڅیپ یوه ګراماتیکي یا ژبلاریزه بڼه ده، چې له یوه کړنوي را بېلیږي او له دې سره سره کله، کله د یوه خوي وي خوي غوره کوي، په ځنو برخو کې د یوه کړنوي خوي هم غوره کوي.
Partizipialsätze

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارتیڅیپ غونډالي د پارتیڅیب ۱( پارتیڅیپ اوس وخت) او پارتیڅیپ ۲ ( پارتیڅیپ تېر وخت) سره جوړیږي.

پارتیڅیپ ۱ له یوې پارتیڅیپغونډالي له دوه هممهالځغاستنده کړنو سره کارول کیږي.

بېلګې: په الوتکه کې ناست، وجګېدو ته صبر کوي.

پر ځمکه باندې پروت، هغه ستوري ګوري.
په پارتیڅیپیالغونډاله کې له پارتیڅیپ ۲ سره کړنه په بنسټ – یا سرغونډاله کې کړنې څخه د مخه کړل کیږ.

بېلګه: پاس نا وخته ورکړل شو، تور لوبغاړي(تور ساتونکي یا ګولساتونکي) وکولی شو هغه ونیسي.

همدا اوس چې دی وېښ شو، هغه وو چې تلفون زنګ وواهه.

Die Satzreihe غونډال لړی

Der zusammengesetzte Satz یوځایشوې غونډالي

یوه غونډاللړی(Parataxe ) – غونډالترنه هم بلل کیږي- له دوه یا ډېرو برابرارزښته غونډالو څخه جوړیږي:

بېلګه: مور وکار ته ځي. پلار و خرڅلاو ته.

مور وکار ته ځي(،) او پلار وخرڅلاو ته.

(Ein Satzgefüge (Hypotaxe

غونډالزیاتونه (Hypotaxe)له سر- یا بنسټغونډالي ( زیات وخت له یوه تړنوي سره تړلې) څخه جوړه ده.

په ژبلار کې د هیپوتاکس لاندې د یوې څنګیزغونډالي د بلې څنګیزغونډالي سره ترتیبول پوهیږو. یوه ګډوله غونډاله، چې له یو ځله یا له ډېرځلو هیپوتاکسو څخه لاس ته راغلې وي، په ژبلار کې غونډالزیاتونه پوهېږو. ( کېدی شي مور د مخه بل څه نومولي وي، خو زه ترې خبر نه یم. زه ملامته یم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غونډالزیاتوني څخه په ژبلار کې یوه ګډوله غونډاله پوهېږو، چې لږ تر لږه له یوې بنسټ – یا سرغونډالې او له یوې څنګغونډالې څخه جوړه وي( او یا هم زیاتې څنګیزغونډالې ولري). غونډالزیاتونه د هیپوتاکس په مېکانیزم جوړه یا ودانه ده. بېلګه: زدکونکی یو څه پوهیږي. هغه باید زده کړي.

زدکونکی پوهیږي، چې هغه باید زده کړي.

غونډالزیاتونه یا له څو غونډالو یوه جوړونه....

په غونډالزیاتونه- یا له څو غونډالو څخه یوه جوړونه کې بنسټ-یا سرغونډاله او څنګیزغونډاله.

څنګیز- یا څنګغونډاله د بنسټغونډالې و مخ ته، و څنګ ته او یا د بنسټغونډالې په منځ کې وي. هلته یوه غونډالزیاتونه و منځ ته راځي.

-- څنګیزغونډاله له بنسټغونډالې څخه د مخه:

بېلګې: دا چې یا ځکه چې باران وریږي، لوبه په کوټه کې کوو.

سره له دې چې زه وخت نه لرم، سینما ته ځم.

-- څنګیزغونډاله د بنسټغونډالې پسې:

موږ لوبه په کوټه کې کوو، ځکه چې باران وریږي.

زه سینماته ځم، سره له دې چې وخت نه لرم.

-- څنګیز غونډاله د بنسټغونډالې منځ کې:

بېلګې: موږ لوبه ، دا چې باران وریږي، په کوټه کې کوو.

زه، سره له دې چې وخت نه لرم، سنما ته ځم.

## -- څنګیزغونډالې

څنګیزغونډالې کېدی شي د هغوي د دندې له مخې څخه توپیر شي، بیا کېدی شي غړیغونډالې وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- شیغونډالې( غړیغونډاله په کړوني حالت کې)

څوک چې وږی وي، باید وخوري.( څوک باید وخوري؟)

ډېر خوښېږم، چې ته مې نن کتو ته راځې . ـ څه (شی) مې خوښوي.

-- شیغونډاله( غړیغونډاله د خاوندوالي ـ، داتیو ـ، خاوندوالي- یا اړیکوین شی په څېر یا بڼه):

بېلګه: زه پر یاد باندې لرم یا ښه یې: زه یاد لرم یا راوړم، چې هغې یوه جایزه ګټلې.( څه(شی) مې یاد لرم؟)

سپین سوچ وواهه، چې هغه څه کړی شي.( سپین څه سوچ وواهه)

هغه هکپک وو، چې هغه یوه جایزه ګټلې.( هغه په څه هکپک وو؟)

## Adverbialsätze: ادوربال غونډالې:

بېلګې:

هغه و لمبا ته لاړ، (کله) چې هغه د کورکار پای ته ورساوه. ( هغه کله لمبا ته لاړ؟)

سپین ناوخته راغی، ځکه چې ګاډی ناوخته شوی وو. ( ولې سپین ناوخته راغی؟)

## Attributsätze: اتریبوتغونډالې:

اتریبوتغونډالې په ژبلار کې یوه څنګیزه غونډاله ده، چې د یوه اتریبوت دنده لري، داسې چې له یوه نوم (سوبستانتیو) یا د یوه سوبستانتیو ګروپ په واک کې وي.

بېلګې: سپي، چې غاپي، نه داړي.( کوم سپي نه داړي؟)
پیل(فیل) اموخت(عادت) لري یا اموخه دی، چې (هغه) سر خوروي) ( پیل څه اموخت لري)

Konjunktioalsätze تړنغونډالې:

څنګغونډالې د تړنویونو له لارې لارښودیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنوی زیات د څنګیزې غونډالې په پای کې په ځای وي.
د خپلې غوښتنې یا نیت سره سړی دا توپیرولی شي:

(Kausalsatz (Begründungssatz
کوزالغونډالې (لاملغونډالې)

( ترنې: چې، ځکه، ځکه چې، دا چې، داسې په نامه(؟))

بېلګه: زه تا واده کوم، ځکه چې راته ګرانه یې.
سبا ته ښونځی نه شته، ځکه چې د رسختی پیل دئ

Konditionalsatz( شرطی غونډاله)
( شرطونه: څنګه والی (؟) (حالت) د خبرو دې، کله (چې)،که، پرته له، بل ډول...)

بېلګه: نمرې به دې ښې شي، که تا درسونه زده کړل.

زه چای جوړوم یا کړم، که ته راځې.

(Modalsatz (Satz der Art und Weise (د رقم او ډول غونډاله،)
(کنجنکشن یا ترنویونه: داسې چې یا که چېرې، که چېرې،که)

بېلګه؛ تاسو لوبه ګټلی شی، که (چېرې) تاسو پوره وهڅېږی.

(Temporalsatz (Zeitsatz
(وختغونډاله)

(ترنویونه: ( چې، له هغې، دې ...) وروسته، ترڅ کې، له هغې پسې، پورې( دلته مې ،، تر،، لیکلی وو، خو د وروستیو څېړنو له مخې ،، تر ،، ناسم دئ او څه پرېپوهېدنه نه لري. دا موصوع لږ پېچلې شوې، چې بل ځای کې به پرې وغږېږو)، ....)

یادونه: تر د ترنوي په څېر هم راځي، خو د له او ..... نورو ځاینیوی نه شي کېدی

۱۰ بجو تر ۱۱ بجو پورې. یا ۱۰ – ۱۱ بجو

بېلګه: ټولګی (هغه) مهال (د کاډو ) و تمځای ته راغلل، چې ګاډی راورسېد.

# غونډالجوړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ساده غونډاله څنګه جوړه ده؟

نجلی لیکي ( شینوم (نوم)+پرېډیکات)

(ایا) نجلی لیکي؟ ( پوښتنوی+ شینوم یا نوم+پرېډیکات)

ژوندېپاتو د مړو (ومړو ته) دعا وکړه.( نومځاینیوی + خاوندوالی شی( د،،ته،، حالت)+ پرېډیکات)

پلورونکي له مشتریانو څخه خوښنه وکړه.( شینوم + داتیو شی + پرېډیکات)

ځوان ملګری ګوري. ( شینوم + خاوندوالي شی)

ښونکي لیکناسمون پام کې لري.(شینوم + اړیکویز شی+پرېډیکات)

زه په شینوارو کې اوسېږم.( شینوم+ځایوربیال + پرېډیکات)

ګاډی ناوخته ځي.( شینوم + وختیز ادوربیال + پرېډیکات)

سترنج د وختتېرولو له امله کړم

د ما د ملګري سپی په اوبو کې لامبي. ( د خاوندوالي اتریبوت+ شی+ځای ادوربال+ پریدیکات)
کوم ځایبدلونونه شونتیا شته؟ یا کوم ځایبدلونونه کېدی شي؟ ( خوښه مو)
ځوان خپل ملګری ګوري. ( شینوم+ د خاوندوالي شی+ پرېډیکات)
پوښتنه یې هم همداسې ده، خو ،، ایا،، یې و مخه ته راتلی.
(ایا) دا ځوان خپل ملګری ګوري دا ځوان.( نوم+اکوزاتیو شی+ پرېډیکات)
شینوم( غونډال اله) او پرېډیکات ( غونډالوینا)

( یادونه: پرېډیکات هغه څه دي، چې یوه کړنه کړل کیږي یایوه کړنه کیږي)

د غونډالغړو سره

شینوم( غونډال اله) او له پرېډیکات( غونډالوینا) سره سړی کړی شي ساده غونډالې جوړې کړي.

بېلګې: کوچنی لوبیږي. موټر روانیږي. سړی پخوي. ښځه ګندي.

د پوښتنې په بڼه: (ایا)هلک لوبیږي؟ (ایا) موټرروانیږي؟ (ایا) سړی پخوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: زه پرېکړه نه کوم، چې دا به څنګه راغلې وي. موږ په پښتو کې لکه غونډاله یو ډول لیکو او بیا پوښتننخښنه پسې زیاتوو او یا یې د مخه ایا لیکو. فکر به ورته وکړو.
شی یا ښه یې نومویی کړی شي

یو نوم/ شینوم – یو نوموی -

یو نوموی  د مل سره-

یونوم/شینوم د اتریبوت سره  -

یا هم یو نومځاینیوی وي.

یادونه: په بخښنه. تاسو پوهېږې، چې دا پورته  - د ،، وي،، په ځای لیکل شوی، دا په دې پوهېدنه،چې په هرځای کې د ،،-،، په ځای وي راتللی شي.
شینوم ( غونډال اله)

زدکونکي زده کوي.

څوک یا ځه شی؟(نومیز)

څوک یا څه شی زدکوي؟ زدکونکی زده کوي.

شینوم: زدکونکی
(Das Prädikat (Satzaussage
پرېدیکات ( غونډالوینا) ( څه کیږي)

زده کونکی زدکوي.

څه کوي.... ؟ څه پېښږي...؟

پرېدیکات وایي، څه دي، څه پېښیږي یا څه کړل کیږي یا څه کیږي.

زدکونکی څه کوي؟ .... زده کونکی زده کوي.

برېدیکات زده کول.

پرېدیکات تل یو کړنوی دی.
شی – غونډالپوره کونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Mit den Satzgliedern
د غونډالغړو سره

شینوم یا نومویي( غونډال اله) او پرېډیکات( غونډالوینا)

کېدی شي سړی ساده غونډالي جوړې کړي؟

بېلګه: کوچنی لوبې کوي. موټر ځغلي، سړی پخوي، ښځه کار کوي

د پوښتنغونډالي په څېر: ایا کوچنی لوبې کوي؟ ایاموټر ځغلي؟

ایا سړی پخوي؟ ایا ښځه کار کوي؟

یادونه: په پښتو کې دا پوښتنوی له ویلو څرګندیږي او زیات وخت د ،، یا ،، ورسره نه لیکي یا وایي.

## اتریبوت- ورزیاتونه
اتریبوت خپلواک غونډلغړي نه دي.

ادجکتیوي یا خویوییز اتریبوت(هم: اتریبوتي خویوییونه):

خویوی یا هم ګڼوی له یوه نوم/سوبستانتیو سره زیاتیږي:

بېلګې: ښکلی کور. دما نوې غونډوسکه، دریم ځای

:postpositionales Attribut
یادونه: د لته هم ماپه لومړي سر کې دا برېپوزیشن لپاره څېړل وو، خو هغه د پښتو حالت نه دی، نو د تېر غونډې به کله د پښتو یو او کلهبل حالت وي.

اتریبوت: د نږدې ټاکنو لپاره د یوه شي ورزیاوتونه

اړیکوییز اتریبوت:

اتریبوت کېدی شي له ډېرو وییونو او له نورو وییونو – د یوه اړیکوي سره په ترڼه- جوړ وي.

بېلګه: زه شمېرونی(کمپیوتر) له اعلاناتو څخه اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



:Genitivattribut
خاوندوالي اتريبوت:

شي يا نوم ته په خاوندوالي ورزياتونه

بېلګه: دما د ملګري سپی ښه روزلشوی دی.

د هنرمند انځورونه هکپکونکي وبرېښېده.

يادونه: موږ د ښځګه والي يا حالت په هکله څه ستونځې لرو، په دې هکله مې په لنډ تېر وخت کې ليکنه هم خوره کړې، که هغه مو وکتله او د سمون په هکله مو يې فکر وکړ، خوښ به شم.

## Partizip پارتيځيپ:

د کړنوي لپاره يوه د نخښوني ښه ده، چې د کړنوي ( بېلابېل وختپوړی) او هم د خويوي (جګوالي توان) خويونه لري او له دې سره د کړنوي او خويوي په منځ کې ځای نيسي ( په دواړو پارتيځيب شوی)

،، ،، تلونی،، د کړنوي ،، تلل،، اوسمهال پارتيځيپ دی.،،

Partizip als Attribut ►
پارتيځيپ د اتريبوت په توګه

بېلګه: خوښو ليدونکو پر خپلو ځايونو باندې چغې کړې

هغه په ځغاستندې – يا ځغاستېتی (ور) زدکړه (تمرين) ورکوله.

غونډالجوړ وني
وختونه
اوس وخت: تلل
ځم، ځو،ځې، ځی، ځي

Präteritum oder Imperfekt = 1. Vergangenheit

لومړی تېر وخت: زه پرون ټوله ورځ په کور کې وم ، ځکه چې (زه) ناروغ وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما غوښتل و سینما ته لاړ شم، خو باید په بستره کې پاتې شم.

ما تبه لروده او د غاړې درد.

تېر وخت ۲ Perfekt = 2. Vergangenheit
تېر وخت ۳ ► Plusquamperfekt = 3. Vergangenheit
۱ Futur I = 1. Zukunft ► . راتلونکی
► Futur II = 2. Zukunft۲ . راتلونکی

تېر وخت او ۳ . تېر وخت د مرستندوي کړنویونو ،، لرل،، یا ،، یل،، سره.

راتلونکي د مرستندوی کړنوي ،،به+ کړنوی،، سره. دلته هم مرستي ته اړتیاده،

په پښتو غونډله کې کړونی چې د اینکلیتیکي نومځاینیوو په بڼه دي، د کړنوي پای کې راځي او دا په ډېرو مهالونو کې او له دې سره غونډله- پوره غونډله- له یوه وي څخه جوړه ده، چې دا غونډله هممهال کړنوی او کړونی دواړه لري.

بېلګې: تلل: ځم، ځې، ځو او....لاړم....

خوړل: خورم، خورې...

مرسته: په پای کې د کړنې سره د کړوني ځاینیوي ځاینیوو تورو ته څه وایي؟

ایا دا لوریز یا لنډ نومځاینیوي دي، که څنګه؟

وروسته څېړل شوي. لنډ: دا اینکلیتیکي نومځاینیوي بلل کیږي.

د کړنویونو بدلون یا بدلېدل ( د لرل او به سره)

بېلګې ناتوانه کړنویونه ............. بېلګې توانمند کړنویونه

اوسمهال: ..... زه وایم......... زه ځم

ته وایې ............ ته ځې

هغه ( ن، ښ) وایي ..... هغه (ن،ښ) ځي

موږ وایو.............موږ ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو وایئ............ تاسو ځئ

هغوي ( ن ښ) وايي.............. هغوي ( ن،ښ) ځئ

اوس تېر مهال يا پرفکت:  ما ويل ..................... زه تللم(*)

تا ويل............... ته تللې

هغه(هغې) ويل ......... هغه تللو، هغه تلله

تاسو ويل (ويلو)..... تاسو تللئ

هغوي ويل(ويلو).... هغوي تلل(تللې)

موږ وويل..................موږ لاړو (لاړلو)

تاسو وويل ..... ..... تاسو لاړئ ( لاړلئ)

هغوي وويل(وويلو)..... هغوي لاړل (ښ لاړلې)

پرفکت :...... ما وويل............. زه لاړم (لاړلم)

تا وويل (وويلو)....... ته لاړلې

هغه، هغې  وويلو ... هغه لاړه(لاړلو)

ښ. لاړه ( لاړله)( توپير په ه کې دئ.

موږ وويلو ............  موږ لاړو( لاړلو)

تاسو وويلو......... تاسو لاړلئ

هغوي وويل ................هغوئ(ن،ښ) لاړل ( ښ. لاړلې)...

پلوسکوم پرفکت: ما وويل... زه لاړم   فکر : ماويلي وو

تا وويل...... ته لاړلې   .... تا ويلي وو

هغه، هغې وويل........ هغه(ن،ښ) لاړه (لاړله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ وویلو .............. موږ لاړلو

تاسو وویلو ........... تاسو لاړلی

هغوي وويلو................ هغوي (ن،ښ) لاړلو ( لاړلې)

راتلونکی ۱ : زه به وایم.................. زه به ځم

ته به وايې .................. ته به ځې

هغه به وايي................ هغه به ځي

موږ به وايو........موږ به ځو

تاسو به وایئ........... اسو به ځئ

هغوي به وایئ........ هغوي به ځي

راتلونکی ۲ : ما به ويلي وي .... زه به تللی وم (*)

تا به ويلي وي...... ته به تللی وې

هغه به ويلي وي........ هغه به تللی وي

هغه به ويلي وي..... هغه به تللې وي

موږ به ويلي وي........... موږ به تللي وو

تاسو به ويلي وي............ تاسو به تللي وئ

هغوي(ن،ښ) به ويلي وي.....هغوي (ن،ښ) به تللې وي

لاندې ته يادونه: په لاندې کې د لرل او يل کړنويو سره بې له ځانيز نومځاينيوو هم دا غونډالې د يوه ويي په څېر سمې دي. لرم، يم او نور

# کړونی او پرې – یا نه کړونیAktiv und Passiv

غوره يادونه: موږ په الماني يا لاتين کې اکتيو او پاسيو په دې پوهېدنه چې کړوني او نه کړوني او په عربي کښې فاعل او مفعول، دا پهدې پوهېدنه چې کړوني او پرېکړوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو، خو كه پهپښت كښې ورته فكر وكړو، نو موږ په پښتو كې دا دریواړه لرو: كړني، پرېكړوني او نه كړوني، چې دا په حالتونو يا پېړ كښې ښه روښانه شوي دي. يا

یادونه: او هغه عربي يې فاعل او مفعول ( كړنی، پرېكړونی)، خو په پښتو كې يې بايد پرېكړونی او بل يې نه كړونی وبولو، خو كه نه كړونی يې وبولو بسيا كوي، ځكه چې پرېكړونی هم نه كړونی دی.

په كړنغونډالي كې شی ( غونډالپوره كونكی) په نه كړونغونډاله كې سبجكت ( غونډال اله ) كيږي.

كړنغونډاله( كړنبنه): ملالۍ(سبجكت) وهوګۍ( ابجكت) ته ډاډ وركوي (پرېديكات).
ناكړنوی ( زورېدبنه): هوګۍ(سبجكت) ډاډمنه كيږي ( د ملالۍ له خوا)

Aktivاكتيو:

په یوه اكتيو- يا كړنغونډله كې سبجكت كړونی دی، نو كړونی بيا په همغه حالت كې وي.

بېلګې: ملالي هوګۍ ډاډه كوي.( ملالۍ كړونې ده، هغه وهوګۍ ته ډاډ وركوي. هوګۍ نه كړونې ده)

هوګۍ ربړيږي.( هوګۍ په همغه حالت پاتې ده.)

ځلمی دړه وازوي. ( ځلمی پخپله دړه وازوي.)

زه ښوروا لړم. ( زه پخپله ښوروا لړم)

Passiv: نه كړونی يا نه كېدونی: دا نه كړونی د كړوني مخامخ دی، نو دا ناكړونی دی.

بېلګې: هوګۍ ډاډه كيږي. ( هوګۍ پخپله څه نه كوي)

دړه وازيږي. ( د دړې وازول پېښيږي. يو شی دا وازوي)

ښوروا لړلكيږي. ( ښورا له دې سره څه نه كوي، يو كس يې لړي.)

پرېكړونی: سپين هوګۍ وهي. دلته سپين كړونی او هوګۍ پرېكړونې‌ده.

هوګۍ وهل كيږي: دلته هوګۍ نه كړونې ده. ( دلته دې په ګډه فكر وشي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیده ـ، ناسیده شی

سیده شی: پېژند: غونډالغړی، چې د کړنوي، پهخاوندوالي کې ، د غونډلې په واک کې دي او د یوه شي سینتاکتیکي دنده ډکوي.

مخامخ وی یې ناسیده شی.

۱ ـ کارونبېلګه: په غونډله کې. ،، زه دما د کورکیلي لټوم.،، ،، د ما د کور کیلي،، یو نومیز غونډال غړی دی، چې په خاوندوالي ډول دی او د یوه سیده شي دنده وکړنوي ،،، لټوم،، ته پوره کوي.

یوه غوره یادونه: موږ باید وهڅېږو، چې په خپلو ټولو لیکنو کې یو څه چې په پیداېښي توګه راتلی شي، بې پروا پرې نه ږدو. لکه په پورته غونډاله کې، چې د کړنوي د مخه ،، و ،، باید ولیکو. له دې سره د غونډالې څرنګوالی هم په پام کې نیول کږي، چې باید ونیول شي.

۱ – سیده شی نخښونه له سیمانتیکي دندې سره سراو کار لري، چې په ډېر دا ډول جوړښتونو کې خوندي ده، دا د کړنوي له کړنو څخه سیده اغیزمن شی یا ابجکت، چې هغه په دا ډول اړونده کېدنجوړښتونو شی یا ابجکت کیږي. ،، د کور کیلي د ما له خوا لټول کیږي.،،

۱ ـ ،، داسیده شی پسې نښتی له کړنویکړنو ( یا د کړنوي له کړنو) څخه اغیزمن دی...،،

ویی ـ یا لغاتپوهېدنه

( معنی)Wortbedeutung/Definition:
ناسیده شی

ویيپوهېدنه/ پېژند

۱ – ژبه: غونډالبرخه، چې د کړنوي په واک کې دی، په ډاتیو ډول وي او د یوه شي سینتاکتیکي دنده پوره کوي. دا کلیمه د برخې په څېر د جینیتیو لپاره دنده هم پوره کوي –

او داتیو شی همداسې اړیکوي شي لپاره کارول کیږي. دلته نور هم ډېر څه شته، چې باید لیکل شوي وی، خو نور ورته ستړی شوم.
کارونبېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- په غونډاله کې: ،، زه له تا  سره مرسته کوم،، ،، له تا،، نومينال غونډالغړی دی، چې د الماني په داتيو او پښتو کې ،، له تا،، حالت يا پېښ کې دي او  وکړنوي ،، مرسته کوم ،، ته د يوه سيده شي دنده پوره کوي.

-- د ناسيده شي نخښونه د داتيو لپاره  کله د همهغه پوهنيزه کلمه د پاس کليمي( دا پاس په دې پوهېدنه دی، چې هغه بل څه خوندی لري. برخه ورته نه شو ويلی، هغه بيابل څه دي) لپاره کارول کيږي پرته له اکوزاتيو( سيده شی) څخه.

-- دا ناسيده شی په الماني کې (وپښتو ته دې پام وشي) له سيده شي څخه په ځېر نه د يوه ناکړوني غونډالې سبجنک( نومويي) په ځېر کارول کيږي: ،، زه له تا سره مرسته کوم،، داسې کيږي، چې،، له تا سره به مرسته وشي،،،  دا ناسيده شی ،، له تا،، په داتيو حالت پاتيږي.

## Der Konjunktiv ترنويي يا - لغات

کونيونکتيو يا کنجنکشن
Der Konjunktiv I

کونيونکتيو ۱ ترنويی ۱

۱ – کونيونکتيو زيات يوه هيله، يوه غوښتنه يا (يوڅه) رابلني ته وايي (افاده کوي).

دا چې ويل کيږي، لا تراوسه رښتيا شوي يا کړل شوي نه دي، بلکه د ويونکي له خوا څخه داسې غوښتلکيږي.

بېلګه: - هوښ ولره

- سړی دې دوه هګۍ واخلي

- هغه دې صبر وکړي.

۲ – له کنجنکشن ۱  سره ناسيده/ نه وييزې (نه ور غږيزه) ويناوي جوړيږي.

بېلګې: ځوان وايي، هغه هره ورځ خپله د خوښې مڼې خوري.

پلار وايي، هغه دې پيسې سپما کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Konjunktiv II (Möglichkeitsform II

کونیونکتیو ۲ ( شونتیابنه) تړنوییز ۲ :

۱ – کونیونکتیو ۲ یو څه وایي چې په خیال کې وي، خو عملي شوي نه وي.

بېلګه: که شونتیا یې وی یا که کېدی شي یا که کېدونکې وي، هغه به هره ورځ خپله د مینې مړی خوري.

ما به داسې نه وی کړي.

زه به داسې څه هیڅ (وخت) ونه کړم.

کونیونتیو ۲ زیات وخت د درنښت له امله هم کارول کیږي.

بېلګه: ما به هیله لرودی، چې تا دې یو ه غزل ویلې وی.

ما به تاته مشوره درکړې وی، چې دا کتاب دې ولولې.

۳ – کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، هغې پسې چې یو څه ته لاسرسی شوی وي.

بېلګې: نو دا به وو.

د ازموینې لومړی پړاو به تا اوس سرته رسولی وي.

۴ – کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، چې یو څه تېر او سرته رسېدلي وي.

بېلګه:که بس په خپل وخت راغلی وی، زه به په سم وخت ښونځي کې وی.

۵ – کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، که یو څه همدا اوس پېښېدلی.

بېلګه: که ما په همدې وخت کې پیسې لرودی، زه به له تاسره سینما ته لاړ شم.

۶ - کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، که یو څه لا نه وي پېښ شوي.

بېلګه: که مور د ښونځي کار دا اوس نه لیکلی، زه به نېکمرغه وی.

Konjugation im Konjunktiv I

بدلون په تړنویونو ۱ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسمهال

زه ځم            زه وایم            زه خبرې کوم

ته ځې            ته وایې            ته خبرې کوې

هغه، هغوي ځي      هغه، هغوي وايي   هغه، هغوي خبرې کوي.

موږ ځو            موږ وايو            موږ خبرې کوو

تاسو ځئ            تاسو وایئ          تاسو خبرې کوئ

هغوي ځي            هغوي وايي        هغوي خبرې کوي

Perfekt پایشوی راتلونکی

زه دې تللی وم      ما ویلي دي    ما خبرې کړي

ته دې تللی وې    تا ویلي دي    تا خبرې کړې دي

هغه، هغوي دې تللي وي    هغه هغوي ویلي دي    هغوي خبرې کړي دي

موږ دې تللي یو         موږ ویلي دي         موږ خبرې کړي دي

تاسو دې تللي وئ    تاسو دې ويلي وي    تاسو خبرې کړي دي

هغوي دې تللي وي   هغوي ویلي دي    هغوي خبر کړي دي

Futur I راتلونکی ۱

زه به لاړشم      زه به ووایم         زه به خبرې وکړم

ته به لاړ شې        ته به ووایې       ته به خبرې وکړې

هغه، هغوي به لاړ شي    هغه، هغوي به ووايي    هغه، هغوي به خبرې وکړي

موږ به لاړ شو       موږ به  ووايو ،          موږ به خبرې وکړو

تاسو به لاړ شئ   تاسو به ووایئ    تاسو به خبرې وکړئ

تاسو به لاړ شئ  تاسو به ووایئ    تاسو به خبرې وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي به لاړ شي  هغوي به ووايي    هغوي به خبرې وکړي

Futur II راتلونکی ۲

زه به تللی وم  مابه ویلي وي  ما به خبرې کړې وي

ته به تللی وې تابه ویلي وي   تا به خبرې کړي وي

هغه، هغوي  به تللي وي  هغه، هغوي به ویلي وي   هغه هغوي به خبرې کړې وي

موږ به تللي وو    موږ به ویلي وي    موږ به خبرې کړې وي

تاسو به تللي وی    تاسو به ویلي وي   تاسو به خبرې کړي وي

هغوي به تللي وي    هغوي به ویلي وي   هغوي به خبرې کړي وي.

Die direkte Rede

## سیده وېناوې یا – خبرې یا ګړېدل(؟)

یادونه: ما پورته د هغه اړوند وي دوه ډوله پوهېدنې لیکلي. دا توپیر لری. د سم اند له مخې وینا یو څه او خبرې بل څه دی. وینا یو رښتیا ارزښت رښتیا یا نارښتیا لري او  هغه باید وښوول شي، چې داوینا رښتیا او که نارښتیا ده او خبرې دا نه وایې. دا به داسې ووایو، چې ټول هغه ویل، چې دا د وینا پېژند نه لرې، خبرې دي.

سیده خبرې د یوې غونډالې برخه ده، چې  ویونه بېرته ورکوي، کوم چې ویل شوي وي.

دا ویل شوي چې په نخښه کړو، د نخښونخښو منځ کې ځای په ځای کیږي.

شونتیاوې:
پلار وویل: ،، نن موږ یو چکر وهو.،،

،،نن موږ یو چکر وهو،، ، پلار وویل.

،، نن،، ، پلار وویل، ،، موږ یو چکر وهو،،.

،، ایا نن یو چکر وهو؟،، ، سپین وپوښتل.

،، موږ نن یو چکر وهو!،، ، سپین غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناسیده خبري Rede die indirekten

په ناسیده خبرو کې ( نه وییزې خبرې) دا ویلشوې وییونه بېرته نه ورکوي، بلکه په یوه وییزه خبرې خبر ورکول کیږي.

سرې دبېلګې په توګه په کار اچوي، که سرې د یوه بل یوه وییزه خبره یو دریم ته ورکوي.

ناسیده خبرې دې په کونیونکڅیون ۱ کې ځای په ځای وي.

سپین و ماته وویل، هغه نن د فوتبال ( پښو غونډوسکې) لوبغالي ته ځي.

سپین و ماته وویل، چې هغه نن د فټبال( پښو غونډوسکې) لوبغالي ته ځي.

لوبغاړی په اند وو، هغه په ښه حالت کې دی.

ناسیده خبره په کونیونکڅیو ۲ کې ده، که کونیونکڅیون ۱ څخه یواځنی روښانه وي:

سپین وویل، که د هغه مورپلار نن یو نوی موټر اخستلی وی. ما به هیله لرلی وی، چې هغوي نن دلته راغلي وی.
ناسیده خبرې زیات په اینديکاتیو وي، که روښانه وي، چې یوه ناسیده خبره مخ ته پرته وي، په ټوله کې یه یوه غونداله کې له یوه پیلویي سره .

سپین وايي، چې هغه د کورکار کوي.

موټروان په اند دی، چې دی مختګ لري یا ----،--لومړيتوب لري.

## انتروګاتیوغونډالې Interrogativsätze

روښانه ده، چې ته به په دې وییڼو کې ځانله پوښتننخښنه په پام کې لرې. دا کېدی شي ډېره پارونکې یا په زړه پورې وي، چې ستا د ژبې نوي ویونه و پېژنې. پښتو ژبه په ټولیزه توګه یا په ټوله کې پوره پېچلې ده، خو زیات دا بیا هم بېخي سم اندیزه او یواځې کېدی شي، چې پېچلې روښانه شوې وي. ګرامر( پښتو ژبلار) ټکي په ټکي ژباړل شوی (*) ،، د لیکلو هنر،،. نن موږ د دې لاندې د ویونو - او غونډالو پوهنه(۱) پوهېږو، دا په دې پوهېدنه چې د دیوې ژبې لارسیستم. د نورو ژبو په څېړ موږ هم کړی شو زموږ د پښتو ګرامر یا ژبلار په بېلابېلو موضوعچاپېریالونو ووېښو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



انعطاف(اوړېدنه). زموږ ستونځې دا دي، چې موږ په پوهنه کې د ویونو د څرنګه والي سره نه یو مخامخ شوي.

سړی په یوه څه هلته پوهیږي، چې ورسره مخامخ شي او په هغې کې یې پام ته راشي، چې څه څه دي؟

اوړېدنه، بڼه بدلېدنه: د دې دوه ویوواو نورو کارول باید موخور وي.

اوړېدنه کې لور یا موخه له یوې لور یا یوې موخې بلې ته اوړي.

بدلېدوني هغه دي، چې موخه همغه ده، خو د وي بڼه بدلیږي.

یادونه: موږ په ځمککچپوهنه کې وایو: نقطه انعطاف: دا هغه ټکی دی، چې په هغه کې کږه خپله لور اړوي، دا په دې پوهېدنه، چې لور بدلو، نو له دې امله اوړنټکی.

## خوزند transformiéren/

بڼه بدلول، اوړېدل، بلډول کول.

د اوړېدل لاندې څه پوهېږو؟

۱ ا - ترانسفورمي یا خوزند تلونی: لور، ځای لور بدلول.

۱ ب – اوړېدل( ترانسفورمي، لکه په ۱ ا – کې د موټر لوربدلون ځان چمتو کول...: ب) رېفلکسیو یا بېرته راګرځېدونی راګرځېدل: ځان راتاوول، بل لور ښوول؟

## پیداښت( بې له ډېرو):

یادونه: کېدی شي دلته لږ بیا راتلنه وي، خو لوستل یې ښه دي،

ټولې هغه ژوندۍ او مړې څرګندېدنې یا پېښېدنې، چې بې د انسان د څه کړنې څخه شته یا منځ ته راځي پیداښت دی. یا پیداښتي دي

،، ناژوندی پیداښت،،

- د بوټو، ژوو، اوبو او تیګو، د ځمکې د سر برخو په څېر ټولوالی یا د ټاکلو ځایونو( چې انسانان نه وي ورغلي او یا له هغوڅخه نه وي جوړشوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، غورېدلی پيداښت،،

## وييېولونه

په پښتو کې .... ويېولونه شته: نوم، ادجګتيو يا خوی وی، نومځاينيوی، ګنيزويونه، کړلويونه، ادوربونه، اړيکويونه يا نسبتي ويونه، ترنويونه او انترجکشنونه. دا ويونه کېدی شي په بدلېدونکو او نه بدلېدونکو ويېولونو ووېشل شي. دا د يوه لنډه يادونه وي او نور مخ ته نه شم تللی.

## غونډالغړي

د غونډالي جوړښت او موخه د غونډالي جوړښت په واک کې دی. دلته يا له دې سره بايد ته غونډالغړي او وييېولونه سره ردبدل نه کړې. ويډول ټولګی يا کاتيګوري بلل کيږي، په کوم کې چې ته هر ځانکړی ويي ترتيب کولی شې. غونډالغړي په څټ د يوې غونډالي توکي دي، دوي يوه دنده سرته رسوئ او کله کله کړی شي له يواځې يوه وي څخه جوړ وي، کله کله له ډېرو يونو څخه هم يا ويګروپونو څخه هم جوړ وي. د پښتو غونډالغړو پوري شينوم، برېديکات، شی لکه خاوندوالی شی او داتيوشی او اړيکوی شی او همداسې ادوربالي ټاکنې، چې کله، چېرته، څنګه او يا ولې يو څه پېښيږی.

دا چې له کومو غونډالغړو غونډاله جوړه شوې ده، کړی شې د غونډالي د يوه ژورې څېړنې څخه راوباسې.

وختبڼه: موږ په پښتو کې درې وختبڼې لرو. اوسمهال، تېرمهال، او رتلونکی مهال.

د دې لپاره چې دا مهالبڼیAdpositionenاړيکويونه يا نسبتي ويونه د کسانو، شيانو يا پېښو په منځ کې اړيکې ټاکي. له دې امله اړيکويونه هم بللکيږي.دوی کړی شي کوزال kausale ( بنسټ – پرته ، بې، په ځای)، لوکال lokale ( ځای بېلګه: ( کره، باندې )، تمپورال temporale ( وخت- بېلګه: (له) څخه، شاوخوا، ترڅ، ته) يا مودال modale رقم اوډول – بېلګه: پسې پېښه، مننه) نسبتونه يا اړيکې روښانه کوي.

کوزال(بې له ما څخه، پرته له ما څخه يا له ما څخه پرته، د ما پر ځای باندې)،

ځاييز: (پر يوه بجه باندې، د ۱۱ بجو شاوخوا، پر ۱۱ بجو باندې)، وختيز ـ له ۱۱ څخه

ګنيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنيز ګڼنويونه دي او ګڼون يا تعداد، درجه يا د ټاکلو شيانوډېرئ دي. داسې په نامه توانګڼونه هم شته( يو، دوه) يا هم څومواليز ( لومړی، دويم).

Interjektionen انترجکشنونه(ويين ويونه يا دويلو ويونه) دا ويينوييونه يا افاده ويونه دئ يا فقط ويل کيږي. دوي په رېښتينې د غونډالې سره يوغږيزوالي کې نه راځي، خو دا يوچا ته غږ کول يا جګ غږونه دي، چې د هغو سره ته ټاکلي احساسونې ويلی شي( کله آ، هی هی ، بوی).

## ويي جوړونه او وييپوهېدنه

ويي جوړونې په ويي سپماکي همداسې چټک مخ ته ځي لکه ويي له منځه تلنې. که د لرلو ژبنيزو الو په بنسټ ويونه منځ ته راځي، نو دې ته ويي جوړونه وايي. د ويي جوړونې غوره يې يوځای اېښول شوي ويونه( ګډوله ويونه) او رابېلېدنې دي.

## غونډالشننه

د دې لپاره چې سمه غونډالشننه وکړو، ته بايد لومړی په يوګونو غونډالغړو باندې يو ليد واچوې يا وپېژنې

د ِغونډالغړو ټاکنه

غونډالي له غونډالغړو څخه جوړې دي. ته دلته زده کوي، چې ته څنګه غونډالغړي ټاکل شې او څومره غونډالغړي شتون لري يا شته دئ.

## غونډلغړي څه شی دئ؟

لکه څنګه چې ته په ډاډ پوهېږې، غونډالي په خوښه نه دي جوړې شوې.دوي له غونډالغړو، په دې پوهېدنه چې له وييونو يا اړوند وييونډلي څخه جوړ دي. غونډالغړي د يوې غونډالي په دننه کې يواځې يا فقط د پوره برخې په څېر غونډالي ته ور واچول، لرې يا د بل ځای نيوي کېدی شي. سری غونډالغړي په ترې نه تېرېدونکو او پوره کېدونکو غونډالغړو سره توپېروي.

د غونډالغړو او وييډولونو په منځ کې څه توپير دئ؟

دا غوره ده، چې ته غونډالوييونه د وييډولونو سره ردبدل نه کړې، که څه هم دوي کله ورته اورېدليکږي، د بېلګې په توګه ادورب( وييډول) او ادوربال( غونډالغړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویېولونه د غونډالي توکي دي، له دې سره هر یو ویي تنظیم یا ترتیب کیږي.
کړنوییونه،نومونه یا خویوییونه د وییونډولونو بېلګې دي.

غونډالغړي يې په څنډ یا مخامخ د غونډالي غړي دي. غونډالغړي بیا له بېلابېلو وییونو، وییډولونو یا وییډلو جوړ دي.

سپین چټک له ښوونځي څخه وروسته خپل د کورکار وسرته رسوی، چې د خپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري.

- سپین: سبجکت یا نوم

- سرته رسوي: پرېديکات(Prädikat غونډلوینا، چې یو شی یا څوک څه کوي او یا له هغه سره څه پېښيږي.

- له ښوونځي څخه وروسته: تمپورال ادورب

- چټک: مودال ادوربال Modaladverbial

خپل د کور کار: خاوندوالي حالت

- چې دخپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري: Kausalobjekt

- ګران : Attribut

## کوم غونډالغړي شته دی یاشتون لري؟

ترې نه تېرېدونکو غونډالغړو پورې نوم او پرېديکات اړه ( که غواړی تعلق) لري.

یوه پوره غونډاله لږ تر لږه دا دوه غونډالغړي لري. ټول نور غونډالغړی لکه adverbiale ادوربال ټاکنې یا شیان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او نه هرومرو اړین.

ټاکل یا شیان پوه کونکي غونډالغړي دي او نه په زور اړیېن.

### Das Subjektسبجکت یا نومیونه

سبجکت تل د نومیز یا ښه يې د کړوني لپاره راځي او پوښتنې ،، څوک، چا، یاڅه؟،، ته ځواب ورکوي. سبجکت په یوه غونډاله کې ښايي، څوک یا څه یو څه کوي. په هره پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډاله کې باید یو سبجکت خوندي وي. سبجکت د بېلګې په توګه کولی شي، یو نوم، یو ځانیز نوم، یو نومځاینیوی یا یو  نومیزکونکی وي.

نوم: ځوان بېدیږي.

ځانیز نوم: سپین بېدیږي.

نومځاینیوي: هغه بېده دی.

نومیز کونه: خرار زوروي.

له پوښتني ،، څوک، چا،څه؟ سره کړی شي په یوه غونډاله کې سبجکت وټاکې. دلته یو څو بېلګې:

پرون په تلوېزیون کې ښه فیلم و ښوولشو. پوښتنه: پرون په تلوېزیون کې څوک یا څه وښوولشو؟  سبجکت: یو ښه فیلم.

هوګی په جګ غږ خاندي. پوښتنه: څوک یا څه (شی) په جګ غږ خاندي؟ سبجکت: هوګی.

دا چې ته پرون دلته وې، زه خوښ شوم یا وماته یې خوښي راوبخښله. پوښتنه: چا یا څه زه خوښ کړم؟

سبجکت( نومویونه): دا چې ته پرون دلته وې.

یادونه: که وګورو، نو په پښتو کې دا نوموی یا سبجکت د پرېکړوني لپاره هم راځي.

بېلګه: څوک ووهل شو. او نور.

## Transitivität ( له لاتین *trānsitiō* ) ترانزیتیواو اینترانزیتیو

ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پوربوتل، اوښتل)

پیل یادونه: زه دالیکنې له الماني ادبیاتو رانیسم. کېدی شي ډېر د سمونونو څه یا په کې وي په کې دي. دا ډېر کار دی، کېدی شي دا ښه شوی وي، خو دا هم تاسو ښه کولی شی، نو مرسته مو مه سپموئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پورېوتل، اوښتل. زه ګوره اورېدل نه لیکم، چې
هغه لوربدلون ته وایي، دا په دې پوهېدنه چې له یوې لور بلې ته اوړي. لور بدلوي) یو
ژبلاریز خوي دی، چې و یوه کړنوي یا په ټولیزه توګه یوه جوړښت یا یوه غونډلې ته
لیکل کېدی شي. ترانزیتیو مخ ته لرو، که په غونډله کې هم سبجکت او هم یو( سیده)
ابجکت و مخ ته ولرو یا همداسې له یوه کړنوي وغوښتل شي.

intransitivاینترازیتیو هغه جوړښتونه همداسې کړنویونه بلل کیږي، چې سیده شی نه
لري. که دوه شیان مخ ته ولرو، نو دا جوړښت همداسې کړنوی ditransitiv دیترانزیتیو(
دي دوه ته وایي) بلل کیږي.

بیا:ترانزیتیو او اینترانزیتویا کړنیز – اوکېدنیز کړنوییونه او یا لازمي او متعدي: که
رښتیا ووایم، نو په لازمي او متعدي باندې نه پوهېږم او په دې هم نه پوهېږم، چې کوم
یې لازمي او کوم متعدي دی او دا څه پوهېدنه لري، خو داالماني یې ګورم، نو دا یو یې
کړل کیږي او دابل یې کېدلکیږي( داپه دې پوهېدنه چې نه کړلکیږي)، نو ایا دابه
کړلکېدونکي(کړلکېدونی) او کېدونکي(کېدونی) نه وي؟

او که غواړی خوزند او ناخوزند.

بیا یې پېژند: هغه کړنوویونه ترانزیتیو دي، چې د سبجکت په څنګ کې ابجکت هم لري (
دوه ارګومنتونه ). اینترانزیتیو یې په مخامخ یو سبجکت بسیا کوي، داپه دې ترې
پوهېدنه، چې دایوه ابجکت ته اړتیانه لري( یو ارګومنت) چې یوه غونډاله ترانزیتیو یا
اینترانزیتیو دی، کېدی شي له پوهېدنې څخه یې وپېژنو. او د کړنوي له جوړښت څخه
هم پرې پوهېدی شو، چې کوم یو ویې ترانزیتیو یا اینترنزیتیو دي.

د دې لپاره بېلګې:

سپوږمی ډوډی پخوي(ت)، ډوډۍ پخیږي(اینت)

سپین کتاب لولي( ت ) . کتاب لوستل کیږي(اینت).

د ترانزیتیو پښتو پوهېدنه: اخوا تلل یا پورېوتل ( لکه له یوې پولې).

د موږ ژبپوهان ورته لیږنده کړنه لیکلی.

## پوهنیزه پرېکړه: د دې لپاره موخور بلل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنیز کړنوی او کېدنیز کړنوی یا کړونی کړنوی او کېدونی کړنوی. د دې لپاره اړتیا نه شته، چې موږ دې د ت او اینت لاتین ویې پو هېدنه ولیکو. دا د ما د وړاندیز نومونه هغه څه سیده په ګوته کوي یا ښایي.

په ټولنه کې: پلار او ځوی یا ځوي او پلار ترانزیتیو دي او وروړ او بل وروړ دا اینترانزتیو دي. له یو و بل ته سیده تلل او له یو و بل ته ناسیده تلل دي.

په ژبلار کې د ترانزیتیویتي د روښانونې په هکله نه هم اندیزوالی له بېلابېلو درسي اندونو له لارې هم منځ ته راځي. دلته د ښوونځي ژبلار اود ټولیزې ژبنیز ژبلار ي سره مخامخ لیدلور.

## ترانزیتیویتي د ښوونځي په ژبلار کې

په ورځني ښوونځي ژبلار کې به ترانزیتیویتي د یوه ویې پر خوي باندې، چې د ځنګه والی یا حالت خاوندوالي واکوالی ولري، پېژندل شوي یا یې پېژند ورکړ شوی. د دې له مخې څخه یو کړنوی ترانزتیو دی( چې ،،موخه ور،، کړنوی هم بلل کیږي)، که د هغه یو مللوبغاړی ځنګه والی یا حالت خاوندوالی ولري.

د ښوونځي په ژبلار کې توپیروننخښه په پاسیووالي کې ده. یو کړنوی د دې له مخې ترانزیتیو دی، که د پاسیو و مخ ته تګ په لور کارول کېدی شي، چې له هغې سره (خاوندوالي - ) ابجکت یا شی سبجکت کیږي.

بېلګه: هغه پیسې لیږي – دا پیسې د هغه لخوا ولېږل شوي

## په ژبپوهنه کې ترانزیتیویتي

په ټولیزه ژبپوهنه کې د دې ( د ښوونځي ژبپوهنې له مخې) په څټ لږ روښانه شوی. په دې ترڅ کې چې د ښوونځي ژبلارې له مخې خاوندوالي د ترانزیتیو ټاکنو پېژندنخښو په څېړ په چوپړ کې دی، نو په ژبنیز لیدلور کې د خاوندوالي منځ ته راتګ د یوه جوړښت ترانزیتیو خوي په څېړ راوړل کیږي. په ژبپوهنه کې ځنګه والی ، حالت یا کاسوس په سر کې یې پېژند د ترانزیتیویتي له مخې ورکول کیږي. له دې سره د هغو ژبو لپاره هم لار وازه ده، چې خاوندوالي( لکه Ergativsprachen ) نه لري او کېدی شي د تراتزیتیویتي پېژند ورکړل شي. لکه پښتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا موضوع ډېره څېړنه دما لپاره هم ستونځمنه ده. ډېر څه لري، خو هغه له وتونژبې څخه يې را استل وموخه ژبې ته لږ څه ډېريږي او پېچلي کيږي هم. بخښنه دې وي. وځوانانوته

لنډ ښوونځي کې خاوندوالی او په ټولیزه ژبپوهنه کې بې له خاوندوالي هم پېژند لري.

خو د دې لپاره به بېلګه راوړم:

سپي پولیس وداړه.

پام، سپی داړي.

دا دويمه غونډاله يوه ټوليزه پوهېدنه لري، دويمه يو ځانګړی حالت روښانه کوي.

نورې بېلګې: کوچني غاب مات کړ(ت). غاب ماتيږي يا غاب مات شو(اينت)

مور مړی پخوي(ت)، مړی پخيږي(اينت)

لمروړانګې د واورو سړي ويلې کوي(ت). د واورو سړي ويلې کيږي(اينت).

کړلکيږي او کېدلکيږي يا کړنيز او کېدنيز.

## سيمانتيکSEMANTIK

سيمانتيک د ژبې برخه ده، د ،، نخښو،، پوهنې سره سر او کار لري، چې دلته دا نخښه د ويي ، کليمي او د ژبې د ټولو برخو لپاره ځايناستې ده.

په ژبپوهنه کې داسې په نامه سيمانتيک د پيداېښتي ژبې – دا هغه ژبه چې مور يې پېژنو او هغه د ژبې په څېړ راوړو

چې څه به په سيماتيک کې و څېړل شي

په سيمانتيک کې د يوه ويي، د يوې نخښوني او يوې غونډلي په پرې پوهيدلو لومړيتوب لري. که د بېلګې په توکه يو بې موخې يا ترې ناسمپوهېدنې غونډله جوړه شي، کېدی شي د سيمانتيکي څېړنو په بنسټ د ،، بې موخې،، په بڼه په نخښه شي.

که څوک د يوه شي ژبنيزه پرېپوهېدنه غواړي وڅېړي، هغه تل د سيمانتيک سره بوخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمانتیک په نوې مېډیا کې

په دا اوس وخت کې سیمانتیک د برېښنا لټونماشینونو ښه والي کې هم یو غوره رول لوبوي. دا لټونماشینونه د یوه وي یا ویبرخو په مرسته یا لاس په پای کې کره میندي، چې پلټونکی یا لټوونکی یې لټوي او د دې په مرسته له ډېرو خپلوانو کلیمو سره تړل کیږي.

## کړندولونه او بدلونونه یې

یادونه: دلته هم شاید څه تکرار وي، خو کله سړی و تکرار ته هم اړ کیږي.

دا په دې پوهېدنه، چې کړنویونه ټولګیز دي او باید ټولګیز شي.

دالاندې ټول هغه څه دي، چې که څېړلشوې وي، ځو ډېر ښه او که نه، نو دایې بنسټیزه لیکنه او پیل دی، چې نوره باید روښانه شی او روښانونه یې یې په ګرانو مینه والو لوستونکو او د ریښې خاوندانو باندې وي.

دا پوښتنې هم باید وڅېړل شي. داسې پیل کوو:

و لاندې ته یادونه: له دې فکر سره مخ شوم او ومې غوښتل له تاسو سره یې ګډ کړم، چې یو له بل سره مو مرسته کړې وي. کېدی شي دا کار تاسو لا د مخه کړی وي. که مهالونه او نومونه یې را څخه سم ونه لیکل شو بخښنه دې وي او تاسو یې سم کړئ، چې همدا له اوسه مو د مرستې مننه.

زه به دا ویونه داسې وبولم:

١ – ناځواکمن کړنوییونه: هغه ویونه، چې خپل بنسټ ساتي او د وختونو سره ښه بدلوي، ناځواکمن کړنوییونه بلل کیږي.

٢ – ځواکمن کړنوییونه: هغه ویوونه چې پوره ښه نه ساتي او په یوه لار ښه بدلوي، خو ټوله ښه د ناځواکمن وییونو په څېر نه ساتي، خواکمن کړنوییونه بلل کیږي.

٣ – بې لار ګړنوییونه: هغه ویونه، چې سوچ بوچ لار نه لري، بېلارې کړنوییونه بلل کیږي.

دا ټول وییونه دې ګران لوستونکي په ټولګیو د وېشلو وروسته سره ټولګیز ولیکي.

بېلګې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه و ۱ – ته: درېدل:

اوسمهال: درېږم، درېږې، درېږي او نور

روان اوس مهال: درېدلی یم، درېدلی وې، درېدلی وو او نور

تېر مهال: درېدلی وم او نور

راتلونکی: وبه درېږم، وبه درېږې، وبه درېږي او نور

درېدم، درېدې، درېده او نور

بېلګه و ۲ ته: خوړل

اوسمهال: خورم، خورې، خوري.

روان مهال: خوړل مې. خوړل دې، خوړل یې، خوړل مو

اوس تېر مهال: ومې (ودې، ومو، ویې) خوړ، خواړه یا خوړل

تېر مهال: خوړلي مې(دې، مو، یې) وو.

راتلونکی: وبه یې خورم(خورو، خورې، خورئ، خوري).

پوښتنې ته په ځواب کې ؟: خوړلې مې (مو، دې، یې) دي(وو).

بېلګه و ۳ ته: تلل:

اوس مهال:ځم، ځې، ځو، او نور

اوس مهال: لاړم، لاړو، لاړې، لاړئ، لاړه، لاړل، لاړه، لاړې(لاړلې)

روان مهال یا څنګه مهال؟؟؟: اوس تېر مهال:تللم، تللو او همداسې نور.

تېر مهال: تللی وم ( وو، وې ... او نور)

راتلونکی مهال: لاړ به شم. او نور

-؟ تللی به وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورته ګوره درې ډوله کړنویونه راغلي. دابايد ښه روښانه شي، چې داویونه څه بلل کيږي او دا ژبلاريز بدلونونه يې هم بايد پوره وڅېړل شي. هغه بنسټ يې دا پورته دی.

په پورنه نومځاينيوو کې موږ ځانيز نومځاينيوي نه دي کارولي يا نه کاريږي او که څنګه؟. د دې ډول نومځاينييو لپاره دڅېړنې او بللو بل ځای شته. هغه ورته وګوری.

يادونه: دما د پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره ليکنه کې کېدی شي دا نور ډولونه راغلي وي،او که نه، نو ورزيات به يې کړم او تاسو يې هم پوره کولی شی.

يوه بله ستونځه:

په پښتو ژبلار کې له يوې بلې ستونځې سره هم مخامخ شوم او هغه دا چې. ځنې خويويونه داسې انګېرل کيږي، چې ګوندې کړنوييونه دي، چې له تاسو سره يې ګډوم:

موږ خويويونه لرو او پوښتو، چې د دې خويويونو سره يو څه څنګه ابادوو:

خويويونه: سپين، رنګه، ښکلی، جګ، خراب، جوړ، ټيټ.

يوه څه ته خوي ورکړه څنګه کيږي؟

که يو څه غواړې ښکلی کړې، نو دا ښکلي کول دي. خويويی + کول

که يو څه غواړې خراب کړې، نو دا خرابول دي. خويوي + -ول

خراب، خرابول او که خراب کول؟ نابلد خو په ژبلار برابر.، سپين، سپينول، که سپينکول، رنګ کول او که رنګول. ښاپسته او ښاپستول او که ښاپسته کوم، خو ښکلي ښکلي کول، چې ښکلويل ورسره سم نه راځي او که ښه نه برېښي؟ نور دې ګران مينوال سره جوړ کړې.

يو نوم او يا شي ته يو خوي ورکول:

په ځنو خويوييونو پسې ول زياتيږي. داپه دې پربيو هېدنه چې خوي وی + ول

او په ځنو پسې بېا کول ورزياتې، دا په دې پربيو هېدنه چې: خوي وی + کول

دا ځانګړنې دي او که بايد يوې لار ته سره راوړل شي او ايا دې کې هم يوه لار شته او که توکلي همداسې دي.

رنګ کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګول او رنګ کول.

ښکته کول، پورته کول

ټيټول جګول

دا هم فکر ته راځي، چې ګوندۍ دا به همغه لار وي، چې په ځنو ځايونو کې دا د کول ،، ک ،، نه ليکل کيږي، خو زه پرېکړه پرې نه شم کولی او مشوره مو غواړم.

له بلې خوا په پورته کې يو توپير په دې کې شته، چې دا لومړی خويوی په ،،ه،، پايکيږي او دا بل بيا په بې‌غږيزه توري پای مومي. دا دې نو ګران ژبمينه وال سره و څيړي.

خويوييونه په پښتو کې خپله بڼه نه بدلوي، ځګېدنلار يې د نورو ژبو په څېر لکه الماني يا درې نه ده، خو بياهم د ځګېدنې توان په ډېر، خورا ډېر، زښتډېر سره کېږي.

• • • •

# دويمه برخه

## پسې تړلی Saffix

Suffix پسې تړلی يا وروستاړی

دا چې سفېکس يو افېکس(تړلی) دی، نو د افېکس پېژند څخه به پيل وکړ

Affix تړلی: افيکسونه يا د وييونو سره تړلي ( لنډ: تړي. زه د تړي پر ځای باندې د تړلي پلوی يم، ځکه تاړي يا تړي راته سم ژبنيز جوړښتونه نه برېښي) د وييونو ژبنيز مورفولوژيکي ناخپلواکه برخې په ګوته کوي (يو ( په يو بنسټ پوری) تړلی مورفېم)، چې هغه پخپله د نورو ژبنيزو توکو د ورزياتولو سره ځان نه شي پوره کولی، بلکه په څټ د نورو شته وييونو يا وييونبرخو غزولوسره مرسته کوي. دا د بنسټويي په څېر نه دی. هغه وييونه چې افېکسونه ور سره تړلکيږي، بنسټوييونه بلل کيږي.

سفيکسونه يا د وييونو پسې تړلي، د وييونو ژبنيز مورفولوژيکي ناخپلواکه برخې په ګوته کوي (يو تړلی مورفېم)، چې هغه پخپله د نورو توکو د ورزياتولو سره ځان نه شي پوره کولی، بلکه په څټ د نورو شته وييونو يا وييونبرخو غزولوسره مرسته کوي. دا د موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو کښې روستاړي(؟؟) بولي، خو له پېژند څخه داسې برېښي، چې پسې تړلي يې موخه سمه په ګوته کوي. تاړی د موړ ژبپوهان د تړلي د لنډیز لپاره کاروي، چې ژبلاریزه نه ده) دا د بنسټويي په څېړ نه دی. هغه ویيونه چې سفېکسونه ور پسې تړلکیږي، بنسټوییونه بلل کیږي.

په پښتو کې زه ونه توانېدم، چې پرېفکس وموموم. مرسته وکړئ.

Suffix پسېتړلی یوه سیلبې یا مورفېمونه چې په یوه ویي پسې تړل کیږي، له دې امله پسېتړلې بلل کیږي. لکه: -تیا، -والی، -توب لکه لویوالی، زړورتیا، کوچنیتوب.

په الماني ژبه کې سفېکس ته سیلبې هم وايي، خو دا داسې نه ده، ځکه چې په پښتو کې مو ،، - والی،، لرو او دا دوه سیلبې ده او یا لکه پښتونولي. په الماني بیا سېلبې نه شي پوره کولی.

کېدی شي یو سفېکس یا پسېتړلی د بنسټويي په پای کې نه وي، ځکه، چې یو بنسټ ويي پسې څو سفېکسونه یو په بل پسې راتلی شي. لکه ښکلتیاوې. دلته ګوره ،، تیا،، او ،، وې،، سفېکسونه یا پسې تړلي دي.

د مورفېم پېژند: مورفېم د یوې ژبې خورا کوچنی پوهېدنوړونکی یووالی دی. د بېلابېلو مورفېمونو ګډوله کولو له لارې څخه ویيونه جوړیږي.

Suffix او سیلبې په بیلابیلو ګرامري هوارو یا سطحو کې پراته دي. سفېکسونه مورفولوژيکي یووالي دي او سیلبې غږیز جوړښتیووالي دي. مورفولوژيکي او غږیز وییونو توپیرکونه دې یو په بل هرو مرو باید سر ونه خوري یا دې هرو مرو یو په بل نه وي پراته. د رابېلیدنپسېتړلو لپاره داسې لار ده، چې د بنسټ وي او پسېتړلي په منځ کې د سیلبو بېلونه نه مني او یا په پښتو کې يې ځنې دوه سیلبې هم دي. لکه –والی. خپلوالی خپل – والی. پام به ورته کوو، له دې څخه لا ښه بېلګه پیدا شي.

یادونه: په اینفورماتیک او شمېرپوهنه کې دا بل ډول کارول کیږي یا بل ډول ور څخه پوهېدل کیږي، چې هغه دلته نه څېړو.

Präfix پرېفېکس یا مختړلي( مختاړي؟) لنډ: یوه مخسېلبې ده، چې خپله پوهېدنه نه لري، خو د بنسټويونو- چې دا د مخه ور سره تړلې وي- پوهېدنه غزوي. مختړلي په پښتو کې نه شته یا ما نه دې موندلي. مرسته

پسېتړلي لکه: -توب، -تیا، - والی. دا یو هم پوهېدنه نه لري، خو د پسېتړلو پوهېدنې غزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: په ګډوله نومونو کې مختړلي او پسې‌تړلي نه شته. لکه درملتون، بېلتون او نور.

## د پسې‌تړلو دندې:

-- نومیز کوونکي پسې‌تړلي: خوښې‌دل، خوښي، زړور، زړورتیا، کوچنی، کوچنیتوب.

-- خوییز کې‌دونکی پسې‌تړلی: لکه سړیتوب، کوچنیوالی

-- نرښځینه ټاکونکی پسې‌تړلي: لکه سړیتوب،غمخور، غمخوره یا ښوونکی، ښوونکې.

پسې‌تړلي کړی شي له یوه توري هم جوړ وي لکه پورته په ښوونکي او ښوونکې کښې.

لویوالی، هوښیار تیا کړونکی یا کړېدونکی.

کوچني کونه: مورکي ، خورکي ، کورګړی یا کورګوټی.

یادونه: که راوړل وګورو، نو کې‌دی شي واندو یا مو اند ته راشي، چې ګوندې دا ،، را،، به پرېفې‌کس وي، خو داسې نه ده. ،، را،، اینکلیتیکي نومځاینیوی دی، چې له پېژند سره سم د کړنویي سره سرېښ دی..

یادونه: په یو څه پوهې‌دل او یو څه سم بلل یا لیکل، د دې توپیر باید وشي.

موږ ډېر یا لږ د ورسره بلدتیا له امله تل په ،، له ما څخه،، کې دا څخه نه لیکو او ویل کیږي، چې دا ،، څخه،، دلته حزف کیږي، خو دا ناسم دی. د ،، له ما،، یوازې دنومځاینیوي ،، ما،، چې په کړوني حالت کې د ،، له،، سره و نه کړوني حالت ته راځي.

موږ د ژبلار له بلدې لار څخه پوهېږو، چې له ،، څخه،، سره ،، له ،، راځي او په ځت که ولرو، چې ،، له،، ، نو پوهېږو، چې ،، څخه ،، د پسې‌ځاینیوي په څېر راځي، نو که دا ونه لیکل شي هم سم به وي، خو دا سې نه ده. پوهېږو، خو ناسم دی. پرته له ،، څخه،، سره، کره پسې هم ور سره د پسې‌ځاینیوو په څېر راځي، نو ،، څخه،، حزف ځکه هم ناسم دی، چې ،، له ما لاړ،، نو داسې به و اندو، چې له ما څخه لاړ، خو دلته هر یو له پورته پسې‌ځاینیوو څخه راتللی شي.

له پسې‌تړلو سره د موږ د لیکوالانو ستونځې:

که پسې‌تړلي له پورته پېژند څخه را اخلو، نو د کومو ستونځو سره نه مخ کیږو. په ښوونځي کې ګوره پسې‌تړلی نه شته، دا ګډوله نوم دی. په وړتیا کې دا ،، - تیا،، پسې‌تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دا مې ګوره ،،تیا،، نه او ،،–تیا،، مې لیکلی، ځکه چې ،، تیا ،، یواځې نه راځي یا نه لیکلکیږي.

پسي ځاینیوي؟) نسبتي ویونه یا (و) ته ویونه

د پوستپوزیشن لاندې چې څه د یو هیدلودي

پسي ځاینیوي، خو ښه یې اړیکویونه

یادونه : دا دې دلته هم په ګوته شي، چې په پښتو کې پرېپوزېشنونه نه شته یا د ما ومخې ته نه دې راغلي او هغه څه چې ما کله ، کله بللي، هغه ناسم دي.

هغه ویونه، چې نور ویونه یو د بل سره اړیکوکې راولي اویو تاکلی( ځایز، وختیز اوداسې نور، بې له بدلون) نسبت ورکوي، نسبتویي د بیلګې په توګه په، باندې، سره، لپاره،، امله، ته.

پسيځاینیوي.

د ځای، مهال، نومونو او شیانو په منځ کې د اړیکو څرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړیکویونه.

پوستپوزېشن د غوښتنې حالت سره سم یا د پوهېدنې سره سم ټولګیزاو ډلیزکیږي

پوښتنې ته په ځواب کې،، وچیرته؟،، ( ( یو) شی وچیرته اینودل شوی؟ یو شی وچیرته خوزښت کې دی؟ )

کړنویونه چې ځای اړوندوالی په نخښه کوي

( liegen (= to lie پرېوتل

( stehen (= to stand درېدل

( sitzen (= to sit کښیناستل

( hängen (= to hang ځوړندېدل یا ځوړندول

چوخول(stecken (= to stick

( legen (sich) (= to lay اینښول

(c) ketabton.com: The Digital Library



stellen (sich) (= to place ځای په ځای کول )

setzen (sich) (= to sit کښیناستل )

hängen (= to hang زوړندول )

stecken (= to stick ننباسل،چوخول )

بیا لنډ:

پ کیدی شي د خپلي کاروني له مخې سره توپیر- یا بیل شي:

ځای اړوند پ/ پوښتنویونه: و چیر ته ، له کومې لور څخه، له کوم ځاي څخه

ته و چیرته اوسیږي؟ په خوست کې.

ښاغلی سپین و چیرته ځي؟ و ډاکتر ته

وخت اړونده پ: کله،پر څو بجو باندې، تر کله (پورې)، له کله( له کومه وخته یا له څه وخت څخه،

د یوکال پایلوبه کله ده؟ په راتلونکې یوه نۍ کښې او که پر... باندې.

فیلم پر څو بجو باندې پیلیږي؟ پر اته بجو اوپنځلس ددقیقو باندې

له کوم وخت څخه الماني زده کوې؟ یا له کله څخه الماني زده کوې؟ له څلورومیاشتو څخه را په دې خوا.

مودال پ ......../ پوښتنې: څنګه، ولې، د څه لپاره.

ته پرون ولې له موږسره را نه غلې؟ د خرابې هوا له امله.

الماني د څه لپاره زده کوې؟ د مسلکودې( کریرې ) لپاره

کله خراب بیدیږي؟ له پوره سپوږمۍ سره

کړنوییبنه له پوستپوزېشني پوره کېدنې سره

له یوه څه سره میل لرل: سپین له څه سره میل لري؟ ټیک له موټرو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر څه باندې خندل: پر څه باندې خاندې؟ - د هغه پر ټوکه باندې.

له څه څخه ژوند کول: زده کړی له څه څخه ژوند کوې؟ د خپل پلار له پیسو څخه.

## ځنګه والي یا وحالتونو ته څه اړتیا لرو؟

د ځنګه والي یا حالت په مرسته پوهېږو، چې نوم/شینوم په غونډله کې کوم رول غوره کوي یا نیسي او په کوم ،، نسبت،، (اړوندوالي یا په اړیکو کې ) د غونډالي د نورو وییونو سره ځای نیسي یا کارول کیږي. بې له ځنګه والي یا حالت به ډېرې غونډالې نه پوهېدونې یا هکپکونکې بربېنېدې یا بربېنیږي.

دا د یوه پوهنتونې پوهنیزه لیکنه نه ده، د ښوونځي ساده لیکنه ده.

په خواشینی باید ووایم، چې په پښتو کې زه د داسې لیکنو سره مخامخ نه شوم او یا مې ځنې لیکنې، چې لوستلې، داسې راته بربېښېدې، چې ګوندې په پښتو ژبلار کې د یو دوه نورو موضوعاتو په څنګ کښې دا هم نه ده څېړلشوې. د ما د پښتو ګرامر لیکنو په اوږدو کې سرې هرو مرو د هر پوهنیز څه سره مخامخ کیږي.

### د دې لیکنې په لیکنو کې څه راسره مرسته وکړه؟

۱ – پښتو ژبلار دوه حالتونه یا پېر لري.

۲ – د یو چا په لیکنه کې مې ولوستل، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی.

۳ – مورفېمونه څه دنده لري؟

۴ – پښتو د الماني ژبې مخامخ د نومځاینیوو بدلون نه لري.

۵ – پښتو یوه ارګاتیو ژبه ده. او

۶ – په یو ځای کې دپښتو په ژبلار کښې و، په ګومان مې، چې د الماني ژبې لپاره یا د الماني ژبو لپاره لیکل شوې وه، چې ،، و ما ته،، داتیو حالت دی.

داهغه مرسته کوونکې او هڅه کوونکې څه وو، خو هغه خورا ډېره یا بنسټیزه مرسته د الماني ژبې وه او ده. دا اوسنۍ لیکنې مې دا وروستنۍ لیکنې هم دي، چې دا وده د پرلپسې نویو څه کتل او له پورته یادو موضوعاتو څخه مرسته لاس ته راوړل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د پښتو لپاره څوک د يوې بلې ژبې له کلرولو څخه ګټه اخلي، په دې پوهېدنه نه ده، چې ګوندې د هغې بلې ژبې څه رانيسي. موږ د نورو ژبو دپېژندونو څخه ګټه اخلو او په پښتو کې انډول څه ميندو، چې دايې غوره ګټه اخستل دي.

# په پښتو کې حالتونه يا ښنګه والى

د ما له ټولو ليکنو څخه موخه دا وه، چې ځان روغ وساتم او له بلې خوا مې دا هم غوښتل، چې وښايم، پوهني په پښتو  هم ليکلکېدى شي، آن که پښتو  هم وي.

يادونه١ :دا د ما ټولي ګرامري ليکني، هغه د ښوونځي ساده ليکنې او د هغو روښانه ونې او نه دي څخه لوړې يا د لوړو څېړنو.

په نورو ژبو يا الماني ژبه کې،  دا په ښوونځي ولوستل کيږي او زده کيږي، چې هلته يې د ښووني لارې هم داسې ساده دي، خو پهپښتو کې سر له ې هم لږ پېچلتيا لري.

 يادونه: د پښتو حالتونو په اړه وما ته تر اوسه پورې  څه ومخ ته نه دي راغلي، نو اجازه به وي، چې دا داسې د ژبلارې په دې هکله ليکنې، د ما موندنې وبولم.

پيل يادونه ١: د حالتونو  غوره والى: د موږ ډېرې ستونځې او د ناسم ليکلو ستونځې د حالتونو په نه پېژندلو کې دي. تر هغې پورې، چې دا حالتونه ژبې او  همداسې و ښوونځيو ته نه وي ننوتلي، دا ستونځې مو نه اوبی کيږي. دا تراوسه پورې نه وو ميندل شوي او اوس مې ډېرې ليکنې وربادې کړي.

پيل يادونه ٢ : په پښتو کښې د اوس وخت لپاره د يوګڼ دوه نومځاينيوي زه، ما، ته، تا او هغه، هغهء  او د ډېرګڼ لپاره يو يو نومځاينيوي لرو.

يادونه: ليکلي مې وو يو ګنو او ډېرګنو، خو يوګڼ او ډېرګڼ سم دي.

دا د پښتو بل ځانګرنوالى دى، چې د هريوه لپاره بېلابېلي کړندولونه شته دى.

دا  دوه  يا له هغو و لاس ته راغلي څلور ښنګه والي يا حالتونه به تل له موږ سره مل وي، نو ښه پام او څېړنه يې همدومره اړيينه ده: دا نور نه څېړم، په ډېرو ليکنو کې څېړل شوي.

حالت څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت د نوم او نومځاینوو ګرامري واکوالی یا دنده ده، د نور وییونو سره. په پښتو کې دوه حالتونه لرو. دې ته به هم همدلته ګوته ونیسم، چې دا موږ په پښتو کې په دوه ډوله روښانه کولی شو.

## پښتو ژبه دوه حالتونه لري:

یادونه: دا دې په یاد ولرو، چې دا موضوع د کتاب په دننه کې غزولې روښانه شوې ده.

لومړی:

کړونی حالت( لاتین یې Rektus رېکتوس): دا کړی شو نومیز (ښه یې: ځانیز ) حالت هم وبولو: په دې حالت کې یو څوک څه کوي. دا هم په دوه ډوله دی. زه، ما ، ته، تا او نور انډول یې. همداسې موږ، تاسو، هغوي.

بېلګې: ۱ - زه ځم. زه لاړم: د هغو کړنو لپاره چې څه کوي، خو پرېکړونی نه لري. او

۲ - زه خورم، ما وخوړه یا وخواړه: دلته په یو څه څه کیږي، یا دا کړنه پرېکړونی لري.
خو په ډېرګڼ کښې: موږ خورو، موږ ځو. دلته یو موږ، تاسو، هغوي لرو اوبس

یادونه: نوره روښانونه یې هم په بل ځای کښې شته

دویم: Obliqus

نه کړونی حالت یا اوبلیکوس: له نوم څخه یې برېښې، چې دلته څه نه کیږي. له دې به داسې وپوهېږو، چې کړونی نه دئ.

دا حالت په درې ډوله دئ یا درې برخې لري، چې یو یې پرېکړونی او دا نور دوه یې نه کړوني دي:

دویم ۱ : پرېکړونی حالت: په دې حالت کې په یوه څه څه کیږي. دلته بیا د یوګڼ لپاره همهغه دوه نومخاینیوي لکه په کړوني حالت کښې، خو د بدلې دندې سره. په دې حالت کښې د زه پر ځای باندې د کړوني ما او په څېټ د ما د دندې لپاره زه راځي.

دا یې یوه بله ځانګړنه ده.

بېلګه (په ډېر بخښنه، خو د ښه پوهېدلو لپاره به یې بېلګه دا وهل، ډېول راوړم): لکه: سپین یې وواهه. په دې حالت کې یو څوک یا څه وهل کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم لکه پورته د ډېرګڼ لپاره: موږ وهي، موږ يې ووهلو او نور

بېلګې: ته ووهل شوې. ته سپين ووهلې. يا: تا زه ووهلم. دلته،، تا،، کړونی دی او زه پرېکړونی يا نه کړونی دی.

دويم ۲ : د خاوندوالي حالت: په دې حالت کې يو څه يا څوک د يوڅه خاوند دی. ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم، خپلواکه پوهېدنه نه لرې او له نوم يانومځاينيويو سره هغه د کړونو نومځاينيوو پوهېدنه په نه کړونو بدلوي.

بېلګې: دما کور. د تا خولی. د هغه ځوي او نور او د پسېځاينيوو سره لکه:

د ما لپاره، د ما لخوا، د ما مخامخ. نور يې ما ونه موندل.

دويم ۳ : دا د الماني و دا تيو حالت ته ورته دی او ما د پسېځاينيوو حالت بللی، خو نوم ته يې پام بايد په ګډه وشي:

يادونه: په پښتو کې د موږ ستونځې تولې يا هغه ډېرې يې په همدې حالت کې، چې پرې غږېدلي يو:

بېلګې:

۱ – له کور څخه. زه له کور څخه لاړم.

۲ – له کتاب سره. زه له کتاب سره راغلم.

۳ – له سپين کره. زه له سپين کره يم.

۴ – له تا پسې. زه له تا پسې روان يم.

۵ - تر کابل پورې. له کندهار څخه تر کابل پورې نږدې پنځه سوه کيلو متره لار ده. يا

له ننګرهار څخه تر کابل پورې.

دلته دا يادونه اړينه بولم، چې تر يوائې ا و يوائې په همداسې ځای کې راتللی شي، چې د وخت يا ځای پوله ټاکي او په نورو ځايونو کې ناسم دی.

۶ – په کور کښې. زه نن په کور کښې يم.

۷ – پر مېز باندې. کتاب پر مېز باندې پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ – پر ما پورې. پر ما پورې خټې نښتي.

یادونه: په ۵ – او ۸ – پورې راغلی، خوېپوهېدنه یې سره بېله ده. په ۵ – دا یوه پوله ده او په ۸ – کې دا پر یو څه پورې څه نښتی.

۹ – و سپین ته. ما و سپین ته وویل.

د ما همدومره فکر ته راغلل، نور یې تاسو پیدا کړئ.

## حالتونه د تکیه اړ- یا کلیتیکي نومځاینیو سره:

یادونه: دې نومځاینیوو ته پسې – یا دمخه سلېښ نومځاینیوي هم ویل کیږي.

بیا: که د ( ډېرو) ناسمونونو مخه غواړو ونیسو، نو پر حالتونو باندې له پوهېدنو څخه پرته بله لار نه لرو.

د کلیتیکي یا تکیه اړ نومځاینیوو پرمرسته باندې یا له مخې څخه هم څلور حالتونه لرو:

پروکلیتیکي یا پسېتکیه اړ نومځاینیوي: مې، مو، دې، یې

اینکلیتیکي – یا مختکیه اړ( و مخ ته تکیه اړ) نومځانیوي: را، در، ور

## حالتونه:

د تکیه اړ نومځاینیوو سره هم باید دا حالتونه لکه په رېکتوس او اوبلیکوس کې بېړته ورکړل شي. دلته به وګورو، چې دلته څه ځانګړنې شته. په پای کې.

لومړی: د پسې تکیه اړنومځاینیوو سره

لومړی ۱ – کړونی: پرېکړونی: سپین مې ( مو، دې ، یې) وه واهه. سپین پرېکړونی او مې کړونی دی

لومړی۲ – د پرېکړوني حالت: سپین مې (مو، دې، یې) وهي.سپین کړونی، خو مې پرېکړونی دی.

لومړی ۳ – خاوندوالي حالت:

سپین مې ( مو، دې، یې) ورور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوبليکوس حالت کې: سين د ما ورور دی. او

پسې‌ځاينيوو سره...

بېلګې: ۱ – لپاره، لخوا، نور دې ګران لوستونکي وومومي. دا پسې‌ځاينيوي له دې څخه څخه نه شي روی‌انه کې‌دی يا نهشي راتللی. دا حالتونه دلته داسې لړ ستونځي لري،

دويم: د مخه تکيه اړ نومځاينيوو حالت.

دويم ۱ – کړونی: کتاب راوړم: دلته دا را وړم سره سلېښ دی.

دويم ۲ – د پسې‌ځاينيوو حالت.

يادونه: دا چې په دې ټولو برخحالتونو کې د تکيه اړ نومځاينيو پسې يواځې پسې‌ځاينيوي دي، نو ما دا حالت د پسې‌ځاينيو حالت هم بللی او که غواړی، نو دا د نورو ژبو داتيو حالت ته ورنږدې دی، داتيو حالت يې هم بللی شی.

د مخه تکيه اړ نومځاينيوي: را، در، ور

دويم ۲ – حالت داسې لرو:

را(در، ور) څخه(سره، کره، پسې، کې، باندې، پورې، ته...)

که غواړی، چې دا ښه روښانه شي، نو کړی شی د و مخ ته تيرې يا ښايې پسې ليکنې سره يې پرتله کړی. په دې ،،د حالتونو کتاب،، کې دا ډېر ښه روښانه شوي دي.

هکپککونې: دلته هم شته. دا کړونی په دواړو نومځاينيوو کې راځي، په همهغه ډول لکه په ځانيز نومځاينيوو کې د زه، ما ....

په انکليتيکي نومځاينيوي کې کړونی حالت په کړنوکې راځي، چې پرېکړونی نه لري او په ځټ د پروکليتيکي نومځاينيوو کې کړونی حالت د هغو کړونو سره دی، چې پرېکړونی ولري.

بله ځانګړنتيا په دې کې ده، چې په پروکليتيکي نومځانيوو پسې د اړونده حالت پسې‌ځاينيوي پسې نه راځي. پر دې پوهېدنه باندې چې پر ،،مې،، پسې لپاره او لخوا نه راځي.

## حالتونه د پوښتنو په بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل یادونه: د لیکنې دا برخه د الماني حالتونو په بنسټ لیکل شوې وه، چې توپیر یې یواځې په نومیز حالت کې دی، چې هغه په پښتو کې کړونی حالت دی او اکوزاتیو دی، چې هغه حالت پښتو نه لري او د الماني د اکوزاتیو غونډالو ژباړه په پښتو د خاوندوالي حالت په ګوته کوي او یا د پرېکړوني حالت. اړونده ځای کښې دې غونډلو ته پام وشي.

نوميناتيوNominativ ( داحالت د کړوني حالت بلل کيږي) (له لاتين څخه، نوموني يا نومونيز) په ګرامر کې د يوه حالت نومونه ده، چې د هرڅه له مخه ( سمه ليکنه يې: له هرڅه څخه دمخه او که يا د هرڅه دمخه؟) په جمله کې د شي د نخښوني په چوپړ کې دی، د دې لپاره دا هم تيپيکي دی چې د يوه شي د خپلواک کاروني لپاره رامنځ ته کيږي ( دا په دې مانا چې بې د بل له واکه).

لنډ: دا حالت دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه حالت،، بلل کيږي، د يوه حالت سيستم په توګه رامنځ ته کيږي، چې دا نوميناتيو – اکوزاتيوسيستم بلل کيږي.

بيا: د نوميناتيو ( د کړوني حالت) يا د ،، څوک،،،چا - ،، او ،،څه شي،، حالت.

موږ د ګړنو يا کړ له مخې څخه د دوه ډوله ليکنو سره مخامخ يو:

لومړی:

سپين يا هغه کار ته ځي

سپين يا هغه کار ته لاړ

سپين يا هغه به و کار ته لاړ شي

سپين يا هغه و کار ته تللی وو

څوک و کار ته.......

سپين يا هغه

زه و کار ته ځم

زه و کار ته لاړم

زه به و کار ته لاړ شم.

زه و کار ته تللی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم ډول يې:

زه منه خورم

زه به منه وخورم

ما منه وخوړه

ما منه خوړلې وه.

دا همداسې د دویم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ریم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دریم کس کې لیکنه یو ډول ده، خو د ویلو څخه برېښي، چې لومړۍ ه څرگنده یا روښانه ه ده او په دويم کې بيا دا پڅه ه ده او که بل ډول يې بولې. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي)

یعنې په دریواړو کسانو کې يې توپیر يو ډول دی، چې د کړنې پرته يې په ځو کړنو کې نومځاینیوی هم بدلیږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه حالت دې.

مور و کار ته ځي.

څوک و کار ته ځي؟ ځواب: مور

کالیمینځی خرابیږي.

څه شی خرابیږي؟ ځواب:کالیمینځی

یادونه: ماته هم دا نومونه توکلي د ليکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهیږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمینځي،کالیمینځی، کالیمینځونی یا کالیمینځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مینځلو اله. څنگه مو چې خوښه وي.

جينيتيو Der Genitiv

جینیتیو د الماني گرامردویم حالت دی.

دا به موږ په پښتو کې هم اسې روښانه کړو، چې د خبرو باید وي:

لومړی: دا حالت د ملکیت حالت یا د ،، ،،دچا،، حالت په نامه هم یادیږي.

یادونه: په نومیز حالت ،، چا-،، وو او دلته ،، د چا-،، حالت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګې: ،،د ګاونډې کور،،.

دا د چا کور دي. دا د ګاوندې

،، د یوه لرې زنګ غږ،،.

د جینیتیو( دا حالت جینیتیو نه دی. دا داتیو جالت دی، د جنیتیو د نومځاینیوي پوهېدنبدلون پر ،، د ،، باندې کیږي) ،،پر څه (شي) باندې،، حالت:

هغه پر غلا باندې تورن دئ.

هغه په څه (شي) تورن دي ؟ ځواب: په غلا

داتیو Der Dativ

داتیو د الماني ژبې دریم حالت دئ یا په جمله کې دریم حالت په ګوته کوي. داتیو د ،، چاته حالت،، هم بلل کیږي.

د داتیوله پاره په الماني پوښتنه پوښتنه کیږي، چې چا ته؟

بیلګې: زه دې میرمن ته د یادښت کتابچه ورکوم. چا ته د یادښت کتابچه ورکوم؟ ځواب: و میرمن ته.

هوګی سوغات سپین ته ورکړ.

هوګی سوغات چا ته ورکړ؟ځواب: سپین ته

زه زما ( دما) ملګري ته یوکتاب سوغات ورکوم.

چا ته سوغات ورکوم؟ځواب: زما ملګري ته.

اکوزاتیو Akkusativ

غوره یادونه: اکوزاتیو حالت په پښتو کښې نه شته، نو هغه غونډلې، چې دلته مو د اکوزاتیو لپاره راوړي یا د مخه راوړې وې، هغو ته دې پام وشي، چې دا به د خاوندوالي او که د کړوني یا پرېکړوني حالتونه وي.

یادونه: د دې حالت اړونده حالت لیکنې په نورو حالتونو برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د دې د روښانتیا لپاره. چې د خاوندوالي یا پرېکړوني  حالت دئ. په ورځني پښتو ژبلار کښې کې دا د دویم الف او دویم ب حالتونو سره ترتیبیږي. د دې د روښانتیا له پاره په پښتو کې پوښتنه کیږي، چې ،،څه (شی)،، یا څوک او که ،،د چا،، نو دا له دې امله د څوک حالت هم بلل کیږي.

ښاغلی سپین خپل ورور ګوري

ښاغلی سپین د چا لیدنه کوي یا څوک ګوري؟ ځواب: خپل ورور

دا پورته غونډاله د موږ په پښتو ژبه کې داسې ورځنۍ نه ده، نو دا څنګه ده؟ سمه او که ناسمه.

زه و خپل ملګري ته یوکتاب ډالۍ یا سوغات ورکوم.

## د حالتونو نوی څېړن-پوهه

بیا ژبلاریزه نوې څېړن-اند یا څېړنپوهه:

پښتو د ژبلارې له مخې څخه هم یوه هکېککونکې ژبلاریزه او نه (پوره) څېړل شوې ژبه ده.

نن د ۲۰۲۲ زکـ دسپتمبر ۲۶ د سهار یاشپې ۴ بجې. فکر مې ټول د پښتو په ژبلار کې دی او په ژبلار کې دې څېړن اند ( د څېړنې په بنسټ اند ته) ته ورسیېدم:

پښتو یوه ډېر ښه روښانه ژبلار لري.دا چې ژبلار په ژبو کې د ژبې د جوړښت شته لارې څېړي، نو زه تل له یوه اند څخه وبل ته ځم او د نوې څېړنپ،هې سره مخامخ کېږم، چې هغه له تاسو درنو لوستونکو سره ګډوم.

په پښتو چې زه تراوسه پورې له پښتنو څخه لیکل شوي ژبلار سره داسې لږ بلدنیا لرم او د پښتو ژبلار د ترتیب لپاره مې زیات  د ژبلار لپاره الماني ادبیات کارولی او بیا هغه، چې د دباندنیو له خوا لیکل شوی، نو هرو مرو د زیات فکر وړ دي، ځکه چې د ټولو ژبو ژبلارې ډېر توپیر سره لري، چې یو له بل څخه ګټه اخستلکېدی شي، خو ورته والی به ونه لري یا ډېر کم.

زه چې د ما په څېړنو کې تر اوسه پورې وپوهېدم، هغه دا ده، چې موږ په حالتونو کې ډېرې ستونځې لرو، چې په هکله یې ما هم ډېرې لیکنې کړي او دا هم تل د تېرو لیکنو په بشپړېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس خپلې دې راته پيدا موخې اند ته، چې کړی شو د پښتو ژبلار د دوه حالتونو کړونی او نه کړوني په ځای په څلورو حالتونو ووېشو او يا په دوه حالتونو داسې چې دا نه کړونی حالت بيا درې برخې ولري. دا به نو ګران لوستونکي او هيله ده ژبپوهان په ګډه سره برابر کړی شو.

د پښتو حالتونه لنډ بې له ډېرې شننې:

لومړی – کړونی : نومويونه (نومونه او نومځاينيوي): زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او نور، چې د نورو راوړلو ته بيا اړتيا هم نه وي. (۱)

بېلګې:

لومړی ۱ - زه مړي خورم. ما مړي وخوړه.

لومړی ۲ – ته مړیَ خورې. تا مړی وخوړه.

لومړی ۳ – هغه مړیَ خوري. هغه مړی و خوړه. او داسې نور هم....

دويم: پرېکړونی: هغه نومونه يا نومځاينيوي دي، چې څه پرې کيږي، لکه: ما، زه، تا، ته، هغه، هغه او نور. دلته هم همدا بسيا کوي.

يادونه: د کړوني او پرېکړوني په منځکې دا توپير دی، چې کله، چې کړونی په زه پيل شي، نو پرېکړونی يې ما دی او په څټ، چې کړونی ما وي، نو پرېکړونی زه دی.

بېلګې: دويم ۱ - ته (ما، هغه) وهې. تا (زه، هغه) ووهلم.

دويم ۲ - هغه (ما، تا) وهي. هغه زه ووهلم ( ته ووهلې).

ګومان مې دی، دابه بسيا وکړي.

يادونه: په نورو حالتونو کې د زه، ته، هغه.....

دريم: د خاوندوالي حالت: د خاوندوالي لپاره د نومويونو(نومونو، نومځاينيوو) سره د خانوندوالي مورفيم ،، د ،، د مخه راخي.

بېلګه: دما( دتا، د هغه) کتاب.

څلورم: د پسېځاينيوو حالت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې:

څلورم ۱ – له ما ( څخه، سره، کره...)

څلورم ۲ – پرما باندې

پنځم ۳ – په ما کې.

څلورم ۴- و ما ته.

څلورم ۵ – تر ماپورې. او نور.....

په څلورم کې څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... پسېځاينيوي دي او، له، تر، په، پر، و ... د پسېځاينيو اړونده مورفېمونه دي.

ګورو، چې دلته د نومويونو د مخه د بېلا بېلو پسېځاينيو اړونده مورفيمونه راځي، نو له دې امله دا د پسېځاينيو حالت بللی شو.

په څلورم کې څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... پسېځاينيوي دي او، له، تر، په، پر، و ...د پسېځاينيو اړونده مورفېمونه دي.

## څنګه کړی شو دا روښنايو؟

د تکيه اړ نومځاينيو په بنسټ

۱ - پسې تکيه اړ: مې، مو، دې، يې: دا پسې تکيه اړ نومځاينيوي د يوه نوموي پسې راځي

۲ - د مخه تکيه اړ: را، در، ور : دا د مخه تکيه اړ نومځاينيوي د يوه پسېځاينيوي او يواځې د پسېځاينيوي د مخه راځي، نو له دې امله د پسېځاينيوي حالت يې بولم.

و ۱ ته - دا پسې تکيه اړ يا اينکليتيکي نومځاينيوي درې حالتونه لرې يا درې حالتونو کې راځي يا جوړوي:

۱۱- دانومځاينيوي، چې نومويونو پسې راځی، که د مخه نومځاينيوی يې د پرېکړوني په حالت کې وي، نو پخپله دا پسې نومځاينيوي يې کړونی دی.

بېلګه: کتاب مې واخسته. دلته کتاب پرېکړونی دی او مې کړونی. يا

سپين يې وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ ۲ – سپین يې وهې. دله سپین کړونی دی او ،، يې،، پرېکړونی دی.

دا د اوس مهال له هغه کړنوییونو سره راځي، پرېکړونی نه لري.

۱ ۳ – که د دې نومځاینیوي د مخه نوموی د دې نومځاینیوي پسې د یوه خوي سره سنبال وي، نو دا د خاوندوالي حالت دی.

کتاب مې سره پوښنونه لري.

و ۲ ته –

۲ ۱ – دا نومځاینیوي که د کړنوي د مخه راشي، نو دا لوریز کړنویونه دي، چې و موږ ته د دې اوس موخې له امله دا همدومره بسیا کوی. لکه: راوړم، دروړم او نور

۲ ۲ – که دا نومځاینیوي د پسېځاینیوي د مخه راشي، نو دا له دې امله د پسېځاینیوو حالت دی او لرو: (را، در، ور) ( څخه، سره، کره، پورې، باندې، کې،...).

ګورو دا دلته یواځې له پسېځاینیوو څخه د مخه راځي.

که غواړئ داسې هم کېدی شي، چې ووایو:

پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبلیکو یا کړونی او نه کړوني حالتونه، چې دا لومړی يې کړونی او پسې درې يې نه کړوني حالتونه وبولو. دنورې روښانتیا لپاره پوره لیکنې په کتاب کې شته.

له دې سره مو هغه اړین څه وښوول، خو اوس اندونه، ګوتنیونې، سمونونه او وړاندیزونه سره ګډ کړو.

ما د دې لیکنې سره - داسې اندم- چې د ټولو له ما څخه د حالتونو په هکله لیکنو ته پایټکی (د پای ټکی) کښېښود. تاسو ټول دې راته بریالي وی.

## د پښتو حالتونو د ستونځوبیو بریا

څنګه دې لاس ته راوړنې ته بریالی شوم؟

ډېر خوښ یم او باوروکړی، چې ورته پام مې شو، چې دا کار خو د لومړي ځل لپاره د ما موندنه ده او د ډېرو کلونو د څېړنو لاس ته راوړنه ده، چې غونده شپه مې خوب کډه وکړه. د ما ډېر څه، چې څه مې کړي یا څه باید وکړم، د شپې په چرت یا د شپې په فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرنجولو۔ مه راپورې خاندئ، دا تکیه کلام لکه چې کارول کیږي- کې را پیدا کیږي. خو اجازه راکړي، چې له هر څه څخه  د مخه یوه اړیېنه یادونه وکړم.

اړیېنه یادونه: باور وکړئ، چې ځانپالی نه یم او بل د لیونتوب یا د زورواکوال  ګومان مې هم په ځان نه راځي. دا باید روښانه کړم، چې تر څو پورې دا د ما په پوهنه ولاړ ماته راپیدا اند چا په  پوهنیزو دلایلو نه وي رد کړی، تر هغې پورې باید سم وګڼل شي او که داسې وي، نو بیا موږ ټولو ته د دې بریا مبارکي وایم.

د ما په دې دعوه  کې دوه موخې دي، چې د موږ ژبپوهان او نور ژبمینه وال دې ته راوپاريږي، د نورو پوهنیزه څېړنو په بنسټ یې رد کړي، چې دا به هم د ما د دعوه رد کول، خو بیا به هم دا هڅول د ما بریا وي.

د ما په څېړنو کې مې تل دې ته فکر شته، چې  په پښتو کې حالتونه کم یا هېڅ نه دي څېړل شوي او که زه ورڅخه نا خبر یم، هغه به هم رامیدان ته شي، چې زه به ورته خوښ او د دې بریا په څرګندولو به هم هېڅ زړه بدی نه شم.

دا فکر راته ودرېد، چې په همدې هکله مې د خپلو څېړنو یو کتاب برابراوه.

دې بریا ته مې نو څنګه لار ومینده؟

--- د حالتونو په څېړنو مې پیل وکړ، چې د ما په لومړنیو د پښتو ژبلار کتابونو کې هم شته.

لومړی مې دا حالتونه د الماني حالتونو په بنسټ وڅېړل، خو په پښتو کونه کې یې کوم ناسمون نه دی راغلی، خو دې څېړلو موخه وره او پایلاس ته راوړنه نه لروده. بیا مې ځنو ملګرو او ژبمینه والو دې ته پام راواړاوه، چې  پښتو دوه حالتونه رېکتوس(ولاړ یا کړوني حالت) او اوبلیکوس ( پروت یا نه کړون ی حالت) حالتونه دي.

هغه مې وڅېړل او په هکله مې د یوه ځوان د م ک ملګري لیکنه یا ماته په کمنت ولیکل، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی. پوه شوم، چې ،، د ،، پرته له نوموییونو کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري او  همدلته مې ورته پام شو، چې ،، د ،، د خاوندوالي حالت یو مورفېم وي او خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دا له، په، پر، او.... هم باید د کوم حالت یا حالتونو مورفېمونه وي او پرته له نوموییونو څخه به خلپواکه پوهېدنه ونه لري. ګومان مې سم وو، خو پرې باوري کېدل یې راته ستونځمن وو، تر څو پورې چې د نور حالتونو په دې پوهېدنه چې لومړی د اینکلیتیکي حالت ( پسې تکیه اړ حالت) سره مخ شوم. دې هم  پوره روښانتیا  ځکه نه شوه راوستلی چې دې پسې او د مخه تکیه اړ نومځاینیوي هم ورسره مل  څېړل شوي وو، خو همدلته راته د نومځاینیوو را، در، ور  چې پروکلیتیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا د مخه تکیه اړ نومځاینیوی دي، پر مرسته باندې دا فکر پیدا شو چې دا له، په، پر، او نور هم لکه،، د،، د حالتونو مورفېمونه دي او دا د ( را،در، ور)( څخه، سره، کره، ته، پورې، کې او نور) کاروني له امله بیا د وخت په تېرېدو سره دا فکر هم راته پیداشو، چې پښتو نو یواځې پوستپوزېشنونه لري.

کله چې د کلیتیکي ( تکیه اړ) کلمي سره مخامخ شوم، چې په دوه برخو اېنکلیتیکي ( پسي تکیه اړ) او پروکلیتیکي ( د مخه تکیه اړ) نومځاینیوي لري، نو دې پاي ته راورسېدم.

د دوه حالتونو کړوني او نه کړونو څخه بیا همدې څلورو حالتونو ته راغلم.

له دې څخه د مخه مي دا برياوې هم لوي ځښتن په برخه کړي، چي له، پر، او نور – لکه دباندني او افغاني پښتوپوهان یې وايي- پرېپوزېشنونه نه دي او دا یواځې د حالتونو اړونده مورفېمونه دي، چې پرته له، نومويیونو بله پوهېدنه نه لري او همداسې چې پښتو یواځې پوستپوزېشنونه لري او بس.

دا څه میندني چې دي، له نوم څخه یې پوهېږو، چې په ژبه کې شته څه دي، چې هغې ته مو باید پام شوی وي.

یوه غوره خبره داده، چې د موږ تېرو ژبپوهانو خپلې ژبې ته په دې لنډ وخت کې ډېر کار کړی، ځکه چې پښتو ژبې ته د کار کړلو وخت ډېر لږ وو. ژبه مو داسې په ۱۹۳۲ ز ک کې داسې په نامه په رسمیت کې دننه شوه او بیا په ۱۹۶۴ ز ک کې - چې هلته د پښتو ټولنه هم جوړه وه - قانوني شوه، نو دا د یوې ژبې د ودې لپاره ډېر لږ وخت دی، چې د دوي کار زه بیا بیا ستایم.

## پرتله کونه

له دې څخه د مخه چې په دې موضوع پیل کوم، د اړتیا له مخې غواړم دا لاندې ستاسو مخ ته کېږدم:

دموږزیات یا نږدې ټول لیکونکي اولیکوالان ژبپوهان د شیانو یوله بل سره پرتله کونه او په همدې ډول یې د پرتله کونې خویوی جګېدنه په ،، تر،، کوي. موږ ،،تر،، پوره ځېړلی، چې څه شی او څنګه کارول کیږي.
لومړی: رموږلیکونکي په دې اند دي، چې پرتله کونه د ،، تر،، سره کیږي.یعنې

سپین تر شین(هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) (ډېر- ،خورا – ) بڼکلی دی.
دویم: په پیداښتي ډول یې، چې د موږ هیوادوال په بیلابیلوځایونوکې کاروي:
هغه د ،، له ... څخه ،، سره پرتله کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه : له دوي، تاسو...او ... ځخه کوم ښکلی دی؟
سپین له شین (هغي هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) څخه ښکلی (ډیر- ،خورا – ) دی.
دریم: سپین (را، ور، در) څخه ښکلی ( ډیر – ، خورا – ) دی.
په پورته لیکنه کي دا د ،، ور څخه،، په ځای ځني لیکوالان کله کله ،، تر یا نوره ،، لیکي یعني:
که پوښتنه وشي، چي له سپین اوشین څخه کوم ښکلی دی اوسپین ور څخه ښکلی وي،
نووایو: سپین تر شین ښکلی دی. دلته ،، تر څخه،، نه وایو.
تر د هغه مهال، ځای اویوه څه د پای په نخښه کوني سره یعني ،،تر...پوري،، سره توپیر لري.
ګورو چي دا پورته ،،تر یا تري،، د ،،ورڅخه،، په ځای راغلی.
موخه: پرتله ونه د هغه ،، تر،، سره چي موخه ورڅخه د ...پای وي، نه کیږي، دا په دې مانا چي په لاندې کي ،، تر،،
سپین تر(ما،هغه، تاسو او...) ښکلی ( ډیر -،خورا -) ښکلی دی، ناسم دی.

یادونه: یعني دا ،،تر،، هغه اړیکوی نه دی، دا له یوڅه یا چا یا شي څخه ښکلی دی، چي زیات کسان يې لیکي:: تري ښکلی.... چي دا تري هغه د ،، ورڅخه ،، په موخه یا مانا دی.

لنډ بیا
پرتله کونه یا نسبت:

موږ په پښتوکي نسبت ته څه وایو؟

( څه ووایو سم نه دی، ځکه دا موږنه وایو، دا څه ورته ویلکیږي، دی. له دې امله: څه وایو،دی).

یادونه: د موږ ځني ادیبان لیکي، چي: پرتلنه دا ناسمه ده، ځکه چي دا پر تله کول دي، له دې امله پر تله کونه او نه پر تلل. چي بیا به پرتلنه وی.

پرتله کونه: پرتله کونه په ښته کي داسي دي: سپین و تور ته ستر دی. دا پرتله-کونه د ،، ته ،، له پسې‌ځاینیوي کیږي
دلته هم شیان سره پرتله کیږي
دا چي نسبت پښتو نه دی، نوکارونه يې کیدی شي له عربي څخه بل ډول وي، خوموږ يې هغه پښتو ډول سره کولی شو، ځکه په عربي خو موږ ډیر نه پوهیږو.
په ګڼونو کي لویوالی، کوچنیوالی اوبرابروالی سره پرتله کیږي.
۲ نسبت و ۴ (ته) کوچني (دی)
په کسانو یا شیانوکي، لویوالی، ښکلا، پلنوالی، ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان یا شیان:
الف نسبت وب (ته) ښکلی ( جګ،پلن،...) دئ.
تناسب: ګڼونو کې:
د دوه ګڼونو پرتله کونه که دا سې وي، لکه د نورودوه ګڼونو،نو وایو:
۲ نسبت ۴ متناسب ۳ نسبت ۶ ته
یا یې انډول ۲ پر څلور برابردي له ۳ پر ۶ سره. یا دا لاندې

دوه و ۴ ته داسې دئ یا برابر دي لکه ۳ و ۶ ته

نسبت به نو په پښتوڅه وي؟
په ګڼونوکې پرتله کونه:
۲ و ۵ ته کوچني دي

کسانو یا شیانو کې
سپین وشین ته ښکلی(جګ،....) دئ
د ننګرهار انګور د کابل و انګورو ته څواږه (تروه، ستر....) دي
نوګورو، چې د عربي ،،نسبت،، د پښتو ،، و..ته،، سره انډول دئ.

تناسب به نوپه پښتو څه وي؟
۲ و۴ته داسې دي لکه ۳ و۶ته
یعنې ۲ په څلورو برابردي د ۳ پر ۶ سره.
سپین وشین ته داسې جګ( ښکلی،....) دئ لکه برګ وخړته.
په پورته کې نوتناسب د برابر په مانا دئ

یا داسې هم وایو چې:
سپین وشین ته په جګوالي کې داسې ځان نیسي، لکه برګ وخړ ته.
ګوروچې دلته تناسب ته د پښتو انډول،،ځان نیونه،، کیدی شي.

که شمیرپوهنې ته پام وکړو،نومتناسب د برابر په پوهېدنه راځي.

الف وبه ته داسې جګ دئ، لکه پ و ت ته

یا

الف و ب ته برابر جګ دئ لکه پ و ت ته.

تناسب داسې هم لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



a/b = c/d

پخوا موداسې هم لیکه:

a:b::c:d

ګومان مې دی انګرېزي کې يې اوس هم داسې لیکي.

لاس ته راوړنه: ګورو، چې پرتله کونه د ،،تر ،، سره نه کیږي.

بیا: سپین وشین ته ښکلی دي یا

سپین له شین څخه ښکلی دی.

ناسم: سپین تر شین ښکلی دي.

خو سمي پرتله کونې له پاره لیکو، چې : سپین و شین ته ښکلی دی یا سپین له شین څخه ښکلی دی.

نو د ،،تر،، سره پرتله کونه نه شي کیدی.

Adjektiv mit Postposition

## خویيیونه د پسې‌ځاینیوو سره:

و .. ته چمتوپاتې کیدل: ته و څه ته تر اوسه پورې چمتو نه يې. یا: ته د څه لپاره تر اوسه پورې چمتو نه يې؟

د واده لپاره

ته وڅه ته چمتو نه يې

و واده ته.

پر څه باندې قهرېدل: پر چا باندې هیڅ وخت نه شې  قهرېدلی؟ د ما پر بچیانو باندې.

و څه ته چمتوکیدل: هغه و څه ته توانمند نه دی؟ و کارکولو ته.

Nomengefüge

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم ته راوړل یا سمول: دا بیرته و نظم ته راوله! یا سم کړه! دا بیرته ونظم ته راوړه!

ارام پرېږده: هیله ده، چې ما ارام پرېږده.

و پای ته لاړ شه: هرڅه یو وخت و پای ته ځي.

یو پوستپوزېشن هیڅ وخت یواځې نه وي. تر لږو ځانګړو پورې دا ( یعني پ) د یوه نسبتي وی پسې راځي.

هم د لیکلووې، خو له یوېخوا څخه یې زه په هغه ګرامري پوهېدنه نه پوهیدم، نولومړی مې باید ځان ورباندې پوه کړی وی،بیا مې هر ګرامري نوم باید د پیژند سره څیړلی وی، چې دا لیکنه بیا نوره هم غزېدله.

دا دې په یاد وي، چې داهم یوه اوږده موضوع ده،چې ګران ژبپوهان پرې پوهیږي؟

## Postpositionen پسيځاينيوي

یادونه: په الماني ژبه کې پرېپوزېشنونه شته یا ډېر دي، خو پښتو پرېپوزېشنونه نه لري، د پښتو ژبه یواځې پوستپوزېشنونه لري او د الماني پرېپوزښنونه که په پښتو وژباړل شو، نو ټول یې پوستپوزېشنونه دي.

-- د نوم/شینوم اخوا یا له نوم/شینوم څخه لرې کېدنه :

بېلګه: له سینغاړې څخه اخوا هغه کوچنی وچه (ټاپو) لیدلی شوه. له جلال اباد څخه لرې.

-- له نومځاینیوي سره:

بېلګه: ځمری نن له ما کره شپه کوي. ځمری نن له ماسره دئ

-- له خوینوم او نوم/شینوم څخه د مخه:

بېلګه: هغه د پستو، سرو شګو له منځ څخه و اوبو ته وځغلېد.

له ادورب سره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: هغه د شا له خوا ښځه غونډوسکه تر منځګردی پورې غورځوي.

اړیکویونه په نخښه کوي:

- یو ځای ( دباندې، لاندې)

- یو وخت( ښځه، ترڅ یا منځ )

- یو ډول او رقم( ټیک آو ټیک...).

-یو لامل( سره ( سره له دې )، امله)

## د حالتونو و روښانونو ته د مخه غوره پیلیادونې:

له تکرار سره مه تنګېږي!

۱ – نومځاینیوي: په انګریزي او الملاني د نومځانیوو بڼه بدلیږي او د بڼه بدلېدنې سره یو حالت په ګوته کوي، په پښتو کې بڼه بدلېدنه نه شته، خو د دې پرځای باندې د کړونې نومځاینیوي سره یا حالت بدلون سره د ،،ما،، ومخ ته یو اړونده مورفېم ورزیاتیږي، چې هغه د ،، ما ،، سره یوه د هغه حالت نومځاینیوی جوړوي یا د هغه پوهېدنه بدلون یا د هغې پوهېدنه د حالت اړوند بدلوي یا له حالت سره برابروي. پسې راځي. ښایي اړتیا ورتهنه وي وروسته راغلي.

که نومونه یو له بل سره یو ګډوله نوم جوړ کړې، نو دا یو یې مختړی او دا بل یې پسې – یاو وروستړی دی، خو دا سې ښه په مختړي کې نه ګورم، لکه وروستړو کې، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د ورسره راغلي خوی یا نوم یا له بل کوم ویې سره د هغه پوهېدنه بدلوي

هغه ډېرې له پښتو سر د موړ ستونځې او که د پښتو ستونځې په حالتونو کې دې. پر حالتونو باندې مو خبرې کړي یا به دلته له دې ښځه وروسته په وغږېږو. اوس یواځې داستونځې، چې ولې دې، دا لږ روښانه کوو

په نورو ژبو یا چې زه پرې پوهېږم، الماني او انګریزي کې د کړنوییونو، خویوییونو او د نومځاینیو بڼه بدلیږي. په پښتو کې پرته له کړنوییونو د دې نورو دوه وو دنومویونو او خویوییونو بڼه نه بدلیږي، نو باید پداېښتې داسې یو بل ژبنیز یا ژبلاریز ښه وي، چې ځان د هغه حالت سره برابر کړي، چې ستونځې همدا پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – د کړنوییونو بڼه بدلیږي. لکه ځم، لاړم، خورم، خورې، ومې خوړ.

۳ – خویوییونه: لرو جګ، تور. دلته هم د نورو ژبو په څېر د دې جګېدنه وي، چې هغه پر ډېر، ډېر ښه، خورا، خورا ښه او زښت ډېر باندې کیږي.

۴ – د نومځاینیو لپاره هم باید ژبنیزې لارې وي، چې د هغو په مرسته نومو‌ییونه د حالت سره برابر شي.

په انګرېزي او الماني کښې د حالتونو اړوند، چې هغه یې حالتتاکونکي دي، د نومځاینیوو بدلېدنه یا بڼه بدلېدنه او که غواړې ګردان داسې دی:

I, me; may und deutsch: Ich, mein, mir, mich

و دې ته به په حالتځېړنو کې فکر وکړو، چې دا نوموییونو بڼه بدلون یا په پښتو کښې یې هغه انډول هم په حالتونو کښې څنګه راځي.

-- د مورفیمونو پېژند او ونډه یې د نومځاینیو پوهېدنه، چې و نومځاینیوو ته حالت اړونده پوهېدنه ورکوي:

دا مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او د نوموییونو سره یوځای د هغوی پوهېدنه د حالت سره اړوند بدلوي. د خاوندوالي لپاره دا مورفېم ،،د،، دی او د داتیو یا د پسېځاینیو حالت دی، چې هغوي سره مورفېمونه، چې دا هم خپلواکه پوهېدنه نه لرې او دې حالت سره د نومځاینیوو دنده جوړوي او دا دي: له، په، پر، تر، و دما و فکر ته نور نه راځي، ګران لوستونکي دې ورته فکر وکړي.

هغه ژبنیز توکي یا وییونه چې د حالتونو لپاره خوراغوره یا بنستیز دي، هغه پسېځاینیوي دي.

## پسېځاینیوي Postposition یا اړیکویونه

پیلیادونه: له دې ځایه د موږ لپاره یا د پښتو ژبې لپاره هغه غوره برخه له دې امله پیلیږي، چې ما تراوسه پورې داسې د دې اړیکویون یا داسې ښې لیکنې د خپرونو له لارې هم ونه لیدې. دا چې دا د ځای، مهال، نومونو او شیانو په منځ کې د اړیکو څرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړیکویونه هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: باوروکړی، چې دا ټول کارما د ،، تر ،، په خپلو پولوکې د رابندولو له املـه وکه، چې یوائې او یوائې د مهال،ځای او ...پای په ګوته کولوله پاره راځي اونوریې هر ځای کې راوړل ناسم دي اود ژبې د ټولولاروسره مخامخ.

پسېځاینیوي: د ښوونځي په ژبلاریزو ادبیاتو کې اړیکویونه یا پسې وییونه هم بلل کیږي، یو وییډول دی، چې یو رابند ټولګی جوړوي او د منځپانګ وي او په ګرامري نښونو کې ځاینیوی شوی. پسېځاینیوي په قانونمندی کې د یوه نوموییونو ګروپ یا ډله غواړي او له دې سره یو حالت لیدوړ په نخښه کوي. دا چې پر نوموییتو پسې ځای نیوی راځي، له همدې املـه پسېځاینیوی هم بلل کیږي او

دا یوه ډله ده، چې ځاییز، وختیز، څنګه والي، راټولونکی، سره له دې، اړیینوالی پوهېدنې لیږدوي یا وړي او په پښتو او نور ژبو کې بڼه بدلېدونکي نه دي.

د دې لپاره چې دا غوره موضوع بریالۍ و مخ ته بوزو، اړیینه بولم دا د یوه لښتکي له لارڅخه روښانه کړم:

| ۱ —نوموییونه | ۲ ـ حالت د اړوند مورفېم سره نوموییونه | ۳اینکلی-تی کي نوموین | ۴ —پسېځاینیوي | ۵ – اړونده غونډلې او پروت لښتکی |
|---|---|---|---|---|
| زه ، هغه | له ما، له تا، له هغه... | را،در،ور | څخه،سره،کره | ځم، ځي ۱ |
| سپین | په کور | --=-- | کې | دی ۲ |
| کتاب | پر مېز | را،در، ور | باندې، پورې | ایښي ۳ |
| ما | و سپین | را، در، ور | ته | وویل ۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ته | تر کور | را ... | پورې | لاړې ۵ |

یادونې ۱: له ما څخه هرو مرو کېدی شي ډېر پسې‌ځاینیوي پاتې وي، خو هغه ستاسو دنده ده. لار روښانه ده.

یادونه ۲

-- که ولرو ( ا ، ب ) نو ا ولاړ لښتکی ورکوي او ب پروت لښتکی

-- (۳ ــ،۱ ) او (۴ ــ، ۱ ) داسې هم لیکلی شو: (را، در، ور) ( څخه، سره، کره،کې باندې، ته، پورې او نور؟)

روښانونه:

د ښه روښانې یا رڼې روښانونې لپاره داسې و مخ ته ځو:

یو: (۳ ــ،۱) او (۴ ــ،۱) داسې د (۵ ــ،۱ ) غونډله جوړوي، چې د (۴ ــ، ۱) له یوه پسې‌ځاینیوي څخه نه شو تېرېدلی (حذف)

دوه: د ۳ ــ په مرسته مو د مخه لیکنو کې ۲ ــ روښانه کړي وو او له دې لارې

درې: له (۴ ــ،۱ ) څخه (۲ ــ،۱ ) ټیک یا سیده لاس ته راځي. په دې پوهېدنه، چې که په (۴ ــ،۱ ) کې هر پسې‌ځاینیوي ولرو، سملاسې ورڅخه همهغه د اړوند مورفېم سره یوځای په ( ۲ ــ،۱ ) کې نومویيونه راکوي.

--- که دا د حالت اړونده مورفېمونه او دا اړونده نومووېونه یوځای حالت اړونده نوموییونه وبولو، خو ګومان مې دی، کومه تېروتنه یا ناسمون به ځان پسې ونه لري.

څلور: همداسې که له دوه کوم د اړونده مورفېم سره اړونده نوموی ولرو، نو سملاسې پو هېږو، چې

د ۴ ــ کوم پسې‌ځاینیوي یې اړوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



--که ولرو( ۴ -، ۳) نو دلته ور ښخه ،،باندې،، او هداسې ،، پورې،، پو هېږو.

نو که پسېځاینیوی (۴ -،۵) ولرو اړونده نوموی د اړونده مورفیم سره ( ۲ - ۵، ).

که ولر ( ۲ -، ۳ )، نو سملاس ورښخه (۴ - ، ۳ ) پو هېږو.

او همداسې نور

که د یوه ژبني ویی یا توکې یا مورفېم هغه د کارونځای او پر هغه باندې پو هېدنه چې درته روښانه شي، بیا له هغو ښخه په غونډلجوړونه کې ناسمون نه راځي، دا دموږ ستونځې په دې حالتونو کې سره اوبی کیږي.

## پسېځاینیوي:

١ – د خاوندوالي حالت لپاره دا دي: لپاره ، لخوا. ( د مخه ؟؟) و ماته نور دما وفکر ته نه راځي، خو که په دې حالت کې له ،، د ما،، پسې نوم یا نومځاینییوي را شي، نو بیا پسېځاینیوي نه شته.

٢ – د داتیو یا د پسېځاینیوو حالت لپاره: ښخه، سره،کره، پسې، ته ، کښې، باندې، پورې، دمخه(؟)....

## لاندې شیان شته دی:

خاوندوالي شي، داتیو شی، خاوندوالي شی، اړیکویز شی.

خاوندوالي شي ( ګرامري دویم ښنګه والی یا پېږ)

پوښتنه: د چا؟ د څه؟

بېلګه: ژوندیو د مړو دعا وکړه.

ژوندیو د چا دعا وکړه؟ هغوي د مړو دعا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا څنګه والی( پېږ یا حالت): موږ اوس په دې توانېدلي یو، چې حالتونه په پښتو کې ومومو
داتیوشی ( دریم څنګه والی یا پېږ) یا د پسیځاینیوو شی

پوښتنه: له چا، له څه؟ ( سره، څخه، کره)، وچا، وڅه؟ ( ته)، په چا، په څه؟ (کښې)، پر چا، پر څه (باندې) .....هیله ده، چې د نورو په میندلو کښې به مرستهوکړی.

یادونه: دلته د خبرو ډېر څه شته او هغه ،، د ما نوې موندنو،، کې ښه روښانه شوي.

قلم وملګري ته ورکوم.

قلم وچا ته ورکوي؟

و ملګري ته.

قلم له ما سره دی.

قلم له چا سره دی؟

له ما سره.

قلم له سپین څخه اخلم.

قلم له چا څخه اخلې؟

له سپین څخه.

نن له سپین کره وم.

نن له چا کره وم؟

له سپین کره.

یادونه:دې ته په چا، په څه؟ او پرچا او پرڅه ؟ هم ورزیات کړی او همداسې و چا، وڅه ؟

دلته څه نور هم د ویلو شته، چې دا به بیا ورزیات کړم.

دا لاندې د پښتو په پرې کړونې او د خاوندوالي حالت کې راځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: څوک، چا، څه (شی)؟

بېلګه: هغه مې وواهه.

نن د ما ملګری ګورم.

هغه و چا ته دوه موټر ورکوي؟

هغه دا وما ته راکوي.

هغه نن څوک ګوري؟

هغه نن دما مګری ګوري.

نن د ما ملګری ګورم.

## Das Prädikat پرېديکات يا غونډالوينا

پرېديکات وايي، چې دا شی څه کوي يا يې په تېر وخت کې څه وکړه. د پرېديکات پسې د پوښتنې سره پوښتي: دا شی څه کوي؟. سړی يوه برخيزه او دوه برخيزه پرېديکا ت سره توپيروي. په لومړی بېلګه کې پرېديکات بېديږي دی. سړی پوښتي: هلک څه کوي؟ . په يو دوه برخيز پرېديکات کې يوه دوه برخې شوی پرېديکات مخ ته لرو، که په غونډاله کې له يوه پرېديکات ډېر وي. په لاندې غونډاله کې دوه برخيز پرېديکات خوندي دی:

- هلک بېديږي

- نن غرمه هلک بېده شو.

په دې غونډاله کې پرېديکات دی: هلک بېده شو. که پرېديکاتبرخې ويونه رابند کړي ياراغونډ کړي يا په غېږ کې ونيسي، چې هغه پرېديکات اړوند نه دي، نو سړی د پرېديکات غيږ يا غونډال نوکانو غږيږي.

د پوښتنې سره ،، دا شی څه کوي؟،، کړی شي ته پرېديکات وټاکي. ته دلته د پرېديکات ټاکنو لپاره يو جوړه غونډالې ميمې.

- په شيبو شېبو وريږي. پوښتنه: دا څه کوي؟ پرېديکات: وريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما له ځمکلاندې څخه کتابونه راوړل. پوښتنه: ما څه وکړل؟ پرېدیکات: (...) راوړل.

- دوي په جګ غږ خاندي. پوښتنه: دوي څه کوي؟ پرېدیکات: (...) خاندي

## خاوندولي- ، داتیو شی

شیان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او کېدی شي له ډېرو ویيونو جوړ وي. په یوهغونډاله کې کېدی شي، ډېر شیان خوندي وي. دا کېدی شي په بېلا بېلو ګرامري یا ژبلاریزه څنګه والي یا حالتونو کې وي او داسې د خاوندوالي شی، داتیو شی یا خاوندوالي شی په څېر وي. ته د شیانو پوښتنه کوي، چې ته د ژبلاریزو حالتونو یا څنګه والو پوښتنه وکړې:

- خاوندوالي شی : د چا؟، د څه؟

- داتیو: له چا ؟، له څه؟ وچا؟، وڅه؟، په چا؟، په څه؟، پرچا؟، پرڅه؟... او داسې نور

دلته هم موږ دتا لپاره یو څو بېلګې چمتو کړې. دا شیان داسې د غونډالغړو په څېر تاکې:

زه د ښکلو کلونو یاد لرم. پوښتنه : د څه یاد لرم؟ خاوندوالی: د ښکلو کلونو.

- سپین و ځمري ته یوه سپینه پیاله سوغات ورکوي. پوښتنه: څوک یا څه سپین و ځمري ته سوغات ورکوي؟ نومز شی: یوه سپینه پیاله.

- زه د ما له ملګرو سره مرسته کوم.

پوښتنه: زه له چا سره مرسته کوم؟ داتیو شی: د ما له ملګرو سره.

Das Postpositionalobjekt اړیکویز شی

اړیکویز شی یو شی دی، چې د اړیکوي له لارې، یوه مخویي سره تړلی وي. د نورو شیانو بل ډول کړی شي اړیکوی (یا اړیکګړ) په خاوندوالي، داتیو څنګه والي کې وي. دا اړیکوییز شی کړی شي د دې پوښتنو سره وټاکل شي.،، د چا، د څه، وچا/ وڅه ....او داسې نور

اړیکویي شی د اړیکویي له مخې پېژندل کیږي. دبېلګې په توګه په لاندې غونډله کې:
زه د ما له ورور سره ولمنځتون ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اړیکوي د شي پسي پوښتنه داسې ده: زه له چا سره ولمنځتون ته ځم؟

د اړیکوي شي لپاره نورې بېلګې:

زه دما و ملګرې ته درېږم. زه وچا ته درېږم؟  د ما و ملګري ته.

هوګی د زړه له کومې د هغې په سیتار لوبې کوي. هوګی په څه باندې د زړه له کومې لوبې کوي؟ د هغې په سیتار باندې.

Das Postpositionalobjekt

## اړیکویز شی یا پسېځاینیوي شی:

دا لاندې غونډالې، چې ما لیکلې وې، تر هغې پورې مې دا پښتو حالتونه نه پېژندل، پام وکړی، چې دا لاندې غونډالې کله د پښتو یوه او کله به بل حالت کښې وي، مننه.

پوښتنه: له چا یا څه سره؟ د څه په هکله؟ پر څه - یا پرچا باندې؟ په چا- یا په څه کې؟ و چا یا وڅه ته؟  تر چا یا څه پورې؟ (اړیکوي سره پوښتنه)

بېلګه: ښوونکي  له زدکونکو سره د کار په هکله خبرې وکړې.
ښوونکي له چاسره خبرې وکړي؟ ښونکي له زدکونکو سره خبرې وکړې.

پر څه هکله باندې ( له څه شي څخه) ښونکي خبرې وکړې؟

ښوونکي د کار پر هکله بادې خبرې وکړې.

په خنو څنګه والو کې روښانه نه ده توپیر کړي، چې ایا یو خپلواک غونډالغړی ( اړیکویز شی)  یا یو ورزیاتونه ( اړیکویز اتریبوت) مخ ته پروت دی.

د ګومان په څنګه والي یا حالت کې دواړه شونتیاوې شته.

Adverbiale Bestimmungen ادوربال ټاکنې

ادوربال ټاکنې هم د غونډالپوره کونو سره سر او کار لري. هغه د کړنو ټیک څنګه ولې روښانه کوي. لاندې ادوربالټاکنې سره بېلوو:

-- د ځای ادوربالټاکنې ( لوکال) روښانه کوي، چې څه پېښیږي. د دې پوښتنه د ،، چېرته،، ، ،،وکومځای ته،، یا ،، له کوم ځای څخه؟ سره  کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- د وخت ادوربال ټاکني( تمپورال) روښانه کوي ، چې کله څه پېښیږي. د دې پوښتنه  د ،، کله؟،،  ، ،،څومره اږد وخت،،؟ یا ،،څومره زیات،،؟

-- د دول او څېړ ادوربال ټاکني (مودال) روښانه کوي، چې یو څه څنګه شوي وي. د دې پوښتنه ده، چې څنګه.

-- د لامل ادوربالټاکني ( کاوزال) وایي، ولې یو څه پېښ شوي دي. د د پ،شتون ویونو سره پوښتنه کوي، چې ولې او  له څه امله.

سره له دې چې ادوربالټاکني او اړیکوییز شیان  ورته کېدی شي، خو سړی کړی شي د پوښتنویونو په مرسته یو له بل توپیر کړي، لکه ولې یو څهپېښ شوي دي.

د   د ادوربالټاکنو  د ټاکل لپاره  یې بېلګه.

-- ځمری د خرابې هوا له امله ښه خویه نه دی. پوښتنه : ولې ځمری  ښه خویه نه دی؟ کاوزال ادوربال: د خرابې هوا له امله.

--غوټۍ او ځمری د اوبو وغاړې ته تللي. پوښتنه: غوټۍ او ځمری چېرته تللی؟ لوکال ادوربال. د اوبو وغاړې ته.

-- هغه له (زوړند) ټیټ سر سره کورته راغی. پوښتنه: هِغه څنګه کور ته راغی؟ د (زوړند) ټیټ سر سره.

-- زه نن سینما کې یم.  پوښتنه: زه کله سینما کې وم. تمپورال ادوربال: نن.

اتریبوت د غونډالغړي برخې په څېړ

اتریبوت خپلواکه غونډالبرخه نه ده. هغه  یوې غونډالغړي ته زیاتونه ده او ځانله ځای نه لري.  اتریبوت کېدی شي په بېلابېلو بڼو رامنځ ته شي.

**Adjektiv-Attribut**  خوییز اتریبوت:  که یو نوم د اتریبوت له لارې نږدې ټاکل کېدی شي، نو دا خوي وی یو اتریبوت دی. لکه د بېلګې په توګه: کوښنې زدکونکی.

**Genitiv-Attribut** خاوندوالي اتریبوت:دا اتریبوت یو د خاوندوالي او اړوندوالي یو څه ته ښایي او له دې سره د خاوندوالي په حالت کې دی: د زدکوونکي قلم.

و دې لاندې ته یادونه:

موږ په پښتو کې مځځاینیوی نه لرو، نو دا لاندې غونډالي به د څه وي؟ فکر ورته وکړۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## **Präpositionales Attribut** اړیکوییز اتریبوت:

دا اتریبوت که اړیکوییز شی له یو اړیکوي سره تړل کیږي لکه د بېلګې په توګه: زدکوونکي له تورو بوټانو سره.

ادوربال اتریبوت: دا ادوربال اتریبوت له یوه ادورب څخه جوړ دي، دا یوه ویی ته زیاتوالی انځوروي، لکه د بېلګې په توګه: دا هلته پوښتنې ډېرې مرستندوي دي.

**Apposition** اپپوزېشن : یو اپوزېشن و یوه نوم ته یوه ورزیاتونه ده او پخپله هم له یوه نوم انځوریږي یا جوړ دی او د یوې بېلېدننځښې له لارې سره رابندیږي.

بېلګه: مېرمن هوګې، چې د ښوونځي مدیره ده، ډېره سخته ده.

Konjunktiv und indirekte Rede تړنوی او ناسیده خبرې (وینا؟)

د کړنویونو سره اړوند یوه بله ګرامري کاتیګوري داسې په نامه مودوس دی. دا وی یو رېښتینی پېښه، یو امر، مګر یوه غوښتنه هم یا یوه کېدنه یا شونتیا ووایي یا افاده کړي. تړنوی د حالتونو لپاره راځي، چې تراوسه رېښتیني ، مګر کېدونکي دي. له دې امله دا امکاناتبنه هم بلل کیږي. په ناسیده خبرو(وینا) کې هم یا شرطییزو غونډالو کې، دا کارونه مومي. خو دلته یو څو توپیرونه شته، له کومه لامله، چې تړنوی ۱ او تړنوی ۲ سره باید توپیر شي.

دا لاندې تکرار برېښي، خو نوي څه لري.

Konjunktiv I تړنوی ۱ : راتلونکی ۱ په ناسیده خبرو کې پیداکیږي، خو په کره کارونو کې( چاته غږ کول، (له چا)غوښتل).

-- پلار ویل، چې هغه د دې لپاره وخت نه لري.

-- هغه دې خوښ ژوندی وي!( کره کارونه)

Konjunktiv II تړنوی ۲ : دا ته هلته کاروې، چې ته یو څه غواړې، او هم په ناسیده خبرو کې، په شرطي غونډلو او یا په ځانګړې توګه په درنښت جوړو جوړښتونو کې.

-- هغه به غوښتلو، چې که (کاش چې ) دا څه ګرمه وی.( هیله).

-- کړی شم له تاسو هیله ولرم، چې وما ته یو څه له ځان سره راوړې.( هیله منده یا مؤدبه غوښتنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- که ما د موټربیولو اجازه لرلی، زه به اوس تللی وی( شرطي غونډله).

(Eigenschafts-wort **Adjektiv**) ادورب ( خویوی یا صفت)

................ ،، ښکلی ویونه،، خوږ، شین، ښکلی، سترِی، کوچنی، چټک، برګ( په غوصه).

(Umstands-wort **Adverb**) ادورب( ښکه والي وی)

-- لوکال – یا ځاییز- ادورب: (یو)چېرته، ، کېږ، هلته، دلته، مخته، هرچېرته یا هرځای، دباندې او نور

-- تمپورال - د وخت ادورب: تل، تراوسه، له هغې، هېڅ (کله)

-- مودال – د ډول(رقم) ادورب: ښایي، په خواشینی، ټیک،، کم، ډېر، کله کله......

-- کوزال – د لامل ادورب: له دې امله، له دې سره، د دې لپاره

پرونومیال – حالت لپاره ویونه: په دې، ترڅ، داسې چې، (په ) څه باندې

ناټاکلي پېزند نخښه ( د نر-ښځېوالي لپاره): یو، یوه

(Zweilaut **Diphthong**) دوه غږیز: یو دوه غږیز له دوه بېلابېلو غږلرونکو څخه لکه یو، دوه، بیا او نور.

(Befehlsform **Imperativ**) امربڼه: کښېنه! ولوله! وخوره! چپ اوسه! ځان بدل کړه!

(Wirklichkeits-form **Indikativ**) ربښتین بڼه:نړۍ ښکلې ده. انسانان مري.

(Empfindungs-wort **Interjektion**)احساساتويي: ای، اوهو ، وی، پوو.

کېدی شي څه تکرار وي، خو هر تکرار کښې څه نوي څه هم میدنل کیږي او ترې تېرېدنه و ماته څه ستونځمنه بربښي. په بخښنه.

## رکتوس او اوبلیکوس یا ولاړ او پراته حالتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل یادونه: ما په ډېرواره حالتونه لیکلي، هغه هم په دې د پښتو حالتونو کې خوندي دي او د پښتو حالتونه له الماني څخه توپیر لري. ما پخپله ډېرې لیکنې په څلورو حالتونو کړي او اوس به دا په پښتو کې حالتونه وڅېړو:

په پښتو کې دوه حالتونه شتون لري. رکتوس او اوبلیکوس

Ca|sus rec|tus,د رکتوس – ، کړونی - یا ولاړ حالات

ویي پېژند: (ژبنیز نومیز Nominativ ولاړ...( دا چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده، نو نومیز حالت نه لري او دا په پښتو کې کړونی حالتدی)) کړوني حالت کلیمې سرچینه: لاتین "casus rectus" ،،نېغ، ولاړ حالت یا څنګه والی یا ښه یې کړونی حالت،، ، همغه یو هنیز یوناني "ptōsis orthē" مخ ته لرو.:

مخامخ ویي یې Casus obliquus اوبلیکوس حالت دی.
کړونی حالت رېکتوس حالت دی: دا کړونی حالت دی، چې له دې امله ولاړ حالت هم ورته ویل کیږي.

— په بنسټیزه توګه و دي ته مخامخ یا برعکس او دې نورو حالتونو ته کاسوس اوبلیکوس دی، چې څنګیز، ننوتي، پروت، ... حالت دي، .

Casus obliquus (Deutsch)اوبلیک څنګه والی:

ویی تربیو هېدنه/ پېژند:

۱ – ژبنیز: نه ولاړ -، پروت –، ننوتی – ، وتلی او یا کوږ څنګه والی (حالت). له دې امله به بسیا وکړي، که نه کړونی حالت یې وبولو.

اوبلیکوس نه کړونی حالت یا پروت څنګه والي دا لاندې څنګه والي خوندي لري:

بلواک څنګه والی: جینیتیو، داتیو، ابلاتیو او دا اوس هم غږیزد کلیمې بنسټ: له لاتینبلواک حالت یا – څنګه والی، چې یوناني تربیو هېدنه یې هم همدا ده بلواک کازوس، اوبلیک کازوس، ناولاړ، زوړند یه پروت څنګه والی.

۱ – کازوس اوبلیک جینیتیو، داتیو دي. دا مې په بل ځای کې څېړلي، چې په پښتو کې نور څنګه والي هم شته، لوریز،.. د پوره څرګندونې لپاره دې هلته وکتل شي.

## د نورو حالتونو لپاره مخ ته ځو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: که دا لاندې بیا هم راغلي وي، لوستل یې بد نه دي.

## Enklitische Pronominaاینکلیتیکي نومځاینیوي.

د مخه تکیه اړ- یا اینکلیتیکي نومځاینیوي یوه کیدنه لري، چې له یوه کړنوي سره ورزیات یا ورسره ونښلي یا ورسره ویلې شي. کړنوی + ځانیز پسې تړی. ډېر زیات د خبرو ژبه همداسې په شاعرۍ کې منځ ته راځي. په ډېرو لیکنیزه ژبه کې ترې ډډه کېږي یا دا د کړنوي سره یوځای په یو بل کې سره وېلې یا ولې شوي، چې یو نوی ویي منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پرېپوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګې په توګه: اینکلیتیکي نومځاینیوي د یوه شي دنده لري، که دا یوه کړنوي سر ورزیات شي.

یادونه: و به ګورو، چې له دې نومځاینیو سره هم حالتوه روښانه یا ښوولکېدی شي. دا دې د حالتونو په برخه کې وکتل شي.

ګډوله کونه

– کړنويي + ځانیز پسېتړی په وییڼژبه او لیکنژبه کې مخ ته راځي او همداسې بله برخه یې

– ځانیزمختړي نومځاینیوي یا اینکلیتیکي نومځاینیوی + کړنوی، چې دا دواړه به لړ و څېړو.

دا نومځاینیوي، نو څنګه روښانه کړو، چې کوم دي؟

که غواړې عکسونه درته ښایم. که غواړې وتا ته عکسونه ښایم.

دا نسبتي وی و پسې ځاینیوی یاپوستپوزېشن ،، ته،، ته یو اوبلیک دی. او د الماني داتیو څنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څېر د موخه لور (چېرته) دنده لري. بیلګه: و کور ته ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړیکوی) د انګورو (خاوندوالی حالت) له جنډې ( حالت) څخه (اړیکوی) انګورو (نوم) له ځان(حالت) سره ( اړیکوی) وتا( حالت) ته (آړیکوی) دروړه.

ګورو، چې ټول اړیکویونه پسېځاینیوي یا پوستپوزېشنونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

د اینکلیتیکي نومځاینیوي څلور دندې:

زه دې، ته مې، هغه مو، دا يې....

دا څلورواړه په يوه ګډوله يا لړۍ څنګېزه غونډاله کې

زه دې دلته راوغوښتم، چې ته مې ولیدې او هغه مو، چې ولیده دايې وويل:

# لوريز نومځاينيوي

لوريز نومځاينيوي: نومځاينيوي را، در، ور يوه لور غوره کوي، نو له دې امله لوريز نومځاينيوي.

لرو: - (را، در، ور) (سره،څخه،کره، ته، پورې، کې، باندې،...)

په پورته کې په لومړي نوکانو کې نومځاينيوي دي او په دويم کې اړيکويونه يا پسېځاينيوي دي، چې په نومځاينيوو پسې تړلي راځي. دا بيا داسې همم ليکلی شو:

له ما، له تا، له موږ،له هغه......سره(څخه، کره) ، وما ته، وتا ته، وهغه ته، پر ميز باندې ياپر هغه باندې....په کور کې

____ داسې له يوه توري جوړ نومځاينيوي شته، موږ چې يو څه کوو، په پای کې د هغه کړونې پسې نومځاينيوی( انکلیتیکي نومځاينيوي بلل کيږي( په ليکنه کې يې يېژند شته)) ورزياتوو ياورسره نښلوو

و پورته ته ډېره اړيينه يادونه: دا له يوه توري جوړ نومځاينيوي، چې ما ليکلي، سم نه دي. دا نومځاينيوي نه دي. دا د کړنويي بڼهبدلون دی. دا لاندې هم همداسې. دا موږ د موږ په ادبياتو کښې مداسې بللي، خو داسې نه دي.

بېلګې يې: ځم، ځو،ځي ، ځې، ځي( د دريم کس ن، ښ يو او ډېرو لياره ). دا پورته د کړنويوونو بڼه بدلون دی او په پښتو کښې کړنوييونه بڼه دبدليږي.

دا يو ويييزې يا له يوه ويي جوړې پوره غونډاله ده: ځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له يوه ويي جوړې غونډالي کېدی شي، له کړنويی څخه جوړې وي، لکه همدا پورته. که څوک ووايي چې. ځم. خو دا سمه ويېنه يې ده: زه ځم.

پوښتنه: څوک ځي؟

ځواب : زه ځم.

دا پورته راپورته شوې ستونځ له دې لاندې پېژندونو سره اوبی شوې:

ــــ له بلې لور له داسې کړونو سره د را، در، ور نومځاينيوي مخ ته ترل کيږي او کړنويي پسې هممهال دا د ــم، -ې، -ئ او نور هم ترل کيږي او داسې يووويېزې پوره غونډالي جوړوي: درځم، راځي، ورځم او نور. دا به د روستاړو او مختاړ او – مشوره. څنګه ونوموو، خو دا هم پسې ترلي دي، چې خپله کومه پوهېدنه نه لري او نه د ورسره ترلي له لارې کومه پوهېدنه غوره کوي، خو هغه د پسې ترلي پوهېدنه غزوي. دا لوريز نومځاينيوي، کړنويي سره د مخه ترلي او پسې ترلي يې دا اېنکلييکتيکي نومځای نيوي دا يوه کړنوويي او دوه وو نومځاينيوو سره په ګډه يوه يوويېزه غونډاله جوړوي.

يادونه: په دې هکله مې – د ما نوې ميندنې کې- هم پوره ليکنه شته

## (Ablativ (Deutsch ابلاتيو يا بېلېدنه

ويي پېژند: لاتين ژبلار: ابلاتيو د پرېديکات نږدې پېژندنې ټاکلو په چوپړ کې دي. دا حالتونه ورکوي، چې د هغو لاندې کړنه کيږي. دا داسې کارول کيږي
Ablativus instrumentalis اله ييز ابلاتيو: د پوښتنې په ځواب کې:،، له څه ياڅه شي سره،،؟ ، ،، د څه له لارې څخه،، ؟، ،، له چا سره يوځای،،؟

– Ablativus separativus د بېلېدنې ابلاتيو: د بېلېدنې ابلاتيو و پوښتنې ته دی، چې : له کومه څخه،،؟ ، ،، له څه څخه،،؟

Ablativus comparationis

د پرتله کونې ابلاتيو له و چا ته يا نسبت و چا ته سره.

ځمری و چا ته جګ دی؟ يا ځمری نسبت و چا ته جګ دی؟

غونډاله پېچلې بربښي، خو ژبلاريز او پوهېدنيزه سمه ده. فکر غواړي.

Ablativus limitationis

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کليمې د رابندونې ابلاتيو رابېلېدنه د پوښتنې،،په کومه اړيکه کې،،؟

Ablativus locativus

ځايتاکنيز ابلاتيو و پوښتنې ته ،، و چېرته،،؟

Ablativus temporalis #

د مهالټاکنې ابلاتيو و پوښتنې ته ،، کله،،؟ ، د،، د کوم وخت په دننه کې،،؟

Ablativus mensurae

د ډېرې - يا ست- يا ځومره والي ورکړه، و پوښتنې ته ،، پر څو باندې،،؟

Ablativus qualitatis

د څنګه والي يا خوي ابلاتيو.

له ،، د ،، سره خاوندوالي جوړونه: دا ،، د ،، په ځنو ادبياتو کې د خاوندوالي مورفيم بلل کيږي او ځنې يې بيا په بلابېلو لاملونو د مخځاينيوی( پرېپوزېشن) بولي، خو دا چې دا يو مورفيم دئ او خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري، نو دا د خاوندوالي مورفيم يې سم دی. بېلګه : د کور ښکلی باغ.

Vokativ د غږ کولو حالت

په پښتو کې د غږکولو په حالت کې د ناغږيزو تورو پسې يوه ،، ه ،، ترلکيږي( دا خو ځانله د دې سره نه دی، د نور لکه ی سره هم راځي) او نورو ته دې يې په ګډه فکر وشي.

بېلګې: ورور، وروره،

سړی، سړيه

ملګری، (اې) ملګريه.

د ښځينه وو لپاره :

بېلګې: مور، مورې،

خور، خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر لباره په ټولیزه توګه باور لري، چې غږیز/ ډېر = اوبلیک/ډېر

بېلګې: ګران ملګري، ګرانو ملګرو!
ښخې/ (اې) ښځو!

پسې نومځینیوي د خبرو دي، خو ما په دې هکله پوره لیکنې کړي، نورې نه پرېکوم، خو ستاسو پام یواځې د ې ځنې ځانیزو نومځاینیوو ته رااړوم.

زه، ته، هغه، ما، تا، هغه، او نور

په دې ټولو حالتونو پوره خبرې شوي.

Demonstrativpronomina (اشاري نومځاینیوي)

اشاري نومځاینیوي ( رکتوس)

دا، دغه،

نور اشاري نومځاینیوي: هغومره، دغسی، داسی، هغسی، همدا، همداسې، همدغسې ...
دومره ، هومره، دومره...څومره داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې دا،
دغه،دغې،هغه،هغې

لوریز نومځاینیوي: د اړیکویونې سره دا لوریزې ټوټې د پوستپوزېښن د لوریزنومځانیوو کیږي. سره تړاو یا تړنه.

دا لوریزې ټوټې : را، در، ور دي، چې د پرېپوزېشن په څېر د اړیکویونو په څېر د کړنوییو سره نښلي یا ویلې کیږي. یو څو بېلګې...

## پوښتننومځاینیوي:

څوک، چا، څه، څو، څومره، کوم...څومه، څنګه، څرنګه

## Indefinitpronomina ((ناټرلی نومځاینیوي)

څوک،څه، څو، کوم، یو شی، یو څوک، یو چاته، د یوه چا، څومره، ځنې، هر، ټول، نور، هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژبلار يا ګرامر کې ناترلي ياخپلواک نومځاينيوي د نومځاينيو دا لاندې ډله جوړوي (برخډله مې ليکله وه، خو د لاندېدلي او برخډلي په منځ کې مې توپير ته پام نه وو). د و ي دوي مو يوګڼو يا افرادو ته پام اړوي، چې د هغوي ايدنتيتي يا پېژندنه له نږدې څخه نه ده ټاکل شوې يا د ناټاکلي ګڼون ( تعداد) افرادو همداسې په افرادو ( يوګونو کسانو) باندې شتونوينا کوي.

Indefinitpronomen mit vorangestellten Wörtern

ناترلي نومځاينيوي د مخ ته ترلو وييونو سره:

هېڅ څوک، هرڅوک، لږڅه، يو څه ، يوڅوک

Unbestimmter Artikelناټاکلي پېژند نخښې (ن،ښ)

۱ – رکتوس: (ن،ښ)يو، يوه

۲ – اوبليکوس: ( ن،ښ) يوه، يوې

يادونه: ۱ – داپورته داسې برېښي، چې ګوندې د بېلګې په توګه يوسړی راغی. يوه ښځه راغله او

۲ – يوه سړي وويل. يوې ښځې وويل.

دا دواړه حالتونه کړوني دي او د پښتو ژبلارې له مخې او د رکتوس او اوبليکوس د پېژند له مخې بايد رکتوس وي، نو اوبليکوس به يې څه وي؟

اوبليکوس: له يوه سړي. له يوې ښځې. دلته ،،له،، د يوه مورفېم په څېر راغلی، يو پروت حالت دی.

دا موضوع هم دما نوي مخامخ کېدنه ده. له دې د مخه ورسره نه وم مخامخ شوی، نو د څېړني او د خبرو به پوره څه په کې وي.

موږ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زياتو ځايونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو سره ورته ژبنيزې لارې سره نه لري.

په پښتو کې: ځم، ځو، ځي، ځی ... او ور خو موږ مې (دې، يې) په پښتو د کړنوي پسې، م،ې، ي ترلي او د خاوندوالي نومځاينيوو پسې بيا مې، دې، يې مو د مخه وڅېړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دا اړیینه یادونه: دلته ـــم.-ې،-و او نور توري دي له یوه توري څخه جوړ سافیکسونه یا پسېترلي دي، چي د کړنوییونو د بڼه بدلون له امله د کړنوییونو پوهېدنه بدلوي.

د دې یو لامل دا کېدی شي، چي په پښتو کي د کړنویي اخر کي دا ورسره زیاتېدنه دکړنوي پسې ترلی یا سره ویلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نیوي خپلواک شته دی.

دا نور نومځاینیوي به د څنګه والي یا حالت نومځاینیوي وبولو او ګورو، چي د اینکلیتیکي نومځاینیوو سره توپیر لری.

## Vokativ (د غږ کولو حالت( بیا لنډ)

یو چاته څه ویل یا ورته غږ کول په پښتو کي د یوه ځانګړي غږبڼې په څېر جوړېږي. په ټولو نارینه نومونو کې، چي په زور اچووني ی پای مومي په پای کې ه پسي نښلي تر نارینه نوم پورې چي زور پرې نه اچول کیږي، چي په پای کې یي ییي پسې نښلي. په دې باندې نور زیاته لیکنه نه کوم، خو یو دوه بېلګي راوړم. دا نور چي کوم اخر توری په څه بدلیږي او یا څنګه کیږي ، هغه تاسو راپیداکولی شی. لرو. خمری. غږ: څمریه. لرو: خوږه، غږ: خوږې مالی بیا هم ملالی. هغه لارې هم تاسو ورته ولیکی.

### Reziproke مات

رامات شي حالتونه د ،،یو،، او ،،بل،، له لارې یا سره جوړیږي. بېلګي: یو له بل سره. یو له بل څخه. یو وبل ته او نور.

### Interrogativsatz پوښتنغِوندالہ

پېژند د اوکسفورډ ژبې څخه: اینټېروګاتیو غوندالہ څه ده؟

پوښتنغوندالہ ( Interrogativsatz یا Erotema) یوه غوندالہ ده، چي د هغې دنده تیپیکي پوښتنکونه ده. د پوښتني ویېنډول د دې په چوپړ کې دی، چي یو معلوماتي ځواب ترې لاس ته راوړو. پوښتنغوندالہ داسې ده، لکه ویناغوندالہ او غوښتنغوندالہ، یو د غوندالي ډول.

د اینټروګاتیونومځاینیوو او نسبتي نومځاینیوو په منځ کې څه توپیر دي؟

Relativpronomen یا تسبتي نومځاینیوي د نومویو په ځای کارول کیږي. دا یوه غړېغوندالہ ( نسبتي غوندالہ) لاربنودوي او د یوې په سر یا پورته ترتیب شوې غوندالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه نوم(يا نومځاينيوي) ښلوي يا تړي. اېتروګاتيو نومځاينيوي يوه پوښتنغوندله (اېنتروګاتيو غونډالې) لاربښودوي او د غبرګوني غونډالو په څېر هم کارېدلی شي.

**بېلګې؛**

کتاب، کوم (هغه) چې زه يې لولم، سترېکېدونکی دی.

دا د باور نه دي، څه چې ته ماته وايې.

اېنتروګاتيو غونډالې پوښتنغوډالې لاربښودوي، کېدی شي دغبرغونډالې په څېر هم راشي.

بېلګه: چا به دا فکر کړی وی!

ځنې نومځاينيوي کېدی شي نسبتي – او اېنتروګاتيو نومځاينيوي وي .

بېلکه: څوک،چا، څه (شی)، کوم،کومه، د يوڅه لپاره.

دا کېدی شي چې وکارول شي.

اينتروګاتيو غونډاله – ناسيده پوښتنغوندله.

۲ - ښونکی زدکونکي پوښتي، چې چا دا کړکی ماته کړې ده.

۲ – ښونکی زدکونکي پوښتي، چې ايا له دوي څخه کوم دا کړکۍ ماته کړې ده.
اېنتروګاتيو غونډاله( ناسيده پوښتنغونډاله) يوه څنګغونډاله يا که غواړئ څنګيزه غونډاله ده. د پوره کونکې پوښتمې په څېر(۱-) څنګغونډاله د يوې پوښتنغونډالې په څېر پيل کيږي. د پرېکړه غونډالې په څېر(۲ -) دا د ايا له لارې يا سره پيل کيږي.

يادونه: پهدې ټولو ليکنو کې کمښت شته، چې بايد تل ګران لوستونکي يا ډېر کار پرې وکړي.

## د اېنتروګاتيو غونډالو برخکلمي

۱ – غبرډوليزه پوښتنغونډاله، ۲ – پرېکړييزه پوښتنغونډاله، پوره کېدونکې پوښتنغونډاله.

بېلګې:

۱ – يوه پوښتنغونډاله ده، ، چې ټيک د غبرېدونکې د معلومات کندو يا تشيا خوندي لري، او دا هممهال د خبرو و مل ته انځوروي، چې دا تشيا ډکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ١ ) غونډاله: ،،( ایا) ته نن راځې؟،، یوه اېنتروګاتیو غونډاله ده.

( ١ ) اېتروګاتیو – یا پوښتنغونډاله له غونډالنخښې،،؟،، سره په نخښه کیږي، که دا یوه سر – یا بنسټغونډاله وي.

ځنې پوښتنغونډالي د پوښتنغونډالي په چوپړ کې نه دي، دوی(یو څه ته ) رابلنغونډالي دي، لکه د بېلګې په توګه: نه غواړې تر اخره یا تر پای(بلاخره، یا بالاخره( رېښتیا نه پرې پوهېږم. په بخښنه)؟؟) پورې راشې؟،، یا ،، بیا هم یا: تر اخره پورې نه غواړې راشې؟،،

# دریمه برخه

# په پښتوکې له وییونو څخه تېرېدنه نه شته

په پښتو غونډلو کې له وییونو څخه تېرېدل یا حذف(؟؟) ژبلاریز نه دي.

د مورږ ډېر یا ټول ژبپوهان او ژبمینه وال په دې اند دي، چې ګوندې پښتو کې د ځنو وییونو ویلو او لیکلو ته اړتیا نه شته او کېدی شي ورڅخه تېر شو ( حذف ؟؟؟ ).

راځی ، چې دې ته لږ فکر وکړو، چې په پښتو کې له وییونو تېریدی شو او که نه؟

--- د پیداښت پر بنسټ باندې یا - له لورې څخه: دا چې ژبه پیداښتي ده، نو له پیداښتي پیداښت څخه خو تېرېدل د پیداښت سره په مخامخوالي کې دی.

دپیداښت سره سم د پښتو وییونو څخه تېرېدل، نو له دې امله ناسم دي.

--- دې ته دې پام وي، چې ژبه د مشورو او ګوتپورته کونو له لارې نه ټاکل کیږي، ځکه چې پیداښت نه ټاکل کیږي، دا دي، چې څنګه دي. کله هم چې یو څه د مشورې له لارې شوي، ناسم شوي، نو ناسم او پوره ناسم شوی، چې بېلګې یې ډېرې دي، خو دوه به یې له تاسو سره شریکې کړم.

١ – ژبپوهانو غوښتل، چې ګوندې د عربي مایع لپاره به په پښتو کې څه نه وي، هغه ته یې اوبلن نوم وټاکه، چې اوس هم دمورږ لیکولان یا له رادیو-تلوېزیون د تېنتېدوني یا غاز لپاره اوبلن واورم، پوره زورېږم او همداسې یې د ستاندارد، سویه او ستحې لپاره د کچې کارول، چې دا هم ناروا دی، کارول او د دوي ټاکل پوره ناسم دی. سرې له دې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې باید وپوهيږي، چې دوي پر دې باندې نه پوهيږي. ما ته به ډېره بخښنه کوي، زه په رښتیا د خپلو پښتنو پوهانو ډېر درناوی کوم، خو دلته نو بل څه ولیکم؟

هغه څه چې بهیږي، بهېدونکي دي. دا تل لرو اوستاندارد او سویه نه د کچونې څه لري، او له دې امله ورته نه کچون اله او له همدې امله نه کچیږي. دامې یوه ورځ له رادیو څخه واورېدل، چې ،،په جلال اباد کې د کابل په کچه روغتون جوړ شو،، او سمه بده راته وبرېښېده.

ما چې څېړنه په کې کړې، دا له وییونو څخه تېرېدلو ستونځې هم تولې دپښتو په څلورم حالت کې دي، چې اوس به یې سره روښانه کړو.

د دې روښانونه هم ډېره ساده او د پیداښت په مټ پوره روښانه ده.

داسې به و مخ ته ولاړ شو او له پیل څخه به پردې اړونده غونډلو باندې پیل وکړ:

لومړی:

-- په ما باران ورېده.

-- ما باندې باران ورېده.

-- پر ما باران ورېد

-- پر ما باندې باران ورېده

دویم:

-- په کور یم او همداسې

-- کور یم.

-- کور کې یم.

-- په کور کښې یم

-- له کور لام.

-- د کور نه لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- له کور څخه لاړم.

دابېلګې بسیا کوي.

ولې موږ په دې پوهېږو، چې موخه مو څه ده او ولې هغه موخه بې له ژبلارې له لارې سمه یا نیمګړې سمه برېښي؟

ور څخه تېرېدل یا حذفول ژبلار ده او که څنګه؟

ژبلار له ژبې څخه راوزي او نه ژبه له ژبلار څخه. دې ته مو تل باید پام وي.

-- ولې نو دا ستونځې تر اوسه پورې نه وې اوبې شوې؟

ژبه مو پنځه زره کلنه، خو دپوهنې دګرته دا شاوخوا اویا کاله کېږي، راوتلې او دا هم داسې په نیمه نیمخوره توګه یا داسې په خوېدا، چې پخپله پښتنو یې هم د څېړلو توان دومره نه لاره. په هر صورت د دې شرایطو لاندې اوس هم دموږ ژبې د موږ د ژبپوهانو په هلو ځلو او د ډېرو ربړو پر ګاللو باندې یې دومره د پام وړ وده کړې. په هغه وخت کې د موږ ژبپوهانو دومره امکانات هم نه لرل، چې پرته له عربي او په ځانګړې توګه فارسي، د نورو ژبو له ژبلار څخه کار واخستلی شي. د ژبلار لپاره خو له نورو ژبو څخه نور څه و لاس ته نه راځي، خو داپېژندونه باید سم راواخستل شي، چې هغه اوس کېدونکي دي.

که تاسو د موږ د پښتو ژبې ټولې د بېلا بېلو پوهنو پوهنیزې لیکنې وګورئ، نېمګړې نه، چې له ترنوییونو او اړیکوییونو څخه پرته پښتو په کې نه شته.

موږ د ژبې پر غنی کولو پسې ګرځو، خو د خپلو وییونو په ساتلو کې ناتوانه یو، چې دا د خپلو پښتو وییونو ساتل مو باید لومړنی دنده وي.

له ما څخه مې تل لیکنې اوږدېږي، خو لنډ داسې مخ ته ځو:

د موږ څلورم حالت مو د پسېځاینیو حالت بللی او ګورو چې ستونځې په همدې کې دي، نو غواړم لومړی تازه د پسېځاینیو پېژند راوړم.

پسېځاینیوي: د ښوونځي په ژبلاریزو ادبیاتو کې اړیکویونه یا پسې وییونه هم بلل کېږي، یو وییدول دی، چې یو رابند ټولګی جوړوي او د منځپانګ وي او په ګرامري نښونو کې ځاینیوی شوی. پسېځاینیوي په قانونمندۍ کې د یوه نومویینو ګروپ یا ډله غواړي او له دې سره یو حالت لیدوړ په نخښه کوي. دا چې د نومویینو پسې ځای نیوی راځي، له همدې امله پسېځاینیوی هم بلل کېږي او دا یوه ډله ده، چې ځاییز، وختیز، څنګه والي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولونکی، سره له دې، اړیینوالی پوهېدنې لېږدوي یا وړي او په پښتو او نور ژبو کې بڼه بدلېدونکي نه دي.لکه: څخه، سره ،کره، لپاره، پورې، کښې او نور

////////////////////////////////////////

یادونه: دا لاندې لیکنه کېدی شي تکرار وي، د دېبخښنه دې وي.

تکیه اړ- او ځانیز نومځاینیوي

داسې یو څه به د نومځاینیوو او حالتونو ښه روښانونه نوره هم وڅېړو.

له هرڅه څخه د مخه د حالت Kasusپېژند: په پښتو کې څلور حالتونه لرو، کړونی، پرېکړونی، د خاوندوالي حالت او د پسېځاینیوو حالت، کاسوس یا حالت څېړي چې نوموییونه د غونډلې د نورو توکو سره څه اړیکې لري او دا نوموییونه څنګه له حالت سره ځان سنبالوي. په نورو ژبو له بېلګې څخه یې په الماني ژبه کې نومځاینیوي بدلیږي، خو په پښتو کې دا دنده د حالت مورفېمونو نیولې، چې خپله کومه پوهېدنه نه لري، خو د نوموېون سره مل ځان د حالت سره سنبالوي یا برابروي او که سموي او دا دي: ،، د ،، د خاوندوالي لپاره د نوموییونو دنده بدلون لپاره مورفېم.

،، له، تر، پر، په، و،، د پسېځاینییو لپاره د نوموییونو دنده بدلون لپاره مورفېمونه.

دې ته بیا بیا وته نیسم، ځکه چې زیات ناسمونونه همدلته راځي، چې دا مورفېمونه یواځې او یواځې په همدې ټاکلو ځایونو کارول کیږي او بس.

اوس راځو نومځاینیوو ته: موږ په پښتو کې دوه ډوله نومځاینیوي لرو:

لومړی - ځانیز نومځاینیوي او کارونې یې

دویم- کلیتیکي یا تکیه اړ نومځاینیوي او کارونه یې. دا نومځانیوي په رېښتونې په یوه څه پسې تکیه اړ وي او یا ان چې ورپسې سلیبش - یا نښتي وي.

ګډه کارونه او د کاره-ونو پرتله- کونه یې.

و لومړي ته : دا په دوه برخو وېشو:

پیل یادونه: زه به یواځې د لومړي کس نومځاینیوي یا - - لپاره نومځاینیوي وکاروم.

لومړی ۱ – یوګڼ: زه، ته، هغه،هغې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ۲ – ډېرګڼ: موږ، تاسو، هغوي

لومړي ۱ ته: دلته د هر کس لپاره دوه دوه نومځاینیوي لرو:

لومړی ۱ ۱ – زه، چې د کړنویونو لپاره د اوس او راتلونکي وخت لپاره کارول کیږي او د هغه کړنوییونو لپاره، چې پرېکړونی نه لري، د تېر وخت لپاره هم.

زه ځم، زه لاړم، زه خورم، خو.. نور لاندې.

لومړی ۱ ۲ – ما، چې د تېروخت د هغه کړني لپاره کارول کیږي، چې پرېکړونی ولري، په دې پوهېدنه، چې دا کار په یو څه د څه د کړو سره سرته رسیږي. ما وخوړ(ه)

و لومړی ۲ ته: د ډېرګړو د کړنو لپاره دا نومځاینیوی ،، ما، موږ، ...،، نه بدلیږي.
موږ(تاسو، هغوي) وخوړل ( لاړو) .

یادونه: پوښتننومځاینیوي دي: څه، چا. که موږ دلته پوښتن نومځاینیوي د زه او ما په ځای ولیکو، نو دا چا د کړوني لپاره راځي او په پرېکړوني کې نه راځي. بېلګه: څوک څوک وهي. چاڅوک وواهه.

و دویم ته: تکیه اړ نومځانیوي په دوه ډوله دي:

دویم ۱ – د مخه تکیه اړ نومځاینیوي دي: را ، در، ور

دویم ۲ – پسې تکیه اړ نومځایمیوي:مې، دې، یې، مو( دا د موږ او همداسې د تاسو لپاره کارول کیږي)

و دویم ۱ ته- دا دوه ځایونو کې یا دوه ډوله کارول کیږي یا که له کړونو او نه کړونو سره نومځاینیوو(رېکتوس - او اوبلیکوس) حالتونو څخه و مخ ته لاړ شو، نو په دواړو کې کارول کیږي.

دویم ۱ ۱ – که دا نومځاینیوي د کړونو په څېر وییونو و مخ ته راشي یا ورسره نښتي یا سلېښ وي، نو د کړنوییونو سره لوریز کړنوییونه په ګوته کوي، لکه راځم، راځي، ورځې، ورځي، ورځئ....

بله بېلګه: راکوې، ورکوم، درکوي او نور.

و دویم ۲ ته: دا هم دوه ډوله کارول کیږي یا ښه یې په دوه حالتونو کې کارولکیږي.

دویم ۲ ۱ – دا تکیه اړ نومځاینیوي تل په یوه نوم، نومځاینیوي او یا یو څه پسې تکیه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا نوم یا دا یو څه یانومځاینیوی د پرېکړوني په حالت کې وي، نو پسې کړنه راځي یا که کړنه پسې راشي، نو دا پسې تړلی نوموېي یا څه یې پرېکړونی دی.

بېلګه: ته مې ووهلې، زه یې ګوزار کړم. هغه دې راوړ. کور مې واخست.

یادونه: ګورو، چې موږ په پښتو کې همدا دوه نومځاینیوي ، زه او ما لرو، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره کارول کیږي. له دې څخه داسې پوهېږو، چې د لومړي او دویم حالت یا د کړوني او پرېکړوني حالت لپاره.

دویم ۱ ۲ - که ولرو: (را،در، ور)( څخه، سره،کره،پورې، باندې، ته.....)

دلته دا پوره یو حالت دی، چې کېدی شي د پسېځاینیوو حالت یې وبولو، ځکه، چې دا و مخ ته تکیه اړ نومځاینیوي، ټیک وپسېځاینیوو ته تکیه دي او نه بل څه ته.

دا اوس د ځانیزنومځاینیوو سره څنګه لیکو؟

له ما سره (څخه، کره، پسې) = را سره(څخه، کره، پسې) له دې لرو چې:

را = له ما

تر ما پورې = را پورې دلته بیا را = ترما

په ما کې = را کې له دې لرو: په ما= را

پر ما باندې = را باندې.له دې څخه لرو: پرما = را

و ما ته = را ته. له دې څخه لرو: و ما = را

له پورته څخه لاس ته راځي، چې: له، په ،پر، تر ، ته، باندې...... مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د اړونده پسې نوم یانومځاینیوي دنده بدلوي. دلته د ،، ما ،، ، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره په بدل ډول کارول کیږي، دلته یې دنده، له ،، د ،، سره، چې ،، دما کور ،، لیکل کیږي او ،،د ما،، د خاوندوالي نومځاینیوي کیږي او همداسې د پسېځاینیوي حالت کې هم د د ،، ما ،، دنده د ( له، په ، پر، تر ....) سره په اړونده ډول بدلیږي.

په پورته پسېځاینیوي حالت کې دا هم غوره ده، چې:

۱ - له ،،له،، سره: څخه، سره، کره، پسې ټاکلکیږي او له څخه، سره ، کره پسې سره ،،له،، یواځنی ټاکلکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – له ،،تر،، سره ،،پورې،، يو يواځنی ټاکلکيږي.(دا يو وياځنی په دې پوهېدنه چې تر يواځې هلته راځي، چې پورې يې پای کې راځي او پورې هم هلته راځي، چې تر وي ،، تر کور پورې،، بل ډول ناسم دی او بس).

۳ - همداسې له پر سره باندې او په څټ له باندې سره پر.

۴ - له ،،و،، سره ،،ته،، او په څټ

دا اړيين دي، چې بيا هم ګوته ورته ونيسو، چې، له، تر، په، پر، و او که نور په مدې ژبلاريزه ډله کې راځي، بل ځای کې ځای نه لري، د موږ ژبپوهان او ژبمينه وال يې دا ،، تر ،، دېر کله ناسم کاروي.

يوه غونډله او شننه يې:

ښځه و خپل ورور ته د خپل مېړه خولې ورکوي.

په پورته کې ښځه کړونې، وخپل ميره ته (د پسېځاينيوي حالت پوره کونه)، د خپل مېړه( خاوندوالي حالت پوره کونه)، خولې ( پرېکړونې حالت) ورکوي( کړنه).

پای لاس ته راوړنه: موږ د دې ليکنې سره داسې وښوده يا ښه يې: بيا نوره هم روښانه کړه، چې پينتو څلور حالتونه لري: کړونې، پرېکړونې، خاوندوالي او د پسېځاينيو حالت ( دې ته دې پام وشي، چې څنګه ښه نومول کيږي).

يوه غوره يادونه: د موږ ډېر ناسمونونه له همدې مورفيمونو له ناسم کارونې سره و منځ ته راځي، نو ما هم لږ زيات پام و همدې ته وکړ.

و دويم: ۲ ۲ ته: که ولړو: کور مې کوچنی دی، نو دا د ځانيز نومځاينيوي سره دا سې ليکو: د ما کور کوچنی دی، په دې پوهېدنه چې د ،، ما ،، سره يو بل مورفيم ،، د ،، مل شو او ،، ما ،، دنده يې بدله کړه.

د مخه مو په ليکنه کې ولېدل، چې هلته ،، مې ،، د ،، ما،، په پوهېدنه وو.

د ژبې د پيداښت په بنسټ پوهېږو، چې لړو: د ما کور کوچنی دی. دلته خو بې له ،، د ،، څخه، چې ،، ما ،، يواځې وي، څه نه پوهېدل کيږي او ،، د ،، هم ديوه مورفيم په څېر خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو له ،، ما،، سره يو ځای د خاوندوالي نومځای نيوی کيږي ( دلته دې فکر وشي، چې دا ،، د ما،، نومځاينيوی شو او که ؟؟؟؟) چې د خاوندوالي حالت غوره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته لیکو چې: دما کور کوچنی دی.  دا به د خاوندوالي حالت وبولو، چې دی.

دلته نو ،، د ،، څه شی دی او دنده یې څه ده؟

بیا: دلته ،،د،، یو مورفیم دی او کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دنده یې باید بل څه وي او هغه داده، چې د لته د ،، ما ،، دنده بدلوي، چې دا ،، ما،، په مرسته د خاوندوالي نومځاینیوی شو او د ،، ما ،، دنده یې د کړوني څخه و د ،، د ،، سره مل د خاوندوالي – یا نه کړوني نومځاینیوي ته راوسته.

دا بیا روښانه په ګوته کوو، چې ،، د ،، یواځې او یواځې همدا دنده لري او بس.

دا حالتونه د پوښتنو په بنسټ رامنځ ته کیږي

یادونه: دا لیکنه مې هم څه وخت د مخه لیکلې، چې دامې لا نه وو څېړلي، چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده.

پیل یادونه: په پیل یادونه کې دا په پام کې ونیسو، چې ما دا حالتونه د الماني حالتونه څېړلي، چې پښتو حالتونه یې ورسره سر نه خوري، خو کټه مې ترې احستې او پل پهپل به به دې لیکنې کې د دې ستونځو لپارهاوبې ګورو ( ستونځوبی لکه ګروبی)

نومیناتیوNominativ (له لاتین څخه، نومونی یا نومونیز)

یادونه: دا چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده، نو نومیز یا نومیناتیو په پښتو کښې نه شته او دا نومیزپه پښتو کښې کړونی دی.

په ګرامر کې د یوه حالت نومونه ده، چې له هرڅه څخه دمخه ( دمخه مې ناسمه،، د هرڅه له مخه،، لیکلی وو) په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تیپیکي یا نومونییز دئ چې د یوه شي د خپلواک کارونې له پاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې پوهېدنه، چې بې د بل له واکه).

یادنه: یوې له د مخه تېرې یادوني سره موږ نومیز حالت په پښتو کې نه لرو او دا په پښتو کښې کړونی حالت دی.

لنډ: دا حالت دی، چې د ،،څوکـ، چا – او څه حالت،، بلل کیږي، د یوه حالت سیستم په توګه رامنځ ته کیږي، چې دا نومیناتیو – اکوزاتیوسیستم بلل کیږي.

بیا: د نومیناتیو یا د ،، څوک،،،چا - ،، او ،،څه شي،، حالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د ګړنو یا کړ له مخې د دوه ډوله لیکنو سره مخامخ یو:

لومړی:

یوه یادونه پسې شته

سپین یا هغه وکار ته ځي

سپین یا هغه و کار ته لاړ

سپین یا هغه به  وکار ته لاړ شي

سپین یا هغه و کار ته تللی وو

څوک و کار ته.......

سپین یا هغه

زه و کار ته ځم

زه و کار ته لاړم

زه به و کار ته لاړ شم.

زه  و کار ته تللی وم.

دویم ډول یې:

زه منه خورم

زه به منه وخورم

ما منه وخوړه

ما منه خوړلې وه.

لنډه یادونه: وروسته به وګورو، د ،، زه کا رته لاړم،، په ځای به سم ،، زه وکار ته (و)لاړم،، سم ولیکو. د ژبلار او په ژبلار کې د ما د نوو میندنو په بنسټ ( دا دې هملته ( همهغلته) وکتل شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا همداسې د دويم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ريم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دريم کس کې ليکنه يو ډول ده، خو د ويلو څخه برېښي، چې لومړۍ ه څرګنده يا روښانه ه ده او په دويم کې بيا دا پڅه ه ده او که بل ډول يې بولی. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي، چې په پښتو کې نه شته)

يعني په دريواړو کسانو کې يې توپير يو ډول دی، چې د کړنې پرته يې په څو کړنو کې پوښتنومځاينيوی هم بدليږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه حالت دې.

مور و کار ته ځي.

څوک و کار ته ځي؟ ځواب: مور

کاليمينځی خرابيږي.

څه شی خرابيږي؟ ځواب:کاليمينځی

يادونه: و ماته هم دا نومونه توکلې د ليکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهيږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمينځي،کاليمينځی، کاليمينځونی يا کاليمينځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مينځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

## د کاسوس رېکتوس او کاسوس اوبليکوس کارونه

يادونه: دا لاندې څېړنبرخه نېمګړې ده، خو وروسته په نورو ليکنو کې پوره شوې.

کاسوس رېکتوس د نوميز او اکوزاتيو حالت لپاره د اوسمهال لپاره کارول کيږي. يوه ځانګړنه شته او هغه داسې ځانيز نومځاينيوو کې اوبليکوس د الماني و اکوزاتيو ته کارول کيږي. کاسوس اوبليکوس تل کارول کيږي، که يو اډپوزېشن په نوم تکيه کوي. ځانګړنې په پوستپوزېشنونو کې شته، چې ،، کې، باندې، ته، د پاسه، زيات په رکتوس کې وکارول شي. کاسوس اوبليکوس د تېروخت بڼه کې نوميز حالت کې هم کارول کيږي.

يادونه: دلته دې اندونه سره ګډ شي. دا څېړنه بل ځای کې پوره څېړل شوې.

دا نسبتي وی و پسې ځاينيوی ياپوستپوزېشن ،، ته،، ته يو اوبليک دی. د الماني داتيو څنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څير د موخه لور (چېرته) دنده لري.

بيلګه: و کور ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمېز(حالت) باندې (اړيکوی) د انګورو (خاوندوالی حالت) له جنډې ( حالت) څخه (اړيکوی) انګورو (نوم) له ځان(حالت) سره ( اړيکوی) وتا( حالت) ته (آړيکوی) دروړه.

ګورو، چې دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

دلته ټول اړيکويونه پسي ځاينيوي يا پوستپوزېشنونه دي.

## د موږ ستونځې له ژبلار سره چېرته دي؟

موږ په رښتيا په خپله ژبه کې ډېرې ژبلاريزې ستونځې لرو. ما چې خپل څه باندې دوه کاله د مخه ليکلی وو، اوس و ما ته په ځانګړې توګه په حالتونو کې ډېرې ستونځې ليدل کيږي، چې په اوسنيو ليکنو کې مې سمې کړي.

ما ليکلي وو: زه باغ ته ننوتم. باغ نوم دی. دا حالت ،،باغ ،، کړوني دی. ،،ته،، پسي ځاينيوی دی، نو بايد چې له نوم څخه د مخه د دې پسېځاينيوي اړونده مورفيم ورزيات شوی وي، چې غونډله سمه شي او هغه د يوه ،، و ،، له نوم سره د مخه بايد ورزيات شي. اوس به يې سم وليکو: و باغ ته ننوتم. نوره به هم ښه وي، که دا زه ورزيات شي، چې ،، زه و باغ ته ننوتم،،. دوه نورې غونډلي.

پخوا مې ليکلي: باغ ته ننوتم، باغ کې ...، د باغ نه ووتم. دا کليوالي دي، خو معياري يا ښه يې ژبلاريزې ناسمې دي. دا به سمې داسې وليکو: و باغ ته..، په باغ کې...، له باغ څخه...

په دې هکله مې ليکنې شته.

د ما يوه هيله: که هر چا يو څه سم وليکل، خو دا د بل چا لپاره پروا ونه لري او ودې مني او ناسمون يې تل بايد سم شي.

لاندې به کليوالي ليکنې او معياري ليکنې سره يا ښه د حالتونو غونډلي سره په ګډه وګورو:

| | |
|---|---|
| زه باغ ته ننوتم | زه و باغ ته ننوتم. |
| زه باغ کې يم. | زه په باغ کې يم. |
| زه د باغ نه لاړم او نور. | زه له باغ څخه لاړم(ولاړم) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دما سره — له ما سره

په میز شته — پر میز باندې شته

ما پورې راشه یا — تر ما پورې راشه

تر ما راشه. — تر ما پورې راشه

انګلیسي نوموېونه، چې د یوه حالت اړوند دي

بیا او بیا لیکم، تر منځ...، ترمخه، ... او او دا ټول ناسم دي. ،،تر،، یواځې او یواځې د پسې‌ځاینیوي مورفېشم دی، چې دا پسېځاینیوی یې ، پورې دی او پس.

دا مو هم باید په پام کې وي، چې پښتو یواځې او یواځې پسېځاینیوي لري او دا دي:

پورې، ته، سره، څخه، کره، باندې، کې، او نور یې تاسو ولیکئ.

## پښتو او ژبلاریزې ناآوبی ستونځې یې

پښتو پنځه زره کلنه ځوانه ژبه ده.

ولې ځوانه؟

په افغانستان کې تر ۱۹۳۰ ز ک پورې د افغانستان رسمي ژبه یواځې فارسي وه. په هغه وخت کې د پښتنو یوه ټولنیزخوزښت بنسټ په جوړېدو(۱۹۳۱ زک ) ، په (۱۹۳۲) د کابل پوهنتون او په(۱۹۳۷ ز ک ) کې د پښتوټولنه جوړ شول، په ۱۹۳۶ ز ک کې د سردار هاشم خان د حکومت په دوره کې پښتو دولتي رسمي ژبې ته پورته شوه، سره له دې، چې په هغه وخت کې پخپله پښتنو هم دومره پام ورته نه دی کړی. په ۱۹۶۴ ز ک د لویې جرګې لخوا پښتو سراسري ژبه ومنل شوه او ملي ژبه هم شوه.

له دې څخه داسې برېښي، چې پښتو ژبې د کار وخت- په داسې لړه سویه- له ۱۹۳۶ ز ک څخه باید پیل شوی وي او قانوني ، د قانون له مخه یې دا په ۱۹۶۴ ز ک بیا ومنل شو، چې په دې وخت کې ورته پښتانه مشران هم داسې لړ را بیدار وو.

سرلښکر یې:

دا خپله دنده بولم ووایم، چې سر لښکر یې همهغه له اول څخه خدای(ج) بخښلی ارواښاد وزیر محد ګل خان بابا وو، چې د هغه وخت د واکوالو سره یې د یوه وروړ په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيکي لرودې، په ژبه او هيواد مين انسان وو او د دې توان يې لاره، چې د اروابناد رښتين صيب له خبرو يې دا پنځه د پښتو ستوري هر يو اروابناد خبيبي، اوربناد بينوا، اروابناد رښتين، اروابناد خادم او اروابناد رشاد روزلي او د وينا له مخې يې سياسي ستر ملاتړ وو، خو سره له دې هم دې ژبې لاتراوسه هغه خپل قانوني ځای په دولت کې نه دی نيولی.

## د پښتو ژبې وده

له پورته ځرګندوني څخه همدا لامل ځرګنديږي، چې پښتو ژبه مو په هره پوهنيزه ريښه کې هم پوره ستونځې لرې د ژبې تر ژبلار يا ګرامر پورې. د پوهنيزو پوهنتون او د ښوونځي د کتابونو پښتو خونديونه نه لرو، هغه مسلکي وييونه يې ټول لا تر اوسه پورې عربي دي، چې پښتانه يې د پوهېدنې سره د پوهېدلو ستونځې هم لري، خو دوی هم په هغه وخت او لاتراوسه څه نه کوي يا څه نه شي کولی، پرته له ما څخه، چې د شمېرپوهنې ځلوښت کتابونه مې په پښتو ژباړلي او ليکلي د داسې څه فزيک سره، د پښتو د دوه ګرامرونو سره او همداسې څه نورو کتابونو سره، دا چې دا کار ځنګه شوني وو، دا به په بل ځای کې وليکم ( باور وکړئ او لوړه کوم، چې دا مې د ځان ستايلو له امله نه ليکم، خو د نورو يې و دې کار ته راهڅونه مې موخه ده).

دا هم بايد په کلکه ووايم، چې په داسې حالاتو او دې لږ وخت کې، که څه هم دولتي پوره پاملرنه دومره نه ده ورته شوې، دې ژبې او د هغه وخت دموږ ستورو د نورو هغه وخت ځوانانو په مرسته دې ژبې ته پوره کار کړی.

دلته مې – له دې ليکنې سره- هغه بنسټيزه موخه په پښتو ژبه او ورسره لرلو ستونځوبيو کې ده.

د پښتو په ژبلار کې هغه بنسټيزه ستونځې:

زه به د موږ ستونځې په حالت( پېر، کاسوس يا د الملني فال ) کې وڅېړم او په نورو برخو کې هم د دې ستونځو لاملونه ورته دي.

دا چې ژبه مو يوه زړه ځوانه ژبه ده، نو ګرامر يې هم بايد د ژبې ځوانۍ ته ورته يا ورسره ځوان وي، دا په دې پوهېدنه چې ژبلار مو له پخوا څخه راته نه دی پاتې - که وي، نو پوره ناپوره به وي- او همدا اوس مو بايد چمتو کړی وي. دا چې خپل ګرامر مو لا تراوسه نه لروده او لږ تر لږه په معياري توګه، نو بايد دا ستونځې مو د نورو ژبو په مرسته اوبی کړې وی، چې هغه زياته ونده په کې فارسي يا عربي ژبې بايد لرودې وی، ځکه چې موږ د هغه وخت ژبپوهان ټولو د هر مسلک هر څه مو بايد له فارسي رانيولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی او هغه مو ځه نومونه همداسې مسلکي ، چې لرو یا لرودل هغه لا د مخه له فارسي-
چې د موږ یواځنی رسمي ژبه وه – رانیولي وي، نو د موږ د هغه وخت پوهانو ته اړین نه
برېښېده یا نه پرې پوهېدل، چې د فارسي د ښه بلدتیا له امله پښتو اندول ورته ولټوي او
ومومي. پښتو چې د زده کړې ژبه نه وه، خو نه دا چې نابلده بلکه پردی برېښېده. موږ د
نورو ژبو په مرسته د پښتو ګرامر هم د پښتو د جوړښت سره سم د پښتو ژبلار ترتیبوو،
خو د پښتو د نوې منځ یا میدان ته راوتلو له امله مو د پښتو ژبې سره هم باید ستونځې شته
وي، چې هغه بیا د ګرامر په لیکلو کې راځرګندیږي. په دا وروسته وختونو کې هم، که
پرته له عربي مو له نورو ژبو څخه د مرستې اخستلو له امله او د ګرامر د توپیروالي له
امله، ګرامري ستونځې منځ ته راځي، چې زه به یې په دې لیکنه کې هغه ځرنګوالي ته
ګوته ونیسم او همداسې له بلې لورې موږ د پښتو ژبلار یا ګرامر د نورو پښتو ژبپوهانو له
ژبلار څخه رانیسو او هغو دا کار ځکه سم نه شي کولی، چې دوي پښتو زده کړې، بې له
دې، چې سم یې و ژبلار ته ورننوځي. د دې ځرنګوالي ته به هم ګوته ونیسم.

## په پښتو کې د حالتونو یا پېر سره لرلې ستونځې

پیل یادونه ( ځان ستایېنه نه ده، خو اړیین راته برېښي، چې هرڅنګه وي لږ تر لږه
ستاسو پام دې دما لیکنو ته راواړم): ما له ښوونځې څخه را په دیخوا له پښتو ژبې سره
زوره مینه لروده او اې چې په څلورم ټولګي کې - دامې په یاد دي، چې - د يېګانو سره
بلد وم او نږدې دا اخر شپاړس کاله مې په ژوره توګه د ژبې سره کړونی کار پیل کړی او
دا هره ورځ ډېر ساعتونه، چې لاس ته راوړنه یې د دوه ژبلار کتابونو لیکل وو، په ژبه
کې سمونونه ( هغه ویيونو ته کتنه شوې، چې موږ یې ناسم کاروو، دا له سلنې څخه
نیولې، چې په پښتو ژبه کې ځای نه لري، تر اوبلن پورې، چې د ،، بهیدونکې،، په ځای
یې ډېر ناسم کاروي او دا چې د سویې او معیار لپاره کچه کارولکیږي، دا مې باید باور
وي، چې د موږ لیکنوکي څوک یا ژبپوهان نه پرې پوهیږي او دا سې نور هم). د دوه
ژبلار کتابونو سره مې ژب اړوند اته کتابونه لیکلي په ketabton.com کې یې ګران
لوستونکي لوستلی شي او دا مې هیله هم ده، چې که دما لیکنې سمې نه وي، نو ......

## اوس هغه ما ژبلاریزې لرلې ستونځې:

بېلګه به همدا له حالتونو څخه راوړو:

موږ لیکو: د هغه نه، د هغه څخه، له هغه څخه او

د هغه سره، له هغه سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په ،، له ...څخه او د... سره،، باندې یوه ستره لیکنه وکړه، چې دا مې په همدې دوه ډوله ناسم ولیکل، چې ګوندې دا یو دې ،، له،، سره وي او دا بل دې له ،، د ،، سره وي.

دا تر هغې پورې راته سمه برېښېده، چې یوه شوم دا ، د ،، د یو مورفیم په توګه د یوه نوموي (نوم، نومځاینیوی) سره راځې، چې د هغه واکوالی ښایي، له دې پوهېدنه داسې ده، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی، لکه د هغه کتاب یا همداسې د سپین کتاب، نو دا را ته له هغې څخه وروسته سم برېښېده او پسې بیا په دې اند شوم، لکه د موږ ټول ژبپوهان تراوسه پورې، چې دا له... څخه دی، دا په دې پوهېدنه، چې دا یو سنترپوزېشن دی، په دې پوهېدنه چې نوموی یې په منځ کې راځي او د موږ ټول ژبپوهان یې ،،سربل او اوستربل بولې،، ، چې زه په رښتیا نه پرې پوهېږم او نه مې چېرته ولوستل، چې ولې.

دا باید ووایم، چې د موږ ټول پوهان او همداسې ژبپوهان هم ډېروخت د یوه څه پوره پېژند نه ورکوي او هغه کاروي، چې دا مو هم یوه بنسټیزه ستونځه ده.

اوس هم داسې انګېرل کېږي، چې هغه د انګرېزې from او الماني von لپاره موږ د پښتو انډول ،، له،، بولو یا داسې شاید کله، کله ،،څخه یا نه ډېر کم او که وي، نو له دباندنیو ژبپوهان څخه به ،، له..څخه،، او له ما څخه هم زیات ،، له... څخه،، لیکل - یا بلل شوی وي، چې ،،دما،، وروسته، چې دا د ما میندنه ده، لږ ګوته ورته ونیول شي او لیکنې پرې یو څو لرم، چې د کتلو وړاندیز یې کوم، چې دا په ژبه کې راته د ما یوه ستره لاس ته راوړنه هم برېښي.

له دې سره مې باور دی، چې موږ د پښتو ژبې د دې اړخ ستونځوبیو لار میندلې وي، چې ګران لوستونکي دې هیله ده په غور ولولي.

موږ په پښتو ژبه کې لرو: موږ نومځاینیوي لرو: زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او ... نور او دا په همدې څېره یا په همدې ډول په حالتونو کې د کړونو او پرېکړونو او همداسې نه کړونو لپاره، دا په رد بدله بڼه کارول کېږي،

لکه: ته ما وهې، تا زه ووهلم.

په نورو حالتونو کې باید یو څه بل ډول وي ( پسې روښانه کېږي، خو دا پوره ژور دما په - همدې هکله - لیکنو کې پوره روښانه شوي).

دلته دی، چې د from او von انډول ،،څخه،، دی، نه ،،له،، او همداسې نه ،،له ... څخه،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کله وپوهېدم یا مې کله ورته پام شو؟

کله مې چې دې ته پام شو(وپوهېدم؟؟)؟ دا دې لا د تاسو تر مرستو پورې وي)¸ چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبلیکوس لري او همداسي کلیتیکي ( تر دې وخته پورې مې هم اینکلیتیکي لیکل) نومځاینیوي، نو وپوهېدم، چې دا ،، له، تر، په، پر،، او نور خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري او د نوموینو سره یوځای راځي د اړوند حالت لپاره، چې هغه حالتونه یې، چې دا یې د نوموینو سره راځي، اوبلیکوس حالتونه دي، چې بې له دې هم ناسم دي او دا ځانله ما، زه، تا ... او نور یواځې هم په هغو حالتونو کې کومه پوهېدنه نه لري. دې ته به هم وروسته ګوته ونیول شي.

# ولې باید دما خبره سمه وي؟

د ټولو په سر کې:

دا پوښتنه هم ځکه لیکم، چې د ما دا لیکنې به د مور په ژبلار کې د لومړي ځل لپاره وي، نو وبه اندم، چې ناسمونونه یا لږ تر لږ د ځنو ادیبانو څه شننیز ګومانونه به ورته پیدا وي، چې دا باید د خبرو له لارې اوبی شي.

یو څه چې د هغه لیکنو په هکله پر پوهنه باندې ودانې لیکنې وي، نو تر هغې پورې سمې دي، تر څو پورې یې چې ناسمون پوهنیز نه وي ښوول او روښانه شوی.

د دباندنیو ژبو او د دباندنیو پښتو ژبپوهانو ډېرې ګټې او دا د مور غوندې لرلې ستونځې.

مور چې په هره ریښه کې یو څه زده کوو، نو بې له یوې وتلې دباندنۍ ژبې پوهېدنې څخه دا کار ناشونی دی، که دا ژبه هم وي. له بلې ژبې څخه مور پوهنیز نومونه هم زده کوو.

چې داسې وي، نو د مور د ژبې په ریښییزو لیکنو کې ولې تول ریښه اړوند شیان وییونه او نومونه مو د بېلګې په توګه پښتو نه دي؟

د مخه مو دې ته ګوته ونیوه، چې ژبه مو ځوانه ده او د مور مسؤلو کسانو ته دا د عربي نومونه داسې بلد پرېښېدل، چې په پښتو یې زیات نه پوهېدل او یا ورته اړیین نه برېښېدل او یا یې په کې بېخي فکر نه کاوه، دا چې ولې ډېر نور لاملونه هم لري. دوی ورسره اړیین د خپل پښتو وي په څېر بلد وو. دا حالت تراوسه پورې ځکه داسې دی، چې هغه ډېر د لیک لوست خاوندان مو لا تراوسه په همهغه ډول روزل شوي او دا خپله ژبه ورته پخپله یا دومره پوره نه برېښي او اندې، چې دا یې د ژبې وي، خو دې ته فکر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، چې د خپلې ژبې وییونه یې له منځه ځي. ژبه غزونه سمه ده، خو نه د خپلې ژبې وییونو پرېښودنه.

ژبلاریزې ستونځې هم په همدې توګه. موږ د نورو ژبو په ژبلار یا نورو ژبو نه پوهېدلو، او د همهغه له فارسي یاعربي ژبې له ژبلار مو ګټه اخستې، چې هغه بیا د موږ د ژبې له ژبلار سره ډېر توپیر لري.

بخښنه. لیکنه را څخه غزیږي. اوس بېرته وموخې ته.

موږ له دباندنیو پښتوپوهانو څخه - دا اوس دما ورته پام شوي- پښتو ژبلاریز څه هم زده کوو. دا چې دوی یا نور ژبپوهان یې په نورو ژبو پوهیږي او په هغو کې لولي، نو د پښتو سره غبرګ ( هغه غبرګ یا غبرګون، چې د موږ ژبپوهان یې د څه موخې لپاره لیکي، ناسم دی) ګرامري توکي له هغو ژبو رانیسي. ما هم له همغو ژبو دا وماته تر اوسه پورې نا څرګند ژبتوکي لکه چې ژبه مو دوه حالتونه، رېکتوس او وبلیکوس لري، زده کړل او همداسې کلیتیکي نومخانیوي، چې په مټه یې لیکنې اوس تاسو سره په دې لیکنه کې شریکوم.

هغوي هم د پښتو سره دا ستونځې لري، چې له von څخه ،،له،، پوهیږي، چې نایم دی. لنډ دا موږ ورسره نابلدو کارولو سره دوي هم باید نابلد وي. دوي ژبه باید له موږ څخه زده کړي، خو دوي د خپلو ژبو کره ژبلار لري، خو پښتو بیا دوي داسې کله بېرته ورکولی شي، لکه پښتانه ژبپوهان.

## کوم سم، ناسم او ولې؟

زه بېکاره یم( بېکاره نه یم، خو څه کار نه لرم)، له دې امله چې د اند سره ناسم څه وګورم، نو څه پرې لیکنې ته یې ځان اړ بولم.

لاندې پوښتنه کې سم او ناسم څنګه مومو؟

۱ – سپین د طالبانو له بند تر ازادیدو وروسته

۲ - سپین د طالبانو له بند څخه د ازادېدو وروسته.

۳ - سپین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ۱ – ته: ناسم دی، ځکه چې: دلته له مورفيم ،،تر،، څخه څه نه پوهېدل کيږي او ،، تر ،، پرته له نوم يا نومځای نيوي، څه نه وايي يا څه ور څخه نه شي پوهېدل کېدی. په دې هکله مې ډېرې زياتې ليکنې کړي.

۲ - سبين د طالبانو له بند څخه، د ازادېدو وروسته.

و ۲ – ته: پرېکړه پسې: که ،،رووف د طالبانو له بند څخه وروسته،، وی، خو سمه به وی. دلته نو بيا په

،، ...د ازادېدو وروسته،، ، دلته هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی او په دې ويېنبرخه کې سم نه دی، دا څنګه بايد وي؟

له ازادېدو څخه وروسته، دا بيا بېرته دا ليکنه ناسموي.

له دې امله ۲ – ناسم. نو

۳ - سبين د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

و ۳ – ته : ولې بايد سم وي:

ځکه چې دا بند د تالبانو دی او نور نو د بند ،،له ازادېدو څخه وروسته،، سم دی.

بله بېلګه: د سپينغر د کور له لېدلو څخه وروسته

راځی، چې و دې ته نور هم په ګډه پام وکړو.

# په ژبه کې د سم او ناسم ښوونه

د م ک ملګرو څخه مې دا لاندې پوښتنه کړې وه:

روزه مو نېکمرغه.

کوم سم دی او ولې؟

۱ – يما، يتا، د هغه

۲ – زما، ستا، د هغه

۳ – د ما، د تا، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته یې ځواب

له ټولو راته ګرانو د م ک ملګرو لوي څښتن مو راته روغ لره. د دې به بخښنه کړی، چې ستاسو یو اند او د ما بل اند دی.زه به دا خپل اند داسې روښانه کړم:

مور د یوڅه د روښانه کولو یا د سم ښولو لپاره دا دوه غوره دښوونې څه لرو.

ژبه پیداپښتي ده، نو ښوونه به یې په پیداپښتوالي کې څېړو

-- پیداپښتوالی

-- ټولیزوالی( که یو څه پیداپښتي نه وي). ځنې ښونې چې کیږي، د هغه غوښتونې د ټولیزوالي په بنسټ کیږي.

-- بل ډول ځوابونه یا ښوونې هم شته، چې هغه دلته بیا سیده او ناسیده ښوونې دي، چې ډېر نه پرېغږېږو.

-- پېداپښت کې تل پیداپښتي لارې شته، چې له هغو څخه هر څه روښانه کیږي. دا چې ژبه پیداپښت دی، نو هرو مرو باید د هر څه لپاره یوه لار ولري.

-- مور خو دا درې ډوله کلیوالي ویېنې لرو. دا خو درېواړه د پیداپښتې ژبلارې له امله سمې نه وي  او که غواړی معیاري نه وي.

-- د ټول  د م ک ملګرو ځوابونه ورځني وو او ځنې وايي، چې د پښتو ټولنې د پرېکړې سره سم دي.

-- دا چې زیات کسان دې دویم ته سم وايي، نو هرو مرو دې دا سم هم نه وي، که ناسمون یې ښودلکېدی شي.

-- دا چې کومه ټولنه پرېکړه کوي، دا به ووایم، چې دا هم لار نه ده. که ژبه پیداپښت وي، نو باید د سمون لپاره یې پیداپښتي لارې شته وي.

-- غواړم دا وښایم، چې دریم سم او ژبلاریز دی. ولې؟

-- مور پوهېږو، چې ،، د،، د خاوندوالي یا اړوندوالي مورفېم دی، نو له دې امله دریم ژیبلاریز سم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ټولیزوالی: د دې دلیل راوړل نور اړیین نه دي، خو په زیاتو پوهنو کې دا هم له غوره دلایلو څخه راوړل کیږ، چې له پیداښت سره همغږی دی. نو که داسې وي، دا د ،، د ،، خاوندوالي مورفیم له امله دا ټولیز هم دی او په ټولو کې دا ګډ هم دی.

-- یوه ښوونه یا یو دلیل تر هغې پورې سم دی، تر څو یې چې ناسموالی یا په بل ډول مخامخوالی نه وي ښوول شوی. دا پوهنیزې لارې چارې دي. له دې همداسې پوهیږو.

رابه شو اوس سیده ناسیده ښوونو ته.

-- سیده ښوونه: ۳ ـم سم دی. دا به ښایو. ومو ښوول، چې ۳ ـم ځواب دپیداښت سره سم دی او همداسې ټولیز دی

-- ناسیده ښوونه. که موږ وښایو چې ۳ - م ناسم دی، نو باید ۱ – م یا ۲ ـم سم وي.

دا د پورته دواړو پیداښتي او ټولیزوالي ښوونو سره مخامخوالی دی، نو دا ناسم دی او ۲ – سم.

دلته مې تاسو لږ د شمېرپوهنې ښونو سره هم ستړي کړی.

هیله ده، چې مرسته وکړی، چې یوې لاس ته راوړنې ته راشو.

## د پښتو ستونځې او ستونځوبې

# د پښتو زېلاریزې ستونځې چېرته دي؟

د پښتو ستونځې د نورو په څنګ کې ( ،،ترڅنګ،، ناسم دی) د موږ د دباندنیو ژبو څخه ......رانیونه کې

--- دا زیاتې ستونځې په حالتونو او پسې ځاينییو کې ( وبه ګورو، چې پښتو یواځې پسېځاينیوي لري).

ستونځوبې یې په دې کې دي، چې موږ بایدله باندنیو ژبو څخه د لارو میندلو په هکله ګټه پورته کړو، خو د خپلې ژبې ژبلارې د لاري په بنست بیا خپلې ستونځ اوبی کړو.

هغه ستړې برخې، چې د ما په اند مو دستونځو سره مخامخ کوي، یوه یې حالتونه دي او بل مخ-،پسې – یا سنترځای نیوي، چې وبه ګورو موږ یواځې پسې ځاينیوي لرو او بس. دریم یې کېدی مختړي او ورستړي یاپسېتړي وي، چې زه ډېر څه په کې نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې زه په الماني پوهېږم او درې، نو داسې لړ به بیا پښتو له دې ژبو سره پرتله کوم او په مته به یې خپلې ژبې ته سم څه په خپله ژبه کې لټوو او دا چې ژبې پیداښتي دي، نو هرو مرو د هرې ژبې انډول په هغه خپله لار یا ژبلار شته. په دې هکله مې پوره لیکنې کړي، خو بیا هم:

لومړی: په لومړي پل کې به د الماني حالتونو ته پام راوګرځوو: په الماني کې څلور حالتونه یاڅنګوالي شته، چې بې له شننې او یواځې بېلګې ورکوني سره به بسیا ومنو.

۱ : نومیناتیو( پښتو یې کړنه یا کړونی): زه راغلم. زه خورم.

په نومیناتیو یا نومیز یا کړوني غونډلو کې مو دوه ډوله – وخت اړوند- ؟؟؟؟ کړوني زه او ما سره بدلیږي. کړنبدلونونه لرو.

-- هغه چې دا نومیناتیو زه او ما یې په اوس او تېر مهال بدلیږي: دا هغه وییونه دې چې ته یو څه کوې او پرېکړوني ( او که نه کړونی؟؟) ته اړتیا لري یا پرېکړونی لري.

زه ډوډۍ خورم. ما ډوډۍ وخوړه.

زه لرګی رااخلم. ما لرګی راواخست.

زه لرګی وهم. ما لرګی وواهه.

-- هغه چې په نومیناتیو غونډلو کې یې زه په ما نه بدلیږي: هغه غونډلې چې نومیز کړوني ته اړتیا نه لري یا پرېکړونی نه لري. ؟؟؟ ترانزیتیو او اینترانزیتیو،، ؟؟؟ کې دې پام وشي؟؟؟

-- زه راځم، زه راغلم.

-- زه ودرېږم. زه ودرېدم.

۲ – پرېکړونی: دا په یو څه یا چا څه کیږي.................

مرسته !!!

--- په را( در ور) څخه(سره، کره، پورې، ته، کې، باندې...) کې دا را، در، ور اینکلیتیکي نومځاینیوي دي، چې د پروت حالت یوه حالت په نخښنه کوي او دا ټول د الماني ژبې داتیو حالت ته ورته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



--- په تلل کې، که د تلل په ځای راتلل ولیکو، نو لیکو چې: زه راغلم، ته راغلې او هغه راغی،...

ګورو چې دلته –غلم،--غلې،--غلې او همداسې را، در، ور په دې وییونو کې څه بوهېدنه نه لري، نو لاس ته راوړنه به دا وي، چې دوی یو د بل مختړي او ورستړي دي یا به دا ووایو، چې دا راتلل، ... یو خپلواک کړنوی دی او دا راغلم او نور یې بدلونونه دي، نو له دې څخه باید داسې وپوهېږو، چې دا باید د هغه حالت د را، در ، ور سره بدل نه شي.

دلته دې ګران ژبپوهان او نور مینه وال مرسته وکړي، چې همداسې یا بل ډول باید و ښوول شي یا ونومول شي.

پروت حالت

په پښتو کې اوبلیکوس – یا پروت حالت لرو، کله چې نوم او نومځاینیوی سره اړونده ادپوزېشن ـ ( که پسېځاینیوی یاپوستپوزېشن) ولري.

دا پېژند چې اوبلیکوس اړوند ادپوزېشن( مخځاینیوی، سنترپوزېشن او پوستپوزېشن) ولري، خو د ما د څېړنو له مخې پښتو یواځې د اړونده اوبلیکوس حالت لپاره یواځې پوستپوزېشن یا پسېځاینیوي لري.

د دباندنیو ژبو څخه داسې شننې لرو، چې نومویي اوبلیک حالت کې دی، که اوړوند یې یو ادپوزېشن ځای شوی وي.

دلته دې ته اړتیا شته، چې وګورو، اړونده حالتونه کوم ادپوزېښنونه لري.

ما په خپلو لیکنو کې دا ښوولې، چې موږ د اوبلیکوس یا پروت حالت کې یواځې پسېځاینیوي لرو.

د دې ښوونو له مخې، چې پښتو ژبه ادپوزېشنونه له ډلې څخه یې سنترپوزېشنونه ولري، نو موږ به په لاندې غونډلو کې

له ځلمي څخه (سره،کره)

تر تا پورې

په کور کې

اونورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ولرو: له ...څخه(سره، کره) ، په... کې. تر... پورې سنترپوزېشونه وي، حو دا مختړي يې د نوموېونو اړونده مورفيمونه دي، چې خپلواک څه ترې نه پوهېدل کيږ. او دا د نومويونو پسې چې راځي، پوستپوزېشنونه دي.

مختړي، وروستړي، سربل او اوستربل( زه په رښتيا نه پرېپوهېږم)

غوره ستونځې

په پښتو ژبلار - ژبه کې دمورږ غوره ستونځې او د ټولو ژبپوهانو، ژبپوهاندانو، ژبمينه والو او ليکونکو ستونځې څه – او کومې دي؟

دا ټولې ستونځې، چې بنسټيزې دي او تراوسه پورې ورته چا پام نه دی کړی، هغه حالتونه يا ځنگه والی او که غواړي اړيکوييزې ستونځې دي، چې په پښتو کې نه – نه بشپړې څېړل شوي او يا نه سم ترېپوهېدلي. دامې زياتې روښانه کړي او اوس به يې هم داسې لندې په گوته کړم.

د ما مېدني: په لومړي سر کې مې دې ته پام شو، چې د پښتو په حالتونو کې مورږ يواځې پسېځاينيوي يا پوستپوزېشنونه لر. اوس مې د لومړي ځل او لومړي کس په څېړ دې ته هم فکر شو، چې پښتو يواځې دا داسې وروستړي يا پسې ترلي يا نښلول شوي لري، خو مختړي هم نه لري. دا خو د ما له لورې داسې لرږ زياتی هم برېښي، خو داسې ده.

لکه – وال: ليکوال، غروال، کوټوال او همداسې. ليوالتيا، زړورتيا، سپينوالی، توروالی. دا چې کوم يې له کومو ژبتوکو سره راځي، هغې ته دې گرانلوستونکي هم پام وکړي او زه به يې هم وليکم.

# د پښتو ځنگه والي، پېړ يا حالت ته د مشورې لپاره.

دا ځنگه والي (پېړونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توگه روښانوو:

١ – نوميز ځنگه والی:(څوک، چا )، (څه)

٢ – د خاوندوالي ځنگه والی: ( د چا، د څه)

٣ - داتيو ځنگه والی: ا - (له چا) ، ( له څه)،ب - (وچا)،(وڅه) پ – ( په چا، په څه)، ت - ( پر چا، پرڅه)....

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا ځنگه ونومو، يا نومول شي( که وي) . دې نورو کې -گومان مې دی- ستونځې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – اکوزاتیو ځنګه والی ( دا حالت په پښتو کښې نه شته): ( چا، څوک، څه)

اړیینه یادونه: اکوزاتیو حالت- دا چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده- په پښتو کښې نه شته. هغه غونډلې، چې دلته راغلي یا به د خاوندوالي حالت وي او یا د پرېکړوني. دې ته همدلته هم پام وکړئ.

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول دي، ځو ۱ – د کړوني په ځنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په ځنګه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمي)«۵» (وکور) «۶»ته ولاړ او (په کوټه)«۷» کې ( پرمېز ) «۸) باندې (کتاب)«۹» یې د چوکۍ ( پرسر)«۱۰» باندئ کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»، «۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېرونه او که غواړې حالتنه دي.

دا پورته پېرونه یا حالتنه په پښتو: ۱ – په پښتو کې رکتوس یا کړونی حالت دی او دا نور ټول اوبلیکوس یا پراته، ژوړند یا ښهیي: نه کړوني حالتونه دي او نور.

که ټول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی لیکلی، باور وکړئ، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېړ هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایي او که ځنګه؟

که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي. هیله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

## سنترپوزېشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په خپلو لیکنو کې په ځانګړې توګه د حالتونو او اړیکویونو له امله، چې په هکله مې یې ځولیکنې کړي، پوره ناسمونونه هم کړي، خو دا هغه ناسمونونه دي او ګومان مې دئ دا اوس به مې لږ د واک لاندې راوستې وي او سم به وي او دا لا تراوسه پورې د مور ژبپوهانو همهغسې لیکې، سره همغږي شوي نه یو، خو بیا هم د ژبپوهانو مرستې ته اړتیا شته.

زه تر اوسه پورې په دې اند وم، چې ګوندې دا لاندې چې څه لیکم، سرکوم پوزېشنونه یا اړیکویونه به وي، خو راته جوته شوه چې داسې نه ده. وهر یوه ته به پام وکړو، خو دا ولې؟

زه چې څه د پښتو ګرامر په هکله لیکم، هغه د الماني په مرسته دي او نه پوهېږم، چې په پښتو کې به دا هم په دې غزونه لیکلي او څېړل شوي وي، که نه؟

ما په خپلو پخوانیو لیکنو کې هم دا هر څه د وړاندیز په توګه لیکلي دي، خو دا چې په پښتو کې یې په هکله ماته څه نه دي څرګند او یا نه شته، نو تېروتنې به په کې وي او دانو یواځې یو کس شاید ونه شي کړی، مرستې ته اړتیاشته.

که تاسو د څنګه والي یا حالتون او همداسې د پرې – پوست – سرکومپوزېشن په هکله پوره څه لرئ، نو هیله ده، چې دابه راته زما په برېښنا پته راولېږئ، چې زه به مو د مننې پوره وړی وم.

# په ژبلار کې نوي میندنې

پیل یادونه: ژبه پیداښت دئ او څوک په پیداښت کې ګوتې نه شي وهلی او که دا کار وشي، نو هرومرو به ناسم وي. دا په دې ترېپوهېدنه، چې ما هم دلته له ځان څخه څه نه دي پیدا کړي یا جوړ کړي، هغه د پیداښت څخه راپیدا څه مې سره شنلي یا روښانه کړي، هیله ده چې سم به مې میندلي وي.

هیله ده، چې ویې لولی، مرسته وکړئ، د پښتو ژبلارې د ودې لپاره.

په پوهنیزه څېړنه کې باید مخامخوالی نه وي، دا په دې پرېپوهېدنه چې باید رد نه شي.

نن د ۲۰۲۱ ز کال د مارچ ۳۱ –م په درې بجو مې خوب کده وکړه، د همغه خپل چرت له امله، خو دژبې په هکله مې میندنې وکړې، چې له دې امله ورته خوښ یم.

دا لیکنه په څو برخو وېشم او په لاندې توګه یې له تاسو سره ګډوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: د ماپخوانی اند د ځنو اړیکووینو یا که غواړی، د ادپوزېشنونو په هکله

دویم: څنګه والي یا حالتونه

دریم: دا اوس مې ورته د دې لیکنې په هکله پام شوي نومځاینیوي، یا مرستندوي نومځاینیوي او یایې که هرڅه د بللو وړاندیز کوي. دا دوه برخې لري.

څلورم: پښتو- لږ تر لږه په داتیو حالت کې – یواځې پوستپوزېشنونه (پسې ځاینیوي) لري.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بنه ناسم پښتو ژباړلي دي

و لومړی ته: د ما پخوانی اند، چې دا ځنې ګډوله اړیکویونه به ګوندې سنترپوزېشنونه وي:

له....څخه (سره، کره)، په .... کې، پر...باندې، تر.... پورې، و ... ته او نور. ګومان مې دا هم وو، چې ګوندې پښتو به مخ ـ پسې – سنتر ځای نیوي ولري. په دې هکله مې لیکنې شته.

دابه په لیکنه کې روښانه شي.

دویم: څنګه والي یا حالتونه، چې لنډ یې بیا له تاسو سره ګډوم.

د پښتو څنګه والي، پېر یا حالت ته د مشورې لپاره.

د الماني ژبلار په مټه یا مرسته دا څنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو: دلته یواځې د پوښتنو له لارې.

۱ – نومیز څنګه والی:(څوک؟، چا؟ )، (څه؟)

۲ – د خاوندوالي څنګه والی: ( د چا؟، د څه؟)

۳ – داتیو څنګه والی: ا – (له چا؟) ، ( له څه؟)،ب – (وچا؟)،(وڅه؟) پ – (په چا؟)، ( په څه؟)، ت ـ (پرچا؟)،( پرڅه؟)، ټ – (ترچا؟)، ترڅه؟)،

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا څنګه ونوموو، یا نومول شوي (که وي). دې نور کې- ګومان مې دی- ستونځې نه شته.

۴ – اکوزاتیو څنګه والی: (چا، څوک، څه ( دا د کړوني ....)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا د اکوزاتیو حالت په پښتو کې نه شته، خو هغ

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول دي، څو ۱ – د کړوني په ځنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په ځنګه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

داسې یې ځوابوو یا روښانه کوو:

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمي)«۵» (وکور) «۶»ته لاړ او (په کوټه)«۷» کې (پرمېز) «۸» باندې (کتاب)«۹» یې د چوکۍ (پرسر)«۱۰» باندې کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېړونه او که غواړۍ ځنګه والي دي.

که ټول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی لیکلی، باور وکړۍ، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېړ هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایي او که ځنګه؟ که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي. هیله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

اوس راځو:

و دریم ته: دا اوس مې ورته پام راګرځېدلی نومځاینیوي.

دا کوم دي؟ دا را، در، ور دي او مې، دې، یې، چې د کارونو یې بېلابېل ځایونه شته.

دا په دوه برخو وېشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: الف ۱ – موږ په پښتو ژبه کې د خاوندوالي لپاره مرستندوي یا پوره او که هرڅنګه یې بولې نومځای نیوي لرو:

مې، دې، یې. د دې ،،یې،، نارینه، ښځینه او ډېر هم همداسې دي او د ،،مې، دې ،، لپاره وایو چې ،، مو،، . پوښتنه دا ده چې به د دواړو لپاره وي او که د یوه لپاره.

دا هم په دوه ډوله کارول کیږي

الف ۱ ۱ – که ووایو: کور مې( دې، یې) سپین دی، نو پوهیږو، چې دا د خاوندوالي نومځای نیوي دي او که ووایو:

الف ۱ ۲ – که ووایو: کتاب مې (دې، یې) واخست، نو دلته دا بیا نومیز حالت دی. دلته بیا د کړوني په څېر رامنځ ته کیږي. هیله ده، چې په دې هکله به هم کران مینه وال مرسته وکړي.

الف ۲ – همداسې د داتیو لپاره هم دا لاندې نومځاینیوي لرو:

را، در، ور، چې زیات یې هم همداسې دي.

د دې لپاره به یې الماني او انګریزي انډول راوړ او وبه ګورو، چې دا هم همهغسې موخوردي
ب – څنګه والي یا حالتونه.

ب ۱ – د خاوندوالي څنګه والی یا حالت

انګرېزي نومځاینیوي د خاوندوالي لباره

His yuors my

الماني.........................

Sein dein mein

انډول پښتو یې د ساده یا نیم – یا خاوندوالي نومځای نیوو سره.

مې دې یې

پښتو پوره یا ورسره بلد نومځای نیوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دما دتا د هغه... او نور

يادونه ښځينه او ډېر يې په پام کې نه دي نيول شوي.

(My (mein) house (Haus

کور مې

دماکور

ب ۲ – د داتيو ځنګه والی يا حالت

را – ، در- ، ور – (ځخه، سره، کره، باندې، لاندې، کې، پورې، ته، ...)

که الماني ته مو پام راوګرځوو، نو دا پورته اړيکويونه ټول د داتيو په ځنګه والي کې دي.

له ما – ، له تا – له هغه (هغې) –( ځخه، سره، کره) او

پر... باندې، پر (ما، تا، هغه...) باندې او پورې، په (ما، تا، هغه، ...) کې، تر ...پورې، و ... ته

( و....) په کندهارۍ ګړدود کې په روښانه توګه شته

کور مې، – دې، – يې،

انګرېزي نومځري د داتيو لپاره

him you me

الماي نومځري د لپاره

Ihm dir mir

پښتو نومځري نومځاينيوي) د داتيو لپاره

را در ور

دا پورته، مرستندوی (؟) نومځاينيوي د يو او ډېرو لپاره هم دي او تيک همهغه د الماني او انګرېزي په ځېر د داتيو حالت ښايياو دا لاندې يې بل ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما له تا له هغه او نور

د حالتونو ځېړنې له مخې پای لاس ته راړنه او ګومان مې دی، چې داپرېکړه- که راسره ومنل شوه – نوې وي.

ځلورم: پښتو ژبه یواځې او یا لږ تر لږه د داتیو حالت کې یواځې پوستپوزېشنونه لري.

څه پوهېږو، چې دا پوستپوزېشنونه دي؟

دا له.... (څخه، سره ...) او همداسې دا په... کې او پر...باندې، تر... پورې او نور سنترپوزېشنونه نه دي؟

هغه اړیکویونه چې د را، در، ور سره راځي، بربښي چې بوستپوزېشنونه دي.

نو دا له، په، تر او نور نو بیا کوم ژبني توکي یا ژبني څه دي او همداسې خپلواکه ترېېپوهېدنه هم نه لري. دابه روښانه کړو. دا یواځې د یوه نومځري سره پرېپوّېدنهلري یا یې پهواک کې دي او بس.

که منلي مو وي، چې،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دۍ او له مې، دې، یې څخه همداسې بربښي، نو دلته هم دا ،، له، په، پر، تر...، د داتیو حالت مورفېمونه دي او یا د ما، دتا، دهغه،... سره یوځای داتیو حالت ورکوي.

بل لامل یې دا دۍ، چې دا له، .... په را، در، ور کې دننه یا خوندي دي.

یو څو بېلګې:

له ما(-تا،-هغه....) څخه ولاړ. را (در، ور) څخه ولاړ.

تر تا پورې درورسېد. درپورې در ورسېد.

یادونه: که دا سم وي، نو ګورو، چې تر موږ تل ناسم او زیات کاروو.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بنه ناسم پښتو ژباړلي دي، داچې دا له، په، پر، و، تر نو په الماني او نګرېزي داسې نه دي؟

ما تراوسه پورې داسې انګېرل:

١ – له... څخه، یا ځانله لهvor; from

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – تر یا تر ...(پورې) bis; until

۳ – په... کې im, in

۴ – پر.... باندې یا پر auf, of

۵ – و....ته zu, to

۶ – له .. سره mit, with

د Vor, bis, in, auf, zu لپاره د پښتو دي:

څخه، پورې، کې، باندې، ته

یوه بېلګه: سپین راڅخه در روان شو او په لنډ وخت کې درپورې در رسیږي.

شپین له ما څخه و تا ته در روان شو او په لنډوخت کې به تر تاپورې ذرورسیږي.

دلته دې اړوند دې ته هم پام راواړل، درواړول، ورواړول شي، چې دلته لکه راغی، درغی، ورغي هم شته.

دا د ځېړلو خوندیونه راته پېچلې، خو له ردولو یا مخامخوالي راته ازاده یا خپلواکه برېښي.

بیا لنډ: له، تر، په، پر، خپلواکه پرېپوهېدنې نه لري او د اړیکویونو یا پسېځاینیوو په واک کې دي..

هیله ده، چې پر دې باندې به یو له بل سره ګرمې خبرې ولرو.

د پښتو حالتونو د ستونځوبیو بریا

څنګه دې لاس ته راوړنې ته بریالی شوم؟

ډېر خوښ یم او باوروکړی، چې ورته پام مې شو، چې دا کار خو د لومړي ځل لپاره د ما موندنه ده او د ډېرو کلونو د ځېړنو لاس ته راوړنه ده، چې غونده شپه مې خوب کډه وکړه. د ما ډېر څه، چې څه مې کړي یا څه باید وکړم، د شپې په چرت یا د شپې په فکر ګړنجولو۔مه راپورې خاندی، دا تکیه کلام لکه چې کارول کیږي- کې را پیدا کیږي. خو اجازه راکړي، چې له هر څه څخه د مخه یوه اړیېنه یادونه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيېنه يادونه: باور وکړی، چې ځانپالی نه يم او بل د ليونتوب يا د زوروواکوال گومان مې هم په ځان نه راځي. دا بايد روښانه کړم، چې تر څو پورې دا د ما په پوهنه ولاړ ماته راپيدا اند چا په پوهنيزو دلايلو نه وي رد کړی، تر هغې پورې بايد سم وګڼل شي او که داسې وي، نو بيا موږ ټولو ته د دې بريا مبارکي وايم.

د ما په دې دعوه کې دوه موخې دي، چې د موږ ژبپوهان او نور ژبمينه وال دې ته راوپارېږي، د نورو پوهنيزه څېړنو په بنسټ يې رد کړي، چې دا به هم د ما د دعوه رد کول، خو بيا به هم دا هڅول د ما بريا وي.

د ما په څېړنو کې مې تل دې ته فکر شته، چې په پښتو کې حالتونه کم يا هېڅ نه دي څېړل شوي او که زه ورڅخه نا خبر يم، هغه به هم راميدان ته شي، چې زه به ورته خوښ او د دې بريا په څرګندولو به هم هېڅ زړه بدی نه شم.

دا فکر راته ودرېد، چې په همدې هکله مې د خپلو څېړنو يو کتاب برابراوه.

دې بريا ته مې نو څنګه لار وميندهٔ؟

--- د حالتونو په څېړنو مې پيل وکړ، چې د ما په لومړنيو د پښتو ژبلار کتابونو کې هم شته.

لومړی مې دا حالتونه د الماني حالتونو په بنسټ وڅېړل، خو په پښتو کونه کې يې کوم ناسمون نه دی راغلی، خو دې څېړلو موخه وره او پايلاس ته راوړنه نه لروده. بيا مې ځنو ملګرو او ژبمينه والو دې ته پام راواړاوه، چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس(ولاړ يا کړوني حالت) او اوبليکوس ( پروت يا نه کړون ی حالت) حالتونه دي.

هغه مې وڅېړل او په هکله مې د يوه ځوان پوه کامران منګل ليکنه يا ماته په کمنت وليکل، چې ،، د ،، د خاودوالي مورفېم دی. پوه شوم، چې ،، د ،، پرته له نومو ييونو کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري او همدلته مې ورته پام شو، چې ،، د ،، د خاوندوالي حالت يو مورفېم وي او خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دا له، په، پر، او.... هم بايد د کوم حالت يا حالتونو مورفېمونه وي او پرته له نومو ييونو څخه به خلپواکه پوهېدنه ونه لري.
ګومان مې سم وو، خو پرې باوري کېدل يې راته ستونځمن وو، تر څو پورې چې د نور حالتونو په دې پوهېدنه چې لومړی د اينکليتيکي حالت ( پسې تکيه اړ حالت) سره مخ شوم. دې هم پوره روښانتيا ځکه نه شوه روا ستلی چې دې پسې او د مخه تکيه اړ هم ورسره يوځای څېړل شوي وو، خو همدلته راته د نومځاينيوو را، در، ور چې
پروکليتيکي يا د مخه تکيه اړ نومځاينيوی دي په مرسته دا فکر پيدا شو چې دا له، په، پر، او نور هم لکه،، د،، د حالتونو مورفېمونه دي او دا د ( را،در، ور)( څخه، سره، کره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته، پورې، کې او نور) کاروني له امله بيا د وخت په تېرېدو سره دا فکر هم راته پيداشو، چې پښتو نو يواځې پوستپوزېشنونه لري.

کله چې د کليتيکي ( تکيه اړ) کلمي سره مخامخ شوم، چې په دوه برخو اېنکليتيکي ( پسي تکيه اړ) او پروکليتيکي ( د مخه تکيه اړ) نومځاينيوي لري، نو دې پاي ته راورسېدم.

د دوه حالتونو کړوني او نه کړونو څخه بيا همدې څلورو حالتونو ته راغلم.

له دې څخه د مخه مې دا برياوې هم لوي ښتن په برخه کړي، چې له، پر، او نور – لکه دباندني او افغاني پښتوپوهان يې وايي- پرېپوزېشنونه نه دي او دا يواځې د حالتونو اړونده مورفېمونه دي، چې پرته له، نومونيونو بله پوهېدنه نه لري او همداسې چې پښتو يواځې پوستپوزېشنونه لري او بس.

دا څه ميندني چې دي، له نوم څخه يې پوهېږو، چې په ژبه کې شته څه دي، چې هغې ته مو بايد پام شوی وي.

يوه غوره خبره داده، چې د موږ تېرو ژبپوهانو خپلې ژبې ته په دې لنډ وخت کې ډېر کار کړی، ځکه چې پښتو ژبې ته د کار کړلو وخت ډېر لږ وو. ژبه مو داسې په ۱۹۳۲ ز ک کې داسې په نامه په رسميت کې دننه شوه او بيا په ۱۹۶۴ ز ک کې - چې هلته د پښتو ټولنه هم جوړه وه - قانوني شوه، نو دا د يوې ژبې د ودې لپاره ډېر لږ وخت دی، چې د دوي ګار زه بيا بيا ستايم.

# پای يادونه:

موږ بايد ومنو چې:

لومړی: ژبه پيداېښت دی او نه لکه چې وايو: قرارداد.

دويم: ژبه مو پنځه زره کلنه ځوانه ژبه ده. ځوانه په دې پوهېدنه چې نږدې له نوي کلونو څخه راپه دېخوا او له ۱۹۶۴ ز ک څخه وروسته يې هغه خپل رسمي ځای د قانون په څلورديوالي کې نيولی، خو په عمل کې اوس لا هم ترې لرې ده، خو دا بايد ووايم، چې وده يې پوره ښه ده.

دريم: زه چې ګورم، په ژبه کې مو هغه ډېرې ستونځې په حالتونو کې دي.

زه به له دې ليکنې سره و ځان ته دا اجازه ورکړم، چې دا د حالتونو ستونځې مې له ډېرو ستونځو څخه وروسته اوبی کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- په ليکنه کې تکرارا له دې امله هم راغلی، چې هره ليکنه په بېلا بېلو ورکړوحالتونو په هکله ليکل شوي، چې ماته بيا د داسې کار سمه راټولونه او ترتيبونه نه کېدونکې وبرېښېده. توان نور دومره نه دی.

-- د ټولو ژبو ژبلارې يو له بل سره پوره توپير لري لکه چې ژبې سره توپير لري، خو و خپلې ژبلار ته د نورو پرمختتللو ژبو څخه د نوې ميندونو په څېړ ګټه اخستل کېدی شي او هلته يو نوي څه چې کټل کيږي موږ ته هم د خپلې ژبې د ودې لپاره يو فکر راکوي.

# د پښتو ژبلاريزه څېړنه کې مو څه ته بايد پام وي؟

د ژبې معياريکېدنه کله کېدونکې ده؟

د ژبې معيارېکېدنه هغه وخت کېدلی شي، چې زسمی وي او د دولت له خوا څخه يې ملتړ وشي.

موږ د څه ډول ليکنو سره مخامخ کيږو او له هغه څخه بايد څه ډول ګټه واکلو؟

موږ لرو:

١ – تاريخي ژبه.

٢ – کليوالي ژبه او

٣ – معياري ژبه

د موږ موخه دا ده چې ژبه مو هغه معياري حالت غوره کړي، چې په خواشينی يې بايد ووايم، چې لا تراوسه پورې نه ده معياري شوې، لاملونه يې نه راوړم، خو که خبرو ته مو سره اړتياوه، پرې غږېدلی شو.

په ژبه کې حزف او که حذف(ؤوبخښې، چې راته برګ نه شی، خو عربي مې – په خواشيی بايد ووايم نه ده زده، خو هڅېږم، حپله موخه تر شونې پولې پورې په پښتو وييونو هم روښانه کړی شم - نه ده زده) يا پرېښودل او يا ورڅخه تېرېدل نه شته.

دا پرېښودونه پر څه پوهېدنه باندې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که همدا حالتونه راواخلو نو د ،، له کابل څخه و کور ته ځم. داسې لیکلی شو: د کابله کورته ځو. دلته که ،،څخه،، او ،، و ،، ونه لیکل شي، نو دا دې پروا ونه لري. دا کېدی شي پهډېرو ډولونو ولیکلی شو، خو دا دچا خوښهنه ده او نه لهدې امله، چې ګوندې سرې پر پوهېږي. بېرته همدې ته راځو، چې دا د ژبې دسم ښوولو لپاره ژبلاریز لامل نه شي کېدی، پیداښتنیمګړتیاوي نه مني او ناسمې دي.

ژبه چې په معیاري توګه څنګه جوړه ده همهغسې جوړه ده او بدلون يې ناپیداښتي دی.

په ژبه کې تاریخي وییونه، دا په دې پوهېدنه، چې هغه او دغه لیکوال داسې یا هغسې لیکلي، نو باید سم وي ( په دې پوهېدنه، چې باید معیاري وي) او یا دا چې هغه او دغه ژبپوه لیکلي، نو باید همهغسې وي، دا دواړه د یوه څه لپاره د ښوولو بسیا نه کوي. دا چې ژبه نوې ده، نو ژبلار هم نوې څېړل کیږي او دا څېړنه د ژبې د جوړښت په بنسټ کیږي، چې هغه سمه څېړه يې سمه ده یا هغه معیاري لیکندول يې باید سم وي او هغه سم دی.

خبرې نورې نه اوږدوم او په دې لار کې موږ ته د لا ډېرو بریاوو په هیله.

## دوه پرانستي غوښتنلیکونه:

د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي و ریاست ته دوه پرانستی لیکونه!

ډېرو درنو د پوهنتونو د پښتو استادانو، د پوهنې وزارت او د علومو اکادمي استادانو ته یو پرانستی غوښتنلیک.

سر له نن څخه مې وړاندیز دی، چې دا د پښتو د حالتونو، چې په پښتو کې څو حالتونه دې د ښوونځي په درسي نصاب کې او همدا ډول په نورو پوهنیزو پروګرامونو کې ورګډ شي، چې ډېر اړیین دی:

موږ په پښتو کې څلور حالتونه لرو، چې دا لاندې دی:

لومړی: کړونی حالت: دا هغه حالت دی، چې څه په کې کیږي، او یا کړل کیږيي.

دا حالت د هر کس یا کسانو لپاره دوه نومځاینیوي لرې، چې زه، ته ، هغه .... او ما، تا، هغه ..... دي. زه به دلته همدا یو زه او ما سره دا څېړنه یاښه يې روښانه ونه و مخ ته بوزم.

۱لومړی – هغه کړنه چې کیږي، په هغې کې د وختونو په هکله نومځاینیوی نه بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه: زه پاڅېږم او زه پاڅېدم. دلته د اوس او د تېروخت نومځاینیوی همهغه،، زه ،، دی.

۲لومړی – دا هغه کړنه ده، چې پرېکړونی لري او له دې امله کړل کیږي. په دې حالت کې وخت اړوند نومځاینیوي بدلیږي او په لاندې ډول:

۲لومړی۱ – زه ډوډۍ خورم. د دې اوس وخت لپاره، چې ډوډۍ پرېکړونې ده.

۲لومړی۲ – ما ډوډۍ وخوړه. دا د تېر وخت لپاره د ،، زه ،، په ځای ،، ما ،، راځي، چې دلته هم ډوډۍ پرېکړونې ده.

دویم: د پرېکړوني حالت: په دې حالت کې پر یوه څه یا چا باندې څه کیږي یا کړل کیږي.

دا حالت هم د لومړي حالت په څېر دی، خو د نومځاینیوو دندې یې دلته بدلیږي.

۱دویم: دا هغه حالت دی، چې پرېکړونی یو کړونی لري.

۱دویم ۱ – ما غورځوي.

۱دویم ۲ - زه دې وغورځولم.

۲دویم ۱- زه غورځېږم او

۲ دویم ۲ - زه وغورځېدم.

دا به دواړه اوس په یوه غونډله کې یوځای راوړو، چې کړونی او پرېکړونی په یوځای وي.

ما ته غورځوې. زه تا وغورځولم.

دریم: خاوندوالي حالت: په دې حالت کې یو د ،، د ،، مورفیم، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، د یوه نومويي سره یوځای راځي او د یوه چا یا یوه څه خاوندوالی وښایي:

لکه: دما کور یا د سپین کور. دا د کور خاوندوالی د مورفیم،، د ،، سره څرګندیږي.

یادونه: له دې امله په زما، یما او د ما کې د ما سم او معیاري دی.

نومونه: ،، د ،، د خاوندوالي حالت مورفیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: د پسېځاينيوو حالت:

په پښتو کې دا هغه د ژبې ستونځمنه برخه ده، خو که له دې سره سم کار و مخ ته بوتلل شي، کومې ستونځې نه زېږوي او راتلونکي ليکنې مو له ناسمونو ساتي.

دا به لومړی د کليتيکي دا په دې پوهېدنه، چې دلته د اينکليتيکي نومځاينييو سره وليکو:

يو - ( را، در، ور) ( څخه، سره، کره، کې، باندې، پورې، پورې، ته... که نور ومخ ته راغلل، نو لار يې همدا ده، کومې ستونځې نه لري).

دوه - دااوس د دې نور نومځاينيوو سره ليکو:

۱دوه - (له ما، له موږ، له تا، له تاسو....) ( څخه، سره، کره...)

۲دوه - (په ما، په موږ، په تا، په تاسو،...) کې

۳ دوه- ( پرما، پرتا، پر هغوي.... ) (باندې، پورې(۱))
۴ دوه - ( تر ما، تر تا، تر هغوي،....) پورې (۱)

۵ دوه - ( وتا، وما، وهغه،...) ته (۲)

......................

په پورته ليکنه( ۱ ) کې دا ويی ،، پورې،، دوه بېلابېلې پوهېدنې لري: دا د تر تا پورې کې دا ،، پورې،، پوله په ګوته کوي او دا بل ،، پور،، د يو څه پورې، چې يو څه نښتي وي، لکه د ما په کاليو پورې خټې وتپل شوې.

په ( ۲ ) کې ،، و ،، و پښتنو ته يا و ځنې پښتنو ته داسې نابلده برېښي، خو ګومان مې دی په کنداري ويېنو کې شته، خو همداسې دی.

اوس يې لږ روښانونه.

په پورته ليکنه کې له، په، پر،تر، و او ... ټول د اړونده حالتونو مورفېمونه دي، چې يواځې د نومخاينيوو سره د اړونده پسېځاينيوي لپاره موخه ور او اړونده پوهېدنه لري.

دا داسې ده، چې هر يو له دې مورفېمونو يو ټاکلی يا څو ټاکلي پسېځاينيوي لري او په څټ هر يو پسېځاينيوي يو ټاکلی اړونده د حالتونو مورفېم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ روښانونه: یو حالتمورفیم کېدی شي چې پسېځاینیوي ولري، خو هر پسېځاینیوی، ټیک یو د پسېځاینیوو حالتمورفیم لري.

د یوې پرېکړې لپاره: په پورته کې ګورو، چې دا له،په، تر، پر ... د حالتونو مورفېمونه دي او یواځې او یواځې په ،، دوه -،، کې د اړونده حالتونو سره راځي.
،،حالتمورفېمونه،، راته ښکلې نومونه برېښي. وبه لیکم، چې ښکلې نومونه ده او همداسې ده.

،، دوه-،، یواځې او یواځې یوه شمېرپوهنیزه کلمه ده، چې داسې ور ځخه پوهېږو:

حالتمورفېم سره اړونده حالت پسېځاینیوي او یوه اړونده حالتپسېځاینیوي لپاره ټیک یو اړونده مورفېم شته یا تنظیم شوی، چې بل هر ډول راوړنه یې ناسمه ده.

په پوره پام: دا مو د ټولو ناسمونونو مخه نیسي، لکه ټرټولو.. . تر منځ ، تر څنګه، چې پورې ورسره نه وي او نور.

لنډ: له دې داسې پوهېږو، چې دا مورفېمونه– که حالت مورفېمونه یې وبولو ښه به وي- په بل ځای یا له نا اړونده نورو پسېځاینیوو سره راشي، نو هرو مرو به ناسم وي.

داسې لړ د الماني سره پرتله کونه:

په الماني ژبه کې د هر حالت لپاره ځانګړي نومځاینیوي شته. لکه

ich,mein,mir, mich

خو په پښتو کې موږ د دې بدلونونو لپاره اړونده مورفېمونه لرو، چې هر یو یې خپله ځانګړې روښانوندنده لري.

پای یادونه: الف- ،، د ،، د خاوندوالي حالت مورفېم دی.

ب - ،، له،، ، په ، ، پر ، تر، و ،... د (اړونده پسېځاینیو) د پسېځاینیوي حالت مورفېمونه دي او له دې ځخه بله دنده نه لري او بله هر ډول کارونه یې ناسمه ده.

هیله ده، چې له دې سره به مو د پښتو ژبلارېزو ستونځوبیو لپاره یوه ښه روښانونه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړې وي.

که دا لیکنه درته د یوه پښتو ډاکتر لیکنه نه برېښي او له دې سره به یې ارزښت درته کم وبرېښي ( سمه خو ده) نو کړی چې و ماته د ما د ټولو پښتو لیکنو په چوپړ کې او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې توګه د حالتونو مېندنې، چې د پښتو پهژبپ،هنه کې یوه غوره میندنه ده یوه د پښتو دوکتورا هم راکړې. باور وکړئ، چې د پښتو په تاریخ کې دومره کار او سم کار و پښتو ته شوی دی. ګورئ، چې لیکنې مې په رېښتیا ځانګړې دي. ما د پښتو دوه ګرامرونه لیکلي، په پښتو کې نا سم رانښاسل شوي ویونه او نورې لیکنې.

هیییییله ده، چې ځانپالنه یې ونه بولئ، زه هر کار چې کوم، هغه د ما د ځان لپاره دی، چې ځان روغ وساتم او دا دنده یې له سره کړې. خپل کار په چا نه خرڅوم او نه په چا کوم احسان اچوم، خو له تاسو سره یې ګډونه اړیینه بولم، ګومان مې دی، چې و چا ته به په دې کې زیان هم نه وي، چې دا به بیا ناروا کار وي.

دا زه چې وړاندیز کوم، هرو مرو یوه ساده خبره نه ده. د دې باورې کېدو لپاره کېدی شي یو د پښتو پوهانو، د نورو پوهنو کسان او همداسې د علومو اکادمي له خوا څخه یو کنفرانس ترتیب شي، چې په هغه کې زه د خپل لیکلي وړاندیز سمون او اړیینوالی روښانه کړم، دا راته هرو مرو برېښي.

د دې حالتونو په څېړلو کې مې د نور په څنګ کې ډېر کلونه کار کړی، چې هغه په برېښنا کتابتونو کې هم شته – ketabton.com - او د اړتیاپه وخت کې یې زه ورلېږلی هم شم.

که تاسو په هکله د مالیکنې وګورئ، نو درته روښانه به شي، چې ما و دې لار ته د رارسېدو لپاره څومره ستونځې ګاللې دي، خو لاس ته راوړنه یې پوره روښانه ده، چې پوره ورته خوښ یم.

د فوق العاده ډاکترۍ راکړې غوښتنلیک!

په پښتو د ما د سترې او بې بدیله بریالۍ څېړنې په هکله د دې کار لپاره د فوق العاده ډاکترۍ راکړې هیله!

د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي و درنو پوهاندانو او ټولو استادانو ته په درناوي!

لکه چې ګورئ، ما په دې اخرو نږدې اولس کلونو کې د پښتو په څېړنه کې زیات کار کړی او ډېر اثار یا لیکنې مې خورې کړي، چې دا ټولې د پښتو تاریخ په اوږدو کې لومړنۍ او یواځنۍ پوهنیز کار دي، د ژبې له لارې به دا هم ووایم، چې لیکنې مې رېښتیا هم پښتو او ځانګړې دي.

په دې ټولو لیکنو کې هغه ستر کار دا دی، چې ما د څېړنو په بنسټ ماته دا بریا هم په برخه شوې، ومومم، چې پښتو هم په خورا روښانه او پوهنوړه توګه څلور حالتونه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له دې سره مو له یوې خوا څخه د ژبې ستونځې له منځه ځي او له بلې خوا دا د ژبې د ژبلار او ژبپهنې هغه غوره برخه او پوهنیزه بداییه ده، چې نوره هم پوره کیږي.

دا د یوه مسلک په پوهنیزه څېړنه کې یو ډېر ستر کار دی، چې باید د پوهانو له خوا یې ستایېنه او پېرزویېنه وشي او هغه د یوې فوق العاده ډاکترۍ ورکړه ده.

دا هیله مې د ځان لپارهنه ده، دامې د کار د لاس ته راوړنې له المه ده، چې وخپلې ژبې ته په درنښتوګورو او نور پښتانه ژبمینه وال هم مینه ورسره پیدا کړي. که چېرې د ما غوښتنه نا سمه او ناروا وه، نو هغه په ډېرو ستونځو ولاس ته راوړې د شمېرپوهنې ډاکترې دې راڅخه واخستل شي او په مطبوعاتو کې دې هم په پراخه توګه د ماغندنه وشي.

ایرګاتیو ژبې

د الماني اکوزاتیو او پښتو ایرکاتیو یو څو غونډلې د پښتو د اړونده غونډلو سره پرتله کونه یا د غونډلو یو په بل اړونه، دا چې پښتو په کومه ژبډله پورې اړه لري، د ژبلار په مټه پېژندل کیږي، نو ما مخه دې ته دومره غوره نه ورکاوه او ځان مې هم ورسرهبوختاوه، خو د ځنو م ک ملګرو د ګوتنیولو له امله مې دې ته هم داسې لړ پام راواړاوه او غواړم لږ کار په کې وکړم یا لنډ

دا چې ژبه په کومه ژبډله کې ده، دا د ژبې جوړښت څخه راباسل کیږي. موږ ته اړین دا دی، چې ژبلار مو له ژبې څخه سمه را وباسو، چې له امله د ما دا اخرنی لیکنې و ماته ښې مناسب برېښي.

Ergativität ایرګاتیویتي ( لاتین: *erga* مخامخ، نږدې)

ایرګاتیویتي یا لنډ ایرګاتیو په ژبپوهنه کې د غونډالبرخو حالت په نخښه ونو سیستم دی، چې دا و یوه نومیز-اکوزاتیو ته مخامخ دی. په ایرګاتیو سیستم کې د ترانزتیو غونډلې نوم یا ښه یې نومويي په ایرګاتیو حالت کې دی، په داسې حال کې چې اینترانزیتیو غونډله کې ابسولتیوحالت غوره کوي یا لري.

په یوه نومیناتیو- اکوزاتیو ژبه کې لکه الماني، د دې مخامخ دواړه په همهغه حالت ( نومیز حالت، بېلګه: *Der Mann* geht – *Der Mann* sieht den Hund پښتو یې : سړی ځي- سړی سپی ګوري ). په پورته غونډلو کې ګورو، چې سړی په کړوني حالت کې دی، چې پربکړونی نه لري، خو په دویم حالت کې پربکړونی لري یا د الماني په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکوزاتیو نه دی. بل ډول یې لیکو: (په بخښنه، چې وهل په کې راولو او د سړي او سپي پرځای باندې نومځاینیوي ولیکو). الماني:

Er geht- Er schlägt mich هغه ځي، هغه ما وهي. ،، هغه،، په دواړو حالتونو کي کړونی دی او دویمه غونډله یاغونډلبرخه کې ،، ما ،، پرېکړونی دی. له دې څخه داسې پوهېږو، چې پښتو اکوزاتیو ژبه نه ده. د ابرګاتیو لپاره یې لاملونه همداسې دي.

دا کېدی شي د الماني اکوزاتیو غونډلو څخه هم څرګنده شي، چې د الماني اکوزاتیو حالتونه د پښتو په کومو حالتونه بدلېږي.

لنډ بیا: ترانزتیو ( پرېکړونی نوموییونه یا ویونه، چې په یوه څه، څه کیږي، لکه خوړل): لکه په الماني کې schlagen په پښتو کې وهل. دا ویی په الماني کې د نومیناتیو اکوزاتیو حالت کې راځي، خو په پښتو کې د کړوني پرېکړوني حالت کې راځي، لکه

الماني:ِ Er schlägt mich

په پورته غونډله کې Er کړونی او mich اکوزاتیو دی، خو په پښتو کې :

هغه ما وهې. هغه کړونی، ما دلته پرېکړونی دي. دې ته دې پام وي، چې په پښتو کې ،، ما ،، دکړوني او په دې حالت کې د پرېکړوني دواړو لپاره راځي.

بیا دا په یاد راوړم چې د پښتو ژبلار سمه د پښتو ژبلار له لارې څخه ولیکو، هر څه په کې روښانه کیږي. ابرګاتیو د نومیناتیو/ اکوزاتیو ژبو سره په همدې بنسټ پرتله کیږي، چې دا روښانونه یې بې له دې، چې دا نوم راوړم روښانه دي.

په لاندې غونډلو کې هوسۍ د زوربدونې رول لري. له دې داسې پوهېږو، چې هوسۍ په دې غونډلو کې کړونی رول نه لري

(Der Vater schlägt Hosei.“ (Aktiv,,

۱. پلار هوسۍ وهي ( کړونی)

(Hosei wird vom Vater geschlagen.“ (Passiv,,

۲ . هوسۍ د پلار له خوا څخه وهلکیږي. ( نه کړونی یا پرېکړونی).

په لومړۍ غونډله کې پلار کړونی دی او هوسۍ د الماني د اکوزاتیو حالت کې ده او د پښتو په نه کړوني – یا پرېکړوني حالت کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دویمه غونډله کې پر هوسۍ باندې څه کړل کیږي، خو اوس هم د برېکړوني یا ښه یې نه کړوني په حالت کې ده.

یادونه: د دې روښانونه لړ ستونځمنه ده، خو داسې به ولیکو، چې په لومړۍ غونډله کې یو کړونی شته، دا په دې پوهېدنه، چې دا اېرګاتیو غونډله ده او په دویمه کې کړونی نه شته. یا داسې:

سِپي ملنګ وخوړ

پام، سپی خوري

په دویمه غونډله کې .....

به لاندې کې الماني غونډلي د اکوزاتیو مخځاینیوو سره دي.

Du kanst das durch mich bekommen

ته کړی شي دا د ما له لارې - یا له خوا څخه ولاس ته راوړې.

دا د خاوندوالي حالت دی

Die Steine liegen entlang meines Hauses

تیږې د ما د کور پر اوږدو یا اوږدوالي باندې پرتې دي

dieses Buch ist für mich bestimm

دا کتاب د ما لپاره ټاکل شوی

Er ist gegen mich

د الماني اکو حالت دی او لاندې ژباړه یې د پښتو د خاوندوالي حالتدی.

هغه د ما مخامخ دی

Er geht ohne mich

هغه بې له ما څخه ځي.

Rund um mich

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ما پر شاوخوا باندې

یادونه: دا دې د پورته غوندلو پر بنسټ باندې هم په ګوته وي، چې اکوزاتیو د اکوزاتیو مخځانییو سره کېدی شي، د پښتو د خاوندوالي یا هم داتییو یا د پسېځاینیوو حالت غوره کړي.

ګوری، چې دلته د پورته روښانه کول په پښتو ستونځمن دي، که دا پوښتنه ولرو، چې زه و دې سړي ته څوک یا څه شی بېرته ورکوم؟ ځواب، به دا یا د هغه خولی وي) او دا د ښوونځي ژبلار کې د څوک حالت هم بلل کېږي.

## د اکوزاتیو د بېلګو ځنګه والی په پښتو

د الماني اکو حالت په پښتو کښې کړونی-، نه کړونی- او همداسې د خاوندوالي حالت دی: زه یو بېوزله سړی همداسې بد میندم لکه نه کوم سړی( نه سړی، راته لږ ښه ونه برېښېد).

بله بېلګه: د الماني نومیناتیو د پښتو کړونی حالت: یوه بده ازمویېنه همداسې بده ده لکه د پوهنځي پرېښودی درس.

د الماني اکوزاتیو د پښتو کړونی حالت: زه یو خراب کارځای همداسې بد میندم لکه نه کارځای.

د پوستپوزېشن په څېر هغه وییونه پوهېږو، چې چې نور وییونه یو له بل سره په اړیکو کښې راولي. لکه څخه، سره، و ، پورې او نور.

(einem Bericht *zufolge*“ (+ Dativ,,

له یوه خبر پسې

(meiner Meinung *nach*“ (+ Dativ,,

د ما پر اند باندې یا د ما له فکر څخه.

(den Fluss *entlang*“ (+ Akkusativ,,

د سیند پر اوږدو باندې

(des Geldes *wegen*“ (+ Genitiv,,

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیسو له امله

په پښتو کې لومړی د پسېځاینیوو حالت دی او دا نور د خاوندوالي حالتونه دي.

ما په دې خپلو اخرنیو لیکنو کې و ښوولـه یا ښه یې ومیندله، چې پښتو یواځې پوستپوزېشنونه لري.

له پورته پښتو غونډلو څخه داسې برېښي، چې پښتو غونډلو کې یواځې پوستپوزېشنونه ځای شوي او لکه پوهېږو چې پښتو یواځې پوستپوزېشنونه لري.

په پای کې مو دا یوه اړیېنه لاس ته راوړنه ده چې:

د ژبو ژبلاریزه څېړنه په دې پورې اړه نه لري، چې ګوندې دا ژبه په کومه ژبډله کې راځي. ژبلار پخپله د همهغې ژبې په لار باید ولاړ وي. دا د ژبو ډلې چې پېژندل کیږي یا په ډلو وېشل کیږي، بنسټیز توپیر یې په حالتونو کې دی، چې له همدې امله د ژبو یوه ډله نومېناتیو/ اکوزاتیو او بله ډله یې نه اکوزاتیو ده یا اېرګاتیو ده، چې پښتو هم له همدې ډله څخه ده. ما چې اوس داسې لړ د اېرګاتیو له پېژند او داسې لړ د څېړنې لاندې نیولې، نو پوهېږم، چې دا وروستۍ څېړنه یا څېړنې مې په همهغو لارو ولاړې دي او کوم بدلون ته هم په کې اړتیا نه پېښیږي، نو په ژبه کې باید د ژبلارې کړنلار سمه او له ژبلاریزو لارو سره برابره وي.

یوه یادونه به دلته ولرو، چې ژبپوهنه هم یوه پراخه یا ستره پوهنه ده، چې په یو څو کتابونو کې هم نه پوره کیږي، چې یو توانمند مرکزي دنده لرونکي څه ونه لري، چې تر هغې پورې موږ هم ورته ناکړوني نه شو کښېناستلی.

یوه غوره څرګندونه:

ما ډېر یا نږدې اولس کاله له دې څخه پیل وکړ، چې د پښتو یا په پښتو کې ناسمونونو باندې څه ولیکم، چې دا کار مې وکړ، خو له دې سره سم د ژبلاریزو یو لړ ستونځو سره مخامخ شوم او اړ شوم، چې ژبلاره کې هم داسې لړ څه کار وکړم، چې په پای کې مې درې د پښتو ژبلار کتابونه او نور په ژبه اړوندې لیکنې وکړې، چې ټولې په ډېرو برېښنایي خپرونو کې خورې شوي، چې د هغو له ډلې څخه درنې خپرونې ټول افغان، تاند، دعوت خپرونې دي او د کتابونو په څېړ دا لیکنې د کتابونو سترې برېښنایي زېرمتون په کتابتون.کوم کې خورې شوې، چې زه ورڅخه د زړه له کومې خوښنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه باید وکړم، چې روغ وم، خو نه پوهېږم چې څه؟ که رښتیا ووایم د پښتو لیکنو سره هم ستړی شوم ( اولس کاله هم ډېر وخت دی او هره ورځ مې ډېر ساعتونهکار کړی)، که څه هم چې کار په کښې ډېر دی.

که څوک مې د لیکنو سره ستړي کړي وي، نو وما ته دې بخښنه وکړي.

که دما حالت څېړنو په هکله لیکنو ته پام وکړو او د نومیز/اکوزاتیو ژبو توپیر د اېرګاتیو ژبو و توپیر ته سره وګورو، نو همداسې کېدی شي، لکه څنګه چې پېژند کې شته.

کړونی حالت، چې د الماني د نومیناتیو سره ورته یا برابر دی او پرېکړونی حالت، چې د ترانزیتیو کړنوي سره وي، د پښتو کړونی حالت دی یا د پښتو د کړوني حالت ته ورته دی. د خاوندوالي حالت او د اتیو یا د پسېځاینییو حالتونه همداسې دي، لکه د الماني ګینیتیو او داتیو حالتونه.

یو بل غوره توپیر د دواړو حالتونو په منځ کې نومځاینیوو هم دي، چې په الملني کې بڼه بدلیږي، خو په پښتو کې دا تسیا بیا د اړونده مورفېمونو سره ډکیږي لکه، ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم او ،، له، تر،...،، د داتیو غونډلو سره اړوند مورفېمونه دی، چې د ،، ما ،، سره یوځای د ،، ما،، پوهېدنه د حالت سره سمه بدلوي.

د الماني جینیتیو:Mein Buch

پښتو د خاوندوالي حالت: د ما کتاب.

په پښتو کې ،، ما ،، د مورفېم ،، د ،، په مرسته او ورسره خپل د ،، ما ،، پوهېدنه و ;;دما ،، ته واړوله.

،، د ،، خاوندوالی مورفېم دی.

د الماني ژب داتیو:

Von mir, mit mir, bis mir, zu mir

د الماني اکوزاتیو: auf mich

دا د پښتو داتیو کیږي: پر ما باندې.

پسېځاینیوي یا داتیو حالت پر پښتو باندې انډول یې د پروکلیتیکي یا د مخه تکیه اړ نومځاینیوو سره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



( را، در، ور)( ښځه، سره، کره، پسې، کې، باندې، پورې، ته...)

که پورته ته وګور، نو وينو، چې دا کټ مټ يې په پښتو اړونه د المان داتيو ته ورته دي

د نوميزو نومځاينيوو سره:

له ما ښځه(سره،کره، پسې) ، په هغه کې، پر تا باندې، تر هغه پورې، ,وتا ته ,......

په پورته کې ګورو، چې له ،، ما،، ښځه دمخه له، په، پر ، و او ...... لرو. دا چې ،، ما، تا، هغه .... ،، لرو او دا د کړونو لپاره راځي، نو دا ،، ما ،، ښنګه نه کړونی یا پرېکړونی، دا په دې پوېدنه، چې د پښتو داتيو، ا ګينيتيو کيږي، چې بايد له کړوني حالت ښځه را واوړي. دلته دا ،، له، پر، او دا پورته نور چې لرو، کومه پلواکه پو هېدنه نه لري او دا نورو ويبونو ته د خپل ځن سره يوه بله پو هېدنه ورکوي، که دا ،،له ما،، = mir کيږي او همداسې دا نور هم. د ما تېرې ليکنې کتلی شی.

دا چې ځو ليکنې غبرګې کوم او خونديونې يې سره نږدې دي، دا سې له ګډوډي کېدی په دې کې راشي، خو هڅېږم، د ناسمونونو مخه نيول شوي وي.

د پام و: له هغو م ک ملګرو ښځه، چې د ما په ليکنه کې ژبلاريزې يا نورې ستونځې او ناسمونوونه ورته برېښي، هيله ِه د ما د پو هېدنې لپاره هم داسې روښانه په ګوته کړي.

که ليکو، چې داښه نه دئ يا دا داسې ده دی، نو بايد ور سره مل وليکو، چې ولې، له يو بل سره د پو هېدنې له امله. ستاسو له ستونځو هم مننه

ډاکتر ماخان مېړی شينواری

افغان- - او دباندني پښتو پوهان

له پيل ښځه ځو اړيينې يادونې:

۱ - يو هيواد او ښه يې د يوه هيواد وګړي، چې وروسته پاتې وي، نو هغه په پوهنه او هره پوهنه کې هم وروسته پاتې وي. موږ ژبه هم –لکه ښنګه چې ده – د ژبلارې له لارې ښځه بېرته داسې نه ده ورکړې لکه چې لارې ورته لرو.

۲ – موږ د خپلې ژبې د هر اړخيزه ودې لپاره – لکه ښنګه په نورو پوهنو کې – هم له نورو ژبو ښځه ګټه اخستلو ته پوره اړ يو، خو په يو ځه بايد ډاډه وو، چې موږ په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه باندې له هغوي ( د نورو ژبو له پښتو پوهانو) څخه ښه پوهېږو، موږ چې له هغوي څخه زدکړه کوو او باید ویې هم کړو، هغه د ژبلاریزو کلمو د پېژندونو دي، چې هغه باید له هغو راواخلو او خپله ژبه ورسره، د خپلې ژبلارې په لار سنبال کړو.

موږ خپله ژبه هم بې له دباندنی ژبې مرستې څخه پرته و مخ ته نه شو بیولی، که څوک غواړي، پر خپله ژبه باندې و پوهیږي.

اوس به و خپلې موخې ته راشو:

ډېر واره یا ټل افغان پښتوپوهان، چې خپلې لیکنې باوري کوي، نو د دباندنیو پښتوپوهانو لیکنې راوړي. ما د ډېرو د باندنیو پښتوپوهانو لیکنې په ویکیپېډیا او نورو  د پښتو لپاره په لیکنو کې وکتلې او دا پوره د څوښی ځای دی، چې ډېرې دي.

دوي دواړو ډلو ناسمونونه کړي او یا نه پوهیږي ( که نادرښت وي، د دې ډېره بخښنه غواړم، دا ځکه لیکم، ژبپوهان دې ته راوهڅوم، چې د ما په دې هکله لیکنې رد کړي)، چې  د ژبې جوړښت سم بېرته ورکړي یا سم ورکړي. زه هم  نه شم ویلی، چې دا ناسمونونه چا له چا څخه رانیولي او په دې ناروغی موږ ټول اخته یو.

زه  دلته یواځې هغه ناسمونونو ته د ګرانو لوستونکو پام رااړوم.

د موږ ستونځې چېرته دي؟

و به ګورو، چې د موږ ډېرې ستونځې په حالتونو کې دي، چې څو لیکنې په لرم او دابه دلته لنډ بیا د دوي د لیکنو په بنسټ وڅېړو. هغه د هوښیارو خبره، چې موټی د خروال نمونه ده.

ما داسې لږ څه د یوې پښتو لیکنې څخه را کاپي کړې، چې داسې څه ترې راواخلو بسیابه وکړي. دا غونډله به راوړو:

بېلګه: د ،، په،، سره لیکو چې ،، په لار،، یا په لاره: لاندې الماني او پښتو یې:

“auf dem Weg,, په لار یا په لاره

بېلګه یې له پیل څخه راوړې، چې د ،،په لار،، لپاره ،،په لاره،، هم لیکلی شو

دا غونډله نو باید د الماني غونډلې پر بنسټ باندې لیکل شوې وي، نو بسیا کوي، چې د لیکونکي له خوا یې د پښتو انډول  وڅېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماني غونډله کې و موږ ته د خبروauf دی، چې څه ترې پوهېږو.

په پورته ليکنه کې د الماني auf د پښتو په ،، په ،، زباړل شوی او همدا رنګه يې په لار يوه ه ورزياته کړې او لاره يې ورڅخه جوړه کړې، چې په دواړو کې د الماني auf پوهېدنه سمه نه ده ورکړ شوې. له بلې لور څخه ،، په،، له داتيو حالت سره راځي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو داسې ليکل يې ناسم دي.

د دې لپاره بېلګه: په کور کې. بل ډول دا غونډله نه راځي يا يې په بل ډول راوړل ناسم دي.

ناسمونونه دواړه ډلې کوي او دا غوره نه ده، چې څوک دا ناسمونونه کوي، خبره داده، چې موږ بايد يواځې په ځانونو باور پيدا کړو، نور د موږ لپاره ژبه نه شي ښه يا سمه کولی. وبخښی ژبه خو سمه ده، خو ژبه دسمې ژبلارې ميندنه ده

دوی هم په خپله ژبه کې يو څه لري هغه ګوري او زه يې د ده په ژبه کې هغه اړيين څه ګورم، خو زه يې بيا پرخپله ژبه باندې له ده څخه ښه بايد وليکم او اوس يې له اولس کاله وروسته يا هلو ځلو ښه ليکم او بايد ښه يې وليکم، چې ور باندې يا پر دې باندې باوري يم.

دوی ليکي، چې دا ستونځې يواځې په څرکوم پوزېشن ،،په... کې،، کې او همداسې په له ... څخه، له ... سره، تر ... پورې، پر ... باندې او نورو کې دي. رښتيا وايي، ستونځې رښتيا همدلته دي، خو دوي لا تر اوسه پورې په دې نه دي پوه شوي، چې ولې او څنګه دا ستونځې دي؟

لنډ سمون: په پښتو کې موږ يوآځې پوستپوزېشنونه يا پسې ځاينيوي لرو، نو دا هېڅ ستونځې نه دي.

د داتيو حالت جوړښت

له هر څه څخه به لومړی دا ووايو، چې پښتو يواځې پوستپوزېشنونه يا پسېځاينيوي لري او بس.

نو و الماني ليکنو ته: دوي دباندني او افغان ژبپوهان ستونځې يا ځانګړتياوې په ،، په ... کښې، ،، او همداسې ټولو نورو د داتيو حالت پسېځاينيوو او حالت مورفېمونو کې ګوري، دا د موږ ستونځې هم دي. دا ما په خپلو ليکنو کې تر هغې پورې، چې پر دې حالت داتيو باندې سم نه وم پوه شوی ليکل. نو اوس ګورو، چې دلته د رېکتوس ستونځې نه شته، ستونځې دا دي، چې موږ په ځانګړې توګه د ژبلار حالتونه نه دي پېژندلي او د ژبې هغه لويه برخه ستونځې مو دلته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې يې :.

زمونږ کره ځو. سم يې: له موږ کره ځو:

دا به لږ روښانه کړو ، چې ولې:

لومړی: ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی، چې بيا بايد وليکل شي: د موږ کره ځو.

دويم: کره خو! ځښتن نه لري.

دريم: موږ په پښتو کې تکيه اړ نومځايونه لرو، چې له هغې سره يې تللی ( چې دا سې وييبنه به سمه وي او که ؟ فکر به ورته وکړو). کور: کور مې په کابل کې دی، خو نه شو ليکلی، چې کره مې.

ليکلی شو: راکره، خو نه شو ليکلی کره..

که دلته له هرکوم تکيه اړ نومځاينيوي سره سم راته، خو بيا د هممغې ډلې دی.

همداسې په لاندې کې: ته و يو چاته ليک استوې او نه يو چا ته. په دې هکله د ما دا اخرنۍ ليکنې کتلی شې.

دی عبدالرحمن ته ليک وراستوی. سم يې

دی وعبدالرحمن ته ليک وراستوی

-- له ،، د ،، سره د خاوندوالي يا جينيتيو جوړښت هغه وييونه، چې د خاوندوالي مورفيم ،، د ،، يې ومخ ته نه راځي. ،، د ،، پرېپوزېشن .. . دا ناسم دي. سمونونه به يې د الماني په برخه کې وليکو ، دا به دلته ووايم، چې ،، د ،، پرېپوزېشن نه دی. ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی. الماني، پښتو

د دې لپاره دوي ليکي:

Handbreit, Spanne، لوېشت ( دلته د خاوندوالي څه نه شته)

د الماني انډول پر سمه پښتو باندې: د لوېشت سور يا لوېشتسور، غزونه ( سور)

Reihe, Serie. لړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يواځې نومونه دي او بس. كه يو څه په يوه لړ يا لړۍ پورې اړه ولري يا د لړ يا لړۍ وي، نو ليكو: د لړ ... يا د لړۍ....بېلګه: ګورۍ، چې ژباړه يې يو پر بل باندې ناسمه كړې. دلته د خاوندوالي څه نه شته، چې ،، د ،، ورسره راشي. دوي ليكي:

jene Gruppe von Wissenschaftlern

د دوی لخوا يې پوهېدنه: هغه ډله پوهان

له پورته پښتو څخه يې سمه الماني:

jene Gruppe der Wissenschaftger

له الماني څخه يې سمه پښتو: له پوهانو څخه هغه ډله يا هغه ډله له پوهانو څخه. دلته پښتو، الماني يو په بل ناسم وركړل شوي.

Zu mirدا د الماني داتيو حالت دی

او پښتو پوهېدنه يې. ،،وما ته،، ده. دلته وما د mir په پوهېدنه او دzu

پوهېدنه ،، ته ،، ده او په څټ.

ولې وما؟

ما كړوني دی، چې دلته نه شي راتللی، ځكه چې دا پښتو كې داتيو يا د پسېځاينيوو حالت دی، دا ،، و ،، د اړونده حالت يو مورفېم دی، چې پخپله خپلواكه پوهېدنه نه لري، خو له ،، ما ،، سره يوځای د داتيو حالت نومځانيوی دی. دا په دې پوهېدنه، چې ،، وما،، = ،، mir ،،

ich habe dich geschlagen :پسې

پښتو انډول يې: ما ته ووهلې. دلته ،، ما ،، كړونی دی او ،، ته ،، پرېكړونی دی، چې د الماني اكوزاتيو د پښو په پرېكړوني واوښت. او په ياد دې وي، چې dich په الماني كې د اكوزاتيو نومځاينيوی دی.

einer von anderen; von einander:دوی ليكي

دوی د پښتو انډول ليكلي: ،، يو له بله،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هکله مې ليکنه کړې، چې په پښتو کې له وييونو څخه تېرېدل ناسم دي، ،، يو له بله ،، ناسم دی او سم يې يو له بل څخه دی.

د الماني پښتو انډول: له يو بل څخه بېل شو. يو له بل څخه بېل شو.

د پښتو نومځاينيوي او حالتونه:د يو ګړو لپاره: زه، ما د کړوني او پرېکړوني ځانيز نومځاينيوي دي، خو په بدله بڼه کې او دا په لاندې ډول:

کړونيحالت يا ترانزيتيو حالت کې: زه وهم، ما وواه

کړوني حالت يا اينترانزتيو حالت کې: زه ځم، زه لاړم.

پرېکړونی - يا اينترانزتيو حالت کې: ما وهي، زه ووهلم

د ډېر ګړو لپاره په دواړو حالتونو کې همهغه موږ، تاسو، دوي..... دي.

اوس پرېکړه لږ ستونځمنه کيږي، چې ايا دا اوس دواړه په رېکتوس او اوبليکوس کې يو يا يو ډول وګورو او که د يوګړو لپاره چې توپير په کې شته سره بېل وګورو. دما اند خو دا ده، چې دا په يوګونو کړونو کې بېل دی، نو سره بېل دي.

په الماني ژبه کې د حالتونو سره نومځاينيوي بدليږي، خو په پښتو کې نومځاينيوي نه بدليږي. په پښتو کې د حالتونو او په خاوندوالي او داتيو حالت کې د اړونده حالت او د داتيو حالت کې د پسېځاينيوو اړونده مورفيمونه د ځانيز نومځای نيوي ،، ما ،، سره ور زياتيږي او د دواړو ګډه ليکنه د پسېځاينيوي اړوند پوهېدنه بدلوي، د الماني حالتنومځاينيو په څېر.

په بخښنه داسې لږ دې د ما نه، خو د ليکنو لږ ستايېنه وي:د ما ليکنې يواځنی دي، ځکه په پښتو کې په دې هکله ليکنې نه شته او که ما سهوه کړي وي، خوښ به شم او راته و يې ليکي.

# راځئ، چې پښتو سمه زده کړواو

ګرانو ژبپوهانو!

ليکوالانو او پښتو مينه والو!هر ځای کې چې ليکونکي د ژبې د ژبلاريزو ناسمونونو سره مخامخ کيږي، نو مسؤليت يې د ژبپوهانو په غاړه دی، چې لږ تر لږ يې د ليکنو وروسته ورته سم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځی، چې پښتو سمه زده کړواو ژبلاریزه سمه یا پر ژبلار باندې یې سمه ولیکو.

په بخښنه که داسې لږ ستوغ پیل مې کړی وي، خو موخه مې همدا راپارول دي.

موخه: یا باید و ما ته همداسې ستوغ ځواب راکړی، که ناسم څه مې ولیکل او یا – که سم وي – باید د سمون لپاره له هره اړخه کار واخلو او د ما د سمونونو ملاتړ وکړی.

-- د ژبې په ژبلار کې و سم لیکلو ته لار هوارول د ژبپوهانو دنده ده. تل یې باید دې ته پام وي، چې د ناسمون په حالت کې د ژبلار په مټه او د هغې پر مرسته باندې یې سمه ولیکي.

دا کار تر اوسه پورې نه دی شوی، که د ما لخوا به هم تاسو له ستونځو سره نه مخامخ کېدی. که په ژبه کې ناسمونونه ګوری، نو پر هغه څه باندې یې چې ما راټول کړي او لیکلي، مخه نیول کېدی شوه. اوس باید د پښتو ژبلار سره سم و هر څه ته ژبپوهان پام وکړي.

پښتو – لکه نورې ژبې هم – ډېره ښه او روښانه ژبلار لري، خو په دې لار کې پوره کار نه دی شوی. زه بیا ټینګار کوم، چې په پښتو کې له دې لیکنې څخه پرته د حالتونو او نور ژبوییونو په هکله مې هم پوره میندنې کړي او ستاسو و مخ ته مې ایښوولي، چې د هغې په مرسته هم د داسې تېروتنو مخه نیول کېدی شي.

خبرې رالنډوم: دا ډېر کلونه کیږي، چې د دې یو څو غونډلو سره تاسو ته د سمون د وړاندیز په هکله په اخ و ډب کې یم، خو نه څوک د ناسم او نه د سم څه وایي. هیله ده، چې راځی نور یې سم ولیکو، که دلایل مې ژبلاریز نه وو، هغه هم په کلکه رد کړی، خوښ به شم او له جنجال څخه خپلواک. باور وکړی، چې زه د دې ناسمونونو سره پوره زوریږم.

لولم:

لومړی: تر ټولو ستر( ښکلی، جګ او ...) فوټبالر.... مړ شو.

دویم: تر ډېره برېده .....

دریم: وروسته تر هغه چې طالبانو په ...

څلورم: تر ډیره د داعش فعالیتونه تروېجوي

له دې د مخه به یو څو- د دې موضوع اړوند -- اړیینې پېژندنې راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو حالتونو څلورم حالت باندې یو څو کرښې:

دا د ما په ډېرو لیکنو او اخرني کتاب کې پوره روښانه شوي، خو

لنډ: په پښتو کې تر، له، په، پر، و... یو سېلبې مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او هر یو یې د حالت اړونده له پسېځای نویو سره مل له نوموییونو څخه د مخه راځي. د دې موخه دا ده، چې د نومځاینیوي- چې په پښتو کې تل په کړوني – یا پرېکړوني حالت کې دی- دنده بدله کړي. دې ته ځکهاړتیاده، چې په پښتو کښې نومځانیوي بڼه نه بدلوي یا نه ګرانیږي.

لکه: تر ما پورې، یا له ننګرار څخه تر کابل پورې. دا په دې پوهېدنه، چې تر پرته له داسې کاروني، چې ،، پورې،، ورسره نه وي، په بل ځای کې نه راځي او کارونه یې و ناسمونونو ته لار پرانیزی.

د نورو لپاره که غواړئ تاسو غونډلې ولیکي، خو لنډ یې د تکیه اړ نومځاینیوو سره:

(را، در، ور) ( سره،کره،پسې، څخه، کې، باندې، ته ....).

خویوییونه:

د خویوییونو Das Adjektiv لنډه روښانونه.

له لاتین څخه، پوهېدنه: ،،ورزیاتونه،،، دا بڼه ورسره جوړیږي، ځکه چې د نوموییونو سره یو څه ورزیاتیږي. دا دي ،، ښکلی،، ، ،، خواشینی،، ، ،، رنګه،، ، ،، هوار،،.

دې وییونو ته په عربي کې صفت وایي او له دې امله پښتو پوهانو ستایینوم بللی.دا خویوییونه هم بلل کیږي او یا ورسره وییونه.

ما په خپلو لیکنو کې دا خویوییونه بللي او دا یې د ما په اند ښه نومونه ده. خویوییونه په پښتو کې د نوموییونو ومخ ته لیکل کیږي. په پښتو کې خویوییونه بڼه نه بدلوي. په پښتو کې خوییونه جګیږي، خو په پښتو کې د پای ورزیتونې سره نه. په پښتو د دې زیاتونو یا جګېدنو لپاره ځانګړې ژبوییز توکي شته لکه، ډېر، خورا ډېر یا زښتډېر.

دا سړی جګ (ډېر جګ، خورا ډېر جګ، زښتډېر جګ) دی. د جګ پرځای باندې هر یو خویویی راتللی شي.

یا حالتونه، لکه لوند، وچ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غونډلو کې: سږ کال خورا ډېر انګور شوي دي.

.... ډېر جګ سړی. زښتډېر ګړندی بایسکل ځغاستی.

د خویوییونو سره یو کس، یو حیوان یا شی کره پېژندل کیږي.

کېدی شي د یوه کس لپاره پرلپسې څو خویوییونه راشي. لکه: هغه سپین، جګ، سورکمیسی سړی، چې راروان دی.

اوس نو خپله موخه روښانه کوو.

و لومړي ته:

،، تر ټولو،، لاندې څه نه پوهېدل کیږي؟. که وپوښتو، چې له ،، تر ټولو،، څخه به څه وپوهېږم، خو زه څه ورڅخه نه پوهېږم.

په ،، تر ټول ،، ،، تر،، مورفېم دی، چې چې خپلواکه پوهېدنه د نومویيونو د مخه راځي چې پسې یو اړونده یا تل همهغه پسېځاینیوی راځي او ،،ټول،، خوي دی. نو له دې امله ،، تر ټولو ،، د پوهېدنې څه نه لري. دا په دې پوهېدنه، چې له دې د پوهېدنې لپاره یو څه یا څوک راښی او اړونده پسېځاینیویی، چې یو څه و ښوولی شي. .... تر ټولو جګو خلکو پورې مې ځان ورساوه.

که دا د پرتله کونې له امله کارول کیږي، نو د پرتلې لپاره داسې لیکو: ... و نورو فوټبالرانو ته ستر(ښکلی، جګ او ... ) او یا له نورو فوټبالرانو څخه ستر(ښکلی، جګ او ... ) وو مړ شو.

ګومان مې دی دلته خبره د پرتله کونې نه ده، دلته خبره په ستر(ښکلی، جګ او ... ) کې ده، چې دا ستر(ښکلی، جګ او ... ) جګوي.

-- تر ټولو ډېر لیدل شوی. دا هم موخه ور نه دی او ناسم دی. دا به وي: ډېر خورا ډېر، زښتډېر لیدل شوی سړی.

-- د ګاناډا ځوان د نړۍ تر ټولو لوړ سړی ګڼل شوی. دا غونډله هم څه نه وایي.

دا به داسې سمه ولیکو: د ګانا دا ځوان په نړۍ کې ډېر - خورا ډېر – یا زښتډېر لوړ سړی ګڼل شوی. یا د کاناډا دا ځوان د ټولې نړۍ و جګو خوانانو ته ډېر – خورا - ، زښتډېر جګ سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا  ستر(ښکلی، جګ او ... ) خوي ویونه دي، چې په پښتو کې یې ښه نه بدلیږي او د دې خویونو د ځګېدني لپاره ډېر، خورا ډېر او زښت ډېر لرو. دا به نو داسې ولیکو: ډېر( خورا ډېر ، زښتډېر) ستر(ښکلی، جګ او ... ) فوټبالر مړ شو.

دا ګوره کوټلې او ډېره ساده لیکنه ده.

و دویم ته: تر ډېره بریده...ډېر برید یا ډېره پوله نه شته، نو له دې امله څه ورڅخه نه پوهېدل کیږي. ډېر د ډېرګنو لپاره راځي او پوله یا برید یوګنی دی، چې له دې امله ناسم دی. سم یې : تر ډېرو بریدونو پورې یا له برید څخه ډېر یا اخوا، تر لرې بریده پورې یا تر لویه بریده پورې او داسې نور.

بیا دواړه لنډ: ،، تر ټولو ستر،، نه شته او همداسې ،،تر ډېره بریده،، هم نه شته.

او یا هم تر ډېرې کچې، یا د کابل په کچه.

## کچه د معیار یا سویې پر ځای باندې کارول ناسم دي.

،،تر اغیزې لاندې،، دلته هم ،، تر ،، ځای نه لري. دا ،، لاندې،، باید د یو څه لاندې وي او دلته به دا ،،لاندې،، دلته ،،د اغیز لاندې،، دی.

دا هم: ،، د بیجینګ او ریاض ترمنځ،، . دلته هم ،، تر ،، ځای نه لري. سم یې: د بیجینګ او ریاض په منځ کې.

-- او تمرینونه تر سره کوي. دلته هم ،، تر ،، څه نه دي ورککړي او سم یې: او تمرینونه و سر ته ورسول یا تمرینونه و پای ته ورسول.

- د نورو علومو تر شعاعو لاندې. سم یې: د نورو علومو د شعاع لاندې.

- د هغو ژبو تر تاثیر لاندې راغلي. دلته هم د ،، تر ،، پر ځای باندې نه راځي

- چې تر بل هر چا زیات ژبپوهنیز اثار یې لیکلي دي.

سم یې: ... و بل هر چا ته یې زیات ژبپوهنیز .....

موږ باید وپوهېږو، چې کړنه، خویوییونه، پسېځاینیوي او نور ژبني توکي کوم دي او باید ویې پېژنو، چې څنګه سم کارول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځۍ په ګډه وهڅېږو، چې پښتو مو د ژبلار په څلورديولي کې راونغاړو، نو بيا د ناسمونو مخه نيول کېدی شي.

د پښتو ژبې ستونځې- د ما په اند- ټولې په حالتونو يا د پښتو څلورم حالت او همداسې په خويوييونو کې دي، چې ما دا په خپل اخرني کتاب کې روښانه کړي. که څوک د خبرو څه لري، کړی شو د بربښنا پتې له لارې څخه هم سره په اړيکو کې شو.

هيله ده، چې په دې هکله بې پروا پاتې نه شی.

دا پلمه مه نيسی، چې لوستې ريښه مې پښتو ژبه نه ده.

ما په دې لار کې ډېر کار کړی او نږدې تر لسو کتابونو پورې مې په دې هکله ليکلي.

د تاسو د ټولو له مرستې څخه ډېره مننه او ستړي مه شئ

# د ولس ژبه، که -په پوهنه کې ورځنۍ شوې- پردۍ ژبه؟

موږ په ولس کې- داسې به ووايو چې – له پيداښته غونډاری او غونډوسکه لرو. داروښانه کوو، چې داڅه شی دي، لکه د نړۍ د نورو ژبوپه لکسيکونو کې چې روښانه شوي دي.

غونډاری:

يادونه: شمېرپوهنيز فرمولونه نه راوړو.

په څمککچپوهنه کې غونډاری د غونډارې هوارې او غونډارې تن يا بدن لپاره کارول شوی نوم دی.

-غونډاری يوه هواره لري. ګوډونه او کونجن نه لري او ناپای ډېر اړخونه اړخونه لري( د ګرديو کربښې).

- هغه خپل منځ ټکي ته سيومتريک ده همداسې محورسيومتريک، که محور له منځټکي تېر وي.

- د غونډاري لويه ګردۍ هغه هواره ده، چې د غونډاري له منځټکي تېرېږي. د هغې ګردۍ نيمی د غونډاري نيمی ده او لويه ګردی غونډاری هم نيموي، نو غونډاري نيمی يې بولو.

- غونډاری د يوه تن په څېر سوچبوچ د غونډوسکې بڼه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کوچنۍ ګردۍ ټولې  د غونډالې منځ کې هغه کردۍ دي، چې په غونډاري کې د لويې ګردۍ کوچنۍ دۍ.

- د غونډاري ټوټې يا غونډاري غوځې شوې ټوټې هغه تنونه دي، چې د وېښني له لارې د لوي او کوچنۍ ګردي د ټوټونې منځ کې پرتې دي.

- که د غونډارې ټوټه نيمه غونډارى وي، نو سړى د نيمغونډاري غږيږي.

-  د غونډاري ډکى د هغې د هوا يا فضا منځپانګه پېژندل شوې، هغه چې د غونډاري د پاسهوارې لخوا رابنده ده.

بل غونډارې ته ورته بدن يا تن

غونډوسکه.

غونډوسکه  له څرمني يا له مصنوعي (نه پيداښتي) موادو څخه يو ګرد، په ورسره بلده ډول غونډارېډوله، ايلاستيکي لوب اله يا سپورت اله ده، چې موږ به له رينجاړو جوړوله. د غونډوسکو په څنګ کې د کلکو موادو جوړ لوبغونداري هم شته، لکه لرګى ياوسپنه او نور.

د پېژند له مخې غونډارى او غونډوسکه ورته ځمککچيز تنونه دي، چې د لوبو بېلا بېل الات هم لري.

په ورسره بلده يا نورماله توګه غونډوسکې له هواډکو پوښونو ډکې وي، چې د پمپولو له لارې د يوه ټاکلي زور لاندې ډکيږي. ځانګړې يې د بېلګې په توګه د هاکي او د ګلف غونډوسکې دي.

## دموږ موخه:

دموږ د ټولو پوهنيزو څانګو ټول مسلکي يا رېښه اړوند ويونه زيات يې عربي او ځني يې فارسي دي. په دې خبرې نه کړو، چې ولې. د ټولو هغو وييونو، چې هغه په دغو پرديو ژبو کې پيداښتي شتون ولري، هغه هرو مرو په پښتو کې هم شته دى.

که موږ – لکه په نورو ژبو کې چې شوی- خپل يو نوم يا يو څه څېړو، نو دا سې مخ ته ځو يا بايد لاړ شو، لکه دا د نورو ژبو ويونکي.

موږ به يې دلته يواځې دوه بېلګې راوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مو موخه دا ده، چې دا نو ولې کرة وبولو او همداسې په ځمککچپوهنه کې دکرې لپاره، چې بېرته همدا غونډوسکه ده یا غونډاری، غِونډوسکه یا غونډاری ونه لیکو. نور پوهنیز ویونه هم همداسې. موږ او تاسوخو به هم یو خت کې په لکسيکونونو کې دا خپل وییونه او نومونه داسې په شننیزه توګه روښانه کوو، چې یو شی څه شی دی.

د غونډارې بېلګې: د نسوارو غونډاری، باغکې، دلوبو غونډارې هم شته، چې غورځولکیږې او یوې ټکلې موخې ته د نږدېکېدو سره یې کټونکی څرګندیږي یارروښانه کیو او که غواړی معلومیږي. همداسې مردکی، چې موږ به غوزان په کټل او یا چورلټی چې له لرګي به جوړه وه.

د غونډوسکې بېلګې: د موږ د هیواد په پېلابېلو ځایونو کې د لویو لپاره کارولکیږي. په لرګي وهلکیږي، په دیوال یې ولي او نور. موږ به دا له رینجاړو جوړولې، یاښه یې په کور کې به راته میندو او نورو خپلوانو داسې ګردې ګنډلې. نورې بېلګې: د پښو غونډوسکه. د والیبال غونډوسکه او همداسې د هاکي او نورې د لوبو غونډوسکې.

ایا موږ هم دا د هاکي او جلف کرې وبولو؟

داپورته تنونه مو چې یاد کړل، دا ټول باید بیاکرة وبلل شي، چې د ولس لپاره دپوهېدنې لپاره به پوره ستونځمن او دلیک کسانو لپاره به پوره نابلد یا ترې تېرېدونکې وي، چې ګوندې داد ژبې غنا ده، خو دا د ژبې په خپلو ویونو ناتوانول دي، چې په پای کې باید له منځه لاړ شي.

خبره په ښه او بد کې نه ده، خبره په اړیینوالي کې ده.

دا به ښه برېښي، که ووایو، چې د غوزانو ګټلو کرة؟

د پښو لوبو کرة، چې عربي یې کرةالقدم دی.

یوه غونډوسکه چې د ،، باسکټبال،، لوبه پرې کیږي، د باسکټبال کرة وبولو یا کرة؟

او همداسې د غوزانګټلو مردکي په ځای د غوزانګټلو کرة ووایو یا ولیکو او یا د نسوارو کرة یا دانورې د لوبو کرې او که څنګه؟

اخرۍ پوښتنه: ولس دې له دې پیداښت ورکړشوو نومونو څخه تېر شي او که دا د لیکلوست خاوندان دې، چې تراوسه – په خواشینی باید ووایم – لا دومره ډېر هم نه دي او دا کار هم ورته ساده دی، تېر شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په دې اند یم، چې دا راته هرڅه ساده کوي، خو پوهېږم، چې له زده کړو څه څخه تېرېدل هم پوره ستونځمن دي.

که چېرې دا کار - چې باید له ښونځیو پیل شي- کېده نو هرو مرو به پنځه کاله وخت ونیسي، چې په هغو کې دواړه نومونه وکارول شي او بیا نو پښتو نومونه پاتې شي.

ستاسو د ستړیکېدو بخښنه به راته کړی.

# اوکسومورون Oxymoron

نه پوهیږم څه به مي کتل خو د دې پورته وی ،،اکسیمورون،، سره مخامخ شوم او هسې مې په داروښانه-ونه پیل وکړ. په دې ترڅ کې ګورم، چې د نورو په ادب کې د کارونو ویونو سره داسې مخامخ شوم، چې پرته له هغې له پرېپوهیدنو اکسیمورون نه شو روښانه - یا شنل کیدی. دلته مي دا ټول سره ګډوډ راوړل، چې هسې زما په اند دا موږ ورسره په ادب کې نابلدو څه سره یواځې او یواځې داسې مخامخ شو او وګورو، چې د ا ژبه څومره ستره اړتیا څیړنې ته لري. تاسو، پیداښتي ده، چې هر وی، چې هر یو یې یوه کره موضوع ده، پخپله هم په ن ج کې کتلی شی او نور یې ښه روښانه کولی شی. زما لیکنې زه له الماني رانیسم، نو ویېنه او لیکندول به یې هم الماني وي، خو وبه هڅیږم، چې انګرېزي یې هم راوړم.

دې لیکنې ډېر ستړی کړم. هیله ده، چې تاسو به ستړي نه کړي.

اوکسومورون یو ستایل اله ده چې هر ډول لیکنخوندیونو کې میندل کیږي، نو له دې امله په لوریک(۱) نه دی رابند، بلکې په ایپیکي(۲) او رومانتیکي کارونو کې هم پیدا کیږي. دا اکسیومورون له دوه کلمو جوړ دی، چې ځانونه یو بل سره مخامخ کوي یا تر دې چې دا یو بل ردوي. دا پخپله په دننه کې ردوونکی اکسومورون غوښتونی دی او د یوه شي په ټکي شوي حالت کې انځور دی، چې یوه بیلګه یې کینه-مینه( په کرښه ترنه یې په دې مانا چې یو وی دی) دی.

د بیتونو سره شعرLyrik

شعر چې یو څه روښانه کوي Epik.

بیا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اکسیومورون کې دوه ویونه یا کلیمې د منځپانګې له مخې سره مخامخ دي یا یو بل ردوي سماندیزه مخامخ ټوټه یې پلیوناز موس (۱) دی، چې په هغې کې دوه ویونه همغه یا برابر څه روښانه کوي. دا وی ااکسومورون یوناني دي او له دې لاندې منځ ته راځي

.(“ὀξύμωρος, aus *oxys* „scharf*sinnig*“ und *moros* „dumm

پښتو مانا يې اکسیو تیزلیدی او مورون بې عقل یا تېزلیدی، ښه یې تیز انده احمق یا زیرک احمق

په ګوته کونه له دې امله پخپله یو اکسومورون دی، ځکه چې مانا یې د منځپانګې له مخې پخپله یو بل سره مخامخ دي یا یو بل ردوي( (تیزفکریز حماقت):

(Pleonasmus(۱

دا یو یوناني وی دی، چې پښتو ترې پوهېدنه یې،، له اړتیازیات،، دی

یو پلیونازموس یو رېټوریکي ( د خبرو د هنر) څرګندیدنه ده، چې د یوې جملې په دننه کې هغه د ډیرواره وینا یوه ویګروپ یا هم د یو یوګوني کلیمې له لارې په نخښه شوی وي. تل هغه وخت چې یوه ژبني الات ،کارول کیږي چې هغه د دې تراوسه ویل شوي ځخه پرته نور معلوماتي مواد نه ورکوي. دا وی د ټولو له پاره مناسب دي، چې د یو چا په یوه وینا کې پلیاناموس ته پام را وګرزوي. په پښتو کې یې دا بیلګه راوړی شو،: لکه ،،سره لمبه،،

د پلیانازموس له پاره بېلګې: ګردې غوندوسکې یا ګرد غونداري، یخ شوی یخ ارامه پټه خوله، رنګه رنګونه(( یې انګریزي دی <u>Stilmittel</u> ( <u>stylistic devices</u>

ستایل اله stilmittel

ستایل الې دبېلګې په توګه متافر یا بیضوي یاهګی( او ډېر نور) دي. دا ټاکلي ډولونه دي چې په تکستونو (خوندیونو) لکه شعرونو، لنډو نکلونو او پخوانیو کیسو او دا سې نورو کې منځ ته راځي. دا یو وبین اله یا افاده اله ده، چې یو څه ټاکلی وایي یا افاده کوي.

متافر ته = په وړوني موخه ترې پوهیدني څخه تر څیرې پورې خبرې، د بیلګې په توګه سپی په هرکاره کې لیونی کیږي، دا د په کینه کېدلو یا قهرېدلو له پاره کارول کیږي.

یا هم ستایل اله ،، سیمبول،، یا سیمبولي،،، چې یو شی موخه-څېرې په څیر انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مینې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا زیاته خبره ( هغه خبره، چې له ربښتیاکیدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډنډ،، د انسنانو بهیدنه،،

هر ستایل اله ځانګړې مانا لري، چې د یوه څه له پاره ولاړه ده یا د یوه څه له پاره ځای نیسي، کیدی شي، چې د یوه ستایلډول له پاره هم وکارول شي.

Metapher

متافر ( زړه یوناني μεταφορά metaphorá)

وړنه یې نږدې مانا ده او ( د ځانګړو شتیلمواد یا – الو په ځیر کارول کیږي) ژبنۍ ویېنه ده، چې د هغې سره وی( یو ویډله) ده د هغه د خپل اړونده مانااړوندوالی په یوه بل کې وړل کیږي یا وردننه کیږي ، بې له دې چې بې له یوه سیده پرتله ونې اړیکه د په نخښه شوي او په نخښه کیدونکي منځ کې روښانه شي.

ډنده:

دا بنسټ ویېنه یې د یوه څه له لارې ځاي په ځای کیږي، چې روښانه، لیدوړ او ژبیز بډای باید وي. د بیلګې په توګه ونه تاج ( د ونې تاج) د ونې د څوکو له پاره، یا دښتکښتۍ د اوښ له پاره. کله کله متافر ژبنیزې تشیاوې هم ډوکوي، چې د ستونځمنو لیکنو روښانه لیکنو را نغاړلو له پاره وي

متافر د ورته والي اصولو او د یوه ټاکلې او له دې سره جوړو شوو د ورته والي، منځپانګیز او نه د ګاوندۍ څرګندېدنو یا بربښېدنو منځ کې اړیکو څخه کار اخلي، له موږ سره چې د دوي په منځ کې .ماناوړنه لاس کې اخلي یا رانیسي.

همداسې کیدی شي د یوې لنډې (څیره-ډوله)پرتله ونې له پاره ترې کار واخستل شي . بېلګه: ملالۍ یوه ځمری ده، په دې مانا چې ملالۍ دومره توانمنه ده لکه ځمری. د لته د دې څیروونکي حیوان نوم ملالۍ ته یووړل شو یا ورکړ شو...

متافر ته = په وړونې موخه ترې پو هیدنې څخه تر څیرې پورې خبرې، د بیلګې په توګه سپی په هرکاره کې لیونی کیږي، دا د په کینه کېدلو یا قهرېدلو له پاره کارول کیږي.

یا هم ستایل اله ،، سیمبول،، یا سیمبولي،،، چې یو شی موخه-څېرې په څیر انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مینې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

یا زیاته خبره ( هغه خبره، چې له ربښتیاکیدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډنډ،، د انسنانو بهیدنه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ستایل اله ځانګړې مانا لري، چې د یوه څه له پاره ولاړه ده یا د یوه څه له پاره ځای نیسي، کیدی شي، چې د یوه ستایلډول له پاره هم وکارول شي.

Oxymoron; paradoxon, Contradictio, Antithese

اوکسیومورون، پارادوکسون، کونترادکڅیون په ادیکتو کې، انتیتیزې

د شتیلموادو تیره بیولنه زیات وخت لړه شونې ده. په ټوله کې په الماني درس کې زیات وخت کې سره بدلیږي. له دې مله غواړو دا پولې بیا سره روښانه کړو.

لومړی: اوکسیومورون له مخامیزو یا متضادو یووالو یا واحدونو څخه جوړیږي، چې د دوي برخوال سره مخامخوالي یا تضاد کې راځي. له دې سره یوه وینا توانمنده( که توامنه؟) کیدی شي..دا یووالي کیدی شي یوګوني یا ځانله ویونه وي یا د یوه ګډوله وی په دننه کې وي.

دویم: پارادوکسون: یو ( بربښیدونکی - ) مخامخوالی یا تضاد دي. دا بیا څنګیزه ده، چې ایا یوګونې جوړښتبز څه سره مخامخ دي یا متضاد ردوي. غوره یې دا ده، چې پارادوکسون منځپانګیر کار نه ورکوي یا لومړی په دا دویم لید موخه ور کیږي

دریم contradictio in adiecto :

کونتردکڅیو په ادیکتو کې د اکسیمورون یو ځانګړی حالت دي. په دې کې یوه ستایل اله د یوه ادجکتیو او یوه سوبستانتیو څخه جوړه ده. دواړه ویونه یو د بل مخامخ دي او په پای کې لو بل ردوي.

Antithese انتیتیزې

هر اکسیمورون کیدی شي د انتیتیزې په څېر وپیژندل شي. خو انتیتېزې هڅیږي هم چې د منځپانګېز مخمخوالي او ټولې غونډالې له مخې هم

اکسیمورون ځان د دوه ویونو په مخامخوالي رابندوي

د اکسیومورون له پاره بیلګې

پیداښتي ده، چې یو شتیلمواد د بیلګو له لارې ښخ روښانه کیدی شي، نو له دې امله غاوړو، یو څو بیلګو له اکسیومورون او کونترادکڅیو ادکتیو څخه په کیله کړو.

اکسومورا له ژبې او ټولې ورځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ ډېر دی

دې ډکیا زه غریب کړم

بیږه له تلوار سره

غمګین خوښ

Adjektive

لاتین مانا يې: ورزيات شوی) خوي ویونه: دوي روښانه کوي، چې یو شی یا یو څه یا کسان... څنګه جوړ دي. دا د څنګه وي په نامه هم یادیږي، ځکه چې دوي پوښتي چې یو شی څنګه جوړ دئ.

په ادیکتو کې کونترادیکځیو د اکسیومورون یو ځانګړی حالت

Contradictio in adiecto als Sonderform des

Oxymorons

زګیرویز درد

ګرده څلوری ( مربع)

تور شیدې

ګونګه چغه

تیاره وه، سپوږمۍ ځلیده

په شنوواورو (وریدوني) ډهلیز ( دهلیز، چې شنې واورې پرې شوې وي)

کله چې موټر (لکه) بریښنا تیز

ورو په کونج راتاو شو

دننه ولاړ کسان ناست وو

پټه خوله (غلی) په خبرو کې ژور
یادونه: په نوکانو کې لیکنې زما یعنې د ژباړې دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شعر کیدی شي د ۱۸۵۰ ز ک وي او په ډېر اختمال د ساکسو له وګړغړ. له دې سره ډېر اکسیومورا جوړیدی شي، د کومو سره چې بیتونه یانیمبیتې هکپککوونکې اغیز ښندي.

## سیستم څه شی دی؟

اجازه دې وي،چې دا یو وی یعني سیستم، چې ټولپوهیدونی دی، خو بیا هم له تاسو سره کډ روښانه کړم. دې ته له دې امله راوهڅیدم، چې وګورو، دوي یا دا پرمختللې نړی هر یو وی- چې فکرکیږي، دا خوروښانه دی- څومره څیري او روښانوي.

سیستم ( زوړ یوناني وی σύστημα sýstēma د ډېرو یوګونو برخو څخه یوځای اینوولشوی ټول) په ټولیزه توګه رابندوړ پیداښتي یا هنري ،، جوړښت،، په نخښه کوي یا په ګوته کوي، چې له بیلابیلو برخو څخه جوړ دی، کوم چې د ټاکلو منظمو اړیکو په بنسټ یو له بل سره د ګډ ټول په څیر راوړلکیدی شي.

د دې وی یا کلیمې یووالیز پیژند نه شته، ځکه چې د هر مسلک له مخې یې پیژندورکول توپیر لري. په دې پسې نو دا مخ ته تللې غونډاله د یوه خوراغبټ کډ پروپښوني یا - - ونوالي په موخه یو ذهنیت دی. د یوګونو پارامترونو لاندې روښانه ونه کیدونکې ده.

- فضایی یا / او د یوه سیستم وختیزې پولې کیدی شي د هغه تنیزوالي یا د ټاکلو توانونو له لارې فزیکي روښانه کړای شي یا تشریح کړای شي( ریښتوني/مادي/ ټاکلي سیستمونه) – یا سوچه اندیز یا فکري جوړشوي، موخه-چوپړیز ( د موخې په چوپړ کې) پیداښت یا طبیعت وي( ادیال یا خیالي/ نه مادي/ نظري سیستمونه).

پیداښتي – یا طبیعي سیستمونه:

ټول پیداښتي سیستمونه په ریښتوني پیښشوي یا منځ ته راغلي (ریل یا واقعي) سیستمونه دي، چې د موخه-ورې له انسانپیداکوني anthropogenen اغیزې پرته منځ ته راغلي او ځان پخپله ساتونکی یا خپلځانساتونکي دي.( بیلګه: Quantensystem, Atom, Molekül, Lebendes System

(Zelle, Organsystem, Psyche, Ökosystem, Planetensystem ,

مصنوعي یا هنري سیستمونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصنوعي يا هنري سيستمونه هغه دي، چې د انسانانو له خوا په کې فکر شوی او جوړ شوي وي. دا کيدی شي مادي يا نامادي پيداښت وي، خو زيات وخت دواړه سره يوځای کوي. د دې په منځ کې سړی (رينښتوني) تخنيکي سيستمونه ( بيلګې: کارالات، ماشينونه، شميرونی( کمپيوتر)) سوسيال يا ټولنيز سيستمونه ( سوسيال ګروپونه، کورنی، نژاد، ټولنې، عقيدوي ټولنې) او سوسيالتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: معلوماتي سيستمونه، انترنت يا نړيوال جال).

يو ګډوله له پيدېښتي او هنري يا مصنوعي رينښتوني سيستمونو بيوتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: مالساتنه او مالروزنه، پاکی جوړښتونه( کاناليزايشن)، مصنوعي زړونه) او سوسيال ايکولوزي سيستومونه انځوروي (بيلګې: کلتوري کرنيزي ځمکې، ساتنچاپيريالونه)

-- مادي سيستمونه هر يو يې د خپل ډول له مخې د هغه د چاپيريال په ښکاره - ، بند – او رابند سيستمونو وېشل شوي. سيستمتيوري د بنسټتوپير لرونکو سيستمونو جوړښتډول او خوزښت يې د څيړنې لاندې نيسي.

نامادي يا ناشييز سيستمونه ځانله او ځانله مصنوعي جوړشوي، فکري سيستمونه دي، چې بې له انسانه ،، ټيله شوي،، له لارې کوم ديناميک نه راپيداکوي او شتون يې د مادي سيستمونو په واک کې دی(بېلګې: د کلمو سيستمونه، کواورديناتسيستم، د اکسيومونو سيستم، مودلې او تيوري).\

د يوه سيستم جوړښتوټې( توکي، برخې) داسې ټاکلکيږي، چې يو له بل بيلابېلې يا رابندې، بېلابېلې دندې يا پوښتنې په سيستم کې پوره کړي. په ختّه کې هر په خوښه رينښتونی( ستورو، ونو، غړو، جوړښتبرخو) يا فکر پرې شووالات ( غږونه، نخښې، زيږندې، سيمبولونه) د يوه سيستم برخه کيدی شي.

يو سيستم کړی شي برخسيستمونه ولري او هم پخپله د يوه پراخ سيستم(<u>Supersystem</u>) برخسيستم وي.

ډاکترماخان ميږی شينواری که دا و پای ته راشي، نو ښه به وي.

# نيولوجيزم Neologismus

منلي انجنير صيب ستانه ميرزهير په م ک کې وړانديز کړی وو، چې د علوموااکادمي له خوا دې يوه ډله جوړه شي، چې دا نيولوجيزم زما په اند د څيړنې، پراخونې اوورسره بلدونې اوبلدېدنې کارمخ ته يوسي. زه داسې لړ پوهيدم، چې ګوندې دا خود نوو وينو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر اوکار باید ولري، خوبیا مې هم وغوښتل، چې ځان داسې لږ څه پرې وپوهوم، نو د الماني ن ج له لارې مې دا لیکنه برابره کړه، چې له تاسوسره یې هم په مینه ګډوم.

دا لیکنه به دوه برخې ولري، چې لومړۍ به یې د نیولوجیزم سره ځان بوخت کړي او دویمه به یې نیولجیزم ته د پښتو اړتیا په هکله وي او په دې اړوند به دژبپوهانو کار څه وي او که نورې اړتیا به مو اړیینې وي.

که زما د لیکنو سره ځوک داسې لږ بلد وي، نو دې ته به یې هم پام شوی وي، چې زما په لیکنوکې پردې ویونه کم لیدل کیږي، پرته له هغه پوره اړیینویونو، چې پښتو انډول ورته نه پیداکیږي، چې هغه به هم زیات پیداښتي ویونه نه وي او هغه به هم د هغې اړونده ژبې د ودې له مخې منځ ته راغي وي.

یوه داسې ځوان پښتون راته لیکلي وو، چې ګوندې زما لیکنې یې لوستلې، خو ډېر ساده دي.

لومړۍ برخه

نیولوجیزم:

یو نیولوجیزم Neologismus په یوې ژبتولنې کې په تولیزه کارونه کې د مخه ترې تیرشوی یعنې د پرېښودو ژبني ویونو بیا نوې کارونه ده، وایي

- یو نوی راپیدا کړی وی (نوی وی) په همدې توکه یو همداسې ویینه ( افاده) یا

- یوه نوې مانا، چې د هغې سره همدا اوس لرلی وی، په همدې توګه پخپله وییینه ( افاده) باندې سمبالیږي (نوې مانا) یا دا نوې مانا ورته ورکولکیږي، یا هم دا وی په همدې توګه وییینه پخپله، چې نوې مانا غوره کوي.

که دا دیوې ژبتولنې په دننه کې پراخونه ومیندي یا دژبتولنې په دننه کې وزغلي، او د ژبویونو کتاب ( ډکشنري) یې را واخلي او د دې ژبې ژبپانګه کې ځای ونیسي. د نیولوجیزم له پاره کرکتریستیک یا خویغوره-والی یا خویټاکونکی دی، چې ویونکی دا په یوه وختواټن کې د نوي په توګه خپلوي. کوم ویونه (لا) نیولوجیزم دي، په دې پورې اړه لري، چې له کوم وختټکي څخه سرې د یوې ژبې ویونپانګه (ویونو پانګه) په پام کې نیسي یا څیږي. د دې په څنګ کې په تولیز-ژبنیز ستاندارد ویونکتابونو( د ویونو کتابونو یا ډکشنري) رانیولشوي نیولوجیزمونو له پاره په ډېرو ژبوکې ځانګړي ویونکتابونه، چې دوې ځانله یا ټیک د همدې ویونپانګه( که ویونوپانګه؟) څیړي شتون لري. د نیولوچیزم وینې ( افادې) ته د زړې یونانې ویونه neu ,„νέος *neos* ‘‘،نوی ، او λόγος *logos*

(c) ketabton.com: The Digital Library



"Wort„ ،، وی،، بنسټ ته پراته دي، چې په پښتو يې نويوی (نووی يا نوی وی) بللی شو.

د دې کليمې جنجالپرابلم ته

دا د نيولوجيزم وی يا کليمه په ژبپوهنه کې نه بيخې ساده يوونوالی يا يواندوالی نه لري.

Hadumod Bußmann ( هادومود بوسمن) داسې پيژند ورکوي:

نوې په کاراچولشوې يا نوې منځ ته راغلې ژبنيزې ويينې،،. داسې ويونه په ويجوړونې، ويپورونې يا د ماناوړونوالي له لارې منځ ته راځي. ځانله د نيولنګويستيک Neurolinguistik يا نيوژبپوهنه ( نوې ژبپوهنه) کې د دې وی له پاره د دې وی يا کليمې د نوي پيداښت منل منځ ته راځي يا د دې وی منل منل کيږي.

هلموت ګلوک Helmut Glück له يوې لور نيولوجيزم له نوپيداښت سره برابر وټاکه يا کيښود او په چوخونی ،،وينوپيداښت،، سره په حواله نيولوجيزم، دا ورکړلشوې بيلګې مګر ټيک د ويجوړونې، پورونې يا ماناوړنې حالتونه دي. د ژبپوهنې ورځنيوالي يا رواج کې که هرڅومره ناوخته نو د ۱۹-مې پيرۍ پای څخه ،، ويپيداکونه/ پيلپيداکونې،، له يوې لورې او ،، ويجوړونې،، بلې لور ته توپيروي.

بيلونه

د ژوندۍ ژبې خبرېکوونکي هره ورځ نوي ويونه جوړوي يا پيداکوي، چې د هغوی سره دوي سملاسي يا توکلي بلنتشياوي يا نومونتشياوې ډکوي يا بندوي. زيات له دې ويونو ټيک يوځل په کارلويږي. زيات وخت د دې ويونو موخه په دې کې ده، چې د هغه سره يو نومونحالت پوره کړي.

د نيولوجيزم ډولونه

د نيولوجيزم لاندې ډولونه کيدی شي سره توپير شي.

نوويونه(نوی ويونه)

ويينې او ماناوي نوې دي. د نوي ځوان وخت بيلګه يې د لنډخبرليږل له پاره وتونوی *simsen* له SMS څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي ماناوي

یو زوړ وی ټیک یوه نوې مانا ( پسې یا بله مانا هم) اخلي. په دې توګه ګوندې له یوه زاړه وی د بیلګي په توګه موږک *Maus* په یوه ،، تخنیکي الې، د شمیروني ورشو،، کې هم ځای په ځای شي.

نوي کمبینیشنونه یا نوي ګډوله لکینه:

دلته هغه کارونویونه سره یوځای کیږي ( Internetcafé انټرنتکافی ,لپټاپ بکس Laptop-Tasche, انالوګ ساعت Analoguhr).

نیولوجیزم او ژبنورم

که نوی وی کاروني ته ریشي، نو خبرپکوونکی زیات وخت د نورم د نه باورتیا سره مخامخ کیږي.

وینه، مانا اوکیدی شي د ډېرماناوالي

- ویینډول یې لومړی په ورځنۍ کارونه کې ساتل کیږي. په ځانګړي توګه پورویونو کې دا زیات پیښیږي، خو نه تل، یوه د اعیاروني(چمتوکوني) پروسه پیښیږي، چې د هغې سره د ترې پور شوې ژبې ویډول د فینومینسیستم سره سر وخوري. د دې له پاره بیلګه ډونلوډ*Download* دی

په ژبه کې پردي ویونه ځای نیسي، ځکه چې په الماني همداسې پښتو ژبه کې ورته انډول نه پیداکیږي.

Kunstwort مصنوعي وی یا هنري وی( هنروی)

د هنروي سره هغه وی په نخښه کوو، چې د یوې ژبې د ویجوړوني پیدابښتي الاتو سره جوړ نه وي او د یوې بلې ژبې څخه هم نه وي پور شوی. دا یوه نوې ریښه جوړوي اوزیات جګسومبولیک یا زیات نمونه-ییز ( نمونییز؟) دی. نوي جوړ شوي هنرویونه زیات وخت د نیولویجزمونو په حیث باوري وو.

د شعرونو ترتیب او بیتونوکي سړی زیاتوخت د هنرویونوسره مخامخ کیږي.

## جوړښتنومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هنرويونو له پاره زيات جوړښتنمونه: د ويونپيلو ( د ويونو د پيل) يوځاى راکښنه، يوځاى اينووونه، او د ګرافيمونو Graphemen د ګډوله کوني لنډونه.

يوځاىراکښنه:

په دي د هنرويونوکي دوه يا زيات ويونه و يوه وي ته راکښلکيږي (،، سره ويليکول،،)، چيرته چې سره يوبل باندې اوښتوني برخه لرې کيږي. د دې له پاره بلابيلې په نخښه-ونې شته، د بيلګې په توګه، يوځاى راکښنوى، سره ويليکولوى، ګډوله-وى....

بيلګې:

- Teuro له *teuer*(ګران) او *Euro*(يورو)

- Demokratur له *Demokratie* او *Diktatur*

- Grusical له ډاروونکي *Grusel* او *Musical* موزيک څخه

- Informatik له *Information* او *Automatik* (يا *Mathematik)* څخه

اينفورماتيک په نامه پوهنځى شته اولوستل يې وايي چې له شميرپوهنې ستونځمن دي. موږ د کمپيوترساينس په نامه پوهنځى لرو، نه پوهيږم، چې هلته به څومره د اينفورماتيک سره سراوکارلري، خوګومان مې دى، چې دومره ډيربه نه وي.

- Mechatronik له Mechanik او *Elektronik* څخه.

دا يوه نوې د موټرو مسلکي زده کړه هم ده، ځکه د نويو موټرو ماشينونه ټول په همداسې الو سمبال دي، چې ميښاترونيکان ورسره سر اوکارلري.

- Glokalisierung له *Globalisierung* او *Lokalisierung* څخه.

Zusammensetzung von Wortanfängen

د ويونو پيلې سره يوځاى اينووونه

دا هنرويونه د سيلبولنډوييونوسره خپلوان دي:

بيلګې:

- Modem له Modulator او Demodulator څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Moped له Motor او Pedal څخه. دا د ډېډبي اوبايسكل څخه جوړ په پښوو هن-الاتو ځي يا بيول كيږي.

- Chipitts له Chicago او Pittsburgh څخه

- Haribo له Hans Riegel Bonn( هانس ريګل نوم دی، چې له بون وويا دی(؟) ) څخه. دا يوه خوږه دخوږوجوړه ميوه ده، چې كوچنيان يې په مينه خوري.

- Milka له Milch شودو او كاكو Kakao څخه جوړ څه دي. خواږه خو هرومرودي.

Abkürzungen لنډوني

لنډوني هم كيدی شي هنرويونه وبلل شي
بيلګه:

“Nato,, د *North Atlantic Treaty Organisation* لپاره لنډونه.

دا لومړۍبرخه زموږله پاره دلته همدومره بسيا كوي او اوس راځو دې

دويمې برخې ته:

د پښتو ستونځې اونيولوجيزم:

د پښتو د پوهنيزې ودې له امله او كه غواړې، د نه ودې له امله دپښتو ژبې ستونځې هم زياتې دي. موږ اوتاسود دې ليكنې سره داسې لږ سر نيولوجيزم ته وربښكاره كړ او ومو ليدل، چې دا نيولوجيزم د يوې ژبې ويونكو د ودې سره هم سيده تړاو لري

هنرويونه او نيولوجيزمونه

ټول هنرويونه نيولوجيزمونه نه دي. يوه ويكتابيزه ( د ډكشنري) نخښنه يو اوږد وخت د نيولوجيزم په څير ګڼل كيږي. د زياتې پراخيدنې او د كارونې دوام سره د ټولژبنيز ويپانګې د ورسره ورځنې يا اري ژبې برخه ګرځي.

دا چې په پښتو كې به نيولوجيزمونه كوم وي، زه ترې نه يم خبر اونه پرې پوهيږم، د دې دې ماته بخښنه وي، خو هغه ويونه چې موږ بدل كړي يا د نورو ويونو په ځای، چې ګوندې موږ يې پښتو كوو چې تاسوته به هيله ده زما د ليكنو معلومې وي- هغه - په پوره خواشينی بايد ووايم - چې له هره اړخه ناسمې دي لكه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مایع ته اوبلن ویل اود سلمې په ځای سلنه کارول، د ستاندارد، سطحې سویي په ځای کچه کارول او داسې نور.

دلته به مې هم وړاندیزدادئ، چې د نوروژبو په مرسته به هرې پوهنې ته وده ورکوو اوهلته په نورو ژبوکې زیاتوخت د پيداښتې ويونو له پاره موږ په پښتو انډول پیداکولی شو اوکه نه نو بیا د همغې ژبې همغه وي لیکو اوکه په عربي انډول باندې یې پوهیدو، نوهغه هم له نوروښه دئ.

یادونه: ځان پالنه دې نه وي، خو دا به ووایم، چې په نږدې څلوېښتو کتابونوکې، چې راټولوني اوژباړې دي، ما شمیرپوهنه په پښتو لیکلې، دا په دې مان، چې په پښتویعنې ټول مسلکي نومونه په پښتودي اودا ما جوړکړي نه دي، دا نیولوجیزمونه نه دي، دا موږ په ژبه کې لرلي ویونه دي، چې ما به لومړي ځل ترې کار اخستی وي یا به مې لومړي ځل په کاراچولي وي او له دې امله دزیاتو ګوتنیونو سره مخامخ هم یم، خوباورلرم، چې دا به هغه خپل ځای نیسي. ماته غوره دا برېښي، چې زما په اند ناسمون په کې نه شته اوکه وو، نوهغه به د راټلونکوځوانانو دنده وي، چې سم یې کړي.

زموږلومړئ دنده: کتابونه له نوروژبو په پښتو ژباړل، دا په دې مانا، چې مسلکي ویونو ته هم د پښتو انډول پیداکول لکه د مشبوع له پاره موږ یا ماړه لیکل او د داسې کتابونو ډېرول.

بیا زما تل ځوانانو ته مشوره: که غواړو وپوهیږو اوپوهه مو نوروته ورکړی شو، باید په یوه پرمختللې د باندنی ژبه ښه وپوهیږو.

## دا مو د ستونځوبیو لار نه ده

زه – لکه د تل په څېر- د ژبپوهانو او په ژبه کې د نوښت مینوالو څخه بخښنه غواړم، چې دا د دوي د ژبسمون او نوښتونو سره هم اندی نه یم، خو باور وکړئ، چې دا څه چې زه لیکم هم، د ځان غوښتنې او ستاینې له امله نه دي.

دا چې ژبه مو نوې د دولت د ژبې په څېر میدان ته راوتلې، نو دا ستونځې مو تر یوه وخته پورې شته. دا ستونځې ټولې ژبې لري، هغه چې ډېرې پرمختللې ژبې هم دي. دا ستونځې چې موږ یې په ژبه کې ګورو، داسې ستونځې دي، چې موږ ورسره سم ژوند کړی شو او لکه څنګه چې د نورو ژبو خاوندان د خپلو ژبو سره په دې هکله ستونځې نه لري او یا نه دې راپیداکړي، موږ یې ورسره نه لرو او له موږ څخه هر یو هم لکه د نورو ژبو خاوندان د سمپوهېدني له امله د ستونځو سره نه مخامخ کیږو، نو باید راپیدایې هم نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله یادونه: زه چې د خپلو خوانو لیکوالانو او ژبپوهان لیکنې لولم، نو باور وکړئ، چې ورته خوښېږم. دوی توانمنده کسان دي او زه ورته د راتلونکې له پاره ډېر ښه لید لرم او د نورې توانمندیکېدو هیله یې لرم.

ستونځې مو څه دي؟

نورې ستونځې څنګه زېږوي؟

زموږ ژبپوهان او ژبمینوال، چې سره کښېني او د خوب ته تللو وخت چرت کې لاړ شي او یو څه ورته فکر ته راشي، چې بدلو یا سمون یا پیداکېدنه کې فکر لاړ شي، نو سملاسي غواړي یو څه ورته پیدا کړي او یا کله، کله یو زدکړیال یا زدکوونی ترې دیوه څه په هکله وپوښتني، نو دی باید دې پوښتنې ته یو ځواب پیدا کړي، داسې نه ورته وایي، چې دا خو د نړۍ په ټولو ژبو کې دا ستونځې شته.

یو څو بېلګې به یې دلته راوړم:

لومړي. پوښتل کیږي، چې: هغه راغئ او هغه کتاب ولوست. دا خو نو یو ډول ه ګانې دي څنګه به یوه شو، چې دا به نو څنګه سره توپیر کړو. موږ خو د عربي په برکت یو ګوډۍ الف لرو سملاسي دا استاد د یوې ه په سر یو ګوډۍ الف وروتپی.

دویم: یو ژبمینوال دشپې په چرت کې وي او فکر ته یې راشي، چې دا د فارسي صدم خو د پښتو د سلم غوندې دی، خو راځه دا سلن کړه. دلته نو ژبلار، سم اند، د شمېرپوهنې لار ته فکر نه کړي او هغه سهار بیا ټولو پښتنو خپله د لیکنې لار ګرځولې وي.

دریم: پښتانه پوهان سره کښیني او وایي، چې دا مایع خو عربي دی، دا باید په پښتو شي( دا کېدی شي او انډول یې باید وي، ځکه دا پیداښتي وی دی)، نو یو وایي، چې موږ خو ورته په پکتیاکې اوبلن وایو، نو سملاسي دا اوبین شي. دا ځکه چې دا ژبې مینهوال خو نه پوهږي، چې دا مایع څه پېژند لري او د فزیک له مخې یې دا پېژند څنګه ورکړل شوی دی. هغه نوم اوس څوږ په درسي کتابونو کې هم کتل کیږي او اوبلن غاز هم وایي، بې له دې چې په اوبلن وپوهیږي او یا په مایع.

څلورم: د غلامۍ کړی، چې وایي ماتې کړی، نو سملاسي وایي، چې دلته خو باید یوه یې بدله شي.

بیا دلیل راوړي، چې یو غږ او دوه یېګانې. دا ژبلار نه ده دا ژبلارې په مخامخ لار ده، خو دا اوس هم زموږ هغه وتلي ژبپوهان او په ژبه کې پوهان همداسې سمه ناسمه لیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په کړۍ او کړۍ کې ستونځه وي، خو د دې یوه په ک کې ده، چې ځانله سیلبې لري، دا خو د ۍ کار نه دئ، خو وایي، چې د مرچو تاو له کوچو باسي. دلته خو ګوره باید ک ته یو څه ورپه غاړه کړې او نه ،، ۍ،، په ګوډې الف وزوروي.

که موږ داسې خوبونه ګورو نو راځئ چې دا سې یو څو بېلګې یې راوړو:

لومړی: ولې ولې ولې؟

دلته نوموی، پوښتنوی او کړنوی دي، چې هر یو یې هر یو کېدی شي. پوښتنه به نو د درنو ژبپوهانو دا وي، چې نو موږ څنګه پوه شو، چې کوم یې کوم دی؟

په پورته کې خو ا دوه نه داچې یو ډول لیکل کیږي، یو ډول ویل کیږي هم او دادریم کې د ویلو له لارې بېلوالی شته، هلته به نو دې د پوښتنوی د و سره یو څه کوو یا به الف پرې د پاسه تپو او یا به نو نه پوهېږم.

دویم : د تره ( د پلار ورو) او تره( هغه د بادرنګ په څېر خوندور) په منځ کې به نو له ه پرته د سیلبې له لارې توپیر کوو او کوم به کوم نوم وي؟ دلته نو باید په یوه ت څه و تپو، چې دواړه نومونه هم دي.

راځئ چې یوه بېلګه - زما له لورې کېدی شي یوه بې سم انده بېلکه وي - خو راوړو.

افغانستان کې لومړی الف بل ډول ویل کیږي، چې د نوښت له امله باید یو ګوډی الف وربانديې سور کړو، که څنګه؟ او پرته له دې څنګه باید وپوهیږو ، چې دا ن هغه د عربو په څېر زېر لري، زور او که یا پېښ. موږ خو په شمېروني کې همدا یو ګوډی الف لرو، چې په هر توري یې سورولی شو.

دریم: د ترور ( د پلار یا د مور خور) او ترور( چې چا ته یو څه ورپېښ شي او ترور یوې او بلې خوا ته ګوري) په منځ کې به هم څنګه توپیر وکړی شو؟

یوه پوښتنه: موږ وایو، چې دوه وونه لرو. ایا موږ یې چې یو ډول لیکو، د کومو ستونځو سره یې مخ کړي یو؟ چې تراوسه یې د ستونځو سره نه یو مخ کړي، نو له دې وروسته، چې موږ پسې پښتانه خو لا ښه باید وپوهیږي، دوي به نو څنګه له ستونځو سره مخامخ کړي؟

یوه په یادو راوړنه: یوه ورځ څوکسان سره ناست وو، چې په غبرګون خبرې شوې، نو دې یوه وویل چې ګوندي دا وی د ده له لورې روځنی شوی، دا یې نوښت وو. ما ورته وویل، که ووایو چې: ..غبرګون ونه ښوده دا به ښه وي او که ووایو چې .. څه ونه ویل، چې تل سم دی او ترې پوهېدنه یې هم سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای یادونه:

زموږ د فارسي ورونه پوهیږي، چې شیری او شیر سره نه بدلوي او دوي تراوسه د دې یوې ي سره ژوند کړی او له دې امله یې ځانونو ته نورې ستونځې نه دي زېږولي او همداسي د night سره انګرېزي ژبو ولسونو هم کومه ستونځه نه ده لرلې او نه چا نایګټ یا نایغت او یا بل څه ویلی او دا په پېړیو همداسي ده.

زما په اند به موږ هم سور، سور او سور، سور سره نه بدلوو.

سور(رنګ)، سور (چای)، سور( د یوه پټې)، رباب سور. دا دوه دروند ،، و ،، لري او دا بل یې سپک ،، و ،،، خو بیا د دې نورو دوو سره څه کوو، چې مغه ،، و ،، لري؟

دا پورته لیکنه مې د لاندې لیکنې له امله وکړه:

ما دا څو ورځې د مخه د پوهنتون د یوه استاد لیکنه ولوستله، چې د یوه زدکړي پوښتنې ته یې بیا په ،،ه،، ګوډی الف تړلی وو، نو دا لیکنه مې په ورزیاته کړه، کېدی شي تکرار یې ډېر وي، خو غورځول مې یې زړه نه غواړي.

زه په دې اخرو وختونو کې ،، ه ، ا ، و او ی،، ګورم، یا مې ورته اوس پام را اووښتی، چې په ککره یاڅنګ کې یې ورته ګوډی الف سور کړی، نو له دې امله مې داسي لړې او وړې لیکنې ته زړه راپوورته کړ، د یوه سوال سره، چې موږ د پښتو له پاره باید نورې ستونځې ونه زېږوو.

د دې ستونځو سره مو ژوند کړی او دا د هیڅ څه مخه هم نه نیسي او ټول پرې بوهیږي. کله کله زموږ ګران ژبپوهان او نور لیکوالان لیکي، پښتو د ې د نورو ژبویونکو له پاره ساده شي. دا مو نه دنده ده او نه یې باید دنده وګرځوو، دا څه چې لرو، دا به د نورو ژبوالاو سره هم ګډوو. لکه موږ په نور ژبو څنګه پوهېږو، دوی هم زموږ په ژبه همداسې پوهېدلی شي. موږ ته زموږ له پاره په لومړی لیکه زموږ ژبه غوروالی لري.

یادونه: زه دلته داسې لږ ستونځې لرم، چې دا غوروالی او که غوره والی ولیکو، خو که هرڅنګه وي هم ستونځې ورسره نه شو پیداکولی.

زما هیله همدا ده، چې راځی نورې ستونځې به نه زیاتوو.

لکه پورته مې چې ګوته ورته ونیوله، زموږ لیکوالان او ژبپوهان او همداسې نور د اند او نظر خاوندان په دې اخرو او یا هم شاید له پخوا د غږلرونکو تورو د لیکلو سره ستونځې لري او یا ستونځې راپورته کوي. دا ستونځې د نړۍ په ټولو ژبو کې شته او دا د پرمختګ مخه نه نیسي او نه د ژبې خاوندان ورسره کومه ستونځه را پورته کوي یا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ خو پرته له دې هم په ژبه او هره ریښه کې پوره ستونځې لرو، چې هغه باید اوبې (حل) شي، نو له دې امله زه هم غواړم په دې ستونځو لږ دګرانو لوستونکو سره خپل اند ګډ کړم.

موږ درې غږلرونکې توري لرو ( او که ه) په ورزیاته کړو، نو څلور به شي.

لومړی: ا یا الف دی. د الف غږوې شته خو به ماته له دوه ډوله شاید ډېره وبرېښي، خو وبه نیسو، چې دا دوه خو هرومرو شته او د نورو غږلرونکو تورو سره خو یې -که ورسره مل راشي- نور هم د غږډولونه ډېرېږي، نو که دا سره د لیکنې له مخې بېلوو . د بېلګې په توګه که ولرو باور( د دې سمه د غږونو روښانونه به بیاداسې وي، چې د با څخه پرته وو ته هم یا الف یا یو بل څه ولیکې، چې سړی پوه شي، چې جګ ویل کیږي او نه دپېښ سره او نه د زېر سره) دا مو ژبه ده پوهیږو، چې څنګه یې لولو.

دویم: دا دوه و وونه خو لرو، چې درونډ وو لکه تمباکو ( که تنباکو؟) او سپک وو، لکه زانګو. دلته هم شاید ځنې پښتو پوهان یا د ویلکېدنې مینوال وغواړي، چې د یوې نخښې له لار یې سره بدل کړي.

ځنې لیکنو کې ګورو، چې په ا هم ګوډی الف لیکي او په ،،ه،، هم، همداسې په ،،و،، هم، یېګانې خو لا څه کوي، چې پنځه شوې خو دي او که دا لار وي، نو باید لږترلږه خو اته شي.

ایا پښتو غږلرونکي توري پرته له دې اړونده غږونو نورې دندې لري؟

یا ایا د غږ لرونکو تور په مرسته، کړنه او نوم ټاکلی شو؟

نه. نورې دندې نه لري. د دې له مخې څوک څه شی ټاکلی نه شي یا نه ټاکل کیږي، خو دوي، د ډېرګونو او یوګونو نومونو او همداسې د نارینه او ښځینه نومونو منځ کې د روښانونې دنده لري.

د دوی له لارې څه نه ټاکلکیږي. دلته ګوره د پېژندنې یا ور پېژندنې نه لیکم، ځکه دا پېژندنه بیا پخپله یوه دنده ده. دا روښانونه راته سمه برېښي. بېلګې یې: لکه د یېګانو له لارې، چې نارینه، ښځینه، یو او ډېر روښانه کیږي یا راته څرګندیږي، که پیژندل کیږي ولیکم، نو کېدی شي دلته بیا نورې پوښتنې رامنځ ته شي، خو یو کار چې هیڅ وخت د ژبلار له لارې نه کیږي، هغه دا دی، چې د هیڅ توري یا نورهم غږلرونکي توري له لارې او همداسې ی له لارې کړنه او نوم نه ټاکل کیږي، دا په دې مانا، چې کړوال او نوموال غږلرونکي توري نه شته، چې لارې یې کړنه او نوم سره ټاکل کیږي او بېلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره نه ټولیزه لار شته او نه د ژبلارې له لارې. دا سې هم نه کیږي، چې یو غږ لرونکی توری او دوه ډوله لیکل، دا هم ژبلار نه ده.

د کړنو سره د کړوني بڼه بدلېدل:

یادونه: که په لاندې کښې مو کړونی ولید، نو موخه ترې کړنوییونه دي او نه څوک، چې څه کوي.

په پښتو ژبه کې د کړنو ډولونو سره د تېر وخت او اوسمهال له پاره د کړنوییونو بڼه د ځنو کړنو له پاره بدلیږي او دا هم یوه لار لري:

لومړی : هغه کړنې، چې پرې کړوني ته اړتیا نه لري، په هغو کې د کړوني بڼه نه بدلیږي. بېلګې یې: تلل، کښېناستل، درېدل او .نور

بېلګې یې ګران لوستونکي پخپله راوړلی شي

دویم: هغه کړنې دي، چې د هغو کړلو له پاره پرېکړوني ته اړتیا شته. په هغو کړنو کې د اوس مهال او د تېرمهال له پاره د کوونکو بڼه بدلیږي. بېلګې یې: وهل، خوړل، او نور

پښتو ماته یوه توانمنه، خو داسې لږ د نورو له پاره ستونځمنه ژبه برېښي، خو که الماني او یا داسې ویل کیږي، روسې ته پام راواړوو، هغه هم همداسې ستونځمنې ژبې دي، خو زده کیږي او زه هم لاتراوسه په الماني ژبه د ډېرو ناسمونونو سره مخامخ کیږم. المانیان. زموږ په غم کې نه دي، چې ژبه کې نور بدلونونه راولي.

د داسې لږ څه بوختیاله پاره:

یوه بله موضوع مې زړه دی، چې له تاسو سره ګډه کړم او هغه د هغه څه له امله ده، چې موږ یې دواړه لرو:

موږ لرو: ،، زما، زموږ، ستا، ستاسو،، او هم لرو: ،، دما، دموږ، دتا، دتاسو،، زموږ ورځنی شوی ،، زما او نور دي، خو ایا د ژبلار له لارې هم داسم دي او که دا ،، دما...،، سم دي؟

دما له انده او څېړنې له مخې خو ،، دما، دموږ، دتا، دتاسو،، سم دی. لیکنه مې په دې هکله په تاند او دعوت منلو خپرونو کې خوره شوې او د ژبلار کتاب ، چې په لنډ وخت کې به خور شي، هم وي..

له سرې سینې مو مننه او راته روغ او هڅاند اوسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو ته ناسم راننباسلشوي ویونه

او له ژبپوهانو څخه هیله

دا داسې لنډ، بې له اوږدې شننې راوړم. دا ټولې لیکنې د تاند او دعوت په منلو پاڼو کې خورې شوي او هم دا کې هم کتل کېدی شي ketabton. com زما په همدې نامه کتاب په

## څنګه پوهېږو، چې دا یا یو وی ولې ناسم دی؟

لومړی: یو نوم، یو وی یا کوم توری، چې د هغه ورکړ شوي نوم یا بل څه خوي ونه لري، ناسم دی.

دویم: یو نوم یا بل کوم وی، چې ټولیز نه وي او ټولیز کېدی نه شي، ناسم دی.

دریم: د ژبلارې سره په مخامخوالي کې راځي.

څلورم: د هر څه د سم او ناسم لپاره، چې ښوونې او دلایل راوړل کیږي، باید له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي

پنځم بیا د پورته لنډ: پوهنیز دلیل کوم دي؟ هغه دلیل، چې له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي او ټولیز باوري وي.

داسې پیل کوو:

یو: سلن نه شته: د سلم له پاره سلن راوړل ناسم دی. دا د ژبې او شمېرپوهنې له لاري او ټولګیز هم نه دی او دا دې هم په یاد وي، چې دا سلنه شلګلن ناسمون دی، له دې د مخه دا ناسمون نه وو.

دوه: اوبلن : دا هم ناسم د بهیدونکو له پاره کارول کیږي. اوبلن یواځې او یواځې د واورو خوي دی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې : تر : په ټولو هغو ځایونو کې تر ناسم دئ، چې داسې نه وي:

لومړی اړیکوی: له جلالکوټ تر کابله یا ... ترکابل پورې.

دویم ترنوی: په کوټه کې ۲۰ تر ۳۰ کسان ځایېږي.

دریم د مهال یا یو څه پای: تر نهو بجو درځم

بیا: پرته له داسې غونډالو، په بل هر ځای کې ،، تر ،، ناسم دئ.

څلور: له تر سره پرتله کونه: دا هم سوچبوچ نه شي کېدی، د ما په کتاب کې روښانه شوي..

پنځه: ئ: زموږ په پښتو کې داسې ،، ئ، ځای نه لري. دا ژبلار نه ده، چې غږ دې یو او ،، ئ،، دې دوه - یا ان دریو ته هم ر سېدلی شي - وي.

شپږ: سږکال تر ټولو ډېر انګور شوې، ناسمه ده. که ووایو په ټوله کې، دا یو تکیه کلام دئ پروا نه لري.

اوه: تر ډېره بریده یا ... پولې، او هم یا کچې ناسم دي.

اته : کچه موږ زیات وخت ناسمه کاروو، د ستاندارد یا معیار، سطحې او سویې له پاره.

لاندې به یو څو ویونه راوړو، چې نوم او اړیکویونه دي او تل باید په لیکلو کې پام ورته وشي.

. نوره کارونه یې د اړیکوي ده.

نهه: منځ یا منځټکی: یواځې د یوه شي یا یوه څه هندسې منځ باید وي.

نور منځ اړیکوی دئ.

مخ. په مخ یې دانه ده ( مې پخوا لیکلي وو. سم یې داسې دی: پر مخ باندې یې دانه ده). چې پرته له داسې کارونو، چې فزیکي مخ دئ، نور کارول یې اړیکویونه دي. و مخ ته ، دمخه، خو ترمخه سوچبوچ نه شته او همداسې تر مخکې. دا تر خو ناسم او دا مخکې هم کلیوالي ویېنه ده.

همداسې څنګ او شا. په دې پوهیږو، چې کله فزیکي او کله دا فزیکي څنګ او شا موخه ترې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ناسم دي:

روغتون، چې موږ د ناروغانو ځای ته وایو ناسم دی. سم یې ناروغتون، رغنتون یا رغنځی دي.

رغنځی ماته ډېر ښه برېښي.

د کورنیو چارو وزارت ناموخور دی، موخوریې د دننیو چارو وزارت.

دې وګوري.

دې وګوري. Ketabton: comهغه ګران لوستونکي، د دې اونورو سمونونو سره مینه لري، نو

یوه یادونه:

دا ما ته یوه بابیزه او بې ارزښته خبره نه برېښي، دا مو ژبه ده، څوک هم چې دا ژبه ناسمه کاروي، باید سمون ته راوبلل شي

موږ پوهنیز مرکزونه لرو. له هغو څخه غواړم، چې دا په غور وګوري او هر یو چې ناسم وو، دا په دې مانا چې که یو هم، نو دوي حق لري، چې ما ته مناسبه جزا وټاکي او سمه ستره جزا به داوي، چې دوی راڅخه د ډاکترۍ شهادتنامه واخلي او که نه، نو بیا دې راته د ژبپوهنې ډاکتري راکړي، دا پرې ارزي.

او له ټولو لیکلوست خاوندانو هیله کوم، چې د دې پرېکړې ملاتړ وکړي، دا د هر یوه کار دی او ټول د دې ناسمونو سره ګیر دي، د علومو اکادمي د پښتو څانګي او پوهنتونونو پوهنیز کادرونه دې دې کار ته راوبولی.

په پای کې دې د یوې یادونې اجازه وي او هغه دا چې: دا پوهنیزه ځاننیونه نه ده، چې په یوه پوهنیزه لیکنه، د سمې او ناسمې پرېکړه وغواړو او موږ ورته چپه خوله پاتې شو، که په هر لامل هم وي.

تاسو ژبپوهان دې پرېکړې ته په مینه رابولم.

باور وکړی، چې زما ملګري او پېژندګلوي، چې ښه عالمان او په ژبه کې وتلي کسان دي او سلنه یا بهېدونکو ته اوبلن ووايي او دا ،، تر ،، ناسم وکاروي، ډېر زورېږم. او ربښتیا ډېر زورېږم. که دوي ته دا سم برېښي، نو زه به د دوي له پاره هم ارام شم، هغه دې موږ ته راوښايي، چې کوم پخواني او کوم جوړشوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



. زمونږ ځني د ادب مينه وال په دې اند دي، چې زمونږ ژبپوهان دي، خانونه داسې لږ د نيولوجيزم سره بوخت کړي، خو زه په دې اند نه يم. مونږ دا خپل لرلي او نه مينلي ويونه، چې د مسلک په زور وميندل، دا بهنو پورهبرياليتوب وي، ودې ته نوي ويونه پيدا او جوړ کړو. تاسو ماته يو څه وښايي، چې د هغه نوم جوړېدی شي او مونږ يې نه جوړوو..

ستاسو د ټولو له سرې سينې ډېره مننه.

## له ،،واحد،، څخه مونږ څه پوهيږو؟

مونږ په دا دومره مهال کې واحد د فزيکي کچونو لويو يعني متر، کيلوګرام او نورو ته وايو، چې دا ناسم دی او تل ناسم وو، خو يا مو ورته فکر نه دی شوی او يا مو د سمون په باوريوالي باندې ځانونه نشو پوهولی. زما هم له هغه وخته ورته پام شوی، چې په ليکنواو ژباړو مې پيل وکړ، چې له دې امله مې په خپلو ليکنو دې لويو ته واحد نه دی ويلی. دا پيداښتي ده، چې په نورو وتلو ژبو کې دا هر څه سم روښانه او بلل شوي، چې په پښتو اندول يې بايد وليکل شي، خو دا هم په خپله ژبه د باور کمی او هم پهځانونو دباور کمی دی، چې د سمون زورتيا مو تر اوسه نه ده کړې. واحد يوه ته وايي او بس

لهدې څخه د مخه يو څو يادونې:

لومړی: د ما وړانديز: که څوک غواړي يو پو هنيز څه وليکي، چې ټولنې ته يې وړاندې کړي، بايد په اول کې دا د يوې وتلې دباندنۍ ژبې راونيسي. په پوره خوشنۍ بايد ووايم، چې مونږ لا تراوسه پوهنيز څه په خپله ژبه کې نه لرو يا پوره نه لرو او دا مو له دې امله ناسمونون سره مخامخ کوي. که دا کومه ليکنه له دباندنۍ وتلې لکه انګرېزي ژبې څخه راوژباړو، نو د انګريزي يونيټ په ځای به واحد ونه ليکو، نو له دې امله – که غواړی ښه څه وليکی، نو يوه وتلې ژبهښه د پوره توان سره زده کړی او پهنيزې ليکنې ترې راوباړی. مونږ د ټولو پيداښتي ويونو لپاره په خپلو ژبو دپيداښت سره سم پهپښتو اندول لرو

دويم: مونږ که يو څه خبرو ته رااچوو، نو پيژند يې بايد راوړل شي، ښه روښانه، ټولپوهوړ او ټولپوهيز.

زياته شننه د سرې څخه لار ورکوي، لنډ او بې له کومو زياتونو بايد هغه موخه ورکړل شي .

دريم: که د بل چا د ليکنو پر ناسمون باندې خبرې کوو، نو هغه ليکنه بايد راوړو او بيا يې په خپل اند هغه سمون ورته وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې باید نه وي، چې د هغه څه مې ولوستل ښه نه وو، یا ترې سمه ګټه نه اخستل کېده.
دا باید و ښوول شي، چې د هغه لیکنه کې کوم ناسمونونه وو او دا څنګه سمېدلی شي. د
دې له پاره باید ښه روښانه او پوهوړ دلایل راوړل شي.

څلورم: په لیکنه کې بې له اړیینو څه باید سملاسي خپلې لیکنې باندې پیل وکړو

اوس راځم خپلې موخې یعنې ،، واحد،، ته.

زه چې زموږ د لیکوالانو اندونه او د واحد پیژند د دوي په اند د دوي په لیکنو کې ګورم،
ورته خواشینی شم، چې له دې امله دې لیکنې ته راوهڅول شوم، که څه هم دا زما
پهپخوانیو لیکنو او همدا ډول د شمېرپوهنې ویونو کتاب کې هم شته. .

موږ چې لا تراوسه واحد کاروو، نو موخه ترې تل د یوه څه د کچولو لویې لکه متر،
کیلوګرام او ساعت ته ،،واحد،،(؟) وایو، یعنې که اوږدوال یا یو بل څه کچوو، نو هغې د
کچونو الو یا کچون الو له لارې، چې هغه روښانه پیژند او نوم لري، دا پهدې مانا چې که
اوږدوالی کچوو، نو دا په متر کوو، چې دا د کچونې واحد بولو، چې دا پوره ناسم بلل دي.
په پوره خواشینی باید ووایم، چې موږ اوس هم دا پخوانی ناسمونونه همهغسې ناسم کاروو.
د دې کار هغه ستر لامل دادی، چې موږ هغه د دباندنیو ژبو رانیولو څه ته هم فکر نه
کوو، چې په هغو کې دا څنګه دی، خو موږ په همدې ،، واحد،، پاتې شوي یوچې زه
غواړم دا لږ روښانه کړم.

زه غواړم، چې ستاسو په لیکنه کې دا ،، واحد،، لږ رڼښانه کړم او مسلکي پېژند یې له
تاسو سره ګډ کړم، هیله ده، چې دا به

راته وبخښې، کوم ځانیز څه په کې نه لرم او هیله مې زموږ او ستاسو همغږیزوالي دئ

دا په پښتو کې ورځنی شوی وی ،،و احد،، موږ له عربي ناسم رااخستی دی. د ،، واحد،،
ترې پوهېدنه بل څه دي وهغه ته چې موږ ترې پوهېږو. د واحد پښتو انډول ،، یو ،، دئ
چې پسې دوه، درې او نور راځي او بس.. دا چې موږ ورته واحد وایو موخه ترې ،، یو،،
نه دی. یو یو دئ او نور څه نه وایي او همداسې لکه دوه، درې او نور هم. یو که د یوه څه
سره یوځای شي، نو بیا هغه شی یو هغه څه دئ، لکه یوکتاب یا یو متر، - کیلو، - بجه او
نه دوه یا درې او نور..

موږ په فزیک کې ویلي، چې د فزیکي لویو د کچولول له پاره زموږ په بللو،، واحدونه،،
کاروو، چې ،، واحد،، یې ناسمه نومونه یا بلل دي.

دا نو څنګه سموو؟ موږ وتلو ژبو ته ځو او د هغو څخه دا سم رانیسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کچونلويو د څومرهوالي لهپاره، چې کاروو، دا په نورو

ژبو کې لکه انګرېزي کې

unite دئ او الماني کې Die Einheit

او همداسې يې عربي مانا،، وحدة،، دئ، چې موږ يې پوره ناسم ،،واحد،، بولو. له دې دريواړو ژبو څخه د دې پښتو انډول ،، يووالی،، دئ، چې ما په خپلو ليکنو ويوون بللی، چې ګوندې دا به همدا يووالی وي او که څنګه؟

موږ ته دا يووالی، چې ما ،،يوون،، بللی، لږ بلډول برېښي، نابلد دئ او ګومان مو راځي، چې ګوندې دا يووالی، خو يو بل څه دي. دا همداسې دئ او نه يې بل څوک پيداکوي، که نه هغه به همداسې لکه دا ،، واحد،، ناسم وي. دا ويډول دئ، دا په ټولو ژبو کې همداسې دئ ،د پښتو انډول يې هم همدا دئ، ما نه دئ پيداکړی او نه دومره توان لرم. د دې روښانه ولو لهپاره داسې مخ ته ځو:

## فزيکي لويې څه شی دئ؟

فزيکي لويې اوږدوالی، دروندوالی او مهال دي او د فزيکي لويو د څو والي او څومره والي د روښانولو له پاره يووالي متر، کيلوګرام، ساعت دئ، چې لوي او واړه يووالي بيا لري. که موږ او تاسو د هر څه اوږدوالی کچوو، نو په متر به دا کار کوو او دا متر له دې امله يو يووالېز يووالی دئ، چې هر ډول اودوالی پرې کچېږي او بس.

: Grad Celsius, Kelvin und Fahrenheit د تبې يووالي

دا پورته د تبې يووالي يا يوونونه دي، چې يو بل اړول کيږي يا اړولکېدی شي.

ربښتيا درسره شريک کړم هغه بل يې زما له ياده ووتلو. په پوره بخښنه .

د هرې بلې لوي له پاره د کچولو يووالی شته لکه د موټر زور، چې په اسزور کچېږي او داسې نور

اوس به نو راشو، دې د ژبپوهنې يووالو ته، چې دلته به څنګه وي؟

## ژبه معياري کونه

معياري ژبه نو څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیاري ژبه باید د کلیوالي ژبې سره توپیرولري، ژبه باید خپل گرامر ولري اوویي کتابونه اود اړتیاولپاره په معیاري ژبه یا لوړه ژبه اویا اکادمیک ژبه د لوستلو اومرسته اخستلولپاره پوره پانگه ولري

تراوسه چې په پښتو ژبه کې څه شوي، دا ځانله یا یو یوکس کړي اودا هرومرو ستر کار، خو ډېر کم دي.

لنډ ورځنۍ ژبه یا کلیوالي ژبه، چې په هغه ژبه چاپېریال کې، د ټولوینژبی سره په ویلو او لیکلو توپیر لري او لوړه یا معیاري ژبه هغه وي، چې د هغې ژبې ټول ویونکي پرې لیکنه اولوستنه کوي.

دانو په څه پوهېدنه؟

دا په دې پوهېدنه، چې د ختیز، سهیلي او لوديز افغانستان خلک په خپلو کلیوالي ژبو غږیږي، چې سره تو پیر لري، خو معیاري ژبه دا ده، چې ټول یو ډول لیکل پرې کوي.

لنډ: معیاري ژبه د هغې ژبې د خلکود پوهې لاس ته راوړنو اړتیاوې پوره کوي.

دریم ته: پوهنیزه ژبه هغه ده، چې د اړتیا ټولې پوهنې لکه د مخه مو چې گوته ورته ونیوله، پوره کړي. دا داسې بریښي، چې دژبې سوچه کونه اود ژبې معیاري کونه په ختړه کې د ژبې پوهنیزه کیدنه ده.

پام:

د ژبې معیاري کیدنه یا کونه باید په دې موخه نه وي، چې یوخیالي – بې له کوم ژبني او سم اندیزدلیل- څه ژبې ته ورواچوو، چې گوندې یوڅه خووشو.

لکه:

،، غني د ترمپ د خبرو په غبرگون کې وویل،، یا ،، ....غبرگون وښوده،،. نه پوهیږم، چې ،، په غبرگون کې وویل،، کې به د لیکونکي موخه څه وي، خوماته څه نه وایي. دا به نور کسان ووایي، چې دا یا هغه یا دغه موخه لري. دا چې موخه یې که هرڅه وي، خودا یوه سمه وینا نه ده، چې څوک ترې څه پوه شي.

داچې ژبې سره غبرگې دي اود یوې ژبې اړول په بله ژبه اوس ـ زموږ له پاره – اړتیا ده، باید دا خپلې ژبې انډول په بله ژبه هم په همغه انډول واړولی شو، چې دا مو نو د دې ،، غبرگون،، سره وران کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د غبرګون په ځای ،، ګړنګون،، هم ولیکو همدا یوډول به ترې پوه شو. نو اوس باید و اندو، چې موخه به څه یې وي.

وایو: غني د ترمپ د خبرو په هکله یا مخامخ، او یا په پلوی څه وویل یا غني د ترمپ د خبرو په هکله خپل اندځرګند کړ.

دا نوښنګه کیږي؟

دا داسې کیږي، چې د ښونځي څخه نیولې تر پوهنتون اوله دې وراخوا د هغې ټولنې اړتیاوې پوره کړي، دا په دې مانا، چې ته پوهنیزې څیړنې هم باید په خپله ژبه وکړی شي.

موږلا تراوسه دې ستر کار ته پوره هلې ځلې کول مخ ته لرو، خودا کار د حکومت دی او په ځانله یا یو څو کسانوسرته نه شي رسیدلی

زه دا لیکنه دلته رالنډوم اود نورخبرو له پاره نوراړینې لیکنې هم شته، چې باید خبرې سره په وکړو، هیله ده چې د تاند درنه پاڼه یا خپرونه به په دې لار کې مرسته وکړي، چې ددرناوي وړ.

لاس ته راوړنه: پښتو سوچه کونه، - معیاري کونه او – پوهنیزه کونه همغه پښتو پوهنیزه کونه ده.

ایا دا کار شونی دی؟

پښتو ژبه د نوروژبوپه څیر پوهنیزه کیدی شي، چې پای کې یواځې دوه بیلګې د شمیرپوهنې اوفزیک څخه راوړم.

له شمیرپوهنې یا نوره هم ښه له ځمککچپوهنې څخه:

کره، قوس، قطر، وتر، قطعه، قطاع، سطحه، محیط

پښتو یې ( خو ورپورې خاندی مه، دا همداسې دي، که زموږزړه غواړي اوکه نه):

ګردی،لینده، نیمی، ټوټه وني، ټوټه، برخه، هواره، چاپیریال.

له فزیک څخه:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړیینوالي نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته انډول لرواوکه نه.

لومړی: (برېښنا) تړونی

په کوټوکې چې برېښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وايي، وهو یا کیکاړو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوورته

انډول لټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( برېښنا) وړوني) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،تړونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو له پاره انډول همدا ،،تړوني،، دی.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دی او که نه یا په داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دی، دا تړونی دی اونه بل څه.

# ژبه قرارداد دی او که څنګه؟

ځنې په پښتوکې ناسم ورځني شوي ویونه چې له چا سره خبرو ته راواچوو اوناسمون ته یې ګوته ونیسو، چې دا نومونه موخه ور نه ده، نو سملاسي اورو، چې ژبه خو قرارداد دی، دا په دې مانا، چې که موږ یو څه ناسم ووایو اودا خلک همداسې ناسم واخلي او ورځني شي، نو هغه د قرارداد له مخې بیا منلي ګڼل کیږي، چې بیانو باید سم وي.

موږ خو لا تراوسه د ژبسمون له پاره کومه ژمنه ټولنه نه لرو، چې دا کار سرته ورسوي اوکه وي هم، زموږد ژبې د ځوانی له مخې کیدی شي ځنې ناسم ویونه موژبې ته راننوتي وي.

تر هغه ځایه چې زما تجربه ده، موږتراوسه ژبې ته کوم داسې وی نه دې راننباسلی، چې هغه دې د هغه وي غوښتونی خوي ورکړي.

زما تجربه – په ډېره خواشینی باید ووایم – داسې ده، چې موږ په ژبه کې یوکره پیژند لرونکي یا پیژندل شوي وی د یوه بل کره پیژندلرونکي وي - چې پیژند یې هم کره روښانه وي - په ځای ناسم ځای په ځای کوو. دا نو قرار داد نه شي کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دې موضوع ته داسې خپل پام رااړوو:

لومړی:

هغه ویونه چې له پیداښته نوروژبو کې شته نږدې ټول یې موږ هم په خپله ژبه کې لرو، چې موږ یې باید په خپله ژبه کې راپیدا کړی شو او دا کار د مسلک اوپه ژبه پوهیدنې له امله شونی دی.

بیا: دا کار مسلکي کسان، چې د مسلک برسیره په یوه بله دباندنۍ ژبه هم ښه پوه وي.

که څوک داسې نومونوباندې د پښتو په انډول - د مسلک او ژبې له مخې – نه پوهیږي اودا بیا غواړي په پښتو انډول ونوموي، نو ناسمون ورسره لهپیله مل دی.

موږیې دلته یوه بیلګه راوړو:

د مایع اوبلن بلل. ایا دا به نو هم بیا قرارداد وي او که څنګه؟

یادونه له دې د مخه چې په دې بیلګه روښنایي اچوم، د فزیک له مخې د تنونو نومونه لنډ اخلم، چې په درې ټولګیو وېشل شوي، بې له زیاتې شننې:

۱ – د کلک تنونوټولګی، چې زرې یې یود بل څخه پخپله نه بیلیږي.

۲ - د تښتیدونکو تنونو یا غازونو ټولګی، چې څنګه ازاد شي یوې اوبلې لورته ځغلي.

۳ – د بهیدونکو تنونو ټولګی، چې بهیږي.

زموږژبپوهان، چې د مایع په پښتو انډول - د مسلک له مخې هم – نه پوهیدل، دا یې اوبلن وبلل، چې پوره ناسم اود مسلک څخه لرې دی.

اوبلن څه پیژند لري؟

ګوروچې اوبلن ځان ته کره پیژند لري. دا د د دوه هایدروژن اویوه اکسیجن خوي دی، چې لا اوبه هم نه دي او په کلکو بدنونوکې ګنډل کیږي.

اوبه واوره کیږي، چې کلک بدن یا تن دي، دا واوره بیا اوبلنه کیږي، چې نرمیږي،خولا تراوسه کلکه ده اواوبه شوې نه ده.

که د دې تودوخې نوره هم جګه شي، نو دا اوبلنه واوره بیا اوبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته دې د ګرانو لوستونکو پوره پام وي، چې دا یواځې او یواځې د اوبو خوي دی او د تنونو د کوم ټولګي خوي نه دی، دا په دې مانا، چې شړومبې یا شیدې نه اوبلنیږي او نه کوم غاز یا ټښتیدونکی اوبلنیږي. دا په دې مانا، چې اوبلن غازنه شته.

نو لنډ: ټول هغه تنونه چې بهیږي بهیدونکي تنونه دي او نه اوبلن. دا بهیدنه یې ګډ خوي دی.

دا نوقرارداد نه دی، چې نوم د بل نوم ځایناستی کیږي او ان د یوه ټولګي تر نوم پورې.

د پیداېښتي نومونویا ویونویوه بله بیلګه: سلم ته سلن ویل هم ناسم دی، دا د ځنو کسانو د یوه ناسمې مینې په بنسټ همداسې بې له پرې پوهیدنې او کوم دلیله منځ ته راوړل شوي.

دا هم کوم قرارداد نه دی او نه قرارداد کیدی شي.

دویم:

ځنې داسې نومونې لرو، چې د هغې له پاره له پیداېښته سم نوم، د نورو ژبوپه مرسته لرودی شو، خو دا چې زموږ د ژبې سمه وده له څه باندې شپیته کاله را په دې خوا ده، چې له دې امله ځنې ناسمونونه په کې راغلي، چې اوس ښه بریښي، خو د ناسمو نومه ونو په ډله کې باید راشي.

بیلګه ۱ :

روغتون ته په ټولو ژبوکې د پښتو انډول ناروغتون یا رغنتون یا رغنځی ویل کیږي، چې له خوي او ژبې له مخې یې همدا سمه نومه ونه هم ده.

دا هم قرارداد نه دی، خو دا چې موږ ډېر یا له سره داسې بللی، اوس یې بله نومه ونه راته پردی بریښي.

بیلګه ۲ :

د کورنیوچارو وزارت، چې باید د دننیو چارو وزارت بلل شوی وي، خوموږداسې بللی. د کورنیوچارو وزارت هم باید ولرو، چې د کورنیو چارو سره سر اوکار لري.

یادونه: په دې ناسمونو کې دلیل نه شي ویل کیدی، چې دا روحیاتو له امله ښه یا بد بریښي، په ژبه کې هر څه شته، چې ځنې به په ځنو کسانوښه او په ځنو بد اغیز لري.

دا هم د قرارداد سره سر اوکار نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم:

هغه نومونه چې د انساني ټولنې د ودې سره د پرتلې له امله منځه ته راغلي:

زه یې دلته یادونه کوم. زما په بله د مخه تیرې لیکنه کې شته اویواځې نومونه یې اخلم، کره پیژند لري او پر ځای یې د یوه بل کره پیژند وی تاسم کارول کیږي.

بیلکه:

ستاندارد، سطحې، سویې، ... ته کچه ویل پوره ناسم دي.

زموږ په ژبه کې خودا ټول ناسم بلل شوي ویونه د یوه کس د شپې د چرت څخه راوتلي او سهار بیا دا نورو کسانوراالخستلي او ټولیز شوي.

د ژبو د اسانتیاو له پاره د نورو ژبو پوهان هم د لیک بڼه بدلون اونورونوښتونو له باره کار کوي.

دا څو کاله دمخه د المان دولت له خوا پنځه میلیارده یورو وټاکل شو، ځنې بدلونونه په ژبه کې راغلل، چې د نوې بڼې لیکنو له پاره پنځه کاله وخت ورکړشوی وو، چې په ښوونځیو او نورو دفترونو کې دا نوې بڼه ورځنۍ شي. په دې کې ورسره سوېس اتریش او لیښتنشتاین هم ګډ وو.

ز ه یې یوه بیلګه راوړم:

پخوا دوي فیل Elephant لیکه او اوس یې Elefant لیکي.

که ګران لوستونکي مرسته کوي او د قرارداد په توګه سم نومونه غوره شوي وي، هیله ده، چې ویې لیکي.

# ایا موږ پیداېښتې پوهنې پښتوکولی شو؟

موږ لا تراوسه چې په پیداېښتي پوهنوکې پوهنیز څه لولو،هغه عربي دي. پوښتنه دا ده، چې ایا موږدا پوهنې په پښتو لیکلی شو، دا په دې مانا، چې ایا موږ د دې پوهنو پوهنیزو ویونو ته هم پښتو انډول لرو او دا پیدا کولی شو. دا نومونه پیدا کوو نه، خو پوښتنه دا ده، چې ددې له پاره نومونه په پښتو شته اوکه څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پوښتنه به په هوځواب کړو، ځکه چې هره ژبه د پوهنیزه کیدوتوان لري، خولومړی باید ځان په هغه پوهنه پوه کړو او بیا په هغه وي، چې د باندنۍ ژبه کې شته اوپښتو انډول یې پیدا کوو.

په همدې ځای کې دې اجازه وي، ووایم، چې ما په شمیرپوهنه کې نږدې څلوېښت کتابونه په پښتو کړي، دا په دې مانا چې هغه مسلکي نومونه مې په انډول پښتو کړي، بې له ستونځو او همداسې مې په فزیک کې درې کتابونه ژباړلي، چې یوله هغود ښوونځي د کتابونوسرلیکونه دي، هغه فزیکي ویونه مې نه د ډکشنري په بڼه، خو په پښتومې د الماني ویونو ته انډول پیدا کړی یا میندلی

دا په پښتو یا د پښتو نومونوسره مو پوهنه هم ساده کیږي، چې دلته د یوڅو بیلګو سره ستاسو لنډ پام را اړوم. دا په ورزیاته کړم، چې ما هیڅ وخت نوم له ځانه نه دی پیداکړی او انډول مې لټولی او پیدا کړی دی.

په دې هکله اوږدې خبرې نه کوم، لنډ یوڅوبیلګې له تاسوسره ګډوم.

مشبوع به نوڅه وبولو؟

مشبوع داسې پیژند لري:

-- هغه محلول چې نور همغه څه په ځان کې نه شي حل کولی، مشبوع بلل کیږي.

موږ وایو: یو څوک چې ډیرخوراک وکړي هم ورته وایي، چې مشبوع شوی اومیږي، چې ډیر واښه وخوري. نو وایو چې میږه ټنډه شوې .

یو څوک چې نوره مړی نه شي خوړلی، خوموړوي او همداسې نور ژوي مړیږي.

کوچنیانو ته هم چې موږډیر خواږه ورکړي، راګرځوي یې.

ځني خواږه دي، چې سړی یا څوک ښه په مړیږي، نو وایو، چې دا خواږه مړوونکي دي. ګومان مې دی، چې د کلي خلک وایي مړوخه دي، نه پوهیږم سم به وي او که څنګه، ځکه چې مړوخه ګومان مې دی هغې ښځې ته هم وایي، چې میږه لري.

په همدې توګه مو محلول یا حل ،،اوبی،، بللی، نومشبوع ته به څه ووایو؟

لکه چې ژوي مړیږي، خو همداسې یو اوبی هم مړیږي.

موږ نو پورته پیژند اوس په پښتو دا سې لیکو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اوبی چې نورڅه ځان کې نه شي اوبی کولی ( دا ګوره اوبه کولی نه بولو) موړ وي.

مشبوع = موړ

بیا وایم، چې دا بل ډول نه شي بلل کیدی، دا په دې مانا، چې نومونه به نه جوړوو، هغه خپل نومونه به رابرسیره کوو یا له کټلاندې څخه راباسو.

له شمیرپوهنې څخه یوه بیلګه:

ما خو نږدې ټوله شمیرپوهنه په پښتو لیکلې، خو بیا به هم یوه بیلګه له تاسو سره ګډه کړم:

دایره، چې د دایرې د منحني یوه لړه برخه قوس بولو او وتر او قطر لرو او داسې نور.

په پښتو یې:

ګردۍ ( موړیې په هسکه مینه کې ګردۍ بولو)، هغه وړه د ګردۍ د کړې برخې ته ،، لینده،، وایو.

دایره = ګردۍ

قوس = لینده

وتر : هغه کرښه ده، چې له ګردۍ یوه ټوټه بیلوي، نو دا له دې امله ټوټه وونی ( ټوټوونی) بولو( بولویې نه،دا ټوټوونی دي).

وتر = ټوټوونی

ټوټه یا چې قطعه ورته وایو: د ګردۍ هغه هواره ده، چې د لیندې او ټوټوونې منځ کې پرته ده.

قطعه = (ګردۍ) ټوټه

نیمۍ: هغه کرښه چې ګردۍ نیمۍ نو دا به نیمۍ نه وي؟

قطر = نیمۍ ( اړیین نه ده چې کرښه ورسره یاده کړو، پوهیږو چې دا کرښه ده).

ګردۍ برخه یا قطاع ( دا د قطاع نوم هم ډارونکی دۍ): دا د ګردۍ برخه ده، چې د دوه وړانګو او ګردۍ لیندې منځ کې پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطاع = (ګردۍ) برخه

وړانګه =شعاع

# له فزیک څخه

سیم یا څه، چې برېښنا وړي، نو هغه هرومرو ،، (برېښنا) وړونې دي او له دې امله یې برېښنا وړوني یا لنډ وړوني بولو

دا د ښوونځي د فزیک نږدې ستره برخه مې پښتو ته را اړولې. په دې هکله مې لیکنې په کتابتون. کوم کې کتلی شئ.

دا د ګرانو لوستونکو له پاره یو څه وړاندې کېږي، چې کتل او اندونه سره یو کول نه، سره نږدې کول یې زما هیله ده او نه بل څه.

نومونه یا ویونه باید پیدا نه شي. هر څه چې په پیدابښتي توګه په بله ژبه کې شته، په پښتوکې هم شته.

دوه پوښتنې دي:

لومړی: یو څه ته په پښتو نوم اینبول ( دا به د خبرو وي)

دویم: د یوه څه په مانا ځان پوهول ( دا باید وي)

نو که د دې ویونو مانا ولیکویعنې مخکتاب، نړیوال جال، ملفون، شمیرونی، دا به اړیین وي. دا چې څنګه یې وبولو، دا باید په پام کې نیولشوي وي، چې تخریب په کې نه وي.

بیلګې:

۱ - موږ په کورونو اوکوټوکې یوجوړښت لرو، چې برېښنا پرې روښانه کوو اومړه کوو. دا جوړښت د یوه واړه اړمګوټي یا یوې تختې او یا د یوه څرخ په څېر وي. دې ته انګرېزي سویچ، الماني شالتر وایي. ددې دنده داده، چې برېښنا وړوني یا سیمونه سره یوځای کوي اوبیلوي. د یوځای کیدوسره برېښنا په برېښنا وړونو یا سیمونوکې بهیږي اوڅراغ روښانه کیږي اود بیلیدوسره برېښناګروپ مړکیږي. دا نو (برېښنا) تړونی بولو اودا نوم همداسې دئ.

۲ – پورته موبرېښنا وړوني نوم ولیدل، دا هکپک کیدونکی نوم نه دئ، دا برېښنا له یوه ځایه بل ځای ته وړي، نووړوني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورو،چې زموږ ژبه د پوهنیزه کیدو توان لري او هره ریښه په پښتو کیدی شي او هغه داسې، چې هرڅوک پرې ښه وپوهیږي.

زما اخرني وړاندیزدادی، چې نومونه به له ځانه نه جوړوو اویو کره پیژندل شوی وی به د بل کره پیژند لرنکي وي په ځای نه ځای په ځای کوو.

قرارداد زما، یما، دما دا درې نومځاینیوي د همغه یوه نومځاینیوي له پاره ویل کیږي، پوښتنه داده، چې ایا دلته یو قرارداد اړیین دی؟ نه. ځکه چې دلته هم د ژبلار له لارې هغه سم ترې راوباسو. دا به نو څنګه وي؟

# پرتلنه او پرتله کونه او د عکس العمل پښتو

د ځنو لیکوالانو لیکلو کې مې پرتلنه ولوستله او دا مې م ک کې خوره کړه، چې پرتلنه او که پرتله کونه. ځنو ملګرو او همداسې په یوه ناسته کې دژبمینوالو او ژبپوهان سره په خبرو کې دا ویونه رامنځ ته شو، چې دا پرتلنه او که پرتله کونه یا پرتله ونه سم دی او همدا ډول دا هم رامنځ ته شوه، چې عکس العمل ته به په پښتو

څه وایي، یعني د پښتو انډول یې؟

زیات وخت، چې د پښتو ویونو باندې خبرې راځي، نو زما د پېژندګلوۍ له ډلې د ځنو په ژبه کې ورځني مګر د پردیو ویونو د پرېپوهېدنې پوښتنه کوي، چې یوه ورځ یوه درانه پوهاند هم راڅخه وپوښتل، چې نو د ستونځو حل ته به څه ووایو، چې زما ځواب ورته سملاسي د ملګوبي څخه خولې ته راغی او ستونځوبی مې ورته وویل، چې اوس یې همداسې لیکم هم. اوس راځو خپلې موخې ته:

د شننې په بنسټ زما پرېکړه دلته له دې امله نه ده، چې ګوندې دا د عکس العمل پښتو انډول دې ورځنی شي یا وکارول شي، خو موخه دا ده، چې وپوهېږو، د دې انډول په پښتو کې شته او که وي، نو هغه به څه وي وي؟

دا دوه څېړنیزې موضوعات به داسې پیل کړو:

لومړی: پرتلنه که پرتله کونه؟

الف: پرتلنه: د تلل نوم تلنه ده. شیات تلل کیږي، خو انډول یې، چې برابر دي او په څه کې برابر دي او که برابر نه دي. دا تلل شوي شیان سره پرتله کېدی هم شي، چې ګډ خویونه ولري. دې ته به کېدی شي د پسې موضوع څخه بیا ښه روښانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : پرتله کونه: دا وی یواځې د دې له پاره نه کارول کیږي، چې د شیانو دروندوالی سره پرتله کوي، چې کوم دروند دی او څنګه سره پرتله کیږي یعنې پرتله سره ایښول کیږي.

پرتله کونه په دې پرېښو هېدنه ده، چې دوه یا ډیر شیان په هغه کډ خوي کې سره برابر دي او که څنګه. د دې روښانولو له پاره د هر یوه خوي هغه انډول کچوونی یا کچ اله په کار ده، چې دا هغې کچونې وروسته بیا کتل کیږي، چې سره برابر دي او که څنګه.

یو: که چېرې وغواړ وپوهېږو، چې دوه یا ډېر کسان په جګوالي کې سره برابر دي او که نه، نو څنګ په څنګ یې سره دروو او بیا یې په برابروالي پرېکړه کولی شو. که د یوځای درولو شونتیا نه وي، نو بیاهر یو د اوږدوالي کچ اله باندې، چې یووال یا یوون یې متر دي په کچه کوو او دا روښانونه یې بیاګورو.

دوه: که چېرې وغواړو وپوهېږو، چې ایا د ګلاب ګل،کستېرې او که د خوږ چ بوي سره همغه دی، که توپیر لري، نو بویوو یې او بیا پرېکړه پرې کوو.

درې: که وغواړو، چې یوه مڼه او یو ناک سره پرتله کړو، په خوند، دروندوال او همداسې په پلنوالي کې، نو دا د پېلابېلو لارو له لارې کیږي، چې بیا یې په هر یوه موږ پرېکړه یا قضاوت کولی شو.

پای یې: ګورو چې پرتله کونه د تللو سره یواځې سراوکار نه لري. ځنې دپرتله کونې شیان د پرتلې له پاره تلل کیږي او دا نور یې بیا د بېلابېلو لارو له لارې کچول کیږي، چې د ټولو دا پورتنی نوم بیا پرتله کونه ده. له دې څخه دا پوهېږو، چې پرتله کونه سیده د تللو سره نه شو برابرولی.

نو له دې امله پرتلنه د پرتله کونې له پاره ناسم بلل دي.

بل غوره بېلووالی یې په دې دی، چې تله نوم دی، چې له دې امله یې د مخه اړیکوی ،، پر،، راتللی شي یا ښه یې په تله کې یا پر تله باندې اچول کیږي او تلل کیږي، نو لهدې امله تلل یو کړنوی دی، چې د مخه یې د ،، پر،، لیکل نه شته، دا په دې ترې پوهېدنه چې دا ،،پرتلل،، نه شته، نو همداسې پرتلنه هم نه شته.

یادونه: زموږ ځنو د ادب خاوندانو ته دا ،، کونه،، لږ ښه نه برېښي، خو په ژبه کې ښه او نا ښه، ښکلې او ... ټول شته، دا دچا د اند او خوند سره سر او کار نه لري، دا ژبه، ده، چې څنګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه یادونه: زموږ ژبپوهان او د ژبې مینوال باید - که چېرې دپښتو ډکشنري منځ ته راتله- د پښتو شننیزه ویکتاب یا ډکشنري کې هم هر یو وی داسې روښانه کړي. او همداسې دا لاندې.

بیا لنډ: تلل کړنه ده او د کړنې د مخه اړیکوی، دلته ،، پر،، ځای نه لري او همداسې پرتلنه هم سمه نه ده. خو تله یوه اله ده، چې د مخه یې ،،پر،، ځای نیولی شي یا راتلی شي او همداسې پرتله کول او لهدې امله پرتله کونه سم دي.

اوس راځو زموږ دې بلې د خبرو موضوع ته:

دویم:

# عکس العمل

پوښتنه: عکس العمل ته به په پښتو څه ووایو، یا به یې څه وبولو؟

د عمل او عکس العمل الماني، انګریزي او لاتین یې:

Aktion ;Reaktion; actio, reaction; actio; reactio

موږ به دا لومړی: د یوه ویکتاب څخه له الماني په عربې او پښتو وژباړو، چې وپوهیږو، دوی یو ویکتاب څنګه لیکي، چې موږ هم باید بیا د یوه شننیزې ډکشنري له پاره ترې زده کړه وکو. دویم به بیا موږ دا د فزیک او نور پوهنو په بنسټ هم داسې لږ روښانه کړو.

لومړی د Reaktion په څېکړنه او عربي ترې پوهېدنه چې عکس العمل دی او په څنګ کې دا لاندې هم.

استجابه ، رد فعل، ردود

کیمیاوي کارونو کې تفاعل

سیاسی رجعه

په عربي خو نه پوهېږم، خو دا د الماني غونډالي، چې په عربي ژباړل شوي، زه یې الماني څخه پښتوو ژباړم، چې داسې لږ هکپککونکي به وبریښي، ځکه چې ورسره بلد نه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.Das ist eine unglaublich primitive emotionale Reaktion

إنّه رِدٌّ فعلٍ بنسبةٍ واحدٍ من مليون

دا له باور لري ساده احساساتي عکس العمل (په ځټکړنه ( کړنغندنه)) دی

.Vielleicht war die erste Reaktion richtig

ربّما رد الفعل الأوّل كان حقيقيّاً كناّ فقط شخصين على مقربة

کېدی شي لومړی په رد عمل (په ځټکړنه) سمه وي

د الماني عربي ځخه مو یو څه پښتو کړل، چې په پام کې يې ولرو. نور هم په دې هکله د لیکلو پوره څه شته، خو هغه دې ګرانو د ژبې مینه والو پاتې وي. اوس راځو

دویم ته: د عکس العمل فزیکي پېژبند:

که یوه غونډوسکه په دیوال ولو، نو هغه دیوال دا غونډوسکه په ځټ راليږي یا په ځت راولي.

دا په دیوال وېشتل عمل دي، چې پښتو انډول یې کړنه ده او دا په ځت وېشتل یې عکس الملل دي، چې پښتو انډول یې په ځټ کړنه ده.

له دې ځخه نو د عکس العمل پښتو انډول په ځټکړنه شوه.

بله بېلګه یې اروا‌پوهنیزه ده: که څوک په څپېړه ووهي، هغه یا تا بېرته په څپېړه وهي او یا که دا کار نه شي کولی، نو مخ به یې د وینو په څېر سور شي. دالته دا وهنه عمل او له دې امله کړنه شوه او دا په ځټ وهنه او یا د مخ سره کېدل یې په ځټ کړنه ده.

موږ دلته په همدې بسیا کوو. له دې ځخه دې موخه دا نه وي، چې ګوندې همدا بلد دې نه وي، خو دا کار مو باید کړی وي، وپوهېږو، چې له عکس الملل ځخه په پښتو څه پوهېږو.

ځني ملګري او یا په م ک کي هم ډېر کم د م ک ملګري دا لیکي، چې لیکنې مې ستونځمنې دي او ځني راته وایي، چې لیکنې مې د الماني اغیز لاندې دي، چې ترې پوهېدنه ستونځمنه کوي. زه پوهېږم، چې زما لیکنو کې به ستونځې ځکه وي، چې د باندني ویونه کم لري او داسې څه په کې هم راځي، چې موږ ورسره بلد نه یو. زما په دې لیکنه کې هم څو ځایه داسې ویونه راغلي، چې ما ورته په بلد ډول باید معنا یا معنی لیکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خو له دې معنا څخه په ځنګ تېرشوی یم، چې ښايي شتاسو به ورته پام رااوښتی وي.

## نه دی، نه کوم، له خوا اوکه ندی،نکوم... څنګه لیکو؟

انجنير صيب ستانه مير زهير شينواری چې په م ک کې هم خورا هڅاند دی او زيات وخت پوښتنې و رامنځ ته کوي، چې سرې يې و ځوابونو يا نوره هم ښه څېړنو ته را هڅوي.

پوښتنه نږدې داسې وه، چې: له خوا، نه دی، نه کوم، سره بيل بيل او که ګډ ليکل کيږي.

زه نه پوهيږم، چې په داسې موضواتو به خبرې شوې وي اوکه نه، خوپه هرصورت، دا د ټولوکاردی اوزه دا خپل اند له تاسوسره شريکوم.

راځی چې دا موضوع داسې ساده ونه نيسو او لږ يې سره وشاربو. وايي، چې له خبرو خبرې راوځي.

زه هم و دې پوښتنې ته راوهڅولم، چې فکر په وکړم.

له دې څخه د مخه ( ما ليکلي وو: د دې له مخه، خوزر مې ورته پام شو، چې دا ناسم دی، نو سم يې له دې(څخه) د مخه دی) چې د خپلې ليکنې موخې ته راځم، يو دوه وړانديزونه:

١ - کله چې موږ له داسې پوښتنو سره مخامخ کيږو او څه په ليکو، نو په هغه بايد وپوهيږو.

٢ – داسې دلايل نه راوړو، چې ګوندې هغه يې ليکي اوکوم ليکوال يا پوه يې داسې ليکي يا هغسې، بې د هغه له دليله څخه، چې د موضوع د سمون لپاره يې راوړی وي، يعنې ولې ګډ يا ولې بيل. دا څرنګه ليکل يې هرومرو يو ژبنيزلامل يا ژبنيزه لار بايد ولري، چې د هغې پر بنسټ باندې موږ اړ يو، چې هغه راوسپړو.

اوس خپلې موخې ته راځو:

بايد و پوهيږو، چې دا څه شی دی او موږ يې د ځواب يا څېړنې په هکله څنګه و مخ ته ځو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورډا موضوع په دوه برخوویشو:

لومړی: نه دی (ندی)، نه کوم(نکوم)

دویم: دا له خوا او که لخوا دی.

لومړي ته:

موږ د لته اړ یو چې دې لومړي ته دوه برخې ورکړو یا په دوه برخو و وېشو:

لومړی الف: نه والی، چې په نه سره ښوول – یا لیکل کیږي.
همداسې د یوې پوښتنې په ځواب کښې چې نه والی راراخي، نو هغه په ،، نه،، کیږي ، چې ذلته د نه ،، ه ،، روښانه یا جګه ویل کیږي.

پوښتنه: و کور ته ځې؟ نه! و کورته نه ځم.

لومړی ب : مخامخوالی یا که غواړی تضاد، چې په نا سره لیکل کیږي

لومړي الف ته: ،، نه ،، د یوڅه یا یو وی نه والی ښایي لکه: ځم، نه ځم، دا هغه سړی دی، --- نه دی، هغه غلا کوي، --- نه کوي، زه هم غلا نه کوم.

دویم ب ته: موږ په ډېرو ویونو او په ځانګړې توګه خویونو مخامخویونه په نا سره لیکو او دا نا د هغه څه سره یوځای لیکل کیږي، لکه: هغه وي سره په نوکانو کې یې هغه مخامخ وی لیکو، لکه: سم ( ناسم)، روغ ( ناروغ) جوړه ( ناجوړه) [ جوړه اوناجوړه ته: هغه ګڼونه، چې په دوه پوره وېشل کیږي،جوړه ګڼونه دي او هغه،، چې پاتې یې ۱ راځي، هغه ناجوړه ګڼونه دي] جوړه ګڼونه لکه: ۴ ، ۱۲ ، ۱۸، ۵۰ اونور او ناجوړه ګڼوندې، لکه: ۱۱ ، ۱۵ ، ۲۱، ۱۲۳ او نور. نورې بیلګې:ارام( نارام)، رښتیا( نارښتیا).

یادونه: دې ته باید په ګده فکروکړو، چې نارښتیا اودروغ سره توپیر لري اوکه نه؟

څوک چې نارښتیا وایي ایا هغه هرو مرو دروغ دي؟

بله پوښتنه: ایا نه روغ اوناروغ یوڅه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې هم لرو: دا نه سړی دئ او دا سړی نه دئ، چې ترې پوهيدنه يې سره ډېر توپير لري.

دويم ته: راځئ چې وګورو، له ځوا څخه څنګه په خبرو کې کارول کيږي. زما، ستا،د هغه، ... يا د يو څه له خوا يو څه کيږي يا يوڅه سرته رسيږي. که زير شو، نو د لته د يوڅه څخه يوڅه بيليږي، چې دلته خوا ده، يعنې د يو څه يا يو چا له خوا.

دا ،، خوا،، ادورب دئ يعنې يو څه يا يوشي څرګند يا ذهني ښايي يا په ګوته کوي. که ،، له،، ورسره مل شي، نوداسې د ويونوپرلپسې ترې لاس ته راځي، لکه د دولت له خوا څخه...

که زما له خوا يا د دولت له خوا يا د بل څه له خوا وويل شي، نودا وينا نه ده اوڅه نه په ګوته کوي، خو که ووايو چې:

زما له خوا داسې وويل شو او يا د دولت له خوا داسې قوانين اېښنول يا ليکل شوي، نو دلته يوه وينا بشپړه شوې.

دلته د وينا څځه هم روښانه ده،چې دا ،،له( څخه ) دئ اودا يواړيکوی يا په دې حالت کې ،،څيرکومپوزېشن،، دئ. د اړيکوي له پاره په تاند کې زما ليکنه شته،هغه کتل کيدی شي. دا نوپه خټه داسې دي.

غونډالې داسې جوړيږي: زما له خوا څخه تا ته کتاب درکړل شو. د دولت له خوا څخه لارې جوړيږي.

ما د ،، له... څخه،، لپاره هم يوه ليکنه کړې او هغه په تاند کې خپره شوې.

دې ته بايد زړه تنګ نه کړو، چې ګوندې دا موضوع څومره وزېده.

هيله ده، چې په داسې څه به ګران لوستونکي هم خپل اند روښانه اوروښانه دلايل راوړي. ژبه همداسې پوره کيږي او همداسې وده کوي.

## له پښتو سره دنوروژبو زده-کوونکوستونځې:

ګرانو لوستونکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ما دا لیکنه یو ساعت د مخه سرته رسولې وی، بل ډول به وی، خوداسې بیا د خوب ته تګ وروسته یا بیا خوب ته د تګ وخت کې ورته هکپک هم شوم او د لیکنې بڼې یا خوندیونې هم بڼه بدله کړه. زه دې کار ته لږ هکپک هم شوم، چې پښتوربښتیا په ځنو برخو کې د نوروژبو سره پوره توپیرلري او غزېدلې ده، چې له دې امله د نوروژبو ویونکو له پاره یې زده-کړه لږستونځمنه ده.

زما دې خوب ته تګ کې فکر شو، چې زموږد پښتو غونډالو د کړنو د ډول سره څنګه نومځاینیوي بدلیږي؟

دا اوس لږروښانه کوو:

دلته به له سره داسې یوڅه هم راوړو، چې زموږد نورو ژبو یاپه ځانګړې توګه درې ژبې افغانان ولې اوڅنګه له پښتو سره ستونځې لري اودا څنګه روښانه کولی شو، چې دا ستونځې اوبی کړو؟

زما دې ته پخوا فکرنه وو، ما غوښتل، چې په نومځاینیوو څه ولیکم، نو دې ته مې راپام شو.

په نورو ژبو یا لږترلږه په درې اوالماني کې د کړوني له پاره په رول کې د راتلونکي-، تلوني- لنډ – او اوږد تیر وخت له پاره بدلوننه راځي، خوپه پښتوکې دابل ډول دی، چې دلته لږرڼا په اچوو.

درې بیلګې به راوړو، بیا به خبرې پرې وکړ.

لومړۍ بیلګه: تلل

زه ځم.

زه به لاړ شم

زه لاړم.

زه تللم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه تللی وم.

په دې بیلګه کړنه وخت-اړوند بدلیږي او کړونی نه بدلیږي.

د دا ډول کړنو ډولونه او کوموالی باید وڅیړل شي اوروښانه شي، چې کوم او څنګه بدلیږي (ګردانیږي).

پوښتنه: په تلنه اوتګ کې به څه توپیروي؟

دویمه بیلګه: لیدل، کتل، که دا سره په ګډه بڼه بدل کړو.

زه ګورم.......... زه وینم

زه به وګورم.... زه به ووینم

ما کتل ........... ما لیدل

ما وکتل........ما ولیدل

ما کتلي وو.... ما لیدلي وو

دا بڼی او کین د دویمې لیکې وروسته سره بدلیدلی هم شي.

په پورته کړنو ،، لیدل،، او هم ،،کتل،، کې ګورو، چې دا د نورو کړنو غوندې بلدې ګرامري لارې نه لري، چې له لیدل څخه ګورم او کتل راځي. موږباید نورداسې بیلارې کړنو ویونه هم پیدا کړو او هغه ځانګړي وڅیړو.

پوښتنه: داسې ویونه په نوروژبوکې هم شته، خوهلته یې موخه سره بیلیدلی شي. پوښتنه دا ده، چې ایا ،، لیدل،، او ،،کتل،، همغه څه یا کتمټ دي اوکه څه توپیر سره لري؟

د دې روښانه-ونه راته لږ اړینه برېښي او بیا دا لټول یا پلټل سره څومره نږدېدي؟

دریمه بیلګه: غونډالې د کړنې، کړوني او (پرې) په کړوني سره.

بخښنه دې وي، چې د وهلوبیلګه راوړم، دا وهل موپه ذهن کې داسې کلک ناست دی، دا وهل او ...، خو اوس مې لیکلي اوبیایې سمون راته لږ ستونځمن برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم الف- د لومړي کس له پاره:

۱ - زه تا وهم

Ich schlage dich

۲ - زه به تا ووهم،خو

Ich werde dich schlagen ,

۳ - ما ته ووهلې

Ich habe dich geschlagen

۴ – ما ته وهلې

Ich schlagte dich

۴ – ما ته وهلی وې

Ich hatte dich geschlagen

د پورته او لاندې دري تاسووليکي، د وړانديزونو سره

دریم ب – ددويم کس له پاره
ته ما وهې.

ته به ما ووهې.

تا زه وهلم.

تا زه ووهلم.

تا زه وهلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته نو کومه ژبلارده، چې لومړي کې یواځې کړنه بدلیږي او نومځاینیوی نه بدلیږي اوپه دې نوروکې بیا وخت-اړوند نومځاینیوي او کړنه دواړه بدلیږي؟ خبره څه کې یا چیرته ده؟

دا د نومځاینیووبدلیدنې له پاره هم کړنه ونده لري یا د کړنې په غاړه دی.

موږ دا بدلون د دې ډول کړنو په بنسټ کوو:

لومړی: کړنې، چې هغه یوڅه ته اړنه وي، دا په دې مانا، چې دا کړنې پرې کیږي، که ووایو، چې خپلواکې وي.

دویم: هغه کړنې دي، چې هغه یوبل څه ته یا د یوبل څه له امله دي.

لومړي ته: د دې کړنوبیلګې دي. تلل، بیدېدل، پاڅیدل. دلته یواځې کړونی دی اود هغه کړنه.

دویم ته: د دې کړنو بیلګې دي: لیدل،وهل، اورېدل. دلته کړنی دي او د کړنو سره مل یو بل څه ونډه لري، که یاد یې شوی وي یا نه، په دې مانا، چې یوڅه به ګوري، یوڅه به اورې، یوڅه به وهې، که یو په -کړونی وي اوکه نه.

د هرې بلې ژبې کسان، چې پښتوزده-کوي،ستونځې یې په څه کې دي؟

دا خبره مو پورته ځواب کړه، چې په پښتو کې ګړن-اړوند نومځاینیوي هم بدلیږي.

په پورته کې ګورو، چې د پښتو د نومځای نیوي کارونې سره پوره توپیر لري.

داسې لږ څه ګډې وډې به راشي:

ګورو چې د الماني نومځاینیوو کې بدلون نه دی راغلی یا نه رځي، خو په پښتو کې

ګورو، چې په راتلونکي او تلن وخت کې د کړوني اوپرېکړونې رول د لنډ - - اواوږد تیر وخت سره توپیر لري اوپه نوروژبو یا لږتر لږه الماني اودري کې داسې نه ده.

دا هم باید په ګوته شي، چې د کومو کړنوله پاره.

د هرڅه د مخه باید په یاد ولرو، چې هرد بلې ژبې زده-کوونکی(ردکوونی) خپله لومړی ژبه په دویمه ژبه ژباړي. هغه غونډالي، چې دوی په دویمه ژبه وایي، د هغې له پاره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډاله په خپله ژبه لړترلړه په فکر کې وايي اوبيا يې په دويمه ژبه اړوي. دا کار تر هغه وخته کيږي، چې دويمه ژبه هم ښه زده شي اوپه ژبلار يې هم ښه وپوهيږي يا د غونډالو جوړولو په لار.

تل په فکرپسې فکر راځي: کړل کيدل دي او که کيدل؟؟؟ يوه کړنه ده، چې کړونى يې نا ځرګند دئ او په يو چا څه کيږي. ايا دا په-کړونى دئ اوکه څنګه؟ ووهلم؟ دلته زه وهلکيږم دلته وهل کيدل اووهل، دا هم بيا بله لار ده، چې يوه څه کيږي او يو څه کيدل کيږي، دې ته هم بايد په کړنو کې پام وشي........

زه ليدل کيږم. ته ليدل کيږي. زه ليدل شوى يم. دلته بيا ټاکلى کړونى نه شته.

يادونه: دا ما ته نه دهروښانه چې زه دلته په کړونى دئ اوکنه.

نوايا دې ته اړيو،چې په پښتوکې د ليدلو او کړلوتوپير هموکړو،که څنګه؟

ايا دا کړنه او کيدنه په نوروژبو او پښتو کې څنګه دي؟

په الماني او همداسې په فارسي کې دوي بايد داسې ووايي. دوي فکرکوي، چې ګوندې په ټولوغونډالډولونو کې د کړوني له پاره د درې ،، ما،، له پاره زه راځي، خو داسې،

۳ ــم يو : زه تاته وهم

۴ ــ م يو : زه تاته وهلى يم

دا ځکه چې دوي دا څه له خپلې ژبې پښتوته را اړوي.

د پښتو پوهانودنده: دوي بايد دا روښانه کړی شي او لارې چارې يې سمې روښانه کړی شي. دې تغيرته بايد دوي له پيله پام وکړي او دا د پښتو زده کوونکو ته له ښوونځي روښانه کړي.

ګران لوستونکي به راته دا بخښنه کوي، چې زه ددې ليکلو څه يادونه کوم. دا به يا د مخه روښانه او ليکل شويوي او که نه، نو ما لږ ترلږه دا لارورته پرنيسته.

دا هره موضوع د يوه پوهنيز کار ليکنه ده، چې پوره روښانتيا ته اړتيا لري او دا هم ښه روښانه شي، چې دا د بلې ژبې کسان دا څنګه اسانه او ښه زده-کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا بدلونونه باید دښوونځي نصاب کې راشي او د نورو ژبورده-کوونکوله پاره باید له پیله دا بدلونونه په ګوته شي، چې هغو همغه له پیلهورته پام اوبلد شي، خو:

دا باید له پیله ټول وخیړل شي او ژبلارې ته د ژبلارې له یوې لارې برابرشي، چې د خپلې پوهې برسیره، نورهم ښه پرې وپوهول شي.

## ګڼونه په شمیرنیزه بڼه او پر تورو باندې لیکل.

یادونه: د دې نامه لاندې مې یوه لیکنه ولوستله، نو له دې امله دا لیکنه.

موخه ترې ګڼونه په ادبي او نور لیکنو کې څنګه لیکل کیږي، ده.

داسي یوه لنډه ننوتنه.

ما دا اوس هم پرته له سلنې، چې ناسمه ده، د لیکوالانو زیاتو لیکنو کې د ګڼونو لیکلو سره یو ډول نه یو ډول ستونځې ولیدلې، چې له امله یې غواړم د یوه مسلکي په څېر دا لږ روښانه کړم.

یادونه: که ربښتیا درته ووایم، زه په دې درجو او طبقو نه پوهیږم، خو موږ، چې د ګڼونو ځومره والی غواړو راته څرګند کړو، نو د هغې کورونو سره سر او کارلرو، چې دا یویز، لسیز، سلیز ، زریز او اداسې نور دي.

موږ په شمیرپوهنه کې د دوه ډوله شمېرنیزو کارونو سره سر او کار لرو. ګڼل او شمیرل.

یادونه: موږ د ګڼلو کارونه له پام غورځولې او دې ګڼلو ته شمیرل وایو، چې دا به په همدې لیکنه روښانه کوو.

پیل:

۱ – ګڼل: د ګڼلو د ویې سره موږ له همغه کلي بلد یو، وایو چې دا خلک و ګڼه چې څو دي یا

دا پیسې وګڼه!

د ګڼلو سره موږ دوه څه روښانه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د یوې لویې څو – یا څوموالیوالی

د ګڼلو دنده: ............ څو منه، ـمتره،-ساعته

لومړی: د څه ټاکلو غوښتونو شیانو د څووالي، څوومووالي او څومره والي ټاکل دي

دا په څه کیږي. په دې کې شیان ګڼل کیږي او دا په ګڼونو کیږي.

ګڼونه (پیداېښتي -):٠ ١ ٢ ٣ ۴ ۵ ....١٠٠ ...

لوستل: یو، دوه( دوې)، درې، څلور، پنځه، ....

لومړی الف: لکه په یوه لوښي کې د منو ګڼل (شمیرل نه لیکو، وروسته یې روښانه کوو)، چې څو منې دي.

لومړی ب: د شیانو څوومووالی: لکه په یوه لیکه کې ولاړ کسانو یو ځانګړی سړی د بېلګې په توګه سپین څوم سړی دی، چې له ګڼلو وروسته روښانیږي، چې د بېلګې په توګه سلم سړی دي یا سلم ځای لري یعنې سلم دی ( هیله ده، چې د سلم په ځای د سلن ناسمون به مو اوس سم کړی وي).

په ترتیب داسې لیکو:

١ – م، ٢ – م، ٣ – م ، ۴ – م، ۵ – م ، ....، ١٠٠ – م (نه ١٠٠ - ن)

یوم(لومړی) ، دوهم ( دویم)، درېم، څلورم،پنځم، ....، سلم(نه سلن)

یادونه: په پورته کې که دوه وي، نودوهم اوکه دوې وي،نودویم دئ. درېم سم دئ. زموږ ځنې لیکوالان یې په دوه اوځنې یې په درې ییګانو لیکي،چې ناسم دئ.

ګڼل. د یو څه څووالي اوڅومره والي له پاره هغه څه ګڼو، چې کړنویي یې ګڼل دي او هغه څه چې پرې ګڼو یې هغه ګڼونه ( یو یې ګڼ) بلل کیږي.

شمیرل: ګڼونه چې د کړنو یا د نښلوننخښو له لارې سره ونښلي یا وتړلشي، لکه زیاتون(جمع)، کمون، ځل اونور، دې ته شمیرل ویل کیږي.

موږ د ګڼونویا عددونود لیکلو له پاره کورونه ( کوټه ګی یا ځایونه) لرو، چې هغه څنګه لولو بیایې همهغسې لیکنه هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د ګڼونو له پاره (ارزښت ) کورونه یا ځایونه لرو، چې لومړی کور یا ځای کې له صفر تر نه ولیکل کیږي او له دې امله دا ځای یویز بلل کیږي. دویم ( ځای ارزښت) کور یا ځای لسیز بلل کیږي، چې په هغه کې، که نور ګنونه پسې را نه شي یا بل ځای ونه لري، نو ۱ څخه تر نهه( ۱ – ۹ ) په کې لیکل کیږي او لس، شل، ...،نوي ځایارزښت لري، نوله دې امله د ځای ارزښت له مخې دا داسې ګڼو:

یویز، لسیز، سلیز، زریز او ... کورونه لرو چې ارزښتځایونه هم ورته ویلی شو

بیلګه: ۶۱۸ دا شپږ سوه اتلس لولو، چې همدا یې لیکنه ده.

په پورته کې د سلیز کور کې شپږ،د لسیز کور کې یو او د یویز کور کې اته دي.

مات یا کسر:

که ولرو: ۸/۳ لولو:درې پر(په) اته باندې، یعنې له اتوبرخوڅخه درې برخې یا د یوه یوون ( واحد،چې ناسم دئ) څخه چې په اته برخو ټوټه شي، درې برخې واخلو. دا داسې لولو: درې پر اته بندې، چې همدا یې لیکنه یا لیکښه هم ده.

که د چا پیسې زیاتیږي، نووایي، چې پیسې مې دوه برابر یا یونیم برابره یا درې برابره شوې. دا چې څوک یې ناسم وایي، د هغې ناسم ویلو یا بللو له پاره، نو موږپه ژبه کې کومه لار نه لرو او نه برابروو.

لسمیز یا عشاریه:

که ولرو: ۳.۰۸۲ نو دا داسې لولو: درې لسمیز (عشاریه) صفر، اته دوه او همدا یې لیکنه هم ده.

موږ په تورو د ګڼونو د لیکلوسره ستونځې نه شو لرلی، دا یوه پیداښتي پروسه ده اودا زموږ په ژبه کې هم لرو.

که ولرو ۶۳۵.۸۰۴ نو دا په سلیز کورکې شپږ، په لسیزکور کې درې په یویز کور کې پنځه لري او په لسمیز کور کښې اته په سلمیز کور کې صفر اوپه زرمیرکورکې څلورلري اوداسې یې په تورو لیکو: شپږسوه پنځه دېرش لسمیز اته، صفر، څلور. ګورو چې په کوم ځای کې په تورود لیکلو سره ستونځې نه لرو.

په سلنه مې یوه لیکنه کړې، چې ناسمه ده او سمه یې سلمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ بیا د پام وړ: موږ هر ګڼ بې له کوموستونځو په تورو یا د توروسره لیکلی شو. څنګه چې یو ګڼ دی، نو همهغسې یې لیکو.

ګران لیکونکي دې پوره پام وکړي، چې د پیداښت سره په خپلو لیکنو کې ځان د مخامخوالي سره مخامخ نه کړي. زه دلته درې ګڼونه په ګوته کوم، چې له پیداښته څنګه دي، نو ولې یې بیا بدلوو؟ موږ ل دې امله دژبې سره بوخت نه یو، چې یو څه نویوالی مو راوستی وي. ژبه هغه په خپل پیداښتي جوړښت کې نویوالي ته اړتیا نه لري( هیله ده دا نویوالی د نیولوجیزم سرهبدل نهکړئ) او هغه څه چې د نویوالي اړتیا لري، هغه بیا پیداښتي د ګڼونو اړوند څه نه دي، هغه بیا چې نوي څه ګڼونو کې راځي هغه دی او باید سره بدل وي.

بیا: دریم په دوه یا درې یېګانو یعني دریيم او یا دریيیم، لیکل همداسې ناسم دي، لکه چې د سلم له پاره د سلن لیکل.

ستونځې لرو او دا هره ژبه، خو د هغو ستونځو سره موږ له پیداښته بلد یو او دا بیا بلدې ستونځې دي او وي به او موږ به همداسې ورسره بلد پاتې شو.

## د ژبو پیدا ښت، چې غبرګې پیدا شوي:

زه ژبپوه نه یم، خوداسې په اند یم - په دې هکله مې په ن ج کې هم د پوهیدلوهلې ځلې وکړې، خو اند مې همدا پاتې شو-، چې په ژبه پوه یم او دا اند تاسو سره ګډوم:

د پیداښت څخه ټولې ژبې یو د بل سره غبرګې دي. که په انګریزي کې until ولرو، نو د پښتو انډول یې ،، پورې( لومړی مې تر لیکلی وو، خو هغه ناسم دی)،، دی. که موږ وغواړو په ،، پورې،، ښه وپوهیږو اود کاروني ځای یې راته ښه څرګند شي، نو د انډول لکه until یا د الماني bis د کتني څخه ګټه اخستلی شو. دوی په خپلوژبوکې ډېر کار کړی اوهر څه یې څو لسواره څیړلي. څنګه چې د یوه څه، وخت یا ځای پای په ګوته کوي، په همدې ډول ،،پورې،، هم، چې دا یې یواځې او یواځې د کاروني ځای دی او بس. همداسې دا ،، پورې،، باید د ،، څخه،، او همداسې د نورو ځایناستی نه شي.

یو څه چې پیلیږي، د هغه له پاره ،، څخه ،، راځي او یوڅه چې پای په ګوته کوي، د هغې له پاره ،، پورې ،، راځي، یود بل ځای ناستی باید نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې تکرار.

دا د نړۍ ژبې چې منځ ته راغلي یو د بل سره غبرګې - په همغه وخت یا یوپه بل پسې - د همغو یا ورته ستونځو په هکله منځ ته راغلي، یعنې د ژبو په منځ کې یو غبرګون یعنې موازیت Parallelity شتون لري.

په هره ژبه کې د هغې بلې ژبې د وی(لغات) لپاره انډول یا برابر او که غواړۍ معادل وی یا لغات شتون لري او که نه نو انډول یې یا د بلې ژبې رانیسي او یا یې په خپله ژبه کې په مناسب ډول ورته دا انډول پیداکوي.

که یو وی (لغات) ورځنی نه وي یعنې کورنی شوی نه وي او غواړو پښتو یې ورته پیدا کړو، نو د نورو زده او پرمخ تللو ژبو څخه په همغه موخه یا برابر دا په پښتو کوو.

لکه د بیلګې په توګه زموږ د کار مسؤولو لیکوالانو د عربي ،،مایع،، په اوبلن ژباړې یا مایع یې اوبلن بلله، چې دا ژبې سره تیری دی اوله مسلک سره خوهیڅ بلدتیا نه شته. په هیواد کې یې واورې هم شته او په دې هم پوهیږي، چې د شیانودا ټولګی بهیږي او دوي یې د خپلې ناتوانی سره اوبلن بولي. دا نور د اوبلن لیکنه کې روښانه دی.

په دې لاندې څیړنه کې ځان داسې لرډ ګرانولوستونکود جنجال سره مخامخ کوم، چې اړیین راته بریښي. ( مخ له مخه دې راته بخښنه وي.).

که یو څه دې له بلې ژبې څخه رانیولي وی موخه ناسمه شوه، نو وی، خوي اوکه نوم وي نو هم بیا ناسم دی. د بیلګې په توګه، که موږ مو په هیواد کې لا تراوسه ( پورې) شفاخانه یا بیمارستان یا د الماني Krankenhaus نه لرودی یا تراوسه نه وی نومولی، نو د دې لپاره به موږ هم په پښتو کې د ژبې په بنسټ او سم اندیز اړونده نوم لرودی یا ورکولی، دا چې دا د ناروغانو ځای دی، نو موږ به دا ناروغتون بللی وی. یا دا چې دا د شفا ځای دی، کیدی شي رغنتون مو هم بللی وی.

دا نومونې موږ له دې د باندنی ژبو څخه نه رانیسو، بلکه دا زموږ په ژبه کې همداسې دي یعنې ناروغ لرو او د ناروغ لپاره باید ځای ولرو، چې دا به ناروغتون شوی وی. زموږ مشرانو دا په هغه وخت کې دا د روغانو ځای نومولی. دې ته دې پام وي، چې په ولس کې مو په پیداښتي یا طبیعي ډول داسې نومونې نه شته. که دا زموږ د پوهانو کار نه وي او په ولس کې منځ ته راغلی وی، نو باور وکړي، چې دا به د ناروغانو ځای یا ناروغتون او یا رغنتون بلل شوی وی، خو دا زموږ د لیک لوست خاوندانو د شفاخانې او بیمارستان په ځای نا سم لیکلی یا راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې څه، چې نا سم ونومول شي، نو بيايې سمه ونه ډېر زور غواړي. له دې امله بايد وهڅيږو، چې هغه څه هغسې ونوموو، چې څنګه دي يعني د نوم څخه موخه يا شی بايد روښانه جوت شي يا نوره هم ښه نوم بايد له خوي څخه روښانه وي.

يوه بله بيلګه: زه چې د کورنيوچاروزارت کله کله خبروکې وايم،نوزه ورته تلد،،دننيوچاروزارت،،وايماودا ځکهچېد کورنيوچاروزارتد کورنيوچارودندهبايد په غاړه ولري اود ،، ننيوچاروزارت،، د دننيوچارو دنده په غاړه لري. زه نهپوهيږم،چېموږد کورنيوچاروزارت څه بولو؟

بيا وايم: پښتانه چې څه ژبې ته را ننباسي بايد دليل يې راوړي. د کومې ژبې په پښتو کې راننوتي څه چې په پښتو کوو، نو په هغه پردۍ ژبه هم بايد پوه وو او بيا لږ تر لږه په هغه وي(لغات) موخه باندې هم له هره اړخه بايد وپوهيږو.

داسې کيدی شي، چې يو څه يا يو شی يوه ځای کې وی په يوه بل ځای کې نه وي، ځکه چې هلته به يا دا ستونځي نه وي او يا دا د شيانو څرګنديدني، نو بيا د بل ځای نوم بايد وکاروو.

کيدی شي، چې يو څه په بيلو بيلو ځايونو کې په بل نوم نومول شوي وي، چې دواړه يې سم دي او دا په ټولو ژبو کې داسې شته.

بله بيلګې

د دننيو چارو وزارت ته د کورنيو چاروزارت وايو، چې ناسم دی.

بله بيلګه:

له سلو ديرش له پاره اوس زموږ ژورنالستان په ډېر ناسم ډول دېرش سلنه کاروي، چې د ژبې تخريب دی. دې ته تل دېرش سلمه ويل شوی او همداسې يې ژبنۍ او شميرپوهنيزه بلل هم دي، ولي نو دا د نړدې شلوکالو راپه دې خوا سلنه شوي؟ اونورو هم په همدې ناسم ډول خپله کړې؟

دا په خپل اړوندځای کې روښانه شوي.

بله بيلګه يې: د ستاندار يا معيار لپاره په پښتوکې نوم نه لرو، نو موږ ورته بيا په پښتو کې نامناسب اندول کورو، چې په رښتيا کې بل څه دی( په بل ځای کې خبرې پرې شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکنې مې ځانګړې دي

له پیله یوه اړینه یادونه: دا څه چې ما لیکلي، دا مې له الماني ژبې څخه رانیولي او راټول کړي، دا په دې مانا، چې زه نه دومره هوښیار یم او نه دومره پوه، خو یوه وتلې ژبه الماني مې زده او د هغې په مټه او لیکنو مې لیکنې ودانې دي. دې ژبې راته دا توان هم راکړی، چې د پښتو ناسمونونو ته مې پام را اوښتی او سمونونه یې د دې ژبې په مټه کوم.

بسې:

په دې کې خو زه هم کوم شک نه ګورم، چې لیکنې مې ځانګړې دي او په ډېرو ځایونو کې ان تردې، ستاسو د لیکنو مخامخ دي، خو تراوسه مې دا اند دی، چې له ژبلارې سره بېلارې نه دي.

زما په لیکنو کې د هغه پوهنیز څه شننو او څېړنو پرته کوم نومونه یا نور ویونه ما نه دی جوړ کړي، هغه څه چې دي، هغه مو په ژبه کې شته. دا چې موږ په ښوونځیو کې څه لولو او نه پوهیږو، چې ترې پوهېدنه به یې څه وي، نو د دې پوښتنه هم نه کوو، چې دا به نو په پښتو څه وي او وښایي، نو هغه ښوونکی او یا بل پوه یې هم نه پوهیږي، چې څه ترې پوهېدنه لري.

موږ تراوسه- دا په خواشینۍ وایم- پوهنه هم خپله کړې نه ده، دا مو له نومونو سره راپور کړې، دا په داسې ترې پوهېدنه، چې فکر پرې نه کوو او یا نه شو کولی، چې د بېلګې په توګه دا کره چې لولو وایو، دا بهنو پهپښتو څهوي.

هغه څه چې ما دژبې په توان اندول نومولي، دا همداسې ده او په پښتو کې ورته بل څه نه شو ویلی. دې ته مو فکر نه دئ کړی چې پښتو هم همداسې یوه ژبه ده، لکه دا نورې ژبې. په نورو ژبو کې چې څه وي، هغه زموږ په ژبه کې شته، خو میندل یې د لومړي ځل له پاره داسې لږ ستونځې غواړي.

موږ چې کومه پوهنه راپور کړې، نو د هغې هغه خوندیونه مو راپور کړې، هغې نومونه مو راپور کړي او خپل نومونه یا و یونو ترې پوهېدنه مو راته پردي یا نا بلد دي.

که د کرې په ځای غونډوسکه یا غونداری ووایې، نو هغه ناست لوستي کسان درپورې خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې امله ده، چې که اوس زموږ ژبپوهان له عربي زموږ له پاره ورځني کوم نوم له پاره پښتو نوم غواړي پیدا کړي، نو هغوي دا کار بې له دې کوي، چې د هغه نوم په خوي ځان وپوهوي، په دې هکله مې لیکنه شنه، چې،، پښتو ناسم راننباسلي نومونه،، سر لیک لاندې دي.

خبره به نه اوږدوم، اوس به راشم هغې خپلې موخې ته، د ښوونځي لیکنې څنګه دي او دا زما لیکنې، چې له دې امله ځانګړې دي.

د ښوونځي له زده کړې زدکړې په بنسټ به ولیکو :

په دایره کې تعریف شوي د دایرې توکي:

ډایره، محیط، سطحه،قطعه،قطاع،قطر،قوس،وتر.

دا د ښوونځي نومونه دي، خو زموږ لوي او واړه نه پرې پوهیږي او موږ هم نه پرې پوهیږو، چې دا به نو څه وي، خو په هغه ځمککچپوهنیز پېژند یې پوهیږو. په مثلث نه پوهېږو، چې په پښتو څه ترې پوه شو.

دا پورته عربي نومونه که واورو، نو نور پرې نه پوهیږو، خو دومره پوهیږو، چې دا په یوه یا یوه پوهنیزه ریښه اړه لري. له بلې خوا دا موږ ته هغه له پیله ځکه ورځني او بلد برېښي، چې لیکلوست مو په دري کړی- لږ تر لږه هغو پخوانیو- او دا نومونه راته بلد دي یا د دې نومونو سره بلد یو. دا چې په هغه وخت کې او اوس هم زدکړې او لا تراوسه هم په پوره توګه په عربي یا درې دي، نو پښتو ته یې چا فکر هم نه کاوه، ان تردې چې هېڅ چا به له ښوونکي پوښتنه هم نه وي کړي، چې ایا د بېلګې په توګه دې کرې او مثلث ته په پښتو هم نومونه شته او که نه او همداسې یې په پښتو اندول کې ښونکو هم فکر نه دی کړی..

ما د دې په پښتو نومونه میندلي – دا په دې ترې پوهېدنه، چې ما نه دې ټاکلي او نه یې د ټاکلو توان لرم او نه په دې هکله د شپې خوب ګورم، چې د راپاڅېدو سره سم مې بیا نوم ورته پیدا کړی وي- او هغه دالماني ژبې په مرسته. د دایرې له پاره به داسې ولیکم یا مې داسې لیکلي:

ګردی، چاپېریال، هواره، ټوټه، برخه، ټوټووني، وړانګه، نیمی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا د لومړي ځل له پاره واورو، خو ورسره بلد يو، د خپلې ژبې نومونه مو دی، خو که ووايو، چې دا په ځمککچپوهنه کې راځي، نو بيا به ورته هکپک، ځکه شو، چې هغه ورسره بلد ځمککچپوهنيز نومونه نه دي.

که د دې هغه ځمککچپوهنيز پېژند ورکړ شي، نو بياله چا نه هېرېږي، خو دا به دا اوس هم دمور. له پاره ځومره هکپک کوونکی وي.

راځئ چې يو څه له يوه بلې ريښې هم راوړو:

که په يوه مرطبان کې يو ممبران نصب ( که نسب) کړو او د ممبران يوه طرف ته يو د مالګې رقيق محلول واچوو او بلې لور ته يې غليظ محلول، چې دا رقيق محلول مشبوع هم وي، نو دلته به دا د اوبو حرکت له رقيق محلول څخه د غليظ مشبوع محلول په طرف وي.

ګوری، چې دلته به د پښتو په کې څه وي؟

پرته له هغه ترنويونو به نور څه په کې په پښتو ونه ګورو.

يوه يادونه دې همدلته وي: که چېرې همداسې مور. دا پور شوي ويونه وکاروو، نو لرې نه ده، چې همدا به مو د ژبې نومونه وګرځي او د پښتو انډول به نور خپله د ورکېدو لار ونيسي.

راځئ چې اوس دا په پښتو وليکو:

که چېرې په يوه بوتل يا ساده يې لوښي کې يوه پرده کيږدو او د پردې يوه لور ته د يو نری ملګوبی واچو او بلې لور ته يو موړ تينګ ملګوبی واچوو، نو د اوبو خوزښت به د نري ملګوبې څخه د ماړه تينګ ملګوبې په لور وي. دې باندې به ګوره هغه کليوال پښتون هم پوه شي او زده کړه به يې هم اسانه وي، ځکه چې په لومړي پېژند کې خو بايد محلول، رقيق، غليض، مشبوع هم زده کړې و دا پوره ستونځمن نومونه دي.

زه په مشبوع هلته پوه شوم، چې په کوم ځای کې مې په ليکلو دا نوم راغی، چې له الماني څخه مې يې بياپه پښتو انډول ومينده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ما د لیکنو او ژباړو ځانګړنوالی:

لومړی: ما چې نړدې ځلوېښت د شمېر پوهنې کتابونه په پښتو لیکلي، ما هڅه کړې، چې هیڅ یو نوم هم جوړ نه کړم او دا نومونه مې د پښتو ژبه کې میندلي او شته. دا دې ځانله د شمېرپوهنې مینه وال نه، بلکه د پښتو مینه وال هم وګوري، چې د ژبې له مخې ځنګه دي.

دویم: ما درې د فزیک کتابونه هم ژباړلي او هغه هم د هرڅه سره په پښتو دي او دا هرڅه په پښتو کې شته، د کېدونې یا شونې پولې پورې.

دریم: ما نږدې شپږ او که د مخه ور سره کړو نو ځو کتابونه او ځو مجلې په پښتو لیکلي، له ډلې یې یو د فلسفې کتاب ژباړه ده، چې ماته په زړه پورې برېښي او هرو مرو به د نورو ژباړو او لیکنو سره پوره ډېر توپیر ولري. په دې مې دوه دمخه چې لیکلي وو، هغه مې پوره وغزول، نو له دې امله دوه غزول شوي دي.

په دې کتابونو کې د ګرامر کتاب لا تراوسه ن ج ته نه دې پورته شوي، خو د ټولو لیکنې د تاند او د دعوت درنو خپرونو کې لا د مخه خورې شوي، چې ګرانو مینوالو به لوستې وي.

د پښتو په لار کې د ګرامر لیکنې، چې د الماني ژبې په مټ مې کړي، هم ماته دپام وړ برېښي، خو هغه زه یې چې دګرانو لوستونکو څخه د لوستلو هیله کوم- سره له دې، چې دا به هم تاسو د مخه هم په پورته یادو درنو خپرونو کې لوستلې وي – چې دا بیا هم ولولي.

دا د ،، په پښتو کې ناسم ننباسل شوي ویونه،، کتاب دی: دا لیکنه ـ په ډېره بخښنه – ستاسو د ټولو په مخامخ یوه لیکنه ده، او دا ویونه، چې ما په پښتو ناسم بللي، دا نږدې زموږ ټول لیکوالان لیکي، نوله دې امله

هیله: ګرانو ژبپوهان او ژبمینوالو! زه په دې لیکنو سوچ بوچ ځانله یم. دا بدبختي او دا نامنندویه دنده لوي څښتن یواځې زما په برخه کړې. د کتاب په سر کې مې لیکلي، چې: که چا راته دا وښووله، چې دا دې ناسم دی، نو له ما څخه دې د ډاکترۍ شهادتنامه واخستل شي، که نه د پښتو ژبې ډاکتري دې راته راکړي، چې بیا دا دومره هڅې په دې ارځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هیله له ټولو لوستونکو بیا په ځانګړې توګه ژبپوهانو څخه دا ده، چې زما لیکنې ولولي او ماته بیا له هغې وروسته په ګوتنیوني ډول خپل اند ووایي یا ولیکی. که دا ساده نیسی، نوزه به داسې ترې وپوهېږم، چې یا مې لیکنې بې ارزښته دي او یا تاسو دې لیکنو ته پوهنیز ځواب نه لرئ او خولهپه پټوئ، چې په دې حالت کې بیا دا پوهنیز اخلاق نه دي او هرومرو به پړه یاستئ.

ډېره بخښنه غواړم، چې ځږه ژبه مې وکاروله، خو ځان راته په حق برېښي او یا یې تاسو راته داپهځتې یامخامخ وښایاس. بیه هم په بخښنه.

د افغانستان علومو اکادمي پښتو څانګې محتورم ریاست او لږ تر لږه د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځې محترم ریاست ته په ډېر درنښت.

موږ د ولس په ژبان یا مو ولسې څه ته ژبان رسول، که د هر چا له لورې وي، بابیز ګورو اونیسو، خو که زموږ ځانیز ژبان په کې وي، نو بیا دزیانرسونکي سره له مریو نیسو.

هرڅوک چې ناروا کوي او دا د ولس سره نو زموږ.ورسره په څتکړنه نه شته. له دې امله زه غواړم، زما په تن، بدن او اند د دې کار سره لږ تر لږه په داماته په زړه پرته مسئله کې د پای ټکی کېږدم، له دې امله دا لیک:

د افغانستان د علومو اکادمي پښتو څانګې او د افغانستان د پوهنتونونو د پښتو پوهنځیو محترمو ریاستونو او په ځانګړې توګه د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي محترم ریاست ته په خورا درنښت غواړم خپله غوښتنه په لاندې ډول وړاندې کړم:

ما د تاسو او زیاتو پوهانو له خوا لیکنو کې ناسم ویونه راټول کړي او په هکله مې لیکنې د تاند او دعوت او نورو زیاتو خپرونو کې خورې شوي او همداسې مې د ،، پښتو ته ناسم راننباسل شوي وینه،، د سرلیک لاندې، چې دا ټول ناسمونونه مې هلته رایوځای کړي، خپور شوی. دا ژبه زما م هم ده او حېږم، چې ناسمونونه یې په ګوته کړم او مسئول یې سمون ته راوبولم، که داهرڅومرهستونځمن کار هم وي او یا دا چې زه د دې خپلو داسې لیکنو سره ستاسو د لیکنو له امله له تاسو سره تېری دې، چې تاسو یې هم بابېزه باید ونه ګڼئ او زما د داسې کړنو مخامخ باید ودرېږئ، ما پوهنیز محاکمه کړئ.....

زه په تاسو دا دعوا کوم، چې یا مې دا ستاسو ناسمونونه، چې ما سم کړي ومنئ او یا زما د لیکنو په ناسم ښودلو راته کلکه سزا راکړئ. یو ځل باید وښایو، چې څوک موږ ته په ناحق وبلو او نا حق ملامتولو نه پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما جزا: شهادتنامه راځخه واخلئ او یا د پښتو ډاکتري راکړئ.

# پښتو یوه هکپککوونکې ژبه ده:

پښتو یوه هکپککوونکې ژبه ده او همداسې ژبلار يې هم هکپککوونکې ده.

د مخه یادونه:

دا لاندې ګرامراړوند وییونه مې په لیکنو کښې شته او په لنډ وخت کښې به يې یوه پوره او معیاري کتاب هم و تاسو ته د کتابتون.کوم له لارې وړاندې شي، خو دلته زه یوائې دا د پښتو ژبې ځانګړنې څېړم.

زه خو په الماني او پښتو پوهېږم، د انګریزي سره لږ بلد یم او د درې په ګرامر هم نه پوهېږم، خو په لاندې توګه به دا هکپکوالی روښانه کړم، په خواشینی باید ووایم، چې تر اوسه پورې په دې هکله د موږ ژبپوهانو لیکنې نه دي کړي او یا يې دا ځنې څه داسې سر سرې رااحستي، چې ما په خپلو لیکنو کښې پوره روښانه کړي، خو دلته بېرته د خپلې لیکنې و موخې ته په لاندې توګه راځم:

۱ – د پښتو یو یا یوګڼ دوه خانیزنومځاینیوي لري. زه، ما، ته، تا،هغه، هغه. د موږ پښتو پوهان دې ما، تا، هغه ته د زه، ته ، هغه، اووښتي وايي، خو داسې نه ده او دوی دوه خپلواک په کړنو او پرېکړونو کښې په لاندې توګه کارول کیږي.

۱ ۱ – د هغو کړنو لپاره، چې پرېکړونی نه لري، یوائې زه، ته، هغه کارول کیږي: زه (ځم، لاړم، به لاړ م،...) او همداسې ته او هغه....

۱ ۲ – د هغو کړنو لپاره، چې پرېکړونی ولري، داسې کارول کیږي: زه خورم، زه به وخورم، ما خولې، ما خوړلې ده، ما به خوړلې وي او همداسې ته او هغه....

۲ – دموږ پښتانه ژبپوهان خورم، خورې..... کښې دا –م، -ې، -ي.... متصل نومځاینیوي بولي، ځو داسې نه ده. دا د کړنییونو د بنه بدلون یا ګردان له امله راځي، چې د سفېکسونو یا پسې تړلې –م، -ې، او –ي سره يې پوهېدنه غزیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دلته دې د پسېتړلو و پېژند ته پام وي، چې د یوه پسې چې وتړل شي، بنسټ وی همهغه دی، خو پوهېدنه یې غزیږي)

۳ – که د پوښتننومځاینیوي او نورو څخه دلته ونه غږېږو، نو موږ په پښتو کښې دوه ډوله نومځاینیوي لرو:

۳ ۱ – ځانیزنومځاینیوي.

۳ ۲ – کلیتیکي – یا تکیه اړ نومځاینیوي، چې دا هم دوه ډوله دي:

۳ ۲ الف- پروکلیتیکي یا پسې تکیه اړ نومځاینیوي لکه مې،دې، یې، مو.

یادونه: د موږ پښتوپوهان دا ځواکمن او کمزوري نومځاینیوي بولي، خو دلته د زور او کمزورې خبرې نه شته.

۳ ۲ ب- اینکلیتیکي یا د مخه تکیه اړ نومځاینیوي لکه: را، در، ور،

گومان مې دی، چې دا داسې پوره دموږ پښتو پوهانو لخوا نه دي څېړل شوي او یا یې ورته هېڅ فکر نه دی شوی او یا دا په پښتو کې تراوسه پورې نه دي څېړل او روښانه شوي، چې دا اند مې را ته سم برېښي. په ژبلارو کښې گوته ورته نیولې، خو هغه داسې ډېره کمزورې ده.

د ۳ ۲ ب نومځاینیو لوریز بولي، چې د دواړو پوهېدنه او روښانه ونه یې هم نه ده روښانه کړې.

۴ - دا منځ یادونه هم راته اړیینه وبرېښېده: پښتو ابرگاتیو ژبه ده او دوه حالتونه لري:

۴ ۱ – رېکتوس، ولاړ - یا کړونی حالت: زه وهم، ما وواهه او

۴ ۲ – اوبلیکوس پروت یا نه کړونی حالت، چې دا هم په دوه ډوله دی

۴ ۲ الف- پرېکړونی حالت: ما وهي، زه ووهلم او

۴ ۲ ب - نه کړوني حالت، چې دا ببرته دوه حالتونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ ۲ب ۱ – د خاوندوالي حالت لکه: د هغه کتاب سور رنګ لري او

۴ ۲ ب ۲ – د پسېځاينيو او يا داتيو حالت لکه:

له (ما، تا، هغه، موږ، هغوي...)( ځخه، سره، کره، پسې، ...) راغئ

تر (ما،تا، هغه موږ، هغوي...)( پورې راغئ

په (ما، تا، هغه موږ، هغوي...) کښې دا فکر شته ( لږ مې پښتونولئ ته وکتل او دلته مې راغئ ونه ليکه)

پر( ما، تا، هغه، موږ، هغوي...) باندې ودرېد.

دلته هم يوه اړيينه يادونه: ..........بايد وليکلشي....

دموږ پښتو ژبپوهان ليکي:....

اوس بېرته ځو او د حالتونو له مخې:

و ۳ ۲ الف ته: دا مې، دې، يې، مو په دواړو حالتونو کښې کارول کيږي. که له پرېکړوني کړنوييونو له مخه وي، خو د کړوني او پرېکړني حالت لپاره کارول کيږي او پرته له دې د خاوندوالي حالت لپاره کارول کيږي، لکه موږ وهو، موږ وهې، چې د کليتيکي نومځاينيو سره دا سي دی: وهي مو، وهو يې يا داسې لږ نور هم روښانه: سپين مو وهي. سپين مو وواهه. او سپين مو ورور دی.

د موږ ژبپوهان د دې د کاروني سره ستونځې لري. د مخه مې کوته ورته ونيوله، چې دا په پښتو ژبلار کښې روښانه – يا نه دي ځېړل شوي.

کاروي يې خو بې له هغه ژبلار پوهېدني ځخه.

دلته به د پښتوپوهانو يو ځو بېلګې راوړم، که ځه هم دا کار راته په زړه پورې نه برېښي او ډېپېره هيله لرم، چې راځخه زړه بدي نه شي. دا به مې هېڅ کله هم موخه نه وي، چې له دې لار ځان وښايم او ځانښوونه مې بدې راځي.

يوه بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکي: - په يوه ليکنه کښې پر پسې تکيه اړ نومځاينيو باندې ډېر څه ليکل شوې دي، خو زه به يې دا يوه برخه يا يوه بېلګه راواړم يا که غواړئ حالت راواخلم چې، ليکي:

،،پلار مې يې وليد: دا هم د تېر غوندې دوه ماناوې لري، زما پلار يې وليد يا د هغه پلار مې وليد؛ خو جوړښت يې نه بدلېږي.،،

زه به و ليکم:- دا پورته يواځې يوه غونډله ده، دويمه غونډله نه شي کېدی او بس. به هېڅ پوهنه کښې يوهغونډله دوه پوهنيزه نه شي کېدی. دا به هم و ځېړو، چې څنګه يوه پوهنيزه ده:

په ،، پلار مې،، پسې کړنوی نه دي، نو دا خاوندوالی دی، داپه دې پوهېدنه چې، د ما پلار. اوس ليکو: د ما پلار يې وليد. دلته په پسې تکيه اړ نومځاينيوي پسې کړنويي دی، چې غونډله ده: د ما پلار هغه وليد يا ښه يې: هغه د ما پلار وليد.

... هغه وليد. هغه څه شی وليد؟ د ما پلار او همداسې: پلار مې چا وليد؟

پلار مې هغه وليد يا پلار مې يې وليد.

چا مې پلار وليد؟ هغه مې پلار وليد.

پلار مې يې وليد.

دا چې هرڅومره واړوو او راواړوو، همدا يوه پوهېدنه لري او بس.

و ۳ ۲ ب ته ـ مختکيه اړ نومځاينيوي را، در، ور

دا هم په دواړو حالتونو کښې کارول کيږي.

الف- د کړوني په څېر د ور سره سرېښ لوريزکېدونکي کړنوييونو سره سره.

لکه تلل:راځم، درځم، ورځم او نور

بې- د نه کړوني حالت يا د پسېځاينيو حالت کې، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(را، در، ور) ( ښځه، سره، کره، پسې، پورې، کښې، باندې او که نور و چا ته په یاد راځي یا راغلل ور زیات یې کړئ).

بل هکپککوونکي لاس ته راوړنه دا ده، چې حالت اړوند لرو:

را = له، پر، په، تر...

ګورو، چې دلته دا را د هر ځانیز نومځاینیوو کړونی حالت د مونومونو له، تر، پر، په، له لارې د نه کړوني په پوهېدنه پوهوي، با دا کړونې نومځاینیوي په نه کړونو نومځاینیوو بدلوي. ځکه چې دا پورته مونومونه پوهېدنوړونکي دي.

دا به په ګوته کړم، چې د نابلدتیا له امله، چې موږ تر اوسه پورې په ژبلار کښې ورسره نه یو مخامخ شوي او دا پورته مورفېمونه مخځاینیوي نه دې، لکه چې اندل مو.

اړیینه بادونه دا د ما په کتابونو او په تېره په دې اخرني راټول شوي او ښه ورزیات په کتاب کښې ښه روښانه شوي.

یو څو اړیین پېژندونه: پسي تړلي پسېځاینیوي مورفېمونه ( یا د ژب کوچني یووالي).

Suffix پسي تړلي: دا د ژبنیو یوونونو هغه ټولګی دی، چې د وییونو - چې بنستوییونه بلل کیږي – پسې تړلي دي او د بنستوییونو پوهېدنه غزوي. لکه -والی (لویوالی)، توپ (کوچنیتوب)، - کی ( خورکی، مورکې) او نور. پسې تړلی کېدی شي له یوه تورې هم جوړ وي لکه: سړی ( سړي).

یادونه: په پښتو ژبه کي پرېفېکسونه نه شته.

مورفیم: د ژبې د ګرامر کوچني ژبیوونونه دي، چې خپله پوهېدنه نه لري، خو معنا- یا پوهېدنوړونکي دي، چې د موږ لپاره غوره یې، د، له، په، پر، تر دي، چې له نومځاینیوي ،، ما،، ښځه د مخه راشي، د هغه پوهېدنه له کړوني حالت ښځه و نه کړوني ته وړي، لکه : دما، له ما، تر ما او نور.

زه چې ګورم، دا د پښتوپوهانو لپاره یو ستر د خبرو او ورباندې د پوهېدنو او ورپوهونو موضوع برېښي، چې خپله ځانونه ورباندې باوري کړي او نورو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا وړاندې کړي ( بخښنه دې وي، چې لیکنه د نادرنښت له امله، چې خدای (ج) دې نه کړي، نه ده).

# د ډاکتر ماخان میرزي شینواري کتابونه یا ژباړې او لیکنې

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې څلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د څېړل شوي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره به په لنډ وخت کې خوره
او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کې به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې
شي.

زما زياتې ليکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زيات يې د تاند په
خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوريږي، چې هلته يې بيا د کتاب په بڼه لوستلی
شی.

۴ ۳ – دا اوس پنځه او يا ښېږ کتابونه نور د ژبې اړوند ، يو د سياست، او يو د
غوره خبرو کتابونه خپرونې ته چمو دي. ( د اوکتوبر اوم ۲۰۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخام مېږي شينواري ليکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې، چې هغه زياته برخه يې له ketabton.com څخه خواره شوې:

:(Vienna (Austria 1988

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact topological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

:(Vienna (Austria 1987

دويم: Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

لاندې د شميرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
:(Bonn (Germany 2000

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم: د شميرپوهنې ستر کتاب : د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې ليکنه به يې ځنو ځايونو غزېدلې او ځنې ځايونه ترې لرې شوي دي)
:(Bonn (Germany 2003

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شميرنه، د ګټې – او کټې د کټې شميرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتياوې پوره کوي
:(Bonn (Germany 2003

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شميرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شميرپوهنې الماني ـ پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځيال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې يو پيل دی، ساده ليکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*
Bonn (Germany): 2003

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*Mathematical Formulas*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپینې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

: *(Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوویشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له grundstudium.info/linearealgebra/www. څخه:کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ليکنې
:(Bonn (Germany

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلې ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - ځمککچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نهه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

څلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوڅلوېښتم - فزیک لومړۍبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه څلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي دي.(کتابتون.کوم ته پورته شوی)

څلورڅلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري(کتابتون.کوم ته پورته شوی)

پنځه څلوېښتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږڅلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه څلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته څلوېښتم – ژبسمون ( که غواړۍ دویم غزېدلې لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیې لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( کتابتون ته پورته شوی)

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې. و کتابتون ته پورته شوې

څلورپېنځوسم- د نړۍ هوښيارتياوې.

پنځه پنځوسم – د جبران خليل غوره خبرې .

شپږپنځوسم- ټوليز سم اند .

اوه پنسوسم: غوره ويناوې. دويمه برخه.

اته پنځوسم: د حالتونو څېړنپای

نهه پنځوسم: حالتونه. د حالتونو غزولې او د ښوونځي لپاره چمتو شوې برخه.

شپېتم: ژبپوهنه يا ژبلار: همدا کتاب. دا د ما د پخوانيو ليکنو څخه راټول او يو څه ورزياتونې د سمونونو سره.

يادونه: د درې کتابونو خورې ورې ليکنې لرم، خو داسې لږ ناتوانه غوندې يم. که سږه سينه مې ورته ولرودی شوه او دا مې د کتابون لخوا تاسو سره ګډ کړی شوی، نو ورته خوښ به شم.

د لوي څښتن څخه ډېر خوښ يم، خپله سترهغوښتنه وښايم، چې پښتو هم يوه پوهنيزه ژبه ده او دا په شمېرپوهنه کښې، د نږدې څلوېښتو کتابونو او په ژبه کښې د نږدې لسو کتابونو په شاو خوا کښې او همداسې فزيک، فلسفه او ټوليز سم اند کښې او دا داسې ښه روښانه او غزېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرزي شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل يې نوم ،،میرزی،، وو. د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: اروابناد نورالرحمان

د مور نوم: اروابناده پستو بي بي
د نیکه نوم: اروابناد حسن خان

د نیا نوم: اروابناده صبره بي بي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دئ ( دا خو هغه رسمي ز ک دئ. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دئ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر ( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمنې کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداښتي پوهنو په څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹ ۹۷ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان میرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

ده د میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي ښښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمې همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډاکتر ماخان میرې شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

١ – د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

٢ – د افغانستان کلتوري ټولنه کولن میشنیش. جرمني

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library